# نړیوال سازمانونه

له نویو زیاتونو سره، د اولسم چاپ ژباړه

لیکوال: ډاکټر رضا موسی زاده

ژباړن: محمد نظیم سمون

۱۳۹۳ لمریز لېږدیز

## نړيوال سازمانونه


| | |
|---|---|
| ليکوال: | ډاکټر رضا موسی زاده |
| ژباړن: | محمد نظيم سمون |
| ډيزاين او سمون: | سيد عبدالله ولي زی |
| خپرندوی: | مستقبل خپرندويه ټولنه |
| د چاپ نوبت: | دويم |
| چاپ شمېر: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپ ځای: | کابل |
| چاپچارې: | مستقبل خپرندويه ټولنه |
| چاپ کال: | ۱۳۹۳ لمريز لېږديز |
| ای ايس بی اېن: | |

بسم الله الرحمن الرحيم

# دخپرندوی یادښت

د لوی څښتن په نامه

له معلوماتي انقلاب او د ټیکنالوژۍ له هېښوونکو پرمختګونو سره د ګلوبلایزېشن یا نړیوالتوب نوی پېر پیل شوی او د یو ویشتمې پېړۍ له پیل سره په افغانستان کې یوه بشپړه ګلوبلایز جګړه هم ونښته. د افغانستان جګړې ته له استرالیا نه نیولې تر امریکې پورې او له جاپان نه نیولې تر اروپا پورې له څلورو لویو وچو (قارو) څخه څه باندې د ۴۰ هېوادونو پوځیان په مستقیم ډول ورګډ شول او له اقتصادي او سیاسي لارو ښایي د نړۍ ډېر کم هېوادونه وي چې په دغه جګړه کې ښکېل نه وي. د دې تر څنګ یو شمېر نور هېوادونه بیا په پټه د خپلو استخباراتو له لارې په جګړه کې مهمه او فعاله ونډه لري. د افغانستان جګړه داسې یوه جګړه ده، چې ښایي د نړۍ په کچه داسې نړیوال سازمان نه وي پاتې چې دلته حضور ونه لري.

د افغانستان جګړه ظاهراً پر امریکا باندې د یوې نړیوالې سیاسي – مذهبي شبکې (القاعده) له برید سره پیل شوه او ملګرو ملتونو د برید په ځواب کې امریکې او ورسره ټلوالې (ناټو) ته پر افغانستان د برید جواز ورکړ. تر هغه وروسته د ملګرو ملتو کابو ټولې څانګې او سازمانونه په افغانستان کې ونښتل.

د شلمې پېړۍ د پای په لسیزو کې پخواني شوروي اتحاد هم د ملګرو ملتونو د منشور یوه ماده پلمه کړه او د وارسا په نامه پوځي سازمان یې هم له ځان سره ملګری کړ او پر افغانستان یې راودانګل. له هماغه وخته د افغانستان جګړه د نړیوالتوب پر لوري رهي شوه.

د وېښ افغان ټولنیز اصلاحي تحریک، چې هڅه کوي د افغان غمیزې بنیادي عوامل وڅېړي او له مخې یې د ژغورنې لپاره بنسټیزې لارې چارې خپلې کړي، په دې اند دی چې د نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو پېژندنه یوه ملي اړتیا ده. له نېکه مرغه زموږ هڅاند ملګري ښاغلي محمد نظیم سمون د (نړیوال سازمانونه) په نامه یو مشهور اثر چې اولس ځله چاپ شوی، په ډېره روانه پښتو ژباړلی دی چې موږ د پاک پروردګار له درباره ډېر اجرونه ورته غواړو. د دې اثر

لوستل نه یوازې د حقوقو د څانګې زده کوونکو ته اړین دي، بلکې هر هغه ځوک چې د افغانستان د ژغورنې په اړه فکر کوي باید دا کتاب ولولي او ځان د نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو له ماهیت، جوړښت، قوانینو او تګلارو سره اشنا کړي. څرنګه چې د افغانستان جګړه د پردې تر شا یو ژور استخباراتي اړخ هم لري، نو زموږ هیله دا ده چې په نږدې راتلونکي کې د نړۍ او د سیمې د استخباراتي سازمانونو په اړه هم یو ګټور مالوماتي اثر خپلو هېوادوالو ته وړاندې کړو.

په پای کې موږ سیدانو له کلتوري ټولنې څخه د زړه له کومې مننه کوو، چې د دې کتاب د چاپ لګښت یې پر غاړه واخېست.

په درنښت

ویښ افغان ټولنیز اصلاحي تحریک
فرهنګي څانګه
د کتاب د لومړي چاپ خپرندوی

# نیولیک

سرلیک ---------------------------------------------------- مخونه
د ژباړن خبرې ........................................ ل
مخکښوینه ........................................ م
سریزه ........................................ ن
د نړیوالو سازمانونو تاریخي شالید ........................................ ۲
نړیوالې خصوصي اتحادیې ........................................ ۴
نړیوالې عمومي ټولنې ........................................ ۶
د نړیوالو سازمانونو پېژندنه او ځانګړتیاوې ........................................ ۷
د دولتونو یوځای والی ........................................ ۸
د اساسنامې لاسلیک ........................................ ۸
ګډې موخې ........................................ ۱۰
د سازمان د اداري واحدونو اړتیا ........................................ ۱۰
د فعالیت دوام او غځونه ........................................ ۱۰
د نړیوالو سازمونو حقوقي هویت ........................................ ۱۱
د نړیوالو سازمانونو صلاحیت ........................................ ۱۳
د تصریح شوي صلاحیت نظریه ........................................ ۱۴
د ضمني صلاحیت نظریه ........................................ ۱۴
په نړیوالو سازمانونو کې غړیتوب ........................................ ۱۲
د نړیوالو سازمانونو مزایا او مصؤنیتونه ........................................ ۱۷
د نړیوالو سازمانونو د مزایا او مصونیتونو پېژندنه او تاریخي بهیر ........................................ ۱۷
د نړیوالو سازمانونو د مزایا او مصونیتونو حقوقي سرچینې ........................................ ۱۹
د مزایا او مصونیتونو پېژندنه ........................................ ۲۰
د مصونیت ډولونه ........................................ ۲۱
د نړیوالو سازمانونو د مزایاوو ډولونه ........................................ ۲۲

سرلیک ---------------------------------------------------- مخونه
له محصول او مالیاتو څخه معافیت ............ ۲۶
له ګمرکي محصول او پلټنې څخه معافیت ............ ۲۷
له ټولنیزې بیمې څخه معافیت ............ ۲۷
له شخصي چوپړتیاوو څخه معافیت ............ ۲۸
د نړیوالو سازمانونو د پرېکړه لیکونو اعتبار ............ ۲۸
د نړیوالو سازمانونو تقنیني واک ............ ۲۸
د ملګرو ملتونو د پرېکړه لیکونو ډولونه ............ ۳۰
د نړیوالو سازمانونو ډلبندي ............ ۳۳
دولتي سازمانونه ............ ۳۴
نادولتي سازمانونه ............ ۳۶
د ملګرو ملتونو د اطلاعاتو عمومي اداره ............ ۳۹
د اقتصادي او ټولنیزې شورا د نادولتي سازمانونو کمېټه ............ ۳۹
د نادولتي سازمانونو ارتباطي دفتر ............ ۴۰
د نادولتي سازمانونو ارتباطي سروېس ............ ۴۰
دویمه برخه:
د ملتونو ټولنه ............ ۴۵
د ملتونو ټولنې تاریخچه ............ ۴۵
د ملتونو ټولنې جوړښت ............ ۴۶
د ملتونو ټولنې څانګې ............ ۵۰
د ملتونو ټولنې نیمګړتیاوې ............ ۵۳
د ملګرو ملتونو سازمان ............ ۵۴
د ملګرو ملتونو د پیدا ېښت تاریخچه ............ ۵۴
د متحدینو اعلامیه ............ ۵۵
د اتلانتیک منشور ............ ۵۵
د ملګرو ملتونو اعلامیه ............ ۵۵
د مسکو کنفرانس ............ ۵۶
د ډومبارټن اوکس او یالټا کنفرانسونه ............ ۵۶
د سنفرانسیسکو کنفرانس ............ ۵۷
د ملګرو ملتونو موخې او اصول ............ ۵۸

سرليک ------------------------------------------------------------- مـخـونـه

د ملګرو ملتونو سازمان جوړښت........................................ ۵۹
د ملګرو ملتونو په سازمان کې د غړيتوب شرايط........................................ ۵۹
د ملګرو ملتونو په سازمان کې د غړيتوب طرزالعمل........................................ ۶۱
د ملګرو ملتونو په سازمان کې د نا غړو دولتونو وضعيت........................................ ۶۳
د ملګرو ملتونو سره د همکارۍ په موخه د ناغړو هېوادونو رابلل........................................ ۶۴
د کوچنيو هېوادونو (micro-state) وضعيت........................................ ۶۴
د دولتونو د استازيو پلاويو وضعيت........................................ ۶۵
د وتلو او اېستلو شرايط، د غړيتوب ځنډول او رايه........................................ ۶۷
په ملګرو ملتونو کې اصلاحات........................................ ۶۹
د ملګرو ملتونو اصلي څانګې........................................ ۷۲
د امنيت شورا........................................ ۷۲
وېټو veto........................................ ۸۴
عمومي اسامبله........................................ ۹۱
نړيواله محمکه........................................ ۱۱۰
د نړيوالې محکمې د واک محدوديتونه........................................ ۱۱۸
(مدعي او مدعي عليه)........................................ ۱۱۸
د دعوا موضوع(محل)........................................ ۱۲۰
د دولتونو رضايت........................................ ۱۲۱
د محکمې واک منل........................................ ۱۲۱
اقتصادي او ټولنيزه شورا........................................ ۱۲۲
د ملګرو ملتونو دارالانشاء........................................ ۱۳۰
دارلانشاء........................................ ۱۳۳
قيموميت شورا (Trusteeship council)........................................ ۱۳۷
د ملګرو ملتونو فرعي څانګې........................................ ۱۴۰
د نړيوالو حقوقو کمېسيون........................................ ۱۴۲
د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ- UNHCR........................................ ۱۴۳
د ملګرو ملتونو د تجارت او پراختيا کنفرانس- UNCTAD........................................ ۱۴۵

سرلیک ---------------------------------------------------------- مخونه

د نفوسو په چارو کې د ملګرو ملتونو صندوق- UNFPA ........ ۱۴۷
د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق- UNICEF ........ ۱۴۸
د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام- UNDP ........ ۱۴۸
د خوړو نړیوال پروګرام WFP ........ ۱۴۹
د ملګرو ملتونو د چاپېریال ساتنې پروګرام UNEP ........ ۱۵۰
د اقتصادي او ټولنیزې شورا فرعي څانګې ........ ۱۵۱
سوله ساتی ماموریت: ........ ۱۵۳
پوځي مرکزي کمېټه ........ ۱۵۵
په ملګرو ملتونو پورې اړوند تخصصي سازمانونه ........ ۱۵۵
د کار نړیوال سازمان ........ ۱۲۳
د ملکي هوایي چلند نړیواله اداره I.C.A.O ........ ۱۲۴
د خوراکي توکو او کرنې سازمان F.A.O ........ ۱۲۲
د روغتیا نړیوال سازمانW.H.O ........ ۱۲۷
د ملګرو ملتونو علمي او فرهنګي سازمان UNESCO ........ ۱۲۹
د پیسو نړیوال صندوق -I.M.F ........ ۱۷۱
د نړیوال بانک ډله – W.B.G ........ ۱۷۵
د کرنې د پراختیا نړیوال صندوق- IFAD ........ ۱۷۷
د ملګرو ملتونو د صنعتي پراختیا سازمان- UNIDO ........ ۱۷۸
د هوا پېژندنې نړیوال سازمان – W.M.O ........ ۱۸۰
د بېړۍ چلونې نړیوال سازمان – I.M.O ........ ۱۸۲
د مخابراتو نړیواله ټولنه - I.T.U ........ ۱۸۳
د پوسټ نړیواله ټولنه – U.P.U ........ ۱۸۵
د معنوي مالکیت نړیوال سازمان - WIPO ........ ۱۸۲
د سوداګرۍ نړیوال سازمان – W.T.O ........ ۱۸۸
د اټومي انرژۍ نړیوال سازمان - I.A.E.A ........ ۱۹۱
سیمه ییز سازمانونه ........ ۱۹۴
اروپایي سازمانونه ........ ۱۹۴
د اروپا لپاره د ملګرو ملتونو اقتصادي کمېسیون ........ ۱۹۵

سرليک ---------------------------------------------------------- مخونه

د اروپا د اقتصادي همکاريو سازمان OECE ........ ۱۹۵
د اقتصادي پراختيا او همکارۍ سازمان OCDE ........ ۱۹۶
د اروپا د ازادې راکړې ورکړې ټولنه ........ ۱۹۷
د متقابلې اقتصادي همکاريو شورا COMECON ........ ۱۹۷
د اروپا شورا ........ ۱۹۸
د ډبرو سکرو او پولادو اروپايي ټولنه ........ ۲۰۰
اروپايي ټولنه ........ ۲۰۱
د اروپايي ټولنې موخې ........ ۲۰۳
د اروپايي ټولنې څانګې ........ ۲۰۶
د اروپا مرکزي بانک ........ ۲۱۰
د شمالي اتلانتيک تړون سازمان (ناټو) ........ ۲۱۱
ختيځ لور ته د ناټو پرمختګ او د رول بدلون ........ ۲۱۳
د ناټو نوی ستراتېژيک مفهوم ........ ۲۱۵
اسيايي او افريقايي سازمانونه ........ ۲۱۶
د اېکو د اقتصادي همکاريو سازمان ECO ........ ۲۱۶
افريقايي ټولنه ........ ۲۱۹
د شانګهای د همکارۍ سازمان ........ ۲۲۱
د سوېلي اسيا د سيمه ييزې همکارۍ سازمان (سارک) ........ ۲۲۲
د سويل ختيځې اسيا د ملتونو ټولنه (ASEAN) ........ ۲۲۳
د اېشين د ازادې سوداګرۍ سيمه (افتا) ........ ۲۲۵
د اېشين د خلاصې فضا تړون ........ ۲۲۵
د فارس خليج د همکارۍ شورا ........ ۲۲۵
د ګډو ګټو خپلواک هېوادونه ........ ۲۲۶
د ګډو ګټو خپلواکو هېوادونو ګډ امنيتي تړون ........ ۲۲۷
د اسيا – پاسفيک د اقتصادي همکاريو سازمان ........ ۲۲۸
امريکايي سازمانونه ........ ۲۲۹
د امريکايي هېوادونو کنفرانس ........ ۲۲۹
د مرکزي امريکا د هېوادونو سازمان ........ ۲۳۰

سرلیک ---------------------------------------------------------- مخونه
د لاتیني امریکا د هېوادونو سازمان.......... ۲۳۲
د کارابین حوزې د هېوادونو سازمان.......... ۲۳۳
د شمالي امریکا د ازادې سوداګرۍ تړون (نفتا ).......... ۲۳۴
د جنوب ګډ بازار (مرکو سور ).......... ۲۳۵
له سیمې ها خوا سازمانونه.......... ۲۳۶
ناپېیلی غورځنګ.......... ۲۳۶
د اسلامي هېوادونو کنفرانس.......... ۲۳۹
د G8 هېوادونو ډله.......... ۲۴۰
د D8 هېوادونو ډله.......... ۲۴۲
د نفتو د صادروونکو هېوادونو سازمان (اوپک ).......... ۲۴۳
عربي ټولنه Arab league.......... ۲۴۵
اخځونه.......... ۲۴۸
درېیمه برخه:
مل برخې.......... ۲۵۰
د ملګرو ملتونو غړي هېوادونه.......... ۲۵۰
د ملګرو ملتونو اړوند لنډیزونه.......... ۲۵۲
نړیوالې ورځې.......... ۲۵۶
نړیوالې لسیزې.......... ۲۵۹
د ملګرو ملتونو منشور.......... ۲۶۰

# د ژباړن خبرې

په پښتو ژبه کې د علمي اثارو تشه یوه جدي ستونزه ده، چې ډکول یې کلونه وخت ته اړتیا لري. همدې ستونزې ته پام سره اوس د ژباړې او تألیف بهیر د تېرو څو کلونو په پرتله په نسبي ډول چټک شوی دی، خو لا هم په دې برخه کې د افغاني ټولنې د اړتیا په تناسب دغه هڅې په نشت حساب دي.

د دې کتاب د ژباړې انګېزه هم په پښتو ژبه کې د موجوده خلا ډکول دي. د دې ترڅنګ په اوسنیو شرایطو کې د کتاب ازرښت هم دې ته اړ کړم، چې پښتو ژبې ته یې وژباړم. په دې کتاب کې ټول هغه سیمه ییز او نړیوال سازمانونه چې په معاصرو نړیوالو اړیکو کې د مهمو لوبغاړو رول لوبوي، په پوره تفصیل سره بیان شوي دي.

که څه هم ما ددې کتاب ژباړه له چاپ څخه درې کاله مخکې چې د پوهنتون په لومړي ټولګي کې وم، پیل کړې وه؛ خو د ډېرو بوختیاوو له امله دا سې وخت هم راغی، چې د ژباړې بهیر را نه پوره یو کال ځنډېنی شو. بالاخره د پوهنتون د زده کړو په وروستي کال مې له ځانه سره جدي پرېکړه وکړه، چې په درېو میاشتو کې به یې حتماً پای ته رسوم، دا وخت د کتاب وروستی چاپ هم تازه بازر ته راغلی و، چې زما لپاره ښه زېری و. له بده مرغه موږ پښتانه د ژباړې او تالیف لپاره د همغږۍ او انسجام داسې یو بنسټ نه لرو، چې دغه هڅې سره راټولې او همغږې کړي. ډېرې دا ډول پېښې شوي، چې هممهاله څو کسانو په یو نوم یو کتاب لیکلی یا ژباړلی دی.

په هر صورت، دا هم د ویاړ خبره ده چې اوس په پښتنو کې دا احساس را ژوندی شوی او هیله مې دا ده چې د پښتو ژبې د بډاینې لپاره د ژباړې او تألیف داسې بنسټونه جوړ شي، چې نورو ژبو ته د مطالعې اړتیا ونه ولیدل شي.

که څه هم د علمي اثارو په ژباړه کې ژباړن نه شي کولی چې په کتاب کې څه کم یا زیات کړي، خو په کتاب کې ځینو نیمګړتیاوو او ستونزو دې ته اړ کړم چې له خپلو معلوماتو هم ګټه واخلم.

په پای کې له خپل ګران ملګري سید عبدالله ولي زي څخه مننه کوم، چې د کتاب د چاپ به برخه کې یې لازمې مشورې راکړې او هم یې د کتاب په تخنیکي چارو کې صادقانه هڅې کړې دي.

محمد نظیم سمون
کابل، افغانستان
۱۳۹۱ کال، مرغومی

# د لیکوال خبرې

د نړیوالې سولې او امنیت ټینګښت او د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي همکاریو رامنځته کول د بشر اساسي اړتیاوې او پخوانۍ هیلې دي. خو د نړیوالې سولې د ټینګښت لپاره هلې ځلې له یوه داسې بنسټ پرته چې دغه موخه په کې تحقق و مومي، ناشونې وې.

په پخوانیو پېړیو کې نړیوالې اړیکې د دولتونو پر دوه یا څو اړخیزو اړیکو ولاړې وې، که څه هم په نولسمه پېړۍ کې د نړیوالو همکاریو د تنظیم او انسجام په موخه د ویانا او برلین کنګرو له لارې ډېرې هڅې وشوې، خو دغه هڅې دومره مثبتې و نه برېښېدې، بلکې یوازې د اروپا تر لویې وچې پورې محدودې پاتې شوې.

د بشري ټولنې له پرمختګ او د دولتونو ترمنځ د هر اړخیزو همکاریو اړتیا ته په پام سره، د عادلانه اړیکو په چوکاټ کې د یوې رښتینې سولې او ثبات لپاره اړتیا لیدل کېده. په همدې اساس، له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته د نړیوالې ټولنې د ټولو غړو په ګډون یو نړیوال سازمان جوړ شو. دغه سازمان چې د دولتونو ترمنځ د نږدېوالې په موخه یې هڅې کولې، په خپل جوړښت کې د ځینو نیمګړتیاوو له امله و نه شو کړای، چې د دویم نړیوال جنګ د خونړې توپان مخه ونیسي.

خو د ملتونو ټولنې له ماتې او نیمګړتیاوو سره سره د یوه نوي نړیوال بنسټ د جوړېدا اړتیا له منځه لاړه نه شوه، بلکې دوه برابره شوه.

د دویمې نړیوالې جګړې ګټونکو په دې باور چې د نړیوالې سولې او امنیت یوازېنۍ لار د یوه نوي بنسټ جوړول دي، د (ملګرو ملتونو) سازمان یې جوړ کړ. هغه بدلونونه چې د ملګرو ملتونو سازمان له تشکیل وروسته رامنځته شوي دي، د دولتونو په داخلي نظام او نړیوالو اړیکو کې یې د پام وړ بدلونونه راوستي دي.

ددې ترڅنګ چې د ملګرو ملتونو سازمان مثبتې لاسته راوړنې لرلې، خو باید یادونه وکړو چې دغه سازمان ځینې نیمګړتیاوې هم لري چې له دې جملې د یو شمېر هېوادونو پر وړاندې د امنیت شورا دوه ګونی چلن، د نړیوال نا انډوله اقتصاد په مخنیوي کې پاتې راتلل، د نړیوالو حقوقو د پلي کولو لپاره د کافي اجرايوي ضمانت نشتوالی او نور...

په هر حال، د نړیوالو سازمانونو پدیده د معاصرې نړیوالې ټولنې له مهمو شاخصونو څخه یوه ده او داسې ورځ نشته چې خلک د ډله ییزو رسنیو له لارې د هغوی له فعالیتونو خبر نه شي. ددې کتاب موخه د نړیوالو سازمانونو وروستیو لاسته راوړنو ته په پام سره، د هغوی په اړه څېړنه او تحقیق ده.

رضا موسی زاده – ۱۳۷۸

# سریزه

افغانستان په وروستیو څو لسیزو کې د ځبرځواکونو د سیالیو ډګر ګرځېدلی دی، چې ټول مادي او معنوي شته یې له منځه تللي دي او نن هم د نړیوالو سیالیو او سیمه ییز شؤنیزم قرباني دی او د یو شمېر ملکونو د کلتوري تیریو ننداړتون هم ګرځېدلی دی. له دغو بدمرغیو سره د افغانستان خاوره د نړیوالو سازمانانو د فعالیت سیمه هم ګرځېدلې ده او د افغانستان پېښې د نړیوالو رسنیو د خپرونو سرټکی هم ګرځېدلی دی، چې په نننۍ نړۍ کې د بېلابېلو ښکېلاکګرو او مرستندویو سازمانانو پام یې ځان ته رااړولی دی.

په نړۍ کې نن سبا تر ۲۰۰ خپلواک ملکونه شته دي، چې د بېلابېلو سیمه ییزو او یا هم نړیوالو سازمانونو غړیتوب لري، افغانستان هم یو له هغو ملکونو دی، چې له سمه ییزو ګاونډیو او لر او بر ملکونو سره اړیکې ساتي او د یو شمېر سیمه ییزو سازمانونو او یا ټولنو غړیتوب هم لري، چې افغانستان یې له سیمه ییز بېلتونه ژغورلی دی او د دوو اړخیزو اړیکو پر بنسټ ځینې اړینې ټولنیزې چارې پر مخ بیایي او د سوداګریز ډګر یې هم تود ساتلی دی.

له بده مرغه د وروستیو څو لسیزو په ترځ کې د بهرنیو سازمانونو نامطلوبه سیالۍ هم په افغانستان کې پیاوړې شوې دي، چې افغانستان یې د استخباراتي سیالیو یو مضبوت مرکز هم ګرځولی دی، چې د افغانستان ملکي وګړي یې قرباني دي. په افغانستان کې ټول ټولنیز واحدونه د څو لسیزو جګړو په ترځ کې تر ډېر بریده له منځه تللي دي، چې او سمهال د خپلې ټولنیزې ادارې د شتون او فعال ساتلو لپاره بهرنیو ننګینو مرستو ته اړ دی، چې د افغانستان د ټولو اداري برخو اقتصادي بنسټ د بهرنیو ملکونو مرستې دي. نن سبا د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه هم د بهرنیو دوناتورانو په مټ ساتل کېږي، نو هرومرو په دې برخه کې هم نړیوال سازمانانو خپل اړین اغېز درلودلی شي.

د پورته یادوشویو پېښو او واقعیتونو په درشل کې زما په ګمان د نړیوالو سازمانانو په اړه معلومات یوه ټولنیزه اړتیا ګڼلی شو. ما د ښاغلي سمون کتاب، چې د نړیوالو سازمانونو په اړه یې راژباړلی دی وکتلو، چې ډېر غوره او اړین معلومات پکې راټول شوي دي. دغه معلومات د افغان ولس د لوستو ځوانانو لپاره ډېر اړین دي، ځکه افغانستان په دې نړۍ کې یو له هغه ۲۰۰ خپلواکو هېوادونو څخه شمېرل کېږي، چې له ټولو سره ورته او برابر سیمه ییز او نړیوال حقوق لري، چې په اړه یې پوهېدل یو اړین ټولنیز ارزښت دی.

په کتاب سیمه ییز سازمانونه او نړیوال سازمانونه او یا ټولنې په ډېره ښه توګه سپړل شوي دي، چې د ګڼشمېر سازمانونو د کار توګې او مسؤلیتونه هم توضیح شوي دي، چې د لوستونکو په ذهني وده او د سازمانونو د اډانې په اړه د پوهېدنې په برخه کې خپل اړین اغېز پرېښودلی شي، ځکه یو سازمان د اصولو پر بنسټ فعالیت کوي او د دوو اړخونو تر منځ د تړونونو پر بنسټ دوا ړه اړخونه او یا څو اړخونه هغه غوښتنو ته ژمن وي، چې په تړون کې یاد شوي او د مسؤلینو لخوا لاسلیک شوي وي.

له بل اړخه په دغه کتاب کې د سازمانونو په رامنځ ته کېدلو کې د ټولنیزو هڅاندو، پوهانو او دولتونو غوره رول ته او د سازمان په جوړولو کې د بنسټلیک اړخ ته هم هر اړخیز پام شوی دی، چې د دغه کتاب په لوستلو یو څوک کولی شي د یو سازمان او یا ټولنې د تشکیلاتي چوکاټ تر څنګ د بنسټلیک په رڼا کې د یو سازمان فعالیت ځان ته انځور کړي او په یوه ټولنه کې د دندو وېش او د دندې سم تر سره کولو ته ځیر شي، چې د دغه معلوماتي کتاب دغه اړخ د ځوانانو د ټولنیز شخصیت په وده او د پوهې پر بنسټ د ټولنیزو سیستمونو په رامنځ ته کولو کې خپل اړین اړخ درلودلی شي.

د پورته یادو شویو اړینو تأثیراتو تر څنګ په دغه کتاب کې هغه معلومات د سیمه ییزو، نړیوالو او پراخبنسټو سازمانونو په اړه ځای پر ځای شوي، چې د نړیوالتوب ارزښتونو ته ښودنه کوي، ځکه له ننني ترانسپورټي، انټرنېټي او تکنالوژیکي پرمختګ سره ټوله نړۍ د یو واړه کلي بڼه غوره کړې ده، چې افغانستان هم د دغه کلي د نړیوالتوب د ځنځیر یوه وړه کړۍ ده، چې له نورو ملکونو او ټولنیزو سیستمونو سره د ګډ او هر اړخیز ژوند تابیا شي، چې وکولی شي، د نړۍ په کلي کې خپل اړین ځای غوره کړي او خپلو خلکو او نړیوالو ته د هوسا ژوند وړمې رامنځ ته کړي.

څنګه چې وینی د دغه کتاب لیکوال ډېر زیار ایستلی دی او دغه اړین معلومات یې د دغه کتاب په اډانه کې راټول کړي دي، نو زه تاسو د دغه اړین کتاب لوستلو ته رابولم، چې هم خپله پوهه د سازمانونو او نړیوالو ټولنو په اړه پراخه کړی او هم د لیکوال او ژباړن له دغه ستر زیار نه پوره ګټه پورته کړی، ځکه موږ اشرف المخلوقات یو او د بینالطرفین د تړونونو او ژمنو پر بنسټ له یو او بل سره چلند کوو، نو که شخص وي، که سازمان وي او یا دولتي سیستم، باید د تړون مقرراتو ته ژمن پاتې شي. زه سمون صاحب ته د نورو آثارو د لیکلو، ژباړو او تدوین حوصله غواړم، چې وکولی شي د دغه پوهنیزې هڅې له لارې خپل هېواد او هېوادوالو ته د خدمت وړ وګرځي.

په درنښت

ډاکټر سید نصیر احمد

# لومړۍ برخه

## د نړیوالو سازمانونو عمومي ځانګړتیاوې

# لومړی څپرکی

## د نړیوالو سازمانونو تاریخي شالید

ورځ تر بلې د نړیوالو اړیکو او سوداګرۍ پراختیا، د نړیوالو سازمانونو د منځته راتګ او پرمختګ لامل ګڼل کېږي. د ارتباطي میکانېزم رامنځته کولو او د نړیوالې سوداګرۍ پراختیا ته په پام سره، د یوه منظم بنسټ تأسیس ته اړتیا ولیدل شوه.
په لرغوني روم او یونان کې د قونسل په نوم یو بنسټ موجود و، چې د بهرنیو هېوادونو په سوداګریزو بندرونو کې به یې د خپلو خلکو له ګټو ساتنه کوله. خو دا چې په بهرنیو هېوادونو کې قونسل سیاسي مسوولیت نه درلود، نو یو شمېر هېوادونو خپل استازي د سفیر په نوم بهر ته واستول.
د وخت په تېرېدو سره، دغه دوه ګونې ډیپلوماسي (کونسول- سفیر) د ایټالیا حکومت دغوښتنې پراساس د دایمي ډیپلوماتیک سفیر (Permanent diplomatic ambassador) په نوم یاده شوه او له ډیپلوماتیک پلاوي سره د سفیرانو لېږد را لېږد له همدغه وخت څخه دود شو.
خو د وخت په تېرېدو سره د نړیوالو اړیکو پراختیا او پېچلتیا؛ د نړیوالو او سیمه ییزو ستونزو په حل کې د دایمي سفیرانو ناتواني ښکاره کړه. په ځینو برخو کې به ستونزې نه یوازې له یوه هېواد سره تړلې وې، بلکې څو هېوادونه یې په بر کې نیول. د دې ډول ستونزو د حل یوازېنۍ لار څو اړخیزې خبرې وې چې باید د یوه نړیوال کنفرانس له لارې ترسره شوې وای.
په همدې اساس د بېلابېلو هېوادونو له استازو څخه د یوه ګډ نړیوال کنفرانس تشکیل، د ستونزو د سوله ییز حل یوازېنۍ لار وګڼل شوه او د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې د دغه ډول غونډو رابللو ته د یو شمېر هېوادونو لېوالتیا مخ په ډېرېدو شوه.
په ۱۷۴۸ زېږدیز کال کې د (وېسټ فالیا) د سولې نړیوال کنفرانس هم په همدې موخه جوړ شوی و او په نولسمه پېړۍ کې دې ته ورته ګڼ شمېر نور کنفرانسونه هم جوړ شول، چې په پایله کې هر یو د بېلابېلو تړونونو په لاسلیکولو او هوکړې پای ته ورسېدل.
له ناپېلیوني جګړو وروسته، په ۱۸۱۵ زېږدیز کال کې د اروپایي هېوادونو ترمنځ د سولې د ټینګښت په موخه د ویانا کنګرې جوړېدل هم د یادو کنفرانسونو له جملې څخه و. همدا راز له دویمې نړیوالې جګړې وروسته، په ۱۹۱۸ ز کال کې د پاریس کنفرانس جوړ شو، چې بالاخره په ۱۹۱۹ کال کې د ورسایلز پر تړون پای ته ورسېد.

ځنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه، څومره چې به د خبرو اترو له لارې د یوه نړیوال کنفرانس په چوکاټ کې سوله ییز تړونونه لاسلیکېدل، هومره مثبتې پایلې یې هم لرلې، ځکه یوازې دوه اړخیزه ډیپلوماتیکو خبرو اترو د نړیوالو او سیمه ییزو ستونزو په حل کې مثبت رول نه شو لوبولی.

مثلاً، د توري بحیرې د اوبو حقوقي مسله چې ګڼ شمېر هېوادونه په کې شریک وو، په ۱۸۵۲ کال کې د ستونزې د حل په موخه د پاریس کنفرانس جوړ شو. دغه راز د یاد کنفرانس د پرېکړو د څارنې او ملاتړ په موخه، په ۱۸۱۷ ز کال کې د روسیې له خوا د (برلین کنګره) جوړه شوه.

د اروپایي هېوادونو ترمنځ سیاسي او سوداګریزو سیالیو ته په پام سره، په ۱۸۸۴ کال د افریقا په لویه وچه کې د اروپایي هېوادونو د سیاسي او سوداګریزو فعالیتونو د لا ښه والي په موخه د برلین کنفرانسونه جوړ شول. همدا راز په ۱۸۹۹ او ۱۹۰۷ کلونو کې د ځمکنۍ او سمندري جګړو د حقونو او مقرراتو د تدوین په موخه د (لاهای) کنفرانسونه جوړ شول.

پورتني مثالونه د هغو بېلابېلو کنفرانسونو یو څو نمونې وې، چې د نړیوالو او سیمه ییزو ستونزو د هوارۍ په موخه د یو شمېر هېوادونو په زیار او هڅو جوړ شوي وو. د ویانا کنګرې، چې د کنسرټ سیستم په بنه رامنځته شوې وه، د نړیوالو سازمانونو پر جوړېدا او د هغوی د فعالیتونو پر څرنګوالي ژور اغېز وښند.

دغې کنګرې د (لومړي الکساندر) له هیلې سره سم، د فاتحو ځواکونو ترمنځ یووالی راوست. په یاد کنفرانس کې غوښتنه وشوه چې وخت پر وخت دې پرله پسې نور کنفرانسونه هم جوړ شي. خو دغه کنفرانسونه له کوم ځانګړي مهالوېش پرته، د اړتیا پرمهال جوړېدل. د ۱۸۱۸ او ۱۸۲۲ کلونو ترمنځ ټولټال څلور کنګرې جوړې شوې:

- د اکس لاشاپل کنګره Aix-la-chapelle (۱۸۱۸)
- د تروپو کنګرې Tropau
- لباخ Labach (۱۸۲۰-۱۸۲۱)
- او د وېرونا کنګره Verona (۱۸۲۲)

که څه هم د راتلونکې لپاره د منظمو کنفرانسونو او کنګرو د جوړېدو بنسټ کېښودل شو، خو یو شمېر هېوادونو ټینګار کاوه چې د منظمو څو اړخیزو خبرو اترو لپاره د کنفرانسونو او غونډو دا لړۍ یوه دایمي بنسټ ته اړتیا لري.

د اروپا کنسرټ (concert of Europe) تقریباً د یوه رسمي بنسټ په توګه د مقدس اتحاد (Holly alliance) تر رنګېدو خپل فعالیت ته دوام ورکاوه. د دویمي نړیوالې جګړې پرمهال په اروپا کې د قدرت انډول، چې د اروپا کنسرټ پر تړونونو ولاړ و، له منځه لاړ.

د لندن کنفرانسونه (۱۹۱۲-۱۹۱۳) چې د بالکان جګړې په وروستیو کې جوړ شوي وو، د اروپا کنسرټ سیستم په چوکاټ کې وروستي کنفرانسونه ګڼل کېږي. د اروپا کنسرټ سیستم ځینې نیمګړتیاوې لرلې، چې په دې ډول دي:

۱- کله چې د ستونزو د حل په موخه کوم کنفرانس جوړېده، نو د کنفرانس د جوړولو ویاړ او نوښت به یوازې د کوربه هېواد حق ګڼل کېده. په دې اساس، نورو هېوادونو ته وندې نه ورکول، د نړیوالو همکاریو د تحقق او د ستونزو د حل په برخه کې لانجمنه مسله وه.

۲- په داسې حال کې چې کنفرانس به د کوربه او جوړوونکو هېوادونو په انحصار کې و، نو په کنفرانس کې د نورو هېوادونو ګډون به د کوربه هېواد له بلنې سره تړلی و. همدا راز د کنفرانس ګډونوال له مساوي حقونو څخه برخمن نه وو او مستحق هېوادونه به کنفرانس ته د نه بلنې له امله له ګډون څخه بې برخې پاتې کېدل.

۳- د کنفرانس پرېکړې د رایو په یووالي ترسره کېدې او له همدې امله د یوه هېواد مخالفت به عملاً د کنفرانس په رنګېدو تمامېده.

دا چې د اختصاصي کنفرانسونو(Ad hoc conference) سیستم و نه شو کړای چې نړیوالو او سیمه ییزو شخړو ته د حل مناسبه لار ومومي، نو په نولسمه پېړۍ کې د یو شمېر هېوادونو په هڅو ځینې ټولنې رامنځته شوې، چې د نړیوالو اړیکو په برخه کې یې اغېزمن رول ولوباوه.

وروسته یو شمېر نورې دولتي او خصوصي ټولنې هم جوړې شوې، چې دغه ټولنې په حقیقت کې د دولتي او خصوصي ټولنو پیل او اساس ګڼل کېږي.

# لومړۍ برخه

## نړیوالې خصوصي اتحادیې

دغه اتحادیې د خصوصي اشخاصو او صنفي ټولنو له خوا د خپلو ګټو د دفاع او ملاتړ په موخه جوړې شوې وې. په ۱۹۴۰ زېږدیز کال کې دغلامۍ پرضد د مبارزې د نړیوال کنفرانس په ترڅ کې یو کنوانسیون تصویب شو، چې دغه کنوانسیون له بشري حقونو څخه د ملاتړ په برخه کې د خصوصي ټولنو او اشخاصو لویه لاسته راوړنه وه.

له ۱۸۴۰ کال څخه، تر لومړۍ نړیوالې جګړې پورې شاوخوا ۴۰۰ دایمي او خصوصي ټولنې جوړې شوې، چې هرې ټولنې او اتحادیې ځانګړي اهداف پرمخ وړل. لکه:

د سره صلیب نړیواله کمېټه، ۱۸۶۳(international committee of the red cross)

د بین المجالس ټولنه، ۱۸۸۹(inter- parliamentary union)

د نړیوالو حقونو ټولنه، ۱۸۷۳(international law association)

د ادبیاتو او هنرونو ټولنه، ۱۸۷۸(international literary and artistic association)

او د سوداګرۍ نړیواله خونه، ۱۹۱۹(international chamber of commerce)

بالاخره د دې ټولنو چټک پرمختګ سبب شو، چې په ۱۹۱۰ کال کې د نړیوالو اتحادیو عمومي ټولنه جوړه شوه. عمومي ټولنه د نړیوالو اتحادیو د فعالیتونو د همغږۍ او د چارو د سمون په موخه جوړه شوې وه. خصوصي اتحادیو ته په عمومي ټولنه کې د غړیتوب لپاره یو لړ شرطونه وټاکل شول، چې په دې ډول دي:

۱-د یوه دایمي ارګان شتون؛

۲-عمومي ګټې په پام کې نیول؛

۳-ټولو هېوادونو او اشخاصو ته د غړیتوب ازاد حق ورکول.

د یادونې ده، چې دغو ټولنو د تېرو کنفرانسونو برعکس، منظمې غونډې او خپل منځي همکارۍ لرلې. د دې ټولنو فعالیتونه داسې وو، چې ځینې وختونه به دولتي چارواکو، ښاریانو او ملي شخصیتونو هم په کې برخه اخیسته.

په خصوصي اتحادیو کې د دولتي چارواکو ګډون او همدا راز له دولت سره ددوی همکاري؛ یو داسې جوړښت رامنځته کړ چې د دولتونو او خصوصي اشخاصو ترمنځ د همغږۍ او مرستې پر یو واحد مرکز بدل شو:

- د علمي ټولنو نړیواله شورا (international council of scientific unions)

- د مدیترانې سمندر د علمي پلټنو نړیوال کمېسیون

international commission for the scientific exploration of the Mediterranean (sea)

- د سرشمېرنې نړیوال انستیتیوت (international statistical institute)

- د روغتونونو نړیوال فدراسیون (international hospital federation).

په ځینو برخو کې د خصوصي ټولنو لاسته راوړنې او بریاوې د دولتونو په ملاتړ او همکاریو پورې تړلې وې او دغه چاره د یوه هوکړه لیک له مخې ترسره کېده.

مثلاً، د سره صلیب نړیواله کمېټه؛ چې خپل کار او فعالیت یې د جېنیوا کنوانسیونونو پر اساس سرته رساوه.

د سمندري چارو نړیوالې کمېټې هم خپل فعالیتونه په سمندر کې د خوندي ژوند کولو کنوانسیون پر اساس پرمخ وړل. په ځینو برخو کې د خصوصي ټولنو لاسته راوړنې به عملاً په هماغو برخو کې د دولتي اتحادیو د جوړېدا سبب کېدې. د بیلګې په توګه:

- د تول، کچ کولو او پیسو نړیواله کنګره

- د متریک ټولنه Metric union (۱۸۲۷)

- له کارګرو څخه د ملاتړ قانوني ټولنه Association of the legal protection of labour
- د کار نړیوال سازمان international labour organization
- د هنرونو او ادبیاتو نړیواله ټولنه
- د ادبي او هنري مالکیت نړیوال دفتر International Bureau of library and artistic property

# دویمه برخه

# نړیوالې عمومي ټولنې

د دولتونو ترمنځ همکاریو ته په پام سره، عمومي او دولتي ټولنو په نړیوالو مسایلو کې لږ - لږ خپل ارزښت پیدا کړ. هغه مسایل چې پخوا به د خصوصي ټولنو په چوکاټ کې مطرح کېدل، وروسته ددغو ټولنو په فعالیتونو کې شامل شول. دغه ټولنې د یو شمېر هېوادونو او دولتي سازمانونو په ګډې همکارۍ، د دوه اړخیزو او څو اړخیزو تړونونو په اساس جوړې شوې وې.
په ۱۸۱۵ کال کې د اړیکو د پراختیا او ټینګښت په موخه د وین کنګره جوړه شوه، چې ددې کنګرې د پرېکړې له مخې د راین کمېسیون (Rhine commission) رامنځته شو. دغه کمېسیون د تقنیني واک د درلودو ترڅنګ، له یوه قضایي ارګان څخه هم برخمن و.
د دانوب سیند اروپایي کمېسیون (European commission for Danube) هم د یاد کمېسیون په څېر له اداري او تقنیني ارګان څخه برخمن و.
دیاد کمېسیون مالي لګښت د دانوب سیند د حق العبور له مالیاتو څخه تامینېده. د دانوب سیند اروپایي کمېسیون غړي او کارکونکي له ډیپلوماتیک خوندیتوب څخه برخمن وو.
خو له ۱۹۱۹ کال وروسته د مسؤلیتونو له پراخېدو سره د کمېسیون واک تر بر دانوب پورې وغځېد، چې له دې سره یې د (دانوب نړیوال کمېسیون) نوم غوره کړ.
البته له دې وړاندې هم د ځینو سیندونو، لکه:
(اِلب – Elbe)، (ډورو- Dourou) (پو-po)او (پروټ-pruth) په اړه نړیوال کمېسیونونه جوړ شوي وو، خو دغه کمېسیونونه د راین کمېسیون برعکس، له محدود واکونو څخه برخمن وو.
د اورګاډي پټلۍ غځول هم یوه ارتباطي وسیله وه، چې په نړیوالو او سیمه ییزو همکاریو کې یو مهم عامل وګڼل شو او په دې برخه کې ګڼ شمېر کنفرانسونه جوړ شول.
په ۱۸۹۰ کال کې د (اورګاډي لېږد رالېږد نړیوالې ټولنې) او دې ته ورته د یو شمېر نورو ټولنو په څېر ټول سازمانونه سره یو شول. دې ټولنې یوه اجرایوي ځانګه لرله، خو د قانون جوړونې واک

یې نه درلود. په ټولنه کې د غړو هېوادونو له لوري پرېکړې به د منظمو کنفرانسونو له لارې ترسره کېدې.

همدغه راز په ۱۸۷۴ کال کې پوستي نړیواله ټولنه (universal postal union) رامنځته شوه چې په هرو پنځو کلونو کې به یې یو ځل د غړو هېوادونو په ګډون نړیواله کنګره رابلله. یادې ټولنې یو نړیوال دایمي دفتر درلود.

په ۱۹۰۳کال په پاریس کې د روغتیایي خدمتونو په موخه د عامې روغتیا نړیوال دفتر پرانېستل شو، چې د اوسني نړیوال روغتیایي سازمان په څېر یې پراخ واکونه درلودل.

په اقتصادي برخه کې هم ځیني ټولنې رامنځته شوې، چې له دې جملې د چاپ نړیواله ټولنه، د شکرې نړیواله ټولنه او د کرنې نړیواله مؤسسه د یادولو دي.

پورتنۍ ټولنې او اتحادیې له تاریخي پلوه د اوسنیو نړیوالو سازمانونو د تأسیس پیلامه او سرچینه ګڼل کېږي، چې ښه بېلګه یې د ملتونو ټولنه ده.

د ملتونو ټولنه چې د نړۍ ببلابېلو هېوادونو په کې غړیتوب درلود، لومړنی نړیوال دولتي سازمان و چې د سترو اهدافو لپاره جوړ شوی و. داچې دغه سازمان د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې مهم رول لوبولی، په دې اړه پوره بحث به د نړیوالو سازمانونو راتلونکي ځانګړي فصل ته پرېږدو.

# دویم څپرکی

## د نړیوالو سازمانونو پېژندنه او ځانګړتیاوې

د نړیوالو سازمانونو پېژندنه:

نړیوال سازمانونه د غړو دولتونو هغه ټولګه ده، چې د یوه هوکړه لیک پر اساس رامنځته کېږي او غړي هېوادونه خپلې ګډې موخې د ځانګړو اداري واحدونو او ارګانونو په چوکاټ کې په دوامداره توګه پرمخ وړي.

د پورتني تعریف له مخې، د نړیوالو سازمانونو ځانګړتیاوې په لاندې ډول بیانولی شو:

۱- نړیوال سازمونونه د دولتونو په یو ځای کېدو سره رامنځته کېږي.

۲- نړیوال سازمانونه د یوه بنسټلیک (اساسنامې) پر اساس رامنځته کېږي.
۳- د سازمان غړي ګډې موخې لري.
۴- د سازمان فعالیت د ځانګړو اداري واحدونو په چوکاټ کې ترسره کېږي.
۵- د سازمان فعالیتونه دوامداره دي.

## ۱- د دولتونو یوځای والی

نړیوال سازمونونه په حقیقت کې د هغو دولتونو له یو ځای کېدو څخه، چې د سازمان اساسنامه یې لاسلیک کړې وي، جوړېږي. هر غړی هېواد په سازمان کې د خپل یو با صلاحیته استازي په واسطه له خپلو ګټو او تګلارو څخه دفاع کوي. که څه هم د نړیوالو سازمانونو بنسټګر معمولاً دولتونه دي، خو ددې ترڅنګ یو شمېر نا دولتي سازمونه هم شته چې دلته به پرې لنډه رڼا واچوو.
- د کار نړیوال سازمان د هوکړه لیک له مخې، د هېوادونو پر استازو سربېره، د کارګرانو د ټولنو استازي او کارمشران هم کولی شي چې د سازمان په غونډو او پرېکړو کې برخه واخلي.
- د تلګراف او دمخابراتو نړیوال سازمان غړي د خپل دولت استازي نه دي، بلکې د مسلکي متخصصینو او کارپوهانو په توګه په دې ټولنه کې دنده لري.
- دغه راز د نړیوالې محکمې قضایان د خپل هېواد استازیتوب نه شي کولی، بلکې د بېطرفۍ اصل ته په پام سره ټول حقوقي مسایل په عادلانه توګه څېړي.
- د ځینو سازمونونو غړي د خپل هېواد استازي نه وي، بلکې د څو ملتونو استازیتوب کوي. لکه د اروپا پارلمان. دغه نوې پدیده د نړیوالو سازمانونو د وروستیو بدلونونو په لړ کې، په ځانګړې توګه د اروپایي سازمانونو د ودې او پرمختګ په بهیر کې پیدا شوه. په دې سازمانونو کې د قانون جوړونې د مجلسونو استازي د دولتونو د استازو په توګه دنده ترسره کوي.
که څه هم د مجلسونو استازي یوازې د سازمان په عمومي اسامبله کې د غړیتوب حق لري، خو په اروپایي سازمانونو کې د پارلمان د غړو زیاتوالی او د سازمانونو په چارو کې د هغوی زیاتېدونکی رول، په سازمان کې د یوه تازه بدلون نښه ده. ځکه په یوه نړیوال سازمان کې د ملي مجلسونو د استازو ګډون د یوه فدراسیون په څېر دی او لرې نه ده چې په راتلونکي کې هغه استازي چې مستقیماً د خلکو له خوا ټاکل کېږي، د نړیوالو سازمانونو مشري هم پر غاړه واخلي.

## ۲- د اساسنامې لاسلیک

څرنګه چې مخکې مو یادونه وکړه، د دولتونو یوځایوالی د یوه نړیوال سازمان د جوړېدا په لار کې مهم عنصر ګڼل کېږي، خو ترڅنګ یې د اساسنامې یا بنسټلیک لاسلیکول هم اړین دي. له

اساسنامې پرته د دولتونو هر ډول یوځایوالی د سازمان د تأسیس سبب نه شي کېدای. د اساسنامې د نه تصویب په صورت کې د دولتونو یوځای کېدل به د هغو کنفرانسونو په څېر وي، چې د لنډې او تاکلې مودې او ځانګړي هدف لپاره جوړېږي او د برخوالو د نظریاتو له تبادلې وروسته پای مومي.

د اساسنامې لاسلیک دوه ښېګڼې لري:

۱-د سازمان د موجودیت اعلان

۲-حقوقي او نړیوال هویت پیدا کول.

د سازمان د موجودیت اعلان: نړیوال سازمانونه د ځو اړخیزو تړونونو له مخې رامنځته کېږي. لکه (د معاهداتو حقوق ) د نړیوالو سازمانونو یوه مهمه برخه تشکیلیوي. په دې اساس، د اساسنامې تصویب د نړیوالو سازمانونو د جوړېدو په برخه کې تر ټولو لومړی اړتیا ده او له تصویب پرته د اساسنامې اجرا الزامیت نه لري.

د یادونې ده، چې د اساسنامې د لاسلیکولو بهیر سازمان تر سازمانه توپیر لري. د ځینو سازمانونو اساسنامه د ټولو، زیاتو او یا هم د ټولو دولتونو له خوا تر لاسلیک وروسته د اجرا وړ ګرځي. خو ځیني اساسنامې د ځو ځانګړو هېوادونو تر لاسلیک وروسته د اجرا وړ ګرځي.

د ملګرو ملتونو د منشور ۱۱۰ مادې په ۳ فقره کې راغلي: ((د ملګرو ملتونو منشور، د امنیت شورا د پنځو دایمي او غیر دایمي غړو تر لاسلیک وروسته د اجرا وړ ګرځي)).

د اټومي انرژۍ نړیوال اژانس هم ورته شرایط لري. د دغه سازمان د منشور ۲۱ ماده حکم کوي، چې د اټومي انرژۍ سازمان اساسنامه د یو ځو محدودو هېوادونو؛ یعنې د هستوي قدرتونو له خوا تر لاسلیک وروسته د اجرا وړ ده.

د یادونې ده، چې د نړیوالو سازمانونو اساسنامه له سیاسي مقتضیاتو سره مسقیمه اړیکه لري. هغه سازمانونه چې منسجم جوړښت لري، د اساسنامې پلي کېدل یې د ټولو غړو لاسلیک ته اړتیا لري. لکه اروپایي ټولنه.

حقوقي او نړیوال هویت پیداکول: د اساسنامې لاسلیک نړیوال سازمان ته حقوقي هویت وربښي او له ځانګړو حقوقو او تکالیفو څخه یې برخمنوي. حقوقي هویت نړیوالو سازمانونو ته په خپلو چارو کې خپلواکي ورکوي او د غړو هېوادونو په وړاندې یې له هر ډول توپیر څخه خوندي کوي. نړیوال سازمانونه د خپلو کړنو او اقداماتو پر وړاندې مسؤلیت لري. همدا راز د بودیجې، توکو او کارکوونکو په برخه کې استقلال لري.

## ۳- ګډې موخې:

دولتونه دعامه ګټو د تأمین په خاطر، د نړیوالو سازمانونو په چوکاټ کې ګډې موخې پرمخ بیایي. د سازمان موخې په حقیقت کې د هغه د فعالیت حدود او ساحه په ګوته کوي. هغه سازمانونه چې ګډې موخې لري پر دوه برخو وېشل شوي:

الف- د عمومي موخې لرونکي سازمانونه

ب- د ځانګړې موخې لرونکي سازمانونه

تر ټولو مهم او ستر سازمان چې پورتنۍ دواړه موخې تعقیبوي، د ملګرو ملتونو سازمان دی. هغه سازمونونه چې ځانګړې موخې لري، د شمېر له مخې خورا ډېر دي. دا ډول سازمانونه ځکه ځانګړي بللی شو، چې بېلابېلې موخې لري لکه:

پوځي: (ناټو ، وارسا ، سنټو ... )

سیاسي: (د ناپېیلو هېوادونو غورځنګ، د اسلامي هېوادونو سازمان... )

اقتصادي: (د اروپا اقتصادي ټولنه ، او ... )

فرهنګي: (یونیسکو او ... ).

په هر صورت، یوازې ګډې موخې مهمې نه دي، بلکې هر سازمان مسؤلیت لري ترڅو خپلو موخو ته د عمل جامه ور واغوندي.

## ۴- د سازمان د اداري واحدونو اړتیا

د د دولتو پر یوځای والي، د اساسنامې تصویب او د ګډو موخو په لرلو سربېره، یوه سازمان ته د اداري څانګو او ارګانونو شتون هم اړین دي. که یو نړیوال سازمان ټولې ځانګړتیاوې ولري، خو چې اداري او اجرایوي څانګې ونه لري، ناشونې ده چې خپل فعالیتونه په سمه توګه ترسره کړي. د نړیوالو سازمانونو موخو ته په کتو، هر سازمان د غړو د ترکیب او رایه اچونې په برخه کې مختلفې څانګې لري.

هر سازمان باید لږ تر لږه دوه اساسي څانګې (سکرتریت) او (عمومي اسامبله) ولري. د غړو هېوادونو د فعالیت، د اسنادو ثبت او اړونده چارو همغږي کول؛ د سکرتریت او د غړو هېوادنو ترمنځ د غونډو او کنفرانسونو سمبالول؛ د عمومي اسامبلې له دندو څخه دي.

## ۵- د فعالیت دوام او غځونه

د یوه سازمان دوامداره هڅې خپلو موخو ته په رسېدو کې ورسره مرسته کوي. دا چې د نړیوالو سازمانونو فعالیتونه پر نړیوالو مسایلو څرخي، نو ددې ډول مسلو حل دایمي او دوامداره

فعالیتونو ته اړتیا لري. په همدې اساس، وینو چې یو شمېر سازمانونو د خپلو فعالیتونو دوام ته ځانګړې مهالوېش نه دی ټاکلی.
مثلاً، د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان چې د نړیوالې سولې او امنیت مسؤلیت پر غاړه لري، نه شي کولی چې خپل دغه هدف ته د رسېدو لپاره ځانګړې نېټه په ګوته کړي. همدا راز د روغتیا نړیوال سازمان نه شي کولی چې ټول نړیوال روغتیایي مسایل د یوې ټاکلې مودې په چوکاټ کې پېشبیني کړي.
داسې سازمانونه هم شته دي چې د فعالیت موده یې محدوده ده، دغه ډول سازمانونه هدف ته له رسېدو وروسته، خپله دنده پای ته رسوي. د مثال په ډول، د ډبرو سکرو او پولادو ټولنې د اساسنامې په ۹۷ ماده کې د ټولنې فعالیت ۵۰ کاله ټاکل شوی دی. د وارسا په تړون کې هم داسې وړاندوینه شوې وه چې هرکله په اروپا کې بشپړ امنیت ټینګ شو، تړون رنګ بلل کېږي.

# دریم څپرکی

# د نړیوالو سازمونو حقوقي هویت

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د نړیوالو دولتي سازمونونو د حقوقي هویت په اړه جدي بحثونه روان و. یو شمېر حقوقپوهانو او سازمانونو لکه د نړیوالو اختلافونو د حل بانک، د خسارې د ورکړې کمېسیون او د دانوب سیند نړیوال کمېسیون؛ نړیوالو سازمانونو ته د حقوقي هویت پر ورکړې ټینګار کاوه. همدا راز د شخړو د حل تړون (modus Vivendi) لومړۍ مادې د ملتونو ټولنې او سویس هېواد ترمنځ داسې حکم کاوه:
((د ملتونو ټولنه له نړیوال هویت او حقوقي اهلیت څخه برخمنه ده او د نړیوالو حقوقو پربنسټ، د سویس داخلي محاکم حق نه لري چې د سازمان له خوښې پرته دغه سازمان تر عدلي او قضایي تعقیب لاندې راولي)).
د ملګرو ملتونو منشور ۱۰۴ ماده هم د دغه سازمان د حقوقي هویت په اړه ورته حکم کوي:
((د ملګرو ملتونو سازمان په هرغړي هېواد کې له حقوقي اهلیت څخه برخمن دی، ترڅو وکولی شي خپلې دندې او مسؤلیتونه په سمه توګه ترسره کړي)).
د منشور په ۱۰۵ ماده کې هم د ملګرو ملتونو د مزایا او مصونیتونو یادونه شوې ده. د دې مادې لومړۍ فقره داسې حکم کوي:

((هر هغه سازمان چې د یوه غړي دولت په خاوره کې فعالیت کوي، له یو لړ امتیازونو او مصونیتونو څخه برخمن دی، څو د موخو په ترلاسه کولو کې ورسره مرسته وکړي)).
دلته پوښتنه پیدا کېږي، چې آیا نړیوال سازمان خپل حقوقي هویت د کوربه هېواد له داخلي حقوقو څخه اخلي او که له نړیوالو حقوقو؟
ددې پوښتنې ځواب د نړیوالې محکمې په هغه پرېکړه کې موندلای شو چې د ملګرو ملتونو پر کارکوونکو د واردشوې خسارې د جبران په هکله شوې وه.
د یادې پرېکړې له مخې، نړیوالې محکمې سازمان ته د نړیوال هویت پر ورکړې ټینګار کاوه. په پرېکړه کې زیاته شوې، چې سازمان بشپړ حقوقي اهلیت لري او کولی شي چې دعوا اقامه کړي. محکمې دغه راز زیاته کړې وه، چې سازمان د خپل همدې حقوقو پراساس کولی شي د نړیوال شخصیت یا هویت حق ځان ته خوندي کړي.
محکمه وړاندې زیاتوي چې له حقوقي پلوه نړیوال سازمانونه او دولتونه سره توپیر لري. ځکه د یوه دولت او نړیوال سازمان حقوق او مسؤلیتونه سره بېل دي. نړیوال سازمان د بین المللي حقوقو تابع او د دعوا اقامې حق ورته خوندي دی. هغه دلایل چې نړیواله محکمه د سازمانونو د هویت د اثبات لپاره پر هغه استناد کوي په لاندې ډول دي:
د سازمان په وړاندې د غړو مکلفیتونه، حقوقي اهلیت او مزایاوې.
د سازمانونو نړیوال هویت یوازې په اساسنامه کې د ټاکل شوو او صریح واکونو له مخې نه ټاکل کېږي، بلکې د نړیوالې محکمې له نظره کولی شو د نړیوالو سازمانونو په اساسنامه کې ځیني ضمني صلاحیتونه هم پیدا کړو.
نړیوال سازمانونه معمولاً له خپلې اساسنامې څخه د پراخ تفسیر حق لري. پراخ تفسیر چې د اساسنامې له موادو څخه د ضمني استنباط زمینه برابروي، ځیني وخت د سازمان د اصولو او مقرراتو له حدودو څخه هم پورته عمل کوي. د سازمان له اهدافو څخه دا ډول تفسیر د سازمان د فعالیت لمن تر ډېره بریده پراخوي.
لکه څرنګه چې په ۱۹۷۱ ز کال د نامیبیا د قضیې په اړه دنړیوالې محکمې په مشورتي رایه کې راغلي و، د امنیت شوار پرېکړې هم د منشور له شپږم او اوم څپرکیو سره هېڅ راز ورته والی نه لري. محکمې په دې اړه زیاته کړې وه، چې امنیت شورا پر خپل اصلي واکونو سربېره چې د منشور په ۲۴ ماده کې په ډاګه شوي دي، نور ځانګړي واکونه هم لري. داچې د نړیوالې سولې او امنیت ساتنې مسؤلیت د امنیت شورا پر غاړه دی، نو لازمه ده چې پراخ واکونه او امکانات ورته ورکړل شي.
د پورتنیو څرګندونو پر اساس باید یادونه وکړو، چې نړیوال سازمانونه دخپلو غړو په وړاندې بشپړ استقلالیت او خپلواکي لري او د هغوی په څېر له حقوقي هویت څخه برخمن دي. په اوس

وخت کې د سازمانونو ارزښتناک او اغېزناک رول ته په پام سره، دا نظریه چې یوازې دولتونه حقوقي هویت لري، اوس له پامه لوېدلې او هېڅ اساس نه لري بلکې نړیوال سازمانونه هم د دولتونو په څېر د بین الملل حقوقو د تابعینو په توګه پېژندل شوي دي.

**د سازمانونو د حقوقي هویت اثار**

۱- نړیوال هویت: د یوه نړیوال سازمان تأسیس هغه وخت شونی دی، کله چې نړیوال هویت خپل کړي.

۲- په پرېکړو کې استقلالیت: سازمانونه د تصمیم نیونې پرمهال له پوره خپلواکۍ څخه برخمن دي. همدارنګه هغه پرېکړې چې د غړو له خوا په سازمان کې نیول کېږي، مسؤلیت یې سازمان ته راجع کېږي، نه دولتونو ته.

۳- په مالي چارو کې استقلالیت: د هر حقوقي هویت په څېر نړیوال سازمانونه هم په مالي چارو کې خپلواک دي. د سازمان مالي لګښتونه د غړو هېوادونو له لوري ورکول کېږي او دا لګښتونه پر هغو چارو لګول کېږي، چې سازمان له مخکې تشخیص کړي دي.

۴- په حقوقي چارو کې استقلالیت: سازمان د خپلو کړنو په وړاندې مسؤلیت لري، که چېرې کوم دولت یا کس ترې زیانمن شي، مسوولیت یې سازمان ته راجع کېږي او غړي هېوادونو یې په وړاندې مسؤلیت نه لري. نو ویلی شو چې یو سازمان په خپلو حقوقي دعوو کې خپلواک دی.

۵- د سازمان تاسیسات او توکي: د نړیوالو سازمانونو تاسیسات او توکي د سازمان ملکیت ګڼل کېږي. غړي دولتونه حق نه لري چې تصرف په کې وکړي.

# څلورم څپرکی

# د نړیوالو سازمانونو صلاحیت

صلاحیت هغه اختیار ته وایي، چې د یوې اساسنامې له مخې سازمان ته ورکول کېږي، ترڅو د هغه په چوکاټ کې خپل فعالیتونه ترسره کړي.

که څه هم د یوه سازمان صلاحیت د اساسنامې له مخې ټاکل کېږي، خو ددې ترڅنګ بیا هم په عملي ډګر کې د سازمان صلاحیتونه له پامه غورځول کېږي او ډېر ځله یو شمېر سازمانونه په داسې اقداماتو لاس پورې کوي چې له اساسنامې سره په ښکاره ټکر کې وي.

دلته پوښتنه پیدا کېږي، چې آیا د اساسنامې عدم صراحت د سازمان په عدم صلاحیت تعبیرېدای شي او که نه؟ او بله داچې، آیا د سازمان صلاحیت باید په صریح ډول په اساسنامه کې قید شي او که نه؟ د اساسنامې د عدم صلاحیت په صورت کې له کومو لارو چارو کولی شو، چې د سازمان صلاحیت په نظر کې ونیسو ؟
دغو پوښتنو ته د ځواب موندنې لپاره دوه نظریې وړاندې شوې دي:

## ۱- د تصریح شوي صلاحیت نظریه- Explicit competence

ددې نظریې له مخې، نړیوال سازمانونه یوازې د ټاکلو دندو او واکونو په چوکاټ کې د فعالیت حق لري او له دې پورته صلاحیت نه دی ورکړل شوی. یا په بل عبارت، سازمان باید د خپلې اساسنامې د اصولو او مقرراتو له مخې عمل وکړي. مؤسس هېوادونه هم باید د اساسنامې په چوکاټ کې خپل فعالیتونه ترسره کړي. ددې نظریې پلویان اتریشی نامتو حقوقپوه هانس کلسن (Hans kelsan) او پروفیسو رویټر (Reuter) دي.

## ۲- د ضمني صلاحیت نظریه - Implicit competence

د لومړۍ نظریې برعکس، ددې نظریې پلویان په دې باور دي چې د سازمان صلاحیت او واکونه یوازې په اساسنامه کې په پیشبیني شویو مواردو پورې محدود نه دي، بلکې سازمان تر هغه بریده واک او صلاحیت لري، تر کوم ځایه چې ورته اړتیا لیدل کېږي. حتا که دغه صلاحیتونه په اساسنامه کې پېشبیني شوي هم نه وي.
د ضمني صلاحیت د نظریې پلویان د نړیوالې محکمې پر هغې مشورتي پرېکړې استناد کوي، چې په ۱۹۴۹ ز کال کې د سازمان پر کارکوونکو د وارد شوې خسارې د جبران په اړه یې کړې وه.
په یاده پرېکړه کې راغلي وو:
((د ملګرو ملتونو سازمان د نړیوالو سازمانونو تر ټولو غوره مثال دی او که حقوقي هویت ونه لري، د غړو هېوادونو موخې او اهداف به تأمین نه شي کړای. د نړیوالې محکمې د پرېکړې له مخې، د ملګرو ملتونو سازمان خپلو اهدافو ته د رسېدو لپاره له لازمو واکونو څخه برخمن دی او زیاتوي چې دغه سازمان د یو نړیوال حقوقي هویت په توګه کولی شي، د خپلو حقوقو د لاسته راوړنې په موخه په مستقیم ډول دعوا اقامه کړي. محکمه دغه راز وړاندې زیاتوي: د نړیوالو حقوقو پربنسټ، هر سازمان باید خپلو موخو ته د رسېدو لپاره لازم واکونه ولري، ولو که په منشور کې پېشبیني شوي هم نه وي)).

که څه هم د نړیوالې محکمې یاده پرېکړه یوازې د ملګرو ملتونو د سازمان په اړه شوې وه، خو ځیني حقوقپوهان، لکه مېرمن بېستاید(Bastide) او ښاغلی پروفیسور شمېرس (schemers) په دې باور دي، چې د محکمې دغه پرېکړه باید د ټولو نړیوالو سازمانونو په برخه کې یو شان پلې شي. دلته به د ملګرو ملتونو سازمان د هغو اقداماتو یو څو بېلګې را واخلو چې د ضمني صلاحیت له مخې یې کړي دي:

د نامبیا پر سر د ملګرو ملتونو او سویلي افریقا ناندرۍ: په ۱۹۵۰ کال نړیوالې محکمې پرېکړه وکړه چې د ملګرو ملتونو سازمان د ملتونو ټولنې د ځایناستي په توګه حق لري چې تر قیمومیت لاندې سیمو د چارو مسؤلیت پر خپله غاړه واخلي.

له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته د ملتونو ټولنې له خوا د سویلي افریقا هېواد د نامیبیا تر قیمومیت لاندې سیمې سره وتړل شو ترڅو د قیمومیت د مقرراتو پربنسټ په تدریجي ډول د خپلواکۍ ترلاسه کولو ته اماده شي. خو سویلي افریقا تر دویمې نړیوالې جګړې پورې نامیبیا ته ازادي ور نه کړه. که څه هم دا د ملتونو ټولنې دنده او مسؤلیت و، چې د سرپرستۍ (قیمومیت) مقررات پلي او وڅاري، خو ټولنه لا له وړاندې رنګه شوې وه او د ملګرو ملتونو سازمان د سویلي افریقا له موافقې پرته، نامیبیا هېواد د قیمومیت په نظام پورې وتړل شو. د نړیوالو سازمانونو ضمني صلاحیت کولی شو په لاندې توګه وټاکو:

۱- **اساسنامه او نور اړونده اسناد**: لکه، د سازمان او غړو هېوادونو ترمنځ په اساسنامه او د مقر په تړونونو (accord de siege) کې د پېژندل شویو مزایاوو او مصونیتونو څېړل.

۲- **د سازمان رویه او کړنې**: که یوه سازمان د خپل کار موده کې ځیني داسې کړنې ترسره کړې وي، چې په اساسنامه کې نه وي قید شوي او د چا یا کوم هېواد له خوا پرې نیوکه هم نه وي شوې، یاد اقدامات په حقیقت کې په ضمني توګه د تائید وړ ګرځېدلي دي.

۳- **د سازمان موخې**: دا چې د سازمان د اساسي دندو پلي کول د غړو هېوادونو اصلي موخه ده، نو همدې اصل ته د رسېدو لپاره تر هر څه مخکې باید سازمان ته لازم صلاحیتونه ورکړل شي. په همدې اساس ویلی شو چې د یوه سازمان صلاحیت د نوموړي سازمان د اهدافو له مخې ټاکل کېږي. حتا که دغه صلاحیت په څرګند ډول په اساسنامه کې قید شوی هم نه وي.

۴- **د سازمان د فعالیتونو په چوکاټ کې د صلاحیت ټاکل**: هغه سازمانونه چې په تخصصي توګه لکه: سیاسي، کلتوري، روزنیز او روغتیایي چارو کې فعالیت کوي، کولی شي چې په خپل اړونده چارو کې د سازمان د فعالیت له مخې صلاحیت وټاکي.

# پنځم څپرکی

# په نړیوالو سازمانونو کې غړیتوب

په نړیوالو سازمانونو کې غړیتوب په دولتونو پورې اړه لري، خو یو شمېر سازمانونه له دې حق څخه په استثنایي او ناقصه توګه استفاده کوي.
ځیني سازمانونه لکه د ازادۍ بخښنې غورځنګونه، ښایي د غړیتوب محدود حق ولري. دغه ډول بنسټونه د یوه هوکړه لیک له مخې چې د مشارکت تړون (asociation agreement) په نوم یادېږي، د نړیوالو سازمانونو د څارونکي غړي په توګه منل کېږي.
څارونکي غړي یوازې د سازمان په غونډو کې د ګډون حق لري، د پرېکړې حق نه لري. څارونکی غړیتوب د ملګرو ملتونو په سازمان او د سازمان په فرعي څانګو کې منل شوې موضوع ده چې یو زیات شمېر سازمانونه له همدې حق څخه په استفادې د ملګرو ملتونو له سازمان سره همکاري کوي.
که څه هم د نړیوالو سازمانونو اصلي غړي دولتونه دي، خو له دې سره سره یو شمېر سازمانونه دغړیتوب په برخه کې ځینې محدودیتونه لري. یو شمېر سازمونونه د ټولو هېوادونو پرمخ خلاص دي، خو ځینو نورو بیا خپل غړیتوب محدود کړی او یوازې یو څو ځانګړي هېوادونه په کې د غړیتوب حق لري. د ملګرو ملتونو سازمان د غړیتوب له پلوه یو خلاص سازمان دی خو ناټو او اروپایي ټولنه محدود سازمانونه ګڼل کېږي.
په نړیوالو سازمانونو کې غړیتوب کېدای شي له کوم قید او شرط پرته وي، خو کله- کله د ځینو شرایطو ټاکل اړین او لازم ګڼل کېږي. همدا راز ځینې وخت ښایي دغه شرایط له ځانګړو تشریفاتو سره مل وي. مثلاً، په خپله د سازمان له خوا یوه ځانګړي هېواد ته د غړیتوب بلنه او یا هم د سازمان د یوه ارګان له لوري د یوه هېواد د غړیتوب منل.
ځینې سازمانونه بیا د غړیتوب لپاره ځانګړي شرایط لري او د یوه ژمنلیک پر اساس له غړو هېوادونو ژمنه اخیستل کېږي. لکه د بشري حقونو درناوی او د ډیموکراسۍ پلي کول. همدغه راز په سازمان کې د غړیتوب لپاره د هېوادونو اقتصادي وضعیت په پام کې نیول کېږي. هغه

سازمانونه چې پېچلی جوړښت لري، شرایط یې معمولاً د غړو هېوادونو له خوا ټاکل کېږي. ددې ډول سازمانونو داخلي جوړښت او پرېکړې د غړو ترمنځ انډول ته په پام سره ترسره کېږي.

# شپږم څپرکی

# د نړیوالو سازمانونو مزایا او مصؤنیتونه

## لومړۍ برخه:

**د نړیوالو سازمانونو د مزایا او مصونیتونو پېژندنه او تاریخي بهیر**

له تاریخي پلوه د مصونیت(خوندیتوب) مفهوم د ډېرو علماو او پوهانو د تائید وړ ګرځېدلی دی.
د روم نامتو عالم سیسرون وایي، چې د سفیرانو مصونیت په وضعي او الهي دواړو حقوقو کې تضمین شوی دی. نوموړی زیاتوي، چې سفیران د سپېڅلي شخصیت لرونکي او د درناوي وړ دي، د دوست او دښمن په ګډون ټول هېوادونه باید ورته درناوی ولري.
د کار نړیوال سازمان (۱۸۱۵) او د ملتونو ټولنې تر جوړېدو پورې (۱۹۲۰)، د نړیوالو سازمانونو مزایا او مصونیتونه د سفیرانو او نورو ډیپلوماټانو لپاره د پېژندل شویو ځانګړو حقوقو په توګه مطرح وو.
د ملتونو ټولنې د میثاق اوومې مادې په څلورمه فقره کې په دې اړه راغلي وو:( د ملتونو ټولنې غړي او کارکوونکي د خپلو دندو د اجرا پرمهال له ډیپلوماتیکو مزایا او مصونیتونو څخه برخمن دي).
د کار نړیوال سازمان او د ملتونو ټولنې پورتنۍ تجربې دهغو واقعیتونو څرګندونه کوي، چې نه شو کولی د نړیوالو سازمانونو مزایا او مصونیتونه پر ډیپلوماتیکو مزایاوو او مصونیتونو تعبیر کړو، ځکه د نړیوالو سازمانونو د چټک پرمختګ له امله ددغو مزایاوو او مصونیتونو ترمنځ توپیر لیدل کېږي.
د نړیوالو سازمانونو د مزایا او مصونیتونو مفهوم د لومړي ځل لپاره په **۱۹۴۵** میلادي کال د سنفراسیسکو په کنفرانس کې وکارول شو. د ملګرو ملتونو سازمان د مزایا او مصونیتونو په اړه د مقرراتو د تنظیم په موخه یوه مقدماتي کمېټه جوړه کړه او دغې کمېټې د خپل راپور په ترڅ کې یاد کنفرانس ته داسې اعلان کړه:

((د ملګرو ملتونو د مزايا او مصونيتونو د ټاكلو په اړه ګومارل شوې كمېټه په دې باور ده، چې د (ډيپلوماټيک) له اصطلاح څخه دې ډډه وشي او پرځاى يې بايد يوه مناسبه اصطلاح غوره شي)).

له ياد راپور وروسته د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې د نړيوالو حقوقو كمېسيون ته دنده وسپارله چې د ملګرو ملتونو سازمان د مزايا او مصونيتونو په اړه ځيني مقررات وضعه کړي. نوموړي كمېسيون هم د (ملګرو ملتونو د سازمان مزايا او مصونيتونو) تر نامه لاندې يو كنوانسيون چمتو کړ چې په ۱۹۴۶ ز كال د فبرورۍ په ۲۲ مه د عمومي اسامبلې له لوري تصويب شو.

د يادونې ده، كه څه هم دغه نړيوال سازمانونه نوي تأسيس شوي وو، خو مزايا او مصونيتونه يې د نړيوال او قانوني تدوين پړاو ته ورسېدل. دا په داسې حال كې ده چې د ډيپلوماتيكو اړيكو تاريخ دوه زره كاله پخوا ته ورګرځي.

د قونسلي او ډيپلوماتيكو اړيكو په برخه كې د ۱۹۶۱ او ۱۹۶۳ كلونو د كنوانسيونونو د تدوين تروخت پورې، د دولتونو ترمنځ ډيپلوماتيکې چارې د عرفي مقرراتو تابع وې. په هر حال، د نړيوالو سازمانونو په مزايا او مصونيتونو پورې اړوند قواعد په داسې شرايطو كې وټاكل شول چې د هېوادونو ترمنځ د ډيپلوماتيكو اړيكو په برخه كې لاهم مدون مقرارات نه و ټاكل شوي.

د ملګرو ملتونو د سازمان مزايا او مصونيتونه، د نوموړي سازمان د منشور ۱۰۴ او ۱۰۵ مادو پربنسټ وټاكل شول. د منشور ۱۰۴ مادې له مخې د ملګرو ملتونو استازي په ټولو غړو هېوادونو كې د خپلو دندو د اجرا پرمهال او خپل مقصد ته د رسېدو په موخه له حقوقي اهليت څخه برخمن دي)).

همدغه راز د منشور د ۱۵مادې په لومړۍ فقره كې راغلي: ((د ملګرو ملتونو سازمان په ټولو غړو هېوادونو كې له هغو مزايا او مصونيتونو چې خپلو موخو ته په رسېدو كې ورسره مرسته كوي، برخمن دی)).

دغه راز د ملګرو ملتونو استازي او كاركوونكي هر يو په مستقل ډول د ماموريت د اجرا په برخه كې له مزايا او مصونيتونو څخه برخمن دي. لكه څنګه چې مخكې ورته اشاره وشوه، د يادو دوو مواردو په برخه كې عمومي اسامبلې په ۱۹۴۶ كال د ملګرو ملتونو د مزايا او مصونيتونو كنوانسيون تصويب کړ.

له دې كنوانسيون وروسته د ملګروملتونو د نړيوالو اړيكو كمېسيون د (نړيوالو سازمانونو او دولتونو ترمنځ اړيكې) موضوع د خپل كار په اجنډا كې ونيوله. د دولتونو او نړيوالو سازمانونو ترمنځ اړيكو دوه ډوله مقرراتو ته اړتيا درلوده چې له همدې امله د كمېسيون كار هم پر دوو برخو ووېشل شو:

لومړی- د نړیوالو سازمانونو په وړاندې د دولتونو د استازو د مزایا او مصونیتونو ټاکل؛
دویم- د دولتونو په وړاندې د نړیوالو سازمانونو د کارکونکو او په خپله د سازمان مزایا او مصونیتونو ټاکل.

د دولتونو په وړاندې د نړیوالو سازمانونو په مزایا او مصونیتونو پورې اړوند کنوانسیون په ۱۹۷۵ ز کال کې د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې له لورې په تصویب ورسېد. په ۱۹۷۶ کال د نړیوالو حقوقو کمېسیون د نړیوالو سازمانونو او د هغوی د کارکونکو د مزایا او مصونیتونو موضوع د خپل کار په اجنډا کې شامله کړه.

کمېسیون ځیني مقررات په ۱۹۸۹ او ځیني نور یې په ۱۹۹۱ کال کې ترتیب کړل او د تائید په موخه عمومي اسامبلې ته وړاندې شول. خو یاد مقررات د دریېمې نړۍ او لوېدیځو هېوادونو ترمنځ د ځیني اختلافونو له امله په تصویب ونه رسېدل. دغو هېوادونو د یادو مقرراتو په اړه دوه ډوله مخالف نظریات لرل.

د دریېمې نړۍ هېوادونه د دولتونو په وړاندې د نړیوالو سازمانونو مزایا او مصونیتونه په عرفي قواعدو پورې تړلي ګڼي، خو دا چې په نړیوالو سازمانونو کې د لویدیځ پلوه هېوادونو نفوذ زیات دی، نو دوی د سازمانونو مزایا او مصونیتونه هغه امتیاز ګڼي چې کوربه هېواد یې باید یو سازمان ته ورکړي.

## دویمه برخه:

## د نړیوالو سازمانونو د مزایا او مصونیتونو حقوقي سرچینې

۱- **نړیوال عرف**: عرفي قواعد د نړیوالو حقوقو د لومړنۍ سرچینې په توګه منل شوي دي.

۲- **د سازمان اساسنامه**: دا چې عرفي قواعد د نړیوالو سازمانونو او دولتونو ترمنځ بشپړ حقوق او مکلفیتونه نه شي په ډاګه کولی، نو د نړیوالو سازمانونو غړي د سازمان د تأسیس پرمهال په اساسنامه کې داسې قواعد پېشبیني کوي، ترڅو د هغه په چوکاټ کې خپل فعالیتونه تنظیم او پرمخ بوسي. لکه، د ملګرو ملتونو د منشور په ۱۰۵ ماده کې ذکر شوی مورد، چې مخکې مو هم ترې یادونه وکړه.

۳- **اسناد او څو اړخیز تړونونه**: ځیني وخت د یوه نړیوال سازمان په اساسنامه کې پېشبیني شوي قواعد په عمومي ډول لیکل شوي وي چې د یو سازمان حقوق او مسؤلیتونه په سمه توګه نه شي په ډاګه کولی. په همدې اساس غړي هېوادونه د سازمان د چارو د تنظیم په موخه څو اړخیز

تړونونه لاسلیکوي. لکه د دولتونو او نړیوالو سازمانونو ترمنځ د اړیکو په برخه کې د ویانا کنوانسیون چې په ۱۹۷۵ کال کې د یو شمېر هېوادونو ترمنځ لاسلیک شو.

۴- **دوه اړخیز تړونونه او اسناد**: پر عمومي او څو اړخیزه تړونونو سربېره چې په یوازې ډول کولی شي د نړیوالو سازمانونو او د غړو ترمنځ یې اړیکې تنظیم کړي، ځیني وخت د یو نړیوال سازمان او کوربه هېواد ترمنځ دوه اړخیز تړونونه هم لاسلیکېږي.

د دوه اړخیزه تړونونو لاسلیک د مزایا او مصونیتونو د لا صراحت او وضاحت په منظور ترسره کېږي، چې دغه چاره معمولاً د نړیوالو سازمانونو او کوربه هېوادونو ترمنځ په ګډه تنظیمېږي. دې ډول تړون ته د مقر تړون ( accord de siege ) وایي.

د مقر په تړون کې د سازمان حقوق او د کوربه هېواد له خوا د سازمان مصونیتونه په ډاګه کېږي. که چېرې کوم سازمان په یوه هېواد کې فعالیت ترسره کول غواړي، باید له هماغه هېواد سره یو جلا تړون لاسلیک کړي. مثلاً د امریکا متحده ایالتونو سره د ملګروملتونو د مقر تړون یا له اتریش سره د اوپک سازمان تړون چې مرکز یې په همدې هېواد کې دی.

۵- **نړیواله قضایي رویه**: د نړیوالو محاکمو، په تېره بیا د ملګرو ملتونو د عدالت دنړیوالې محکمې پرېکړې او حکمونه د نړیوالو سازمانونو د مزایا او مصونیتونو له حقوقي منابعو څخه ګڼل کېږي. د بېلګې په توګه، په اشغال شوي فلسطین کې د ملګرو ملتونو د سازمان یو کارکوونکی ووژل شو. قضیه نړیوالې محکمې ته وړاندې شوه او محکمې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکونکو له حقوقو څخه دملاتړ او د هغوی د خوندیتوب په اړه یو حکم صادر کړ ،چې وروسته د محکمې دغه پرېکړه نړیوالو سازمانونو ته د یوې حقوقي قاعدې په توګه ومنل شوه.

۶- **ډوکتورین**: ډوکتورین د پیاړو علماو او حقوقپوهانو نظر ته ویل کېږي، چې د نړیوالو سازمانونو د مزایا او مصونیتونو له حقوقي سرچینو څخه ګڼل کېږي.

## درېیمه برخه:

# د مزایا او مصونیتونو پېژندنه

مصونیت هغه حق ته ویل کېږي، چې د قانون له مخې یو شخص ته ورکول کېږي، ترڅو د دندې اجرا پرمهال له هر ډول جزایي ، مدني او اداري ځار څخه خوندي وي.

یا په بل عبارت، مصونیت د کوربه هېواد د قضایي ادارو په وړاندې د خوندیتوب په معنا دی او د کوربه هېواد په وړاندې د سازمان استقلالیت او خپلواکي هم ورته ویلی شو. له دې امتیاز څخه مطلب دا دی، چې نړیوال سازمانونه باید له هر ډول تېري او عدلي او قضایي تعقیب څخه خوندي

وي. همدا راز له مزایا څخه موخه هغه ځانګړی امتیاز دی، چې هرڅوک یې د استفادې حق نه لري. د مزایا مفهوم تر ډېره په کوربه هېوادونو کې د مالیاتي معافیت په برخه کې کارول کېږي. د ویلفرډ جنکس په اند (w.jenks) مزایا او مصونیتونه د نړیوالو سازمانونو په چارو کې د دولتونو له لاسوهنې څخه مخنیوی کوي او هغوی ته استقلالیت ور بخښي.

د نړیوالو سازمانونو د مزایا او مصونیتونو په موجودیت کې هېڅ دولت حق نه لري چې د سازمانونو په چارو کې مداخله وکړي او یا هم د سازمان له چارواکو څخه د کوم ځانګړي کار د سرته رسولو غوښتنه وکړي.

## څلورمه برخه :

# د مصونیت ډولونه

د نړیوالو سازمانونو مصونیتونه په لاندې ډول وېشل شوي دي:

- قضایي مصونیت
- د نړیوالو سازمانونو او د ډیپلوماتیک پلاوي د تاسیساتو مصونیت
- د ارشیف، اسنادو او اړیکو مصونیت
- د هر ډول تېري په وړاندې مصونیت
- سیاسي پناه

۱- **قضایي مصونیت**: له قضایي مصئونیت څخه موخه داده، کله چې ډیپلوماتان بهرنیو هېوادونو ته د ماموریت لپاره استول کېږي، د کوربه هېواد د نافذه قوانینو په وړاندې مسؤلیت نه لري او نه پرې پلي کېږي. یا په بل عبارت، ډیپلوماتیک مصونیت کولی شو د هېوادونو د ملي حاکمیت په زیان او د یوې نړیوالې قاعدې لپاره د داخلي قوانینو تعطیل وګڼو. خو له دې سره سره، ډیپلوماتیک مصونیت د یوه هېواد له کورنیو قوانینو څخه لوړ نه دی. یعنې د داخلي قوانینو منل لازمي ، خو د اجرا وړ نه دي.

د نړیوالو سازمانونو او دولتونو ترمنځ د اړیکو په اړه د ویانا کنوانسیون په **۳۱** ماده کې د ډیپلوماتانو قضایي مصونیت په اړه داسې راغلي:

۱- ډیپلوماتیک پلاوی په کوربه هېواد کې قضایي مصونیت لري. دغه پلاوی له مدني او اداري مصونیت څخه هم برخمن دی. خو لاندني موارد ور څخه استثناء دي:

الف: ډیپلومات د غیر منقوله توکو په اړه د دعوې حق نه لري. مګر دا چې دغه توکي په ډیپلوماتیک ماموریت کې د استفادې په موخه ورته په واک کې ورکړل شوي وي.

ب: د میراث په اړه دعوا. یو ډیپلومات نه شي کولی چې د وصي، موصي لهُ، امین او د وارث په توګه په کوربه هېواد کې دعوه اقامه کړي.
ج: په حرفوي او سوداګریزو فعالیتونو پورې اړونده دعوې. ډیپلوماتان نه شي کولی چې د خپلې رسمي دندې ترڅنګ په کوربه هېواد کې ازاد کاروبار وکړي.
۲- د ډیپلوماتیک پلاوي د مشر او کارکوونکو په وړاندې هېڅ راز اجرایوي اقدامات نه شي کولی. خو له هغو مواردو پرته چې د لومړۍ مادې په (الف، ب او ج) فقرو کې ذکر شوي دي. په اجرایوي اقداماتو کې به د شخص خوندیتوب او استوګنځي ته پوره پاملرنه کېږي.
۳- د ډیپلوماتیک پلاوي مشر او کارکوونکي په حقوقي او قضایي پېښو کې د شهادت پر ورکړې نه شي مجبورېدای.
۴- د ډیپلوماتیک پلاوي د مشر او کارکوونکو قضایي مصونیت یوازې په کوربه هېواد کې د اجرا وړ دی او په خپل هېواد کې له قضایي تعقیب څخه نه شي خوندي کېدای. د ویانا د **۱۹۷۵** کال پر کنوانسیون سربېره، د **۱۹۴۶** کال کنوانسیون د ملګروملتونو د سازمان د مزایا او مصونیتونو په اړه داسې حکم کوي:
(( د ملګرو ملتونو ودانۍ، شتمنۍ او نور توکي له هرډول قضایي څار څخه خوندي دي. مګر داچې دغه خوندیتوب په ځینو مواردو کې په صریح ډول له منځه تللی وي. دا خوندیتوب تر دې کچې دی، چې آن د محکمې حکم هم پر نړیوالو سازمانونو د اجرا وړ نه شي ګرځېدای)).

## د مصؤنیت سلبول

نړیوالو سازمانونو او ډیپلوماتیک پلاوي ته د مصونیت منل، په کوربه هېواد کې د هرډول کړنو او فعالیتونو د مشروعیت په معنا نه دی.
د مصونیت سلبولو په اړه پوښتنه رامنځته کېږي، چې که چېرې یو نړیوال سازمان په کوربه هېواد کې سرغړونه وکړي، حقوقي او حقیقي شخصیتونو ته زیان ورسوي، په دې صورت کې څه مسؤلیت لري؟
عدالت باید پلی شي، له عدالت څخه موخه د خسارې جبران دی چې په دې سره د نړیوالو سازمانونو د مصونیت او داخلي قوانینو ترمنځ موجوده ټکر ته د هوارې لاره پیدا کېږي. دې ستونزې ته حل لار داسې پېشبیني شوې ده چې نړیوال سازمانونه باید له خپل مصونیت څخه تېر شي او دغه تېرېدنه یا انصراف باید د سازمان له خوا په صریح او څرګند ډول اعلان شي.
د ملګرو ملتونو په سازمان کې دغه مسؤلیت هغې کمېټې ته سپارل شوی، چې د کوربه هېوادونو له خوا د موضوع د څېړنې په موخه جوړېږي. یاده کمېټه د مزایا او مصونیتونو تر څېړنې وروسته د حل مناسبه لار وړاندې کوي.

د یوه سازمان او کوربه هېواد ترمنځ د اختلاف په صورت کې، موضوع د ملګروملتونو عمومي اسامبلې ته وړاندې کېږي او عمومي اسامبله موضوع د پرېکړې لپاره نړیوالې محکمې ته ارجاع کوي.
له نړیوالو سازمانونو سره د ډیپلوماتیک پلاوي د مصئونیتونو د سلبولو په اړه د **۱۹۷۵** کال کنوانسیون **۳۱** ماده داسې حکم کوي:
۱- لېږونکی دولت (sending state) کولی شي چې د ډیپلوماتیک پلاوي او کارکوونکو قضایي مصئونیت او هغه اشخاص چې د **۳۶** مادې پربنسټ له مصونیت څخه برخمن دي، سلب کړي.
۲- د مصونیت سلبول باید په څرګند ډول اعلان شي.
۳- ډیپلوماتان د دعوا اقامه کولو پرمهال نه شي کولی چې له ډیپلوماتیک مصونیت څخه کار واخلي بلکې د دعوا پرمهال مصونیت ترې اخیستل کېږي.
۴- قضایي مصونیت مدني او اداري دعوو ته نه شاملېږي. د مدني او اداري مصونیت د سلب لپاره جلا تصمیم نیول کېږي.
**۵**- که لېږونکي دولت په مدني قضیه کې د خپل یوه ډیپلومات مصونیت سلب نه کړي، د موضوع د عادلانه حل په موخه باید خپلې وروستۍ هڅې په کار واچوي.

## ۲- د نړیوالو سازمانونو او ډیپلوماتیک پلاوي د تاسیساتو مصؤنیت

د سازمان د مقر مصونیت له کوربه هېواد سره په هوکړه لیک کې تضمینیږي. مثلاً، د امریکا متحده ایالتونو او د ملګروملتونو ترمنځ د مقر هوکړه لیک په دریمه ماده کې راغلي دي:
((دملګروملتونو الحاقیه ودانۍ له هر ډول تېري څخه خوندي ده او کوربه هېواد حق نه لري چې د سازمان د عمومي منشي له خوښې او رضایت پرته د سازمان ودانۍ ته ننوځي)).
د یادې مادې له مخې، د عمومي منشي له اجازې پرته د امریکا ایالتي، سیمه ییز او فدرال چارواکي د سازمان ودانۍ ته د ننوتو حق نه لري. کوربه هېوادونه نه یوازې دا چې د سازمان په چارو کې د لاسوهنې حق نه لري، بلکې د مقر تړون له مخې د سازمان د امنیت ساتنه هم د کوربه دولت پر غاړه ده.
په همدې اساس، د ملګروملتونو سازمان د متحده ایالتونو له حکومت سره د مقر تړون له مخې د سازمان د ودانۍ د امنیت چارې امریکایي چارواکو ته سپارلې دي. په هر حال، کوربه هېواد د سازمان د ودانۍ مصئونیت باید د خپل ملي حاکمیت نقض ونه ګڼي، بلکې ددې مصونیت اساسي موخه داده ترڅو سازمان وکړای شي چې په ازاد او خپلواک ډول خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي. په دې اړه د **۱۹۷۵** کال د ویانا کنوانسیون په **۲۳** ماده کې راغلي:

۱- د ډیپلوماتیک پلاوي مقر او الحاقیه ودانۍ له هر ډول تېري خوندي ده او د کوربه هېواد چارواکي د ډیپلوماتیک پلاوي د مشر له اجازې پرته حق نه لري چې د سازمان ودانۍ ته ننوځي.

۲- الف: کوربه هېواد مکلف دی چې د ډیپلوماتیک پلاوي د ودانۍ د امنیت په موخه لازم تدابیر تر لاس لاندې ونیسي تر څو په خوندي توګه خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړي.

ب: د ډیپلوماتیک پلاوي پر ودانۍ د تېري په صورت کې، کوربه هېواد مکلف دی چې د پېښې عاملین ونیسي او سزا ورکړي.

۳- د ډیپلوماتیک پلاوي ودانۍ، توکي، نقلیه وسایط او په ودانۍ کې نور موجوده شیان له هر ډول پلټنې، څارنې، توقیف او اجرایوي اقداماتو څخه خوندي دي.

## ۳- د ارشیف، اسنادو او اړیکو خوندیتوب

د ۱۹۴۶ کال کنوانسیون له مخې، په ملګرو ملتونو پورې اړونده اسناد او ارشیف له هر ډول تېري څخه خوندي دي. د نړیوالو حقوقو کمېسیون هم په ۱۹۹۱ ز کال کې په خپل یوه ریپوټ کې په دې اړه داسې لیکلي وو:

۱- د نړیوالو سازمانونو ارشیف او اړونده اسناد له تېري څخه خوندي دي.

۲- ارشیف هغه ځای دی چې رسمي پاڼې، مکتوبونه، کتابونه، فلمونه، غږیزې کېستې، کمپیوټري ډسکونه، دوسیې، رمزونه، کوډونه او نور اړین اسناد په کې ساتل کېږي.

همدغه راز د نړیوالو سازمانونو د ډیپلوماتیک پلاوي د خوندیتوب په هکله ، د ۱۹۷۵ کال کنوانسیون په ۲۵ ماده کې راغلي: ((د ډیپلوماتیک پلاوي ارشیف او اسناد په هر ځای او په هر وخت کې له تېري او پلټنې څخه خوندي دي)).

په اړیکو کې د استقلالیت په اړه هم یاد کنوانسیون په خپل ۲۷ ماده کې زیاتوي:

۱- ډیپلوماتیک پلاوی د خپلې رسمي دندې د اجرا پرمهال کولی شي چې له بېلابېلو مراجعو سره په ازاده توګه اړیکې ونیسي او کوربه دولت باید د ډیپلوماتیک پلاوي د اړیکو مصونیت ته بشپړ درناوی ولري. ډیپلوماتیک پلاوی کولی شي له خپل هېواد، بهرنیو سفارتونو، قونسلګریو او نورو مراجعو سره له مختلفو ارتباطي وسایلو څخه په استفادې اړیکې ټینګې کړي.

دغه راز ډیپلوماتیک پلاوی د کوربه دولت له خوښې او اجازې پرته نه شي کولی چې راډیویي دستګاه ولګوي او استفاده ترې وکړي.

۲- د پلاوي رسمي مکتوبونه له تېري څخه خوندي دي. د رسمي مکتوبونو اصطلاح، ټولو هغو مکتوبونو ته کارول کېږي چې د ډیپلوماتیک پلاوي په ماموریت پورې اړه لري.

۳- بسته شوي او پوښل شوي توکي باید څرګندې نښې او علامې ولري او دغه توکي یوازې د ډیپلوماتیک پلاوي د اړتیا وړ او د ډیپلوماتیک ماموریت په موخه وي.
۴- د پلاوي توکي چې باید د رسمي ادرس، د توکو د شمېر او نورو ځانګړنو لرونکی وي، د کوربه هېواد له ملاتړ څخه برخمن دي. د ډیپلومات توکي د هر ډول پلټنې او توقیف په وړاندې مصونیت لري.
۵- لېږونکی دولت کولی شي ځانګړي توکي خپل پلاوي ته منصوب کړي، چې په دې صورت کې به د همدې مادې **۵** بند حاکم وي، خو ټاکل شوي مصئونیتونه یوازې تر هغه وخته پورې د اجرا وړ دي ، ترڅو نوموړی کس توکي خپل ځای ته ورسوي.
۶- بکس کولی شو ، د بېړۍ یا الوتکې کپتان چې د ورتګ اجازه ورته لرو ، وسپارو. کپتان چې خدماتي پلاوی ورته ویل کېږي، باید د ورسپال شویو توکو رسمي پته او شمېر ورسره وي. ډیپلوماتیک پلاوی باید له وړاندې د کوربه هېواد اړونده چارواکي په جریان کې کړي وي، ترڅو خپل یو تن غړی د بېړۍ یا الوتکې کپتان ته د یادو توکو د ترلاسه کولو لپاره ور ولېږي.

## ۴- له تېري څخه خوندیتوب - Personal inviolability

د ډیپلوماتیک پلاویو مشران او کارکوونکي له هر ډول تېري، نیونې او پلټنې څخه خوندي دي. کوربه هېواد باید له یادو کسانو سره احترامانه چلند وکړي او د هغوی د شخصیت، حیثیت او ازادۍ د خوندیتوب په موخه لازم اقدامات وکړي. همدارنګه کوربه هېواد باید هغه کسان چې ډیپلوماتانو ته زیان رسوي، تر عدلي او قضایي څار لاندې ونیسي. (د **۱۹۷۵** کنوانسیون **۲۸** ماده).

## ۵- پناه اخیستنه

د ځینو سازمانونو د مقر د تړون له مخې، سازمان حق نه لري چې مجرمینو او تورنو کسانو ته پناه ورکړي. په امریکا کې د ملګروملتونو سازمان د مقر تړون د دویمې مادې له مخې، د ملګروملتونو سازمان حق نه لري چې په خپلې ودانۍ کې چا ته پناه ورکړي.
البته په دغه تړون او د **۱۹۷۵** کال په کنوانسیون کې سیاسي اشخاصو ته د پناه ورکړې په اړه څه نه دي ویل شوي، خو له دې څخه داسې استنباط کوو چې یوازې د نړیوالو سازمانونو کارکوونکي له دې حق څخه برخمن دي، ځکه چې مصونیت لري.

# پنځمه برخه:

# د نړیوالو سازمانونو د مزایاوو ډولونه

مزایا په حقوقي لحاظ، له مصئونیت سره توپیر لري. یعنې ډیپلوماتیک مصونیت هغه امتیاز دی چې له ډیپلومات پرته هر څوک ترې د استفادې حق نه لري. خو یو ډیپلومات ته ددې امتیاز نه ورکول او ځنډول، د هغه د دندې د اجرا خنډ نه شي کېدای.

د ډیپلوماتیکو مزایا ورکړه تر ډېره د هېوادونو یو اخلاقي مسؤلیت دی، یعنې که یو دولت یوه ډیپلومات ته د مزایا له ورکړې څخه انکار وکړي، کوم قانوني مسؤلیت نه لري. خو ډیپلوماتیک مصونیت د نړیوالو حقوقو او قواعدو یوه مهمه برخه ده چې ټول دولتونه یې پر پلي کېدا او درناوي مکلف ګرځول شوي دي.

د یادونې ده چې یو شمېر هېوادونه د مصونیت او مزایا ورکړې ته ژمن نه دي پاتې شوي، خو له دې سره سره بیا هم په ناچارۍ ددغه اصل په منلو مجبور شوي دي.

د ۱۹۴۶ او ۱۹۷۵ د کنوانسیونونو له مخې، د نړیوالو سازمانونو مزایا په دې ډول ټاکل شوې دي:

۱- له محصول او مالیاتو څخه معافیت

۲- له ګمرکي محصول او پلټنې څخه معافیت

۳- له ټولنیزې بیمې څخه معافیت

۴- له شخصي خدمتونو څخه معافیت

## ۱- له محصول او مالیاتو څخه معافیت

د ۱۹۴۶ او ۱۹۷۵ کنوانسیونونو له مخې د ډیپلوماتیک پلاوي مشرتابه او کارکوونکي له لاندنیو مواردو څخه پرته له هر ډول مالیې او محصول څخه معاف دي:

الف: غیر مستقیم مالیات، چې معمولاً توکي(اجناس) او خدمات دي.

ب: په کوربه هېواد کې پر خصوصي غیر منقوله توکو لګول شوې مالیه او محصول. خو هغه توکي په کې نه شاملېږي چې ډیپلومات د خپل ماموریت په موخه له خپل هېواده ځان سره راوړي دي.

ج: پر ارث مالیات چې له کوربه هېواده لاسته راځي. (۳۴ ماده، ۴ فقره).

د: په خپله د شخص په هېواد کې د شخصي عوایدو پر سر مالیات او همدغه راز پر سوداګریزو چارو د پانګونې له درکه وضع شوې مالیه.

ه: هغه محصولات چې د ځانګړو خدماتو په مقابل کې وضع کېږي.

و: د غیر منقوله توکو په برخه کې د ثبت، ګرو او تعارفې لګښتونه. البته د ۲۴ مادې د مقرراتو له مخې.( ۱۹۷۵ کال کنوانسیون ۳۳ماده، د ۱۹۴۶ کال کنوانسیون ۱۱ ماده، لومړۍ فقره ).

## ۲- له ګمرګي محصول او پلټنې څخه معافیت

د ګمرکي مزایاوو په تړاو د ملګرو ملتونو د مقرتړون او د ۱۹۴۶ کال په کنوانسیون کې په دې اړه په ځرګند ډول څه نه دي ویل شوي. خو د ۱۹۷۵ کال کنوانسیون ددغو مزایاوو په اړه لاندې مقررات ټاکلي دي:

۱- کوربه دولت د خپلو داخلي قوانینو له مخې، لاندې توکي باید د خپل ګمرکي محصول او ماليې څخه معاف او د لېږد اجازه ورکړي:

الف: د ډیپلوماتیک پلاوي د استفادې وړ رسمي توکي.

ب: د ډیپلوماتیک پلاوي د مشر او کارکوونکو د استفادې وړ شخصي توکي. ( د ژوند اولیه توکي ).

۲- د ډیپلوماتیک پلاوي د مشرتابه او کارکوونکو شخصي بکسونه له څارنې او پلټنې څخه معاف دي. خو هغه توکي چې له اړتیا پرته راوړل کېږي او د کوربه هېواد په قوانینو کې منع شوي وي، په استثنا کې راځي او له پلټنې څخه نه معاف کېږي. په داسې مواردو کې پلټنه یوازې د هغه شخص په حضور کې باید ترسره شي، چې له همدې ډول معافیت څخه برخمن وي. (( د ۱۹۷۵ کال د ویانا کنوانسیون ۳۵ ماده ) ).

## ۳- له ټولنیزې بیمې څخه معافیت

د وینا کنوانسیون د ۳۲ مادې پراساس، د ډیپلوماتیک پلاوي استازي له ټولنیزې بیمې څخه معاف دي. په یاده ماده کې راغلي:

۱- د ډیپلوماتیک پلاوي مشر او کارکوونکي ددې مادې د دریمې فقرې له مخې، د هغه خدمت له امله چې خپل هېواد ته یې ترسره کوي، په کوربه هېواد کې د ټولنیزې بیمې له ورکړې څخه معاف دي.

۲- پر ډیپلوماتانو سربېره، د سفارت یا سازمان شخصي خدمتګاران هم له دې حق څخه برخمن دي. خو په لاندې شرط:

الف: د کوربه هېواد تبعه یا اوسېدونکي نه وي.

ب: د ټولنیزې بیمې مقررات دې باید په خپل او یا هم په دریم هېواد کې پرې پلې شي.

۳- د ډیپلوماتیک پلاوي مشر او کارکوونکي باید د دویمې فقرې له مخې د سفارت خدمتګارانو په اړه د کوربه هېواد په بیمې پورې اړوند مقررات پلي او رعایت کړي.
۴- که خدمتګاران وغواړي چې د لومړۍ او دویمې فقرې پراساس د کوربه هېواد له ټولنیزې بیمې څخه استفاده وکړي، کوربه هېواد یې باید مخنیوی ونه کړي.
۵- ددې مادې مقررات به پر هغو دوه اړخیزو او څو اړخیزو تړونونو هېڅ ډول اغېز ونه کړي، کوم چې له دې وړاندې د ټولنیزې بیمې په اړه لاسلیک شوي دي او په راتلونکې کې به هم ددې ډول تړونونو په وړاندې خنډ نه شي.

## ۴- له شخصي چوپړتیاوو څخه معافیت

کوربه هېواد حق نه لري چې پر ډیپلوماتانو هر ډول شخصي، عمومي او پوځي خدمتونه او نورې چوپړتیاوې ترسره کړي، ډیپلوماتیک پلاوی له دې ډول چوپړتیاوو او خدمتونو څخه معاف دي. د۱۹۷۵ کال د ویانا کنوانسیون ۳۵ مه ماده.

# اووم څپرکی

# د نړیوالو سازمانونو د پرېکړه لیکونو اعتبار

## لومړۍ برخه:

## د نړیوالو سازمانونو تقنیني واک

نړیوال سازمانونه چې د نړیوالو اړیکو په تنظیم کې د پام وړ رول لوبوي، د خپلو دندو د اجرا په موخه اړینو تقنیني واکونو او صلاحیتونو ته اړتیا لري. نړیوالو سازمانونو ته ددې ډول واکونو سپارل ډېرې ګټې لري چې په لاندې ډول یې څېړو:
۱- دا چې د نړیوالو حقوقو تنظیم او جوړول یوه اوږده او ستونزمنه پروسه ده، نو په دې اساس نړیوال سازمانونه د تقنیني صلاحیت پر اساس کولی شي چې دې ستونزې ته د حل لار پیدا کړي.
۲- دا چې د نړیوالو سازمانونو فعالیت دوامداره دی، نو له همدې امله سازمان باید یو لړ عمومي قواعد وټاکي چې په یادو قواعدو کې د وخت غوښتنې او اړتیاوې باید په پام کې ونیول شي.

۳- که یو نړیوال سازمان له تقنیني واک څخه برخمن وي، کولی شي چې په نړیوال نظم کې اغېزمن رول ولوبوي. د نړیوالو سازمانونو پر تقنیني صلاحیت سربېره، ځیني نور مسایل چې ددې واک په هکله مطرح کېږي، دلته به پرې لنډه رڼا واچوو:

الف- که د نړیوالو حقوقي قواعدو سرچینه د دولتونو صریح او ضمني توافق وګڼو، په دې صورت کې د نړیوالو سازمانونو پرېکړې چې د رایو په اکثریت ترسره کېږي او یو شمېر غړو ته د منلو نه وي، نه شو کولی چې پر ټولو هېوادونو یې د اجرا وړ وګڼو.

ب- همدارنګه د ملګروملتونو د عمومي اسامبلې ځیني مهمې پرېکړې چې د اعلامیې (Declaration) په نوم یادېږي، باید له یاده ونه ایستل شي.

ج- که څه هم دنړیوالې محکمې ۳۸ ماده د نړیوال سازمان پرېکړه لیکونه او تصمیمونه د بین الملل حقوقو سرچینه نه ګڼي، خو بیا هم نړیواله محکمه په ځینو مواردو کې د ملګروملتونو د امنیت شورا او عمومي اسامبلې پرېکړه لیکونو ته ارزښت ورکوي.

لکه په ۱۹۴۹ کال د اپرېل په نهمه نړیوالې محکمې د کورفو تنګي د قضیې په اړه پرېکړه وکړه. همدغه راز د ۱۹۵۰ کال د مارچ په ۳ د ملګروملتونو سازمان ته د نویو غړو د غړیتوب منلو په اړه مشورتي پرېکړه وکړه.

۴- مسئله هغه وخت پېچلې کېږي کله چې د توصیه نامې (Recommendation) اصطلاح د نړیوالو سازمانونو د پرېکړو لپاره په کار وړل کېږي. دا چې دغه توصیه نامې د اصلي او فرعي ارګانونو؛ غړو او نا غړو هېوادونو له خوا ترسره کېږي، نو له یو واحد حقوقي ارزښت څخه برخمن نه دي.

یوه نا غړي دولت ته د سازمان د ټولو څانګو توصیه نامې یو ډول ارزښت نه لري، بلکې د امنیت شورا، عمومي اسامبلې او سکرتریت توصیه نامې هر یو ورته جلا ارزښت لري. ایټالوی حقوقپوه مالینټوپي (malintoppi) وړاندیز کوي او وایي، ددې لپاره چې د سکرتریت توصیه نامې له نورو توصیه نامو څخه جلا کړو، د توصیه نامې د اصطلاح پر ځای دې د لارښود (directive) اصطلاح وکارول شي.

په هر حال، هغه څه چې یادول یې اړین دي، هغه دا چې د نړیوالو سازمانونو پرېکړه لیکونه له واحد حقوقي ارزښت څخه برخمن نه دي. ددغو پرېکړه لیکونو حقوقي ارزښت او ډولونه به وروسته هر یو په جلا توګه وڅېړو.

هېره دې نه وي، چې یو شمېر پرمختللو هېوادونو د ملګروملتونو د پرېکړه لیکونو، په تېره بیا د عمومي اسامبلې د پرېکړه لیکونو پلي کولو لپاره ډېرې هلې ځلې کړې دي، خو کومه مثبته پایله یې نه ده لرلې.

د فلپین هېواد په سنفرانسیسکو کنفرانس کې وړاندیز وکړ، چې د ملګروملتونو عمومي اسامبلې مصوبې چې د رایو په اکثریت تصویبیږي، باید د الزامي قواعدو په توګه ومنل شي، خو یو شمېر سترو قدرتونو له دغه وړاندیز سره مخالفت وکړ او بالاخره یاد وړاندیز په **۲۲** مخالفو رایو رد شو.
دغه راز په شپېتمه لسیزه کې هم ځینو مخ پر ودې هېوادونو هڅه وکړه چې د عمومي اسامبلې پرېکړه لیکونه باید الزامي شي. خو دغه وړاندیز هم د ځینو لوېدیځو او سوسیالیستي هېوادونو له لوري رد شو.

## دویمه برخه:

# د ملګروملتونو د پرېکړه لیکونو ډولونه

د ملګرو ملتونو د پرېکړه لیکونو له ډلبندۍ څخه موخه د پرېکړه لیکونو الزامیت نه دی، بلکې د پرېکړه لیکونو د ډولونو او حقوقي ارزښت څېړل دي. دغه موضوع به لاندې په تفصیل وڅېړو:

### ۱- د ملګروملتونو داخلي پرېکړه لیکونه

لومړی باید د سازمان داخلي پرېکړه لیکونه چې د سازمان له داخلي حقوقو سره تړاو لري، له نورو پرېکړه لیکونو څخه بېل کړو. کورني پرېکړه لیکونه د ملګرو ملتونو د پرېکړو لیکونو تقریباً څلور پر پنځمه برخه جوړوي. دملګروملتونو د سازمان کورني پرېکړه لیکونه د ماهیت له پلوه یوشان نه دي. ځیني کورني پرېکړه لیکونه اداري ماهیت لري، خو ځیني یې تقنیني، لکه د یوه نوي ارګان د اساسنامې په اړه پرېکړه لیک؛ خو ځیني نور بیا حقوقي ماهیت لري.
په ټوله کې د ملګرو ملتونو پرېکړه لیکونه چې اساسي موخه یې د ځانګو ترمنځ د اړیکو سمون او تنظیمول دي، الزامي بڼه لري. دغه پرېکړه لیکونه معمولاً د لاندنیو مسایلو په اړه صادرېږي:
د منشور د اولسمې مادې له مخې د سازمان د بودیجې تصویبول، د فرعي ځانګو جوړول، ځانګو ته د غړو ټاکل، د سازمان او فرعي ځانګو ترمنځ همغږي، د دارلانشاء پر فعالیتونو او کړنو څارنه، د سرمنشي ټاکل، د عمومي اسامبلې لپاره د کورنیو دندو د اصولو ټاکل او نور.

### ۲- د نړیوالې سولې او امنیت په اړه پرېکړه لیکونه

د ملګرو ملتونو زیات شمېر پرېکړه لیکونه د نړیوالې سولې او امنیت په اړه دي. ددغو پرېکړه لیکونو پلي کېدا د منشور له پنځه وېشتمې مادې څخه سرچینه اخلي. د یادې مادې له مخې د ملګرو ملتونو غړي ژمنه کوي چې د امنیت شورا ټول پرېکړه لیکونه به د منشور له مخې پلي کېږي.

د پورتنۍ مادې پربنسټ هر هغه هېواد چې د ملګروملتونو په سازمان کې نوی غړیتوب ترلاسه کوي، له هر ډول دلیل پرته باید د امنیت شورا ټولې پرېکړې ومني. د امنیت شورا هم ددې امر تابع ده او خپلې ټولې پرېکړې باید د منشور د اووم څپرکي له مخې ترسره کړي او دغه پرېکړې د اجرا وړ دي.

په اوس وخت کې دا یو منل شوی اصل دی چې د تېرې کوونکو هېوادونو پر وړاندې د امنیت شورا قهري اقدامات او پرېکړې د اجرا وړ دي. یو شمېر لیکوالان لکه کنفوریتې (conforiti) دا ډول پرېکړه لیکونه عملیاتي پرېکړه لیکونه ګڼي، چې په ۱۹۵۱ او ۱۹۹۰ کلونو کې د شمالي کوریا او عراق په اړه د امنیت شورا پرېکړې هم له همدې ډول پرېکړو څخه وې.

د نړیوالې سولې او امنیت په تړاو پرېکړه لیکونه چې له دې جملې یو د عمومي اسامبلې او نهه نور یې د امنیت شورا له لوري خپاره شوي دي، ډېر ارزښت لري. یاد پرېکړه لیکونه د اکسون یا د «سولې د یووالي» په نوم یادېږي، چې د ۱۹۵۰ کال په نومبر کې تصویب شول. د نوموړي پرېکړه لیک له مخې، کله چې یوه ځانګړې قضیه د امنیت شورا د دایمي غړو له لوري ویټو او بې پایلې شي، عمومي اسامبله کولی شي چې د پرېکړې د اجرا په موخه یو لړ ټولیز اقدامات ترسره کړي او ان له زور څخه کار اخلي.

## ۳- غیر الزامي پرېکړه لیکونه

د ملګرو ملتونو یو زیات شمېر پرېکړه لیکونه، په ځانګړې توګه د عمومي اسامبلې او اقتصادي - ټولنیزې شورا پرېکړې له اجرایوي ضمانت څخه برخمنې نه دي. که څه هم دغه پرېکړه لیکونه د عمومي اسامبلې د اکثریت غړو له لوري تصویبېږي، خو له دې سره سره الزامیت نه لري.

که څه هم عمومي اسامبله د ملګرو ملتونو مشورتي او د خبرو اترو ارګان ګڼل کېږي او زیات شمېر پرېکړه لیکونه یې غیر الزامي دي، خو د سازمان د بودیجې،مالي ونډې، د اقتصادي او ټولنیزې شورا لپاره د غړو د ټاکلو او د څانګو په اړه پرېکړې الزامي بڼه لري.

## ۴- اعلامي پرېکړه لیکونه – Resolution declarative

هغه پرېکړه لیکونه چې (کسټنډا) د اعلامي پرېکړه لیکونو په نوم یاد شوي، په حقیقت کې هغه پرېکړه لیکونه دي چې یو لړ اصول لري او معمولاً د اصولو اعلامیې ( Declarartion principle ) په نوم یادېږي.

ددغو پرېکړه لیکونو موخه د نویو قواعدو تر ټاکل کېدو پورې د موجوده قواعدو منل دي. همدغه راز ددې پرېکړه لیکونو هدف عرفي ته د وضعي قواعدو اړول نه دي، بلکې یوازېنۍ موخه یې د عرفي او وضعي قواعدو د محتوا روښانول دي.

سربېره پردې، اعلامي پرېکړه لیکونه کېدای شي په ځینو برخو کې د لنډمهاله مسایلو په اړه وضع شي او یاهم د نویو قواعدو د وضع کولو لپاره یوه بنسټ او اساس شي. په همدې اساس دغه اعلامیې د لنډ مهاله حقوقو بڼه خپلوي چې له پخواني سیستم څخه نوي سیستم ته د ورتګ لار ګڼل کېږي.

د بېلګې په توګه، د ۱۹۶۳ کال د ډسمبر په څوارلسمه د فضایي حقوقو په اړه [۱۹۶۲] نمبر پرېکړه لیک، چې درج شوي سیاسي اصول یې په ۱۹۶۷ کال د جنورۍ په ۲۷ مه د فضایي حقوقو د تړون ترنامه لاندې منځته راغلل.

د اعلامي پرېکړه لیکونو له جملې کولی شو لاندنیو څو مثالونو ته اشاره وکړو:

-د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه (۲۱۷ نمبر پرېکړه لیک الف (۳) تصویب ۱۹۴۸ د ډیسمبر لسمه).

- د ماشوم د حقوقو اعلامیه (۱۳۸۶ نمبر پرېکړه لیک (۱۴) تصویب ۱۹۵۹ د ډیسمبر لسمه ).

- مستعمره شویو هېوادونو ته د خپلواکۍ د ورکړې اعلامیه (۱۵۱۴ نمبر پرېکړه لیک – تصویب ۱۹۶۰ د ډیسمبر ۱۴ مه).

- د طبیعي زېرمو د دایمي حاکمیت اعلامیه (۱۸۰۳ نمبر پرېکړه لیک – تصویب ۱۹۶۰ د ډیسمبر ۱۴ مه ).

- د نړیوالو کلتوري همکاریو اعلامیه (۱۹۶۶ کال د نومبر د میاشتې ۱۴ مه د سنفرانسیسکو د عمومي کنفرانس پرېکړه لیک ).

پورتنۍ اعلامیې، په ځانګړې توګه د بشري حقونو اعلامیه؛ له هغو اعلامیو څخه ده چې د دولتونو ترمنځ پرې تود بحث وشو. خو یادو هېوادونو دغه اعلامیه د موضوعه حقوقو د یوې برخې په توګه چې باید مستقیماً د هغوی په داخلي قوانینو کې پلې شوې وای، ونه منله.

د اتریش هېواد پر اساسي قانون د څار کمېسیون پرېکړه ۱۹۵۰ کال د اکتوبر دولسمه، د فرانسې ملي شورا پرېکړه ۱۹۵۱ کال د اپرېل اتلسمه او د کلفورنیا د سترې محکمې پرېکړه ۱۹۵۲ کال د اپرېل اولسمه.

# اتم څپرکی

# د نړیوالو سازمانونو ډلبندي

د اوسنۍ نړیوالې ټولنې یوه ځانګړنه هم د نړیوالو سازمانونو ډېروالی دی. په ۱۹۹۹ کال کې شاوخوا ۱۴۰۰ دولتي او ۲۷۰۰۰ نا دولتي سازمانونه اټکل شوي وو، چې ددغه شمېر سازمانونو ډلبندي څه اسانه خبره نه ده.
ددغو نړیوالو سازمانونو له اوسنۍ ډلبندۍ څخه هېڅ یوه علمي او منل شوې ډلبندي نه ده. دغه متفاوتې ډلبندۍ تر ډېره په تقریبي ډول ترسره شوې دي، چې یو شمېر سازمانونه په کې د جغرافیوي جوړښت پر اساس وېشل شوي دي.
د همدې معیار له مخې سازمانونه پر نړیوال او سیمه ییزو وېشل کېږي. خو دغه معیار ښایي په ځینو برخو کې ستونزه رامنځته کړي، ځکه چې سازمانونه د هدف او ارادې پربنسټ جوړېږي.
که چېرې سازمانونه د پورتني وېش له مخې تاسیس شي، ښايي ځیني دولتونه په سازمان کې غړیتوب ته زړه ښه نه کړي. د بېلګې په توګه، که د سازمانونو پورتنی وېش په پام کې ونیسو، پوښتنه پیدا کېږي چې ایا کولی شو نړیوال بانک ته یو نړیوال سازمان ووایو؟
د ځینو پوهانو په اند، دا چې په نړیوال بانک کې د غړیتوب ترلاسه کول یو لړ اقتصادي او مالي شرایط لري، نو هغه هېوادونه چې په معیار برابر نه وي، د نړیوال بانک غړي نه شي کېدای. ځکه دغه بانک ښايي د خپل فعالیت اصلي ځانګړنه له لاسه ورکړي. نو په دې اساس ویلی شو چې نړیوال بانک په پورتنۍ ډلبندۍ کې نه راځي.
همدغه راز د سیمه ییزو سازمانونو د مفهوم په اړه هم ځیني شکونه پر ځای پاتې دي. ځکه، هر سیمه ییز سازمان ته سیمه ییز نه شو ویلی. یا په بل عبارت؛ موږ نه شو کولی چې نړیوال سازمانونه پر دوه بېلابېلو برخو (نړیوال او سیمه ییز) باندې ووېشو.
مثلاً اوپېک سازمان چې غړي یې په یوې ځانګړې سیمې پورې اړه لري، یو سیمه ییز سازمان ورته نه شو ویلی. ځکه د یاد سازمان یو شمېر غړي د فارس خلیج، سویلي امریکا او یو شمېر نور یې د افریقا له هېوادونو څخه دي.

ځیني پوهانو بیا نړیوال سازمانونه د اهدافو پربنسټ وېشلي دي. لکه سیاسي، پوځي، کلتوري، ادبي، ورزشي او نور سازمانونه. خو دا هېڅکله یو ریښتونی وېش نه شي کېدای، ځکه نړیوال سازمانونه څو اړخیز اهداف پرمخ بیایي، چې تر کوم ځانګړي هدف پورې نه شي محدود بېدای.

دغه راز یو شمېر نورو بیا نړیوال سازمانونه د واک او صلاحیت له مخې ډلبندي کړي، چې په دې ډول دي:

تصمیم نیوونکي، اجرایوي، مشورتي او معیار ټاکونکي سازمانونه. خو دغه وېش هم له ځینو ستونزو سره مل دی. د بېلګې په توګه، موږ نه شو کولی، عمومي اسامبله یو مشورتي ارګان او امنیت شورا یو اجرایوي ارګان وګڼو. د یادو دوو ارګانونو بېلول او تفکیک به هغوی له خپل اصلي دندو او واکونو څخه لرې کړي.

په دې کتاب کې نړیوال سازمانونه د غړو او د مؤسسینو د ډولونو له مخې ډلبندي شوي ، چې دغه ډلبندي او تقسیم تر نورو هغو یو څه پراخه او دقیقه ده، ځکه چې په دې ډلبندۍ کې د نړیوالو سازمانونو پر اصلي لوبغاړو یعنې د سازمان پر بنسټګرو بحث شوی دی. چې په همدې اساس مو نړیوال سازمانونه پر دوه ډلو وېشلي دي:

۱- دولتي سازمانونه

۲- نا دولتي سازمانونه

# ۱- دولتي سازمانونه

دغه سازمانونه بیا په خپل وار د جغرافیوي قلمرو پربنسټ په درې برخو ویشل کېږي:

الف- نړیوال دولتي سازمانونه

ب- سیمه ییز دولتي سازمانونه

ج- له سیمې هاخوا دولتي سازمانونه

**الف- نړیوال دولتي سازمانونه**: د دې سازمانونو ډېری برخه له دویمې نړیوالې جګړې وروسته رامنځته شول، چې په بېلابېلو سیاسي، اقتصادي او پوځي برخو کې فعالیتونه کوي. دا چې دغه سازمانونه له ملګرو ملتونو سره هم نږدې همکاري او اړیکې لري، نو پر دوه برخو وېشل کېږي:

۱.په ملګرو ملتونو پورې اړوند سازمانونه ۲. له ملګرو ملتونو څخه جلا خپلواک سازمانونه.

**لومړی: په ملګرو ملتونو پورې اړوند نړیوال دولتي سازمانونه**

د ملګرو ملتونو د سازمان له اصلي ځانګو څخه جلا ، یو شمېر نړیوال دولتي سازمانونه دي چې هر یو د خپل تخصص له مخې په لاندې توګه وېشل شوي دي:

۱- **نړیوال ارتباطي سازمانونه**: د هغه ډول سازمانونو له ډلې څخه دي چې موخه يې د خلکو ترمنځ د اړيکو ټينګول دي او بېلابېل فني خدمات وړاندې کوي لکه: د پوست نړيواله اتحاديه، د مخابراتو نړيواله اتحاديه، د هوايي چلن نړيوال سازمان، د بېړۍ چلونې نړيوال سازمان او ...

۲- **نړيوال کلتوري او ټولنيز سازمانونه**: دا سازمانونه د وګړو له ټولنيزو حقوقو څخه د ملاتړ په برخه کې فعاليت کوي لکه: د ملګرو ملتونو د ګډوالو عالي کمېشنرۍ، د ملګرو ملتونو د خلکو صندوق، د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق، د ملګرو علمي او کلتوري سازمان يا يونيسکو، نړيوال روغتيايي سازمان او د خوړو نړيوال پرواګرام.

۳- **نړيوال پولي او مالي سازمانونه**: دا ډول سازمانونه له دويمې نړيوالې جګړې وروسته د جنګ ځپلو سيمو د بيارغونې په موخه جوړ شول: د پيسو نړيوال صندوق، د نړيوال بانک ډله، د بيارغونې او پرمختګ نړيوال بانک، د پرمختګ نړيواله مؤسسه او د مالي چارو نړيواله مؤسسه.

۴- **نړيوال سوداګريز او صنعتي سازمانونه**: د ملګرو ملتونو د صنعتي پرمختګ سازمان، د کرنيز پرمختګ نړيوال صندوق، د کرنې نړيوال سازمان او دملګروملتونو د سوداګرۍ او پرمختګ نړيوال کمېسيون. د نړيوالو سوداګريزو او صنعتي سازمانونو د فعاليتونو اساسي موخه د نړيوالو اقتصادي مسايلو او د هېوادونو ترمنځ لازمه همکاري ده.

۵- **نړيوال علمي او څېړنيز سازمانونه**: د ملګروملتونو د علمي او څېړنيزې ودې نړيوال انستتيوت، د ملګروملتونو پوهنتون او د نړيوالو حقوقو کمېسيون.

**دويم: له ملګرو ملتونو څخه جلا او بېل سازمانونه**

له ملګرو ملتونو څخه جلا سازمانونه معمولاً په علمي او څېړنيزو، لکه: طبي، انجينيري، ښوونه - روزنه او د کرنې په برخو کې فعاليت کوي.

مثلاً د معلولينو او معيوبينو نړيواله خيريه ټولنه، د متحده ښارونو سازمان، د چاپېريال او طبيعي زېرمو د ساتنې نړيواله اتحاديه او د ادبياتو نړيواله ټولنه.

**ب- سيمه ييز دولتي سازمانونه**: د ځينو نړيوالو ستونزو په حل کې د سازمانونو پاتې راتلل، يو شمېر هېوادونه د سيمه ييزو سازمانونو جوړولو ته وهڅول، ترڅو د عامه امنيت او د هېوادونو ترمنځ د سياسي او اقتصادي همکاريو په برخه کې اغېزمن رول ولوبوي.

سيمه ييز سازمانونه په مختلفو ډولونو وېشل شوي دي. خو مهم يې په لاندې درېو برخو وېشل شوي دي:

- د اروپا او اتلانتيک سازمانونه. لکه اروپا ټولنه او ناټو.

- امریکایي سازمانونه. لکه د امریکایي هېوادونو سازمانونه او د مرکزي امریکا د هېوادونو سازمان.
- افریقایي او اسیایي سازمانونه. لکه عربي ټولنه، د افریقا د یووالي ټولنه او د اېکو سازمان.

**ج- له سیمې هاخوا دولتي سازمانونه**: یو شمېر سازمانونه د (نړیوال او سیمه ییز) ترمنځ د ډلبندۍ په منځنۍ کچه کې قرار لري. ځکه دغو سازمانونو ته نه نړیوال او نه هم سیمه ییز ویلی شو. یا په بل عبارت، ددغو سازمانونو غړي یوازې په یوې ځانګړې جغرافیې پورې اړه نه لري، بلکې د نړۍ له بېلابېلو سیمو څخه دي. ځکه ورته له سیمې هاخوا سازمانونه وایو.
لکه د ناپېیلو هېوادونو غورځنګ او د اسلامي هېوادونو سازمان.
دا چې په یادو سازمانونو کې د نړۍ له مختلفو لویو وچو څخه بېلابېل هېوادونه غړیتوب لري، نو په همدې اساس د (سیمه ییز) کلیمه ورته نه شو کارولی.

## ۲- نادولتي سازمانونه:

دغه سازمانونه چې د نړیوالو عمومي حقوقو یوه برخه او تابعین ګڼل کېږي، په دوو برخو وېشل شوي دي: نادولتي انتفاعي سازمانونه او نادولتي غیر انتفاعي سازمانونه.

**الف- نا دولتي انتفاعي سازمانونه**:

د نا دولتي انتفاعي سازمانونو ښه مثال ګڼ ملتیز سازمانونه دي. یاد شرکتونه د نړیوالې سوداګرۍ او نړیوالو اړیکو په برخه کې د پام وړ رول لوبوي.
د اویایمې لسیزې په نیمایي کې نږدې ۳۷ زره ګڼ ملتیزو شرکتونو فعالیت کاوه چې له دې جملې نوي سلنه یې په مخ پر ودې هېوادونو کې فعالیت کاوه او نږدې ۱۷۰ زره بهرني شرکتونه ورسره فعال وو.
دې شرکتونو چې ۲۰ سلنه یې په صنعتي، ۳۰ سلنه په خدماتي او ۳ سلنه په نورو اساسي برخو کې پانګونه کوله، د نړۍ یو پر دریمه برخه مقوم مال یې په لاس کې وو. همدغه راز د یادو شرکتونو د بهرنۍ پانګونې کچه نږدې دوه ټریلیونه (۲۰۰۰ملیارډه) ډالر اټکل شوې وه، چې له دې جملې ۳۳ سلنه یې په لوی ګڼ ملتیز شرکت پورې اړه لرله.

**ب- نادولتي غیر انتفاعي سازمانونه**

**لومړی: د نادولتي غیر انتفاعي سازمان پېژندنه**

د یوه یا څو هېوادونو له ښاریانو څخه جوړ یو نادولتي او غیر انتفاعي هویت دی، چې فعالیتونه یې د ټولنې د افرادو اړتیاوو ته د ځواب ویلو په موخه ټاکل کېږي.

خو د ملګرو ملتونو د اطلاعاتو عمومي اداري د نادولتي غیر انتفاعي سازمانونو په اړه لاندې تعریف وړاندې کړی دی:
هغه نادولتي او داوطلبه سازمان ته ویل کېږي چې په سیمه ییزه، ملي او نړیواله کچه فعالیت کوي او غړي یې د مختلفو علایقو له مخې دغه سازمان اداره کوي.
بشري مرستې، ددولت کړنو ته دخلکو پام اړول، د دولت له سیاستونو څخه څارنه او په بهرنیو سیاسي مسایلو کې ګډون ته هڅول، د سازمان له مهمو فعالیتونو څخه دي.
د نادولتي غیر انتفاعي سازمانونو رول او اغېز ته په کتو سره، په ۱۹۴۸ کال کې له ملګرو ملتونو سره ۴۵ غیر انتفاعي سازمانونو غړیتوب درلود، خو حاضر دمه له اقتصادي او ټولنیزې شورا سره نږدې ۲۷۱۹ نادولتي غیر انتفاعي سازمانونه ثبت دي.
**دویم: د نادولتي غیر انتفاعي سازمانونو ځانګړتیاوې**
۱- خود جوشه دي
۲- ځانګړې موخې، اساسنامه، جوړښت او تشکیلات لري.
۳- غیر انتفاعي دي او غړي یې د ځانګړو ګټو په لټه کې نه دي
۴- ناپېیلی - غیر سیاسي سازمان دی او له هېڅ سیاسي ګوند او جریان سره تړاو نه لري
۵- غړي یې رضاکاره خلک دي.
۶- د غړیتوب لپاره یوازېنی شرط دادی چې غړي به د اساسنامې له مخې په سازمان کې په داوطلبه توګه کار کوي.
۷- فعالیتونه او هڅې یې ښکاره او علني دي او په کارونو کې یې شفافیت شتون لري.
۸- د سازمان مالي سرچینه چې له عوایدو تامینېږي، له پوره شفافیت څخه برخمنه ده.
۹- ددې سازمان موخه د ټولنې وضعیت له ښه والي سره مرسته او د هېواد ملي او عامه مصالح دي.
۱۰- له هېڅ دولتي یا کوم بل بنسټ سره تړاو نه لري.
**دریم: په ملګرو ملتونو سازمان کې د یوه نادولتي غیر انتفاعي سازمان د ګډون شرایط:**
د ۱۹۴۲ کال په فیبروری کې د ملګروملتونو عمومي اسامبلې ددغه سازمان له اقتصادي او ټولنیزې شورا څخه وغوښتل، چې د سیمې او نړۍ د مسایلو په اړه دې د نادولتي سازمانونو او بنسټونو له همکاریو او اطلاعاتو څخه ګټه واخیستل شي.
له ملګروملتونو سره د نادولتي سازمانونو د همکارۍ په اړه د ملګروملتونو د منشور ۷۱ مه ماده داسې حکم کوي: ((اقتصادي او ټولنیزه شورا کولی شي نادولتي سازمانونو ته د سلا او مشورې په موخه، لازم تدابیر تر لاس لاندې ونیسي. دغه تدابیر ښایي د اړتیا پرمهال نړیوالې او ملي مؤسسې هم په برکې ونیسي)).

د سنفرانسیسکو له کنفرانس څخه مخکې د نړیوالو نادولتي مؤسسو او سازمانونو لپاره هېڅ ډول مدون قواعد او مقررات موجود نه وو او نه هم طبقه بندي شوي وو. په همدې اړه د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې د ۱۹۴۶ ز کال د فبرورۍ په څلورمه، څلورم نمبر پرېکړه تصویب کړ او له اقتصادي او ټولنیزې شورا څخه یې وغوښتل چې د نادولتي سازمانونو او مؤسسو د ډلبندۍ لپاره یوه کاري کمېټه جوړه کړي.

یادې کمېټې نادولتي سازمانونو ته د مشورتي مقام د ورکړې په موخه ځیني معیارونه او ضوابط وټاکل چې په ۱۹۶۸کال کې د [۱۲۹۶] نمبر پرېکړه لیک (XLIV) په ترڅ کې د اقتصادي او ټولنیزې شورا له لوري په تصویب ورسېدل.

د یادونې ده، چې دغه اصول او معیارونه د شورا په نهه څلوېښتمه غونډه کې په ۱۹۹۶ کال کې د E/1996/31 پرېکړه لیک په ترڅ کې په لاندې ډول اصلاح شول:

۱- سازمان باید د هغو موضوعاتو له مخې چې د اقتصادي او ټولنیزې شورا په واکونو کې شامل دي، عمل وکړي.

۲- د سازمان اهداف او فعالیتونه باید د ملګرو ملتونو د منشور مطابق ترسره شي.

۳- سازمان باید د ملګرو ملتونو له فعالیتونو څخه ملاتړ وکړي او د خپلو موخو او فعالیتونو په چوکاټ کې د عامه پوهاوي په برخه کې د ملګرو ملتونو د سازمان د اصولو او فعالیتونو درناوی وکړي.

په هغه صورت کې چې سازمان یاد شرایط پوره کړي وي، د پرېکړه لیک ۹ ، ۱۳ او ۲۱ مادې د سازمان د مشورتي مقام د لاسته راوړلو لپاره دوهم پړاو پرانېزي:

۱- سازمان باید د خپل صلاحیت له مخې د نمایندګۍ له ځانګړنې څخه برخمن اوسي. که دې ته ورته نور سازمانونه چې ګټې او اهداف یې سره موازي وي، له ټولنیزې او اقتصادي شورا سره د غړیتوب په موخه باید یوه ګډه کمېټه جوړه کړي.

۲- هغه سازمان چې غواړي په اقتصادي او ټولنیزه شورا کې مشورتي مقام ترلاسه کړي، سکرتریت ته باید د غړیتوب د ترلاسه کولو مدارک او دلایل وړاندې کړي او د غړیتوب د ترلاسه کولو یو شرط دادی چې سازمان لږ تر لږه باید دوه کاله فعالیت کړی وي.

۳- سازمان باید یو مرکزي اجرایوي دفتر او پر ډیموکراتیکو اصولو ولاړه اساسنامه ولري او دغه اساسنامه باید د ملګرو ملتونو عمومي منشي ته وسپاري.

همدغه راز د کنفرانسونو د جوړولو لپاره باید یوه تګلاره وټاکي.

۴- سازمان باید د خپلو غړو په استازیتوب د څرګندونو صلاحیت ولري.

۵- سازمان باید یو نړیوال جوړښت ولري. سازمان خپلو غړو ته د حساب ورکونې او ځواب ویلو په برخه کې یو مناسب طرزالعمل هم باید ولري. هغه سازمان چې د بین الدول توافق پر اساس نه

وي جوړ شوی، نادولتي سازمان بلل کېږي. د دې ډول سازمانونو غړي ښايي د دولتي چارواکو له لوري وټاکل شي، خو په دې شرط چې د هغوی غړیتوب د سازمان د بيان آزادۍ خنډ نه شي.

۲- د سازمان مالي لګښت په لومړي سر کې باید د غړو له خوا تأمين شي. هغه مرستې چې په داوطلبانه ډول له سازمان سره ترسره کېږي، د کچې او څرنګوالي په اړه يې باید په پوره شفافيت د نادولتي سازمان کمېټې او اقتصادي او ټولنيزې شورا ته معلومات او راپور ورکړل شي.

که پورتني معيارونه پلي نه شي او يو نادولتي سازمان له نورو سرچينو څخه مالي مرستې ترلاسه کوي، کمېټې ته باید د دلايلو او شواهدو په وړاندې کولو سره لازم قناعت ورکړل شي، ترڅو معلومه شي چې د يادو معيارونو او مقرراتو د نه پلي کولو اصلي لامل څه و.

که د کوم هېواد له خوا له يوه نادولتي سازمان سره مرسته کېږي، مرسته د سازمان د منشي له خوا په علني ډول کمېټې ته اعلان او د سازمان په مالي او نورو اړونده اسنادو کې باید ثبت شي. دغه مرسته شوې پيسې باید د سازمان په اهدافو کې ولګول شي.

**څلورم**: **په نادولتي غير انتفاعي سازمانونو پورې اړونده ادارې**

د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې له نادولتي غير انتفاعي سازمانونو سره د همغږۍ په موخه څلور بنسټونه شتون لري:

- د ملګرو ملتونو د اطلاعاتو عمومي اداره (**UNDPI**)
- د اقتصادي او ټولنيزې شورا د نادولتي سازمانونو کمېټه
- د نادولتي سازمانونو ارتباطي دفتر (**UNOG**)
- د نادولتي سازمانونو د اړيکو سرويس (**NGLS**)

## ۱- د ملګرو ملتونو د اطلاعاتو عمومي اداره

ددې ادارې ارزښت ته په پام سره، حاضر دمه نږدې ۱۵۰۰ نادولتي غير انتفاعي سازمانونه د ياد بنسټ له خدمتونو څخه ګټه اخلي. دغه اداره د ملګرو ملتونو د اطلاعاتو د ادارې د تنظيمولو، د غونډو همغږي کولو، د نړيوالو مسايلو په باب د اونيزو غونډو جوړولو، د ملګرو ملتونو جاري اسنادو ته د لاسرسي او د نورو اړونده مسايلو په برخه کې له نادولتي غير انتفاعي سازمانونو سره د همکارۍ مسوليت پر غاړه لري.

## ۲- د اقتصادي او ټولنيزې شورا د نادولتي سازمانونو کمېټه

دغه بنسټ له نولس تنو کارپوهانو څخه جوړ شوی دی چې د جغرافيوي وېش پر اساس ټاکل شوي دي. د يادې کمېټې اساسي دندې:

د مشورتي مقام د ترلاسه کولو یا بدلون په اړه د وړاندیزونو څېړل، د نادولتي مشورتي مقام لرونکو سازمانونو د څلور کلني راپورونو څېړل او ارزول، د هغو دندو اجرا چې د اقتصادي او ټولنیزې شورا له لوري کمېټې ته سپارل کېږي، د E/1991/31 نمبر پرېکړه لیک د مقرراتو پلي کول او همدغه راز پر مشورتي مسایلو څارنه.

## ۳- د نادولتي سازمانونو ارتباطي دفتر

د ارتباطي دفتر مرکز په جینوا ښار کې دی او دندې یې په دې ډول دي:
- د ملګرو ملتونو په څانګو کې د بحث وړ مسایلو په اړه معلومات او لازمې لارښوونې.
- د نادولتي سازمانونو له ډلو سره همکاري.
- د ملګرو ملتونو سازمان سره د نادولتي سازمانونو د اړیکو په اړه معلومات ورکول او همدغه راز له نورو اړونده نمایندګیو سره د اړیکو او اطلاعاتو په برخه کې مرسته کول.
- د نادولتي سازمانونو غړو ته په غونډو کې د ګډون لپاره اجازه ورکول
- په سیمنارونو او علمي کنفرانسونو کې د ګډون لپاره غړو ته د ګډون زمینه برابرول.
- د نادولتي مشورتي مقام لرونکو سازمانونو د نوملړ جوړول او خپرول.

## ۴- د نادولتي سازمانونو ارتباطي سروېس

دغه اداره په نیویارک او ژنیو کې دفترونه لري او د ملګرو ملتونو او نادولتي سازمانونو ترمنځ د اطلاعاتو د شریکولو په برخه کې فعالیت کوي.

**پنځم: د ملګرو ملتونو له لوري د نادولتي غیر انتفاعي سازمانونو ډلبندي**

د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزه شورا نادولتي سازمانونو ته د مشورتي مقام د ورکړې پرمهال د هغوی د فعالیتونو حوزه څېړي او ګوري چې د ملګرو ملتونو له نورو ارګانونو سره په مرسته کې څومره اغېزمن تمامېدای شي.

په همدې اساس د ۱۹۹۶ پرېکړه لیک له مخې دغه سازمانونه په درې ډوله وېشل شوي دي: پخوانۍ لومړۍ ډله، پخوانۍ درېیمه ډله او راستر ډله.

**الف- د عمومي مشورتي مقام لرونکي سازمانونه (پخوانۍ لومړۍ ډله):**

هغه سازمانونه چې د فعالیتونو زیاته برخه یې د ملګرو ملتونو له اقتصادي او ټولنیزې شورا سره ورته والی لري او د سازمان د اهدافو د تحقق په برخه کې اغېزمن رول لوبوي او همدغه راز په اقتصادي او ټولنیزو برخو کې بشري مرستې ترسره کوي، په پخوانۍ لومړۍ ډله کې راځي.

ډېرې سازمانونه او مؤسسې، لکه د کارګرو، سوداګرو، مدیریت او کروندګرو او دې ته ورته نورې ټولنې په پخوانۍ لومړۍ ډله سازمانونو کې راځي.
دغه ډله سازمانونه چې په اوس وخت کې په اقتصادي او ټولنیزې شورا او د ملګرو ملتونو په نورو څانګو کې په لړه اندازه غړیتوب لري، له ځانګړو حقوقو او امتیازونو څخه برخمن دي. د عمومي مشورتي مقام لرونکي نادولتي سازمانونه د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزې شورا او د سازمان د نورو اصلي ارګانونو په غونډو کې د ګډون حق لري.
دغه راز هغه مسایل چې نادولتي سازمانونه غواړي په غونډه کې پرې بحث وشي، کولی شي چې خپل وړاندیز د شورا او نادولتي سازمانونو ګډې کمېټې ته وسپاري ترڅو د غونډې په اجنډا کې شامل شي. هغه سازمانونه چې په دې ډله کې راځي په لاندې ډول دي:
- د ښځو د حقوقو نړیواله ټولنه
- د کارګرو د خپلواکو ټولنو نړیوال کنفدراسیون ( intrenational confedration of free labour union)
- د مسلمانانو نړیواله ټولنه (muslim world league )
- د مسلمانانو نړیواله کنګره (muslims congress)
- د ښځو نړیواله شورا (intrernation coucil of women)
- نړیواله پارلماني ټولنه (international parlimantary union )
- د سرې میاشتې او سره صلیب د ټولنو اتحادیه (international fedration of red cross cresent socities)

**ب- د ځانګړي مشورتي مقام لرونکي سازمانونه (پخوانۍ درېیمه ډله):**

د ۱۹۹۲ پرېکړه لیک له مخې، په دې ډله کې هغه مؤسسې او سازمانونه شامل دي چې محدود واکونه او مسؤلیتونه لري او یوازې په هغو مسایلو کې د نظر ورکولو او فعالیت حق لري چې د اقتصادي او ټولنیزې شورا په دندو پورې اړه لري.
دغې ډلې پورې اړوند نادولتي سازمانونه کولی شي د شورا په علني غونډو کې برخه واخلي او خپلې غوښتنې د خپلو صلاحیتونو په چوکاټ کې په لیکلې او شفاهي بڼه شورا ته وړاندې کړي. هغه سازمانونه چې په دې ډله کې راځي په لاندې توګه دي:
- د بښنې نړیوال سازمان – Organization of international amnesty
- د چاپېریال ساتنې نړیواله شورا – International coucil of enviromenat law
- د حقوقپوهانو نړیوال کمېسیون- International commision of the justic
- د بشر حقوقو نړیوال فډراسیون – international fedration of humman right
- اسلامي مرستې- Islamic relief

د بشرحقونو نړیوال نادولتي سازمانونه: د ببنني نړیوال سازمان، د حقوقپوهانو نړیوال کمېسیون، د بشرحقوقو نړیوال فدراسیون، د بشرحقوقو نړیواله اتحادیه او د اسلامي مرستو ټولنه د مشورتي مقام له پلوه په ملګرو ملتونو سازمان کې ځانګړی ځای لري.
مثلاً، پورتني یاد شوي سازمانونه د ملګرو ملتونو د بشرحقونو کمېسیون او د هغه له فرعي کمېسیون سره د لږکیو له حقونو څخه د ملاتړ، له جرم او جنایت څخه د مخنیوي په برخو کې او همدغه راز د کار نړیوال سازمان او له علمي او فرهنګي سازمان یا یونیسکو سره مستقیمې اړیکې لري.
په دې ډله کې د سره صلیب نړیواله کمېټه هم راځي چې ځانګړی نړیوال موقف لري. د یادې کمېټې دنده د ژنیو له نړیوالو کنوانسیونونو، چې د جګړې د حقوقو په برخه کې ترسره شوي دي، ملاتړ او څارنه ده. نوموړې کمېټه یو ځانګړی بنسټ ګڼل کېږي؛ ځکه چې د سویس هېواد ټول وګړي په دې سازمان کې غړیتوب لري.
په دویمې ډلې پورې اړوند هغه سازمانونه چې د مشورتي مقام لرونکي دي او د بشر حقوقو د تحقق په برخه کې فعالیت کوي، نړیوالې او عمومي ګټې باید پام کې ونیسي، نه دا چې د یوې ځانګړې ډلې او ځانګړي هېواد ګټو ته کار وکړي.
**ج- راسته ډله:**
هغه سازمانونه چې له اقتصادي او ټولنیزې شورا سره په مشورتي مقام کې برخه نه لري، که شورا یا د ملګرو ملتونو عمومي منشي د نادولتي سازمانونو له کمېټې سره تر مشورې وروسته لازمه وګڼي چې نوموړي سازمانونه د ملګرو ملتونو له اړونده ارګانونو سره اغېزمنه مرسته او همکاري کولی شي، نو په دې صورت کې یاد سازمانونه په راسته ډله کې راځي.
همدغه راز هغه سازمانونه چې د ملګرو ملتونو له فرعي څانګو سره د مشورتي غړي مقام لري، په همدې ډله کې راځي. یاد سازمانونه د شورا یا اړونده ارګانونو د غوښتنې له مخې خپل مشورتي نظریات وړاندې کوي، چې بېلګې یې نړیوال سوسیالیستي علمي سازمان، د ښوونکو نړیوال سازمان او د سرطان ناروغۍ پرضد د مبارزې نړیواله ټولنه دي، چې د نادولتي سازمانونو په راسته ډله کې راځي.
**شپږم: مشورتي مقام ته وړاندیز**
د مشورتي مقام ترلاسه کولو ته د نادولتي سازمانونو وړاندیزونه او له ډلې څخه د وتلو موضوع، د اقتصادي او ټولنیزې شورا له کلنۍ غونډې څخه وړاندې باید د نادولتي سازمانونو د کمېټې له لوري وڅېړل شي او په اړه یې شورا ته لازمې سپارښتنې وشي.
په ټوله کې هغه مهم سازمانونه چې د ملګرو ملتونو سازمان ته ورته موخې لري، کولی شي د مشورتي مقام په موخه اقتصادي او ټولنیزې شورا ته وړاندیز وکړي.

شورا د سازمان د تګلارې تر څېړنې او ارزونې وروسته د نادولتي سازمانونو ګډې کمېټې ته خپل ګزارش وړاندې کوي او کمېټه د سازمان د وړاندیز په اړه پرېکړه کوي.
اقتصادي او ټولنیزه شورا هر کال له دغې شورا سره دنادولتي سازمانونو همکارۍ څېړي ترڅو معلومه کړي چې کوم سازمان په کومه برخه کې اغېزمن تمام شوی دی.
شورا تر ارزونې وروسته هغه سازمانونه چې موخې او فعالیتونه یې تر ډېره د ملګروملتونو له سازمان سره ورته دي، له درې ډلو په یوه کې یې شاملوي.
ددې برعکس، هغه سازمانونه چې فعالیتونه یې دملګروملتونو له موخو سره په لږه اندازه ورته والی لري، په ترټولو ټیټه ډله کې راځي.
دغه راز که د فعالیتونو او موخو ترمنځ یې هېڅ اړیکه موجوده نه وه، د نادولتي سازمانونو له لېست څخه به وابستل شي.

**اووم: د مشورتي مقام ځنډول او اخیستل**

هغه سازمانونه چې عام او خاص مشورتي مقامونه لري او یا په راسته ډله کې راځي، هغه اصول چې د شورا له لوري د مشورتي مقام لپاره ټاکل شوي باید رعایت کړي.
دیادو سازمانونو سرمنشیان باید په هرو څلورو کلونو کې یوځل د خپلو فعالیتونو او همدا راز د هغو مرستو په اړه چې د ملګرو ملتونو له اړونده څانګو سره یې ترسره کړې دي، د نادولتي سازمانونو کمېټې ته ګزارش ورکړي.
یاده کمېټه د راپورونو او نورو لاسته ورغلو اطلاعاتو له مخې، د یادو سازمانونو فعالیتونه له ټاکلو اصولو او معیارونو سره پرتله کوي.
که چېرې سازمان په اصولو او معیارونو برابر نه و، کمېټه اقتصادي او ټولنیزې شورا ته د سازمان د مشورتي مقام د ځنډولو یا بېرته اخیستو په اړه توصیه کوي.
مشورتي مقام په لاندې حالاتو کې د نادولتي سازمانونو د کمېټې په وړاندیز او د اقتصادي او ټولنیزې شورا په تائید ځنډول کېږي او یا بېرته اخیستل کېږي:
- کله چې یو نادولتي سازمان د ملګرو ملتونو د منشور خلاف له نورو هېوادونو سره په پټه اړیکو او د مرستو په ترلاسه کولو تورن شي.
- کله چې یو سازمان له خپل نوم څخه ناوړه ګټه پورته کړي، د منشور خلاف کړنې ترسره کړي او یا د سیاسي انګېزو له مخې د ملګروملتونو د غړو پرضد په ناسمو فعالیتونو او راپورونو لاس پورې کړي.
- کله چې یو سازمان درې کاله پرلپسې له شورا، کمېسیونونو او اړوندو ارګانونو سره مثبته همکاري ونه شي کړای.

# دویمه برخه

## نړیوال سازمانونه

# لومړی څپرکی

# د ملتونو ټولنه

## لومړۍ برخه: د ملتونو ټولنې تاریخچه

له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته د امریکا په ګډون یو شمېر اروپايي هېوادونو د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت په موخه خپلې لومړنۍ هڅې پیل کړې. په دې برخه کې تر ټولو مهمې هڅې په ۱۹۱۵ کال کې د امریکا متحده ایالاتو په فیلادلفیا ایالت کې سولې ته د هڅونې ټولنې (league to enforce peace) ترنامه لاندې پیل شوې. ددې مهم سیاسي خوځښت نوښتګر د امریکا پخوانی ولسمشر ویلیم هوارډ ټافټ و.

که څه هم د امریکا ولسمشر (ووډرو ویلسن) په لومړي سر کې له دغه بهیر سره د همکارۍ لېوالتیا نه لرله، خو د ۱۹۱۷ز کال په مې میاشت کې د سولې ټولنې ته د خپلې وینا په ترڅ کې ویلسن د یادې ټولنې یو شمېر اصول ومنل. همدغه راز ویلسن د ۱۹۱۷ کال په جنورۍ کې د امریکا سنا مجلس ته د وینا پرمهال د یوه ګډ ایتلاف له جوړېدو دفاع وکړه.

یو کال وروسته ویلسن کانګرس ته په دویمه وینا کې د امریکا دفاعي ستراتېژۍ په توګه خپل څوارلس ګوني اصول کانګرس ته وړاندې کړل چې وروستی اصل يې د ملتونو ټولنې په اړه و:

(د هېوادونو د سیاسي خپلواکۍ د تحقق او ځمکنۍ بشپړتیا د تضمین په موخه د یوه تړون پراساس باید د ټولو ملتونو یوه ګډه ټولنه جوړه شي.)

د ویلسن څوارلس ګوني اصول د متفقینو له لوري د جګړه ییزو اهدافو په توګه ومنل شول. په همدې اساس د متفقو هېوادونو مشرانو ژمنه وکړه چې د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت په موخه باید د یو سازمان تأسیس د خپلو اهدافو په لومړیتوبونو کې ونیسي.

په همدې لړ کې برېتانیا لومړنی هېواد و، چې د ملتونو ټولنې د طرحې جوړولو په موخه يې د نړیوالو حقوقو د استاد او قاضي لارډ فیلیمور (Lord philimore) په مشرۍ د مورخینو، ډیپلوماتانو او حقوقپوهانو یوه ګډه کمېټه جوړه کړه.

امریکا هم د ملتونو ټولنې طرحه جوړه کړې وه، خو د فلیمور طرحې د امریکا پر طرحې ډېر اغېز وکړ. د امریکا طرحه د اي. ایم. هاوس (E.M.House) له خوا چې د ولسمشر ویلسن مهم سلاکار و، جوړه شوې وه.

وېلسن د ۱۹۱۸ کال په ډسمبر میاشت کې د ورسایلز سولې کنفرانس له جوړېدو څخه یوه میاشت مخکې، پاریس ته سفر وکړ. له پاریس څخه د اروپا نورو هېوادونو ته ولاړ، چې د خلکو له تود هرکلي سره مخ شو. پاریس ته د وېلسن له سفر وروسته جنرال کریستیین سموټ چې د سوېلي افریقا اوسېدونکی و، د ملتونو ټولنې یوه طرحه جوړه کړه.

یاده طرحه چې له بشپړو او قناعت بښونکو توضیحاتو سره وړاندې شوې وه، د زیات شمېر هېوادونو د پام وړ وګرځېده او د ۱۹۱۹ کال د جنورۍ په اتلسمه، د سولې کنفرانس جوړ شو. په کنفرانس کې د امریکا د متحده ایالاتونو په هڅو د برېټانیا له خوا یوه داسې طرحه جوړه شوه، چې د ملتونو ټولنې اهداف په کې د سولې د تړونونو د نه بېلېدونکې برخې په توګه ومنل شول.

بالاخره د ۱۹۱۹ کال د اپرېل په ۲۸ مه د وروستي میثاق مسوده د سولې کنفرانس ته وړاندې شوه، چې له پخوانیو هوکړه لیکونو سره یوځای د رایو په اکثریت په تصویب ورسېده.

یوه اونۍ وروسته، اریک ډراموند (Eric Drummond) د ملتونو ټولنې د کمېټې له خوا د دې ټولنې د لومړني سرمنشي په توګه وټاکل شو. دا چې د ټولنې میثاق د ورسایلز تړون یوه برخه وه، نو د سازمان رسمي پرانېسته د نورو اتو میاشتو لپاره وځنډېده، تر دې چې یاد تړون د ۱۹۲۰ کال د جنورۍ په لسمه لاسلیک او د اجرا وړ وګرځېد.

## دویمه برخه: د ملتونو ټولنې جوړښت

### ۱- غړیتوب

د ملتونو ټولنه چې د دولتونو ټولګه ګڼل کېده، په حقیقت کې د دولتونو ټولګه ورته نه شو ویلی؛ ځکه د ټولنې د (غړیتوب) مفهوم د هېواد له مفهوم سره اړخ نه لګاوه. په ځینو برخو کې د ټولنې د (غړیتوب) مفهوم د هېواد له مفهوم څخه پراخ و. د میثاق د دویمې مادې له مخې هر هغه هېواد، سلطنت او مستعمرې چې خپلواک حکومتونه یې لرل، کولی شول چې د ملتونو ټولنې غړیتوب ترلاسه کړي.

یا په بل عبارت، د دولتونو ترڅنګ، نورو بنسټونو هم کولی شول چې د ملتونو ټولنې غړیتوب خپل کړي. د بېلګې په توګه، هندوستان چې لا خپلواک دولت نه و، د ملتونو ټولنې د غړي په توګه ومنل شو.

همدغه راز ایرلینډ چې سلطنتي نظام په کې واکمن و، د ملتونو ټولنې غړیتوب یې ترلاسه کړ. بلخوا دغې ټولنې به په ځینو برخو کې د نویو غړو لپاره یو لړ ځانګړي شرطونه ټاکل. مثلاً، د هنګري هېواد لپاره د غړیتوب شرط دا و، چې د هابسبورګ کورنۍ ته دې په سلطنت کې بیا ونډه

نه ورکوي. همدا راز پر ایتوپیا هېواد شرط کېښودل شو، چې مریتوب (غلامي) له منځه یوسي او د وسلو له سوداګرۍ لاس واخلي.
خو ځیني وخت به بیا د هېوادونو جغرافیوي پراخوالی د غړیتوب معیار و او هغه هېوادونه چې له جغرافیوي پلوه کوچني وو، په ټولنه کې ورته غړیتوب ور نه کړل شو. لکه: مناکو، لختین شتاین او سن مارینو.
د ملتونو ټولنې دوه ډوله غړي لرل: بنسټګر غړي او نوي غړي.

## لومړی: بنسټګر (مؤسس) غړي

د ملتونو ټولنې بنسټګر غړي د متفقینو په نوم هغه ۳۳ هېوادونه وو، چې د ورسایلز تړون په لاسلیکولو سره چې میثاق یې نه بېلېدونکې برخه وه، د ملتونو ټولنې بنسټ یې کېښود.
د بنسټ اېښودونکو هېوادونو په اړه د لاندې څو ټکو یادول اړین دي:
۱- د ورسایلز تړون ټول هېوادونه د ملتونو ټولنې موسسین نه وو. لکه المان، اتریش، هنګري، بلغاریا او ترکیې یاد تړون لاسلیک کړی و، خو د ټولنې غړیتوب یې ونه مانه.
۲- یو شمېر نور هېوادونه سره له دې چې د ټولنې بنسټګر غړي وو او میثاق یې لاسلیک کړی و، خو تصویب یې نه کړ او د ټولنې غړي نه شول. لکه د امریکا متحده ایالات.
۳- یوه ډله نورو هېوادونو سره له دې چې نومونه یې په میثاق کې ثبت شوي وو، خو دا چې د تړون په تصویب کې یې ځنډ وکړ، غړیتوب یې د تړون تر تصویب وروسته رسمیت پیدا کړ. لکه د ایکوادور هېواد (۱۹۳۴).
۴- په ځینو مواردو کې به د ورسایلز تړون نه تصویب، په ټولنه کې د غړیتوب لپاره شرط نه ګڼل کېده. چین د ۱۹۱۹ کال د سپټمبر په لسمه د سن جرمن تړون په لاسلیکولو سره د ټولنې د بنسټ اېښودونکو غړو په ډله کې راغی.

## دویم: د نویو غړو منل

د میثاق د لومړۍ مادې په دویمه فقره کې راغلي وو: ((هر هېواد، ډومینیون او مستعمره چې خپلواک حکومتونه لري او په میثاق کې یې نوم نه دی راغلی، کولی شي چې د میثاق په منلو سره د ټولنې غړیتوب ترلاسه کړي)).
د نویو هېوادونو غړیتوب به د عمومي اسامبلې په دوه ثلثه رایو منل کېده. عمومي اسامبله د ملتونو ټولنې یوازینی با صلاحیته رکن و، چې د نویو غړو د منلو واک یې درلود. که څه هم د امریکا ولسمشر ویلسن وړاندیز کړی و، چې غړیتوب باید د ټولنې د اجرایوي شورا له وړاندیز وروسته په عمومي اسامبله کې تر بحث او څېړنې لاندې ونیول شي، خو دغه وړاندیز و نه منل شو.

د ټولنې له جوړېدا څخه تر ۱۹۳۹ کال پورې شاوخوا شلو هېوادونو د ملتونو په ټولنه کې غړېتوب ترلاسه کړ چې په دې توګه د ټولنې د غړو مجموعي شمېر ۵۴ ته لوړ شو. البته په دې کې امریکا او حجاز یوازې د بنسټ ایښودونکو په توګه ګڼل کېږي. د یادونې وړ ده، چې په ۱۹۳۴ کال کې د ملتونو ټولنې ۲۰ غړي لرل.

## ۲- له ټولنې څخه وتل

دا چې د میثاق له مخې په ټولنه کې غړېتوب د دولتونو په خوښه او اراده ترسره کېده، نو له ټولنې څخه وتل هم په میثاق کې پېشبیني شوي وو. د میثاق د لومړۍ مادې په درېیمه فقره کې راغلي وو: (( هر غړی کولی شي چې له ټولنې څخه ووځي، په دې شرط چې له وتلو دوه کاله مخکې ټولنې ته خپله پرېکړه اعلان کړي او په همدې موده کې یې خپل نړیوال مسؤلیتونه او په میثاق کې راغلې ژمنې باید ترسره کړي وي )).
د دولتونو په خپله خوښه وتل په ټولنه کې د هغوی له نه ګډون او نه شتون سره توپیر درلود. د نه ګډون لامل دا و، چې غړو هېوادونو ټولنې ته د خپل ګډون ونډې د ورکړې توان نه درلود. لکه د لاتیني امریکا د ځینو هېوادونو نه ګډون.
په ټولنه کې د دولتونو نه شتون بیا د شورا یا اسامبلې له پرېکړو څخه د ناخوښۍ له امله و، همدا لامل و چې ناخوښه او معترضو دولتونو په کلنۍ غونډو کې برخه نه اخیسته. خو له ټولنې څخه وتل دقیقاً د غړېتوب منلو ته ورته عمل و. له ټولنې څخه وتل له ټولو هغو حقوقو او مزایاوو څخه تېرېدل و، چې ټولنې خپلو غړو ته ورکړي وو.
له ټولنې څخه د وتلو اصول دا وو، چې دغه چاره د عمومي اسامبلې له تائید وروسته باید ترسره شوې وای، خو یاد اصول هېڅکله عملي نه شول او غړي هېوادونه پرته له دې چې د عمومي اسامبلې تائید ترلاسه کړي، له ټولنې څخه په خپل سر ووتل او دا پېښه شل ځلې تکرار شوه.
د یادونې ده، چې ټولنې ته د پخوانیو غړو بیا راتګ نویو تشریفاتو ته اړتیا نه لرله، بلکې دغو غړو له وتلو وروسته د پښېیمانۍ په صورت کې کولی شول چې بېرته له ټولنې سره یوځای شي، چې له دې جملې کاستاریکا، هسپانیا او فرانسه د یادولو دي.
له ملتونو ټولنې څخه وتل د ټولنې له فرعي سازمانونو او ځانګو سره د همکارۍ د درولو په معنا نه و، بلکې یو شمېر هېوادونه سره له دې چې له ټولنې څخه وتلي وو خو د ملتونو ټولنې اړوند د کار نړیوال سازمان او نړیوالې محکمې سره یې خپلې همکارۍ ته دوام ورکاوه.
یو شمېر هېوادونه لکه هسپانیا، برازیل، چیلي، هنګري او وینزویلا که څه هم د ملتونو له ټولنې څخه وتلي وو، خو د کار له نړیوال سازمان سره یې خپلو همکاریو ته دوام ورکړ. خو المان، ایټالیا او کاستاریکا له وتو سره سم له یادو سازمانونو سره خپلې همکاري او اړیکې پرې کړې.

په نړیواله محکمه کې د غړیتوب شرایط بل ډول وو ، د اساسنامې له مخې د محکمې غړیتوب پرېښودل، قاعدتاً له محکمې څخه د غړي هېواد د وتلو په معنا نه و. خو که غړي هېواد د محکمې له غړیتوب څخه د مطلق وتلو تصمیم درلود ، له مخکې یې باید خپله پرېکړه اعلان کړې وای.
په پایله کې ویلی شو چې:
۱- هغه هېوادونه چې د ملتونو ټولنې له غړیتوب څخه وتلي وو ، کولی شول چې د نړیوالو حقوقو او تړونونو له مخې خپلې حقوقي دعوې په نړیواله محکمه کې حل او فصل کړي.
۲- هغه هېوادونه چې له غړیتوب څخه وتلي وو ، په خپلو حقوقي دعوو کې یې د نړیوالې محکمې پر مقرراتو استناد کولی شوی. مثلاً له خپل اقامه شوې دعوا تېرېدی شوی.
۳- له ټولنې څخه خارج شویو هېوادونو ، په هغه صورت کې چې د دوه اړخیز هوکړه لیک له مخې په محکمه کې د دعوا پر اقامې کولو مکلف شوي و ، کولی شول چې د نوي هوکړه لیک له مخې د دعوا اقامې ته یې بدلون ورکړی وای.

## ۳- د ملتونو له ټولنې څخه د غړو اېستل

د ملتونو ټولنې د میثاق د ۱۲ مې مادې په درېیمه فقره کې راغلي وو: (( له میثاق څخه سرغړوونکي غړي له ټولنې څخه باید واېستل شي او د اېستلو پرېکړه باید د ټولنې د اجرایوي شورا له لوري ترسره شي )). دا ډول پېښه یوازې یو ځل تکرار شوه ، چې شوروي اتحاد پر فنلینډ د یرغل له امله د ۱۹۳۹ کال د نومبر په ۳۰ مه له ټولنې څخه واېستل شو.
شوروي اتحاد د اېستلو په هکله دوه ټکي د یادولو وړ دي:
لومړی دا چې دغه پرېکړه د میثاق د ۱۲ مې مادې د درېیمې فقرې خلاف، د شورا له خوا نه وه ترسره شوې، بلکې قضیه د اسامبلې او شورا له غړو څخه جوړې شوې ګډې کمیټې ته وسپارل شوه. چین، فنلینډ ، یونان او یوګوسلاویا هم دغه پرېکړه رد کړه.
بل دا چې دغه اقدام یوازې د شوروي په حق کې ترسره شو او د ایټالیا له خوا پر ایتوپیا د یرغل په اړه چې په ۱۹۳۵ کال کې ترسره شو ، هېڅ ډول غبرګون ونه ښودل شو چې دا کړنه په خپله د ملتونو ټولنې دوه مخی او متزلزل سیاست په ډاګه کوي.

# دریمه برخه:

# د ملتونو ټولنې څانګې

د ملتونو ټولنه له دریو اصلي څانګو یا ارګانونو (اسامبله، شورا او سکرتریت) څخه جوړه شوې وه.

## ۱- اسامبله

اسامبله د ټولنې مرکزي څانګه وه، چې د ورسایلز تړون له غړو هېوادونو، ناپېیلو هېوادونو، خپلواکو هېوادونو، تحت الحمایه او مستعمره هېوادونو څخه جوړه شوې وه.
هر غړي هېواد په اسامبله کې لږ ترلږه درې استازي لرل او هر غړي یوازې د یوې رایې حق درلود.
اسامبلې دوه ډوله غونډې لرلې: عادي او فوق العاده غونډې.
عادي غونډې په کال کې یوځل د یوې میاشتې لپاره د هر سپټمبر میاشت په لومړۍ یا دویمه دوشنبه جوړېدې.
فوق العاده غونډې په ځینو ځانګړو حالاتو کې دایرېدې، چې په دې توګه د ملتونو ټولنې اسامبلې د خپل کار په دوران کې ټولټال پنځه ځانګړې یا فوق العاده غونډې جوړې کړې وې. د اسامبلې مرکز په جینوا ښار کې و.
د میثاق ددریمې مادې، ۴ مې فقرې له مخې هر غړي حق درلود چې خپل درې تنه استازي غونډې ته ور وپېژني، خو یو شمېر هېوادونو، په ځانګړې توګه سترو قدرتونو، دغې قاعدې ته پاملرنه نه کوله.
یادو هېوادونو په اسامبله کې معمولاً درې استازي، درې نایب استازي او یو شمېر کارپوهان لرل. که د اسامبلې واکونه له شورا سره پرتله کړو، کولی شو په دریو برخو یې ووېشو:
۱- د شورا او اسامبلې ګډ واکونه:
الف- د نړیوالې سولې او امنیت ساتنه
ب- له نړیوالې محکمې څخه د مشورتي نظر غوښتنه
۲- همغږي واکونه: په دې برخه کې به دواړو ارګانونو یو د بل په مرسته پرېکړه کوله:
الف- د نړیوالې محکمې د قاضیانو ټاکنه
ب- د میثاق اصلاح
ج- د شورا پراختیا
د- د منشي ټاکل
۳- ځانګړي واکونه:

الف- د نویو غړو منل
ب- شورا ته د غیر دایمي استازیو ټاکل
ج- د نړیوالو تړونونو څارنه او ارزونه
د- د ټولنې د بودیجې تصویبول

## ۲- شورا

د میثاق څلورمې مادې له مخې د ټولنې اجرایوي شورا د متفقو هېوادونو په ګډون د بېلابېلو هېوادونو له استازو څخه جوړېږي چې ټولټال څوارلس غړي لري . دغه استازي د عمومي اسامبلې له لوري ټاکل کېدل.

یا په بل عبارت، د ټولنې شورا د لومړۍ نړیوالې جګړې له پنځو سترو فاتحو څواکونو (انګلیستان، د امریکا متحده ایالات، فرانسه، ایټالیا او جاپان) څخه جوړه وه.

له دې جملې څلور غړي له عمومي اسامبلې څخه ټاکل کېدل، چې په دې ترتیب، شورا نهه غړي لرل. خو د شورا دغه جوړښت د بېلابېلو لاسوهنو او بدلونونو قرباني شو.

د شورا غړي په لومړي سر کې پر دوو برخو وېشل شوي وو، چې دایمي او غیر دایمي غړي وو. دایمي غړي ستر قدرتونه وو او غیر دایمي د اسامبلې منتخب غړي وو. خو وروسته د نیمه دایمي په نوم یوه برخه نور غړي هم ورزیات شول.

دایمي غړي: په شورا کې د امریکا غړیتوب د نوموړي هېواد د کانګرس له خوا رد شو. په ۱۹۲۲ کال د المان او په ۱۹۳۹ ز کال د شوروي اتحاد په غړیتوب سره، د شورا ددایمي غړو شمېر شپږو ته لوړ شو. خو په ۱۹۳۵ کال کې لومړی جاپان او ورپسې المان له ملتونو ټولنې څخه ووتل.

دغه راز ایټالیا هم په ۱۹۳۹ کال کې له ټولنې څخه ووتله او د همدې کال په وروستیو کې شوروي هم ووت. بالاخره د ټولنې په وروستیو کلونو کې له دایمي غړو څخه یوازې انګلیستان او فرانسه پاتې شول.

غیر دایمي غړي: د عادلانه جغرافیوي وېش پر اساس په شورا کې د غیر دایمي غړو شمېر یوڅه ډېر شو او په ۱۹۲۲ کال د غیر دایمي غړو شمېر له څلورو څخه شپږو ته ورسېد او په ۱۹۲۲ کال کې دغه شمېره له نهه څخه لسو ته لوړه شو. په ۱۹۳۲ ز کال کې یوولس تنو ته ورسېد. غیر دایمي غړي د درېیو کلونو لپاره ټاکل کېدل.

نیمه دایمي غړي: نیمه دایمي غړي ددایمي غړو برعکس، په هرو درېیو کلونو کې یوځل ټاکل کېدل چې په عملي ډول د شورا دایمي غړي وو.

ددې ډول غړیتوب رامنځته کول، دپولنډ او هسپانیا لپاره وو چې په شورا کې یې د المان له دایمي غړیتوب سره مخالفت کاوه.

په همدې اساس يادو هېوادونو ته په شورا کې نيمه غړيتوب ورکړل شو او له يوې مودې وروسته چين هم دا غړيتوب ترلاسه کړ. د غير دايمي غړو د شمېر د زياتوالي له امله، د شورا په جوړښت کې يو لړ بدلونونه رامنځته شول او د ټولو غړو شمېر ۱۵ ته لوړ شو. د شورا ځانګړي واکونه په لاندې توګه خلاصه کولی شو:

- د وسلو کموالی (اتمه ماده دويمه فقره)
- د نړيوالو شخړو حل او د کاري راپورونو چمتوکول (دولسمه ماده-۲ او ۱ فقره)
- د اختلافونو او شخړو سياسي حل لارې (۱۵ ماده)
- په ۱۲ ماده کې د ذکر شويو تدابيرو پلي کول
- له ټولنې څخه د سرغړونکو هېوادونو اېستل (د ۱۲ مادې وروستۍ برخه)
- د غړو او نا غړو هېوادونو ترمنځ منځګړيتوب (۱۷ ماده).
- تر قيموميت لاندې سيمو اداره او څارنه (۲۲ ماده)
- له نړيوالو دفترونو سره مرستې (۲۴ ماده)

شورا يو لړ ځانګړتياوې هم لرلې، چې له دې جملې د هېوادونو ترمنځ د برابرۍ اصل و. نورې مهمې ځانګړنې يې په لاندې ډول دي:

- د شورا ټول غړي له حقوقي برابرۍ څخه برخمن وو او د ويټو حق نه و.
- ټولو غړو ته له ټولنې څخه د وتلو زمينه برابره وه. د هېوادونو ترمنځ نابرابري کېدای شوای چې د ناخوښو هېوادونو لپاره له ټولنې څخه د وتلو انګيزه او اصلي لامل ګرځېدلی وای.
- د ميثاق پنځلسمې مادې او اتمې فقرې له مخې، شورا د هېوادونو په کورنيو چارو کې د لاسوهنې حق نه درلود.
- هغو غړو چې په شورا کې غړيتوب نه درلود، کولی شول چې د اړتيا پراساس د شورا په غونډو کې ګډون وکړي.

### ۳- سکرتریت

د ميثاق د شپږمې مادې له مخې، سکرتريت يا دارلانشاء د ملتونو ټولنې له اصلي څانګو څخه وه، چې په جينيوا کې يې موقعيت درلود.

سکرتريت له يوه منشي، دوه نايب منشيانو او نورو اداري پرسونل څخه جوړ و. سرمنشي د ټولنې د اجرايوي شورا په وړانديز او د عمومي اسامبلې له خوا د رايو په اکثريت ټاکل کېده.

د ملتونو ټولنې لومړنی سرمنشي سراريک ډرومونډ نومېده، چې د ميثاق د لاسليک پرمهال د غړو هېوادونو له خوا ټاکل شوی و.

ډرومونډ د ۱۹۳۲ کال تر جنورۍ پورې په خپل پوست کې پاتې شو او له ده وروسته مرستيال يې جوزف اوېنول د عمومي اسامبلې له خوا د ټولنې د سرمنشي په توګه وټاکل شو.

او بنول هم د دویمې نړیوالې جګړې پرمهال پر فرانسې د المان تر برید وروسته په ۱۹۴۰ کال کې له خپلې دندې څخه استعفا وکړه او پرځای یې سین لیسټر وټاکل شو. نوموړی د ملتونو ټولنې وروستی سرمنشي وو چې د ټولنې تر ړنګېدو پورې په خپل ځای پاتې شو.
سرمنشي له حقوقي پلوه د اسامبلې او شورا سرمنشي هم ګڼل کېده. سرمنشي د ټولنې د کارکوونکو د لرې کولو، ټاکلو، د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت او د نړیوالو تړونونو د ثبت واکونه پرغاړه لرل. د سکرتریت مقر په جینیوا ښار کې موقعیت درلود او همدغه راز د سکرتریت مالي لګښت د ټولنې د غړو له خوا ورکول کېده.

## څلورمه برخه:

# د ملتونو ټولنې نیمګړتیاوې

د ملتونو ټولنې هغه عمده نیمګړتیاوې چې له امله یې دغه سازمان د دویمې نړیوالې جګړې په مخنیوي کې پاتې راغی، په لاندې توګه دي:

۱- په ورسایلز تړون کې د میثاق درج کول
د ورسایلز د سولې په تړون پورې د میثاق تړل سبب شو چې د ملتونو ټولنه په لومړۍ نړیواله جګړه کې د سترو او فاتحو هېوادونو له ګټو څخه دفاع وکړي. که څه هم د ټولنې میثاق وروسته د ورسایلز له تړون څخه بېل کړای شو او د یوه جلا سند په توګه وپېژندل شو، خو په ټولنه کې د فاتحو ځواکونو نفوذ په خپل ځای پاتې شو.
۲- د رایې اچونې ډول
په ټولنه کې رای ګیري د غړو په اتفاق ترسره کېده، چې تر ډېره د دودیزو ډیپلوماتیکو کنفرانسونو بڼه یې لرله. د رایو غوڅ اکثریت به د مهمو پرېکړو د نه ترسره کېدو لامل کېده، خو دغه سیسټم وروسته بدل شو او د رایو غوڅ اکثریت په ساده اکثریت بدل شو.
۳- د نړیوالې سولې او امنیت په برخه کې د اسامبلې او شورا ګډ واکونه:
ځیني مسایل د شورا په انحصاري واکونو لکه، د غړو ابستل او ځیني نور یې د اسامبلې په انحصاري واکونو پورې تړلي وو، لکه د نویو غړو منل او د تړونونو بیا کتنه.
خو تر ټولو مهمه مسئله چې هغه د نړیوالې سولې او امنیت ټینګښت و، دا صلاحیت دواړو رکنونو ته سپارل شوی و. په دې برخه کې د دواړو څانګو اختیارات نامعلوم وو او میثاق د دواړو ارګانونو یا څانګو ترمنځ دې ډول مسایلو ته د رسیدګۍ لپاره، هېڅ راز لومړیتوب ته نه و قایل شوی.

**۴**-د شورا د دندو پراختیا

د ملتونو شورا د واکونو ساحه ډېره پراخه وه. شورا په سیاسي، اقتصادي، پوځي او هره برخه کې د پرېکړو صلاحیت درلود. خو دا کار د سترو قدرتونو ترمنځ د سیاسي اختلاف له امله د نورو اقتصادي او نظامي مسایلو لامل هم کېده.

**۵**-د میثاق په تعدیل او بیا کتنه کې ابهام

د میثاق **۲۲** مادې له مخې، د میثاق تعدیل او بیا کتنه د اسامبلې له خوا د رایو په اکثریت ترسره کېده. خو په یاده ماده کې دا نه وه پیشبیني شوې چې کوم مواد د تعدیل او کوم د تعدیل وړ نه دي، چې دې موضوع تر ډېره د سازمان د پرمختګ مخه نیولې وه.

**۶**-له سازمان څخه د وتلو شونتیا

د ملتونو له ټولنې څخه د وتلو امکان یرغلګرو هېوادونو لکه جاپان، ایټالیا او المان ته ددې لار هواره کړه چې له ګډون ونډې څخه د تېښتې په موخه له ټولنې څخه په اسانۍ ووځي.

**۷**-د اجرایوي ضمانت نشتوالی

د شورا د پرېکړو د پلي کولو لپاره کوم اجرایوي ارګان موجود نه و، ترڅو پرېکړو ته الزامیت وروبښي. له همدې امله د شورا ډېرې پرېکړې نه پلي کېدې او بې اغېزې وې.

# دویم څپرکی

# د ملګرو ملتونو سازمان

## لومړۍ برخه:

## د ملګرو ملتونو د پیدایښت تاریخچه

د ملګرو ملتونو د سازمان جوړېدل د بېلابېلو نه سترې کېدونکو هڅو لاسته راوړنه ده. دغه هڅې د نړیوالې سولې او ټیکاو په موخه په بېلابېلو وختونو کې ترسره شوې دي. د متحدینو اعلامیه، د اتلانتیک منشور، د مسکو کنفرانس، د ډمبارټن اوکس او یالټا کنفرانسونه او د سنفرانسیسکو کنفرانس؛ د پورتنیو هڅو غوره بېلګې دي.

**۱- د متحدینو اعلامیه:**

د ۱۹۴۱ کال د جون په دولسمه په لندن ښارکې د متحده هېوادونو مشرانو د یوې ناستې په ترڅ د متحدینو په نوم اعلامیه خپره کړه. یاده اعلامیه په حقیقت کې د ملګرو ملتونو د سازمان د تأسیس په برخه کې لومړنۍ هڅه ګڼل کېږي.
د لندن په ناسته کې د اعلامیې لاسلیکوونکو هېوادونو څرګنده کړه چې: (د رښتینې او دوامداره سولې په موخه د خپلواکو هېوادونو هیلې او هڅې دا دي، ترڅو د نړۍ ټول هېوادونه د جګړې، یرغل، نا امنۍ، اقتصادي او ټولنیز ناورین پر وړاندې سره یو موټی شي).
دې موخې ته د رسېدو لپاره، پرېکړه پر دې وشوه، چې ټول هېوادونه دې د جګړې او سولې پرمهال خپلو همکاریو ته دوام ورکړي.

**۲- د اتلانتیک منشور:**

د متحدینو له اعلامیې وروسته، په ۱۹۴۱ کال د اګست په ۱۴ مه د امریکا ولسمشر فرانکلین روزولټ او د انګلیستان لومړي وزیر ویسټون چرچېل ترمنځ د اتلانتیک سمندر په سیمه کې یو ګډ سند لاسلیک شو، چې دا د متحدینو تر اعلامیې وروسته د ملګروملتونو د سازمان د تأسیس په برخه کې یو بل ګټور ګام و.
د یاد منشور په یوه برخه کې راغلي: ((...ترڅو چې د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت په موخه یو پراخ او دایمي نظام نه وي جوړ شوی، د هېوادونو بې وسلې کول اړین دي)). په منشور کې د (دوامداره او پراخ نظام) مفهوم د یوه نړیوال سازمان د جوړېدو زېری و. که څه هم دا مطلب په منشور کې په ښکاره ډول نه و ذکر شوی، خو موخه یې د ملګرو ملتونو سازمان جوړول و.

**۳- د ملګروملتونو اعلامیه:**

د ۱۹۴۲ کال د جنورۍ په لومړۍ، کله چې امریکا په جګړه کې ښکېله شوه، د نړدې ۲۲ متفقو هېوادونو ترمنځ په واشنګټن کې د ملګروملتونو ترنامه لاندې یوه اعلامیه لاسلیک شوه. په یاده اعلامیه کې متفقینو ژمنه وکړه چې خپل ټول پوځي او اقتصادي امکانات به د محور هېوادونو(جاپان، المان او ایټالیا) او د هغوی د ملاتړو پروړاندې په کار اچوي. همدغه راز په اعلامیه کې ژمنه شوې وه، چې د ۲۲ هېوادونو له ډلې هېڅ یو هېواد به په پټه او انفرادي توګه له دښمن سره سوله او خبرې نه کوي.

د ملګروملتونو له اعلامیې وروسته د نړیوالې سولې او ټیکاو په موخه د یوه سازمان د جوړېدا لپاره د یو شمېر هېوادونو ترمنځ بېلابېل هوکړه لیکونه لاسلیک شول. په ۱۹۴۲ کال کې د ستالین او د پولنډ د ولسمشر سیکورسکي ترمنځ د ملګرتیا هوکړه لیک هم لاسلیک شو.
په ۱۹۴۲کال د مې په ۲۲ مه د انګلیستان او شوروي اتحاد ترمنځ د یووالي هوکړه لیکونه لاسلیک شول. دغه راز په ۱۹۴۳ کال په ډیسمبر میاشت کې د امریکا د وخت د بهرنیو چارو وزیر کورډېل هول د یوې راډیویي وینا په ترځ کې د یوه نوي سازمان د جوړېدو او دې هدف ته د رسېدو مسئله مطرح کړه.
د ۱۹۴۳ کال د سپټمبر په شلمه د امریکا مشرانو جرګې په ۳۶۰ موافقو او ۲۹ مخالفو رایو د فولبرایټ ترنامه لاندې یو پرېکړه لیک تصویب کړ، چې له مخې یې له کانګرس څخه غوښتنه شوې وه، چې د یوه نوي نړیوال سازمان له جوړېدو سره موافقه وکړي. د همدې غوښتنې په لړ کې د امریکا مشرانو جرګې د سناتور کونالي طرحه ومنله.

### ۴- **دمسکو کنفرانس**:

د ملګروملتونو د سازمان د جوړېدو پر لور بل مهم ګام په ۱۹۴۳ کال د اکتوبر په ۳۰ مه په مسکو کې د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر کورډېل هول، د شوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزیر (و. م مولوټف)، په شوروي اتحاد کې د چین لوی سفیر فوپینګ شونګ او د انګلیستان د بهرنیو چارو وزیر انتوني ایډن ګډه غونډه وه.
دغو وزیرانو د خپلو هېوادونو په استازیتوب د یوې اعلامیې په ترځ کې د سوله غوښتونکو هېوادونو د خپلواکۍ اصل ته په پام د یوه نړیوال سازمان د جوړېدو پر اړتیا او په دې سازمان کې ټولو هېوادونو ته د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت په موخه د غړیتوب پر ورکړې ټینګار وکړ.
د مسکو له کنفرانس څخه یوه میاشت وروسته د ۱۹۴۳ کال د ډسمبر په لومړۍ د انګلیستان لومړي وزیر ویسټون چرچېل، د امریکا ولسمشر روزولټ او د شوروي اتحاد ولسمشر ستالین، د تهران په کنفرانس کې ګډون وکړ او د نړیوالې سولې او ټیکاو په موخه یې خپل نیت څرګنده کړ.

**۵- د ډومبارټن اوکس او یالټا کنفرانسونه**: په ۱۹۴۴کال کې (د اګسټ له ۲۱ د سپټمبر تر ۲۸ او د همدې کال د سپټمبر له ۲۹ نه د اکتوبر تر ۷ نېټې پورې) د واشنګټن ډي سي په ویلای کې د ډومبارټن اوکس په نامه د امریکا، انګلستان او شوروي اتحاد له کارپوهانو څخه دوه ګډ کمېسیونونه جوړ شول.

په یادو کمېسیونونو کې له یو لړ خبرو اترو وروسته په دولسو څپرکیو کې یو سند چمتو شو، چې په دغه سند کې د سازمان پر اصولو، موخو، جوړښت، د نړیوالې سولې او امنیت پر ټینګښت او د هېوادونو ترمنځ پر اقتصادي او ټولنیزو همکاریو بحث شوی و.
په دغه کنفرانس کې دنړیوالې سولې او امنیت ساتنې مسؤلیت امنیت شورا ته وسپارل شو، چې له پنځو لویو قدرتونو څخه جوړه وه. خو په یادې شورا کې د رای ګیری او د پرېکړو د څرنګوالي په اړه د اختلاف له امله، موضوع د یالتا کنفرانس ته وځنډېده.
د **۱۹۴۵** کال په فبروری کې د فرانکلېن روزولټ، چرچېل او ستالین په ګډون د یالتا په کنفرانس کې په امنیت شورا کې د رایې اچونې د ډول او د نورو موضوعاتو په اړه خبرې وشوې.
په کنفرانس کې پرېکړه وشوه چې د **۱۹۴۵** کال د اپرېل په **۲۵** مه دې د ملګروملتونو د کنفرانس په ګډون په سنفرانسیسکو کې یو بل کنفرانس جوړ شي، ترڅو د سازمان منشور په هغه ډول چې د ډومبارټن اوکس په کنفرانس کې وړاندې شوی و، نهایي او تصویب شي.
په دې کنفرانس کې د چین او فرانسې له لنډمهاله حکومتونو څخه غوښتنه وشوه چې د سنفرانسیسکو په کنفرانس کې له امریکا، انګلستان او شوروي سره ګډه همکاري وکړي او پرېکړه وشوه چې د یوه بلنلیک په ترڅ کې د رایې اچونې موضوع دې له فرانسې او چین سره له مخکې شریکه شي.
چین له دې اقدام څخه هرکلی وکړ او د همکارۍ لېوالتیا یې وښوده، خو فرانسې په کنفرانس کې یوازې د ګډون بلنه ومنله.
په یاد کنفرانس کې همدغه راز غوښتنه وشوه، چې د سنفرانسیسکو کنفرانس ته رابلل شوي هېوادونه د سولې ټینګښت لپاره د هڅو ترڅنګ، د **۱۹۴۵**کال دمارچ تر لومړۍ نېټې باید د جاپان او المان پر وړاندې وجنګېږي او همدغه راز د **۱۹۴۲** کال د جنورۍ تر لومړۍ نېټې دې د ملګروملتونو اعلامیه هم لاسلیک کړي. په پایله کې په امنیت شورا کې د رایې اچونې ډول او شرایط په سنفرانسیسکو کنفرانس کې ومنل شول.

### ۶- **د سنفرانسیسکو کنفرانس**:

د ډومبارټن اوکس او یالتا کنفرانسونو په تعقیب د سنفرانسیسکو په کنفرانس سره د ملګرو ملتونو سازمان د جوړېدا طرحه بشپړه شوه. نوموړي کنفرانس په رسمي ډول د (نړیوال سازمان په اړه دملګروملتونو کنفرانس) نوم ځان ته غوره کړ.
د سنفرانسیسکو له کنفرانس څخه مخکې، د ډومبارټن اوکس کنفرانس طرحه د نړۍ د بېلابېلو هېوادونو له خوا تر مطالعې او څېړنې لاندې ونیول شوه. د **۱۹۴۵** کال د فیبرورۍ له **۲۱** څخه د

لاتیني امریکا شلو هېوادونو په مکسیکو سیټي کې سره ولیدل او د یوه پرېکړه لیک په ترڅ کې یې د ملګروملتونو د منشور په اړه خپل نظریات وړاندې کړل.
یو شمېر هېوادونو د امنیت شورا پنځه دایمي غړو ته د ځانګړي امتیاز ورکړه (وېټو) د هېوادونو د حاکمیت له اصل سره په ټکر او د موجوده سیمه ییزو سازمانونو د فعالیت په وړاندې یې یو ګواښ وباله. خو له دې سره-سره، په ۱۹۴۵ کال د جون په ۲۵ مه د ملګروملتونو منشور د رایو په اتفاق تصویب شو. دا منشور په ۱۹ څپرکیو او ۱۱۱ مادو کې تدوین شو او د لاهای نړیوالې محکمې نه بېلېدونکې برخه وګڼل شوه.
د ملګروملتونو منشور چې د جون په ۲۵ مه د امریکا په سنفرانسیسکو ایالت د اپرا په تالار کې د یوې عمومي غونډې په ترڅ کې تصویب شوی و، یوه ورځ وروسته، د یو لړ شانداره مراسمو په ترڅ کې د اجتماعاتو په تالار کې د (ورکو شویو سرتېرو) په یاد غونډه کې یوځل بیا د غړو هېوادونو له لوري تائید شو.
په پای کې په ۱۹۴۵ کال د اکتوبر په ۲۴مه د امریکا، انګلستان، چین او فرانسې له خوا د منشور سند له ترلاسه کولو وروسته، د اجرا وړ وګرځېد.
عمومي اسامبلې په ۱۹۷۱ کال د اکتوبر په ۳۱ مه د یوه پرېکړه لیک په ترڅ کې د اکتوبر څلورویشتمه د (ملګروملتونو ورځ) په نامه ونوموله.

# دویمه برخه:

# د ملګروملتونو موخې او اصول

د منشور د لومړۍ مادې له مخې د ملګروملتونو موخې په لاندې توګه بیان شوې دي:
۱- د نړیوالې سولې او امنیت ټینګښت.
۲- د حقوقي برابرۍ او خپلواکۍ اصل له مخې د دولتونو ترمنځ د دوستانه اړیکو پراختیا.
۳- د نړۍ د ټولو ولسونو ګډو موخو ته د رسېدو او د فعالیتونو د همغږۍ په موخه د یو ګډ مرکز شتون.
پورتنیو موخو ته د رسېدو لپاره، ملګروملتونو د منشور د دویمې مادې پر اساس، لاندې اصول د خپل کار په لومړیتوبونو کې نیسي:
۱- د ملګرو ملتونو سازمان د ټولو غړو هېوادونو د خپلواکۍ او برابرۍ اصل ته په پام سره، جوړ شوی دی.
۲- ټول غړي هېوادونه باید له ژمنې سره سم په منشور کې راغلي تعهدات په ښه نیت ترسره کړي.

۳- د غړو ترمنځ نړیوالې شخړې او اختلافونه باید په سوله ییزه توګه حل او فصل شي.
۴- غړي هېوادونه باید یو د بل پر وړاندې له هرډول زور او فشار، چې د ملګروملتونو سازمان له اهدافو سره په ټکر کې وي، ډډه وکړي.
۵- غړي هېوادونه باید په هر هغه اقدام کې چې دملګروملتونو سازمان یې د منشور له مخې ترسره کوي، په هغه کې مرسته وکړي او همدارنګه هر کله چې سازمان د یو سرغړوونکي هېواد پر وړاندې په قهري اقدام لاس پورې کوي، غړي هېوادونه باید له سرغړوونکي هېواد سره له هر راز مرستې ډډه وکړي.
۶- د ملګروملتونو سازمان هڅه کوي، هر هغه هېوادونه چې له دې سازمان سره غړیتوب نه لري او د نړیوالې سولې او امنیت په ساتنه کې ګټور تمامېدای شي، ددغه سازمان له اصولو سره سم عمل وکړي.
۷- هغه مسایل چې د هېوادونو په کورنیو چارو پورې اړه لري، د سازمان له لاسوهنې څخه خوندي دي. خو دغه مصونیت نړیوالې سولې ته د ګواښ، له اصولو څخه د سرغړونې او پر هېوادونو د تېري په صورت کې د سازمان د قهري اقداماتو مخه نه شي نیولی.
پورتنیو اصولو ته په پام له منشور څخه دوې اساسي قاعدې د پایلې په توګه اخیستی شو:
۱- سلبي قاعده: د نړیوالو اختلافونو د حل په موخه د زور او قهریه قوې له استعمال څخه د غړو هېوادونو منع کول؛
۲- ایجابي قاعده: د خپل منځي اختلافونو په اړه د سوله ییز حل لپاره د غړو دولتونو مکلفیت؛

# درېیمه برخه:

# د ملګروملتونو سازمان جوړښت

## ۱- د ملګروملتونو په سازمان کې د غړیتوب شرایط:

له تاریخي پلوه کولی شو چې دملګروملتونو سازمان پر دوو برخو ووېشو:
۱- اصلي یا بنسټګر غړي ۲- نوي غړي

### ۱- اصلي یا بنسټګر غړي

د ملګروملتونو سازمان اصلي او لومړني غړي نږدې **۵۱** هېوادونه دي چې د سنفرانسیسکو په کنفرانس کې یې د بنسټ اېښودونکو په توګه برخه اخیستې وه او د ملګروملتونو اعلامیه یې لاسلیک کړې ده.

همدغه راز ياد هېوادونه د محور هېوادونو (المان، جاپان او ايټاليا ) پر وړاندې هم جنګېدلي وو. ترکيه، مصر، عراق، ايرن او سوريه هم د ملګرو ملتونو د بنسټ اېښودونکو له جملې څخه وو. د ملګرو ملتونو د غړو په اړه د منشور په دريمه ماده کې راغلي:
(( د ملګرو ملتونو اصلي غړي هغه هېوادونه دي چې د نړيوال سازمان د تأسيس لپاره يې په سنفرانسيسکو غونډه کې ګډون کړی و او هم د ملګرو ملتونو اعلاميه او منشور يې لاسليک کړي دي )).
## ۲- نوي غړي
د نويو غړو لپاره د منلو شرايط: د منشور څلورمې مادې له مخې، په ملګرو ملتونو سازمان کې د نويو غړو لپاره څلور شرطونه اړين دي:
۱- دولت والی
۲- سوله غوښتنه
۳- د منشور پرېکړو ته درناوی
۴- د منشور پلي کول
لومړی شرط: په ملګرو ملتونو سازمان کې د غړيتوب لومړی شرط د دولت شتون دی او دغه عنصر د دوو لاملونو له مخې د بحث وړ دی:
الف: د غړو هېوادونو د حاکميت د برابرۍ اصل (د منشور دويمې مادې، لومړی بند ):
هغه هېوادونه چې پوره خپلواکي نه لري، د سازمان د هغو غړو هېوادونو په پرتله چې بشپړه خپلواکي لري، له مساوي حقونو څخه نه شي برخمن کېدای.
ب: په منشور کې د ژمنو د پلي کولو وړتيا او توانمندي (د منشور شپږمه ماده، لومړی بند ):
هغه هېوادونه چې د (دولت والي ) ځانګړنه او سياسي خپلواکي نه لري، په هېڅ صورت نه شي کولی د هغو ژمنو، چې منشور د هغه په رعايت مکلف ګرځولي، خپل مسؤليت ترسره کړي. لکه له نورو هېوادونو سره اقتصادي او سياسي همکاري او د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې د نړيوالې سولې د ټينګښت په موخه د وسلوالو ځواکونو استول.
استثناء: د ملګرو ملتونو په سازمان کې دا استثناء د اوکراين او سپينې روسيې (بلاروس) د غړيتوب په اړه وه.
که څه هم د پخواني شوروي اتحاد د ۱۹۴۴ کال اصلاح شوي اساسي قانون خپلو ټولو جمهوريتونو ته له بهرنيو هېوادونو سره د سياسي او ډيپلوماتيکو اړيکو د ټينګولو اجازه ورکړې وه، خو دا کار د ملګرو ملتونو د منشور خلاف عمل و.

د یادو دوو جمهوریتونو غړیتوب په حقیقت کې هغه پرېکړه وه، چې د یالټا په کنفرانس کې د روزولټ په خوښه ترسره شوه، یعنې شوروي اتحاد ته د ملګرو ملتونو په سازمان کې د یوې پرځای د درېو رایو حق ورکړل شو.

دویم شرط: دا شرط د هغو هېوادونو لپاره دی، چې غواړي په ملګرو ملتونو سازمان کې نوی غړیتوب ترلاسه کړي. په دې معنا چې متقاضي (د غړیتوب غوښتونکی دولت) باید پر نورو هېوادونو د یرغل انګیزه او هوډ ونه لري او له بهرنیو هېوادونو سره خپلې اړیکې د سولې غوښتنې پرېنسټ عیارې کړي. د یادونې ده چې د سولې غوښتنې شرط پخوا د هغو هېوادونو لپاره په کار وړل کېده، چې د محور هېوادونو (المان، جاپان او ایټالیا) پر وړاندې په جګړه بوخت وو.

درېیم شرط: د منشور د ژمنو عملي کول د ملګرو ملتونو په سازمان کې د غړیتوب اساسي شرط ګڼل کېږي، ځکه د سازمان د حقوقو او مکلفیتونو منل د منشور د مفاداتو په منلو پورې تړاو لري.

څلورم شرط: په ملګرو ملتونو سازمان کې د نویو غړو لپاره څلورم او وروستی شرط د دولت په وړتیا او د منشور د ژمنو پر پلي کولو راڅرخي، چې دغه موضوع عمومي اسامبلې او امنیت شورا ته سپارل شوې ده او دلته به یې په تفصیل سره و څېړو.

## ۲- د ملګرو ملتونو په سازمان کې د غړیتوب طرزالعمل

په ملګرو ملتونو سازمان کې غړیتوب، د امنیت شورا په توصیې او د عمومي اسامبلې له تائید وروسته منل کېږي. (د منشور څلورمه ماده، دویمه فقره).

په دې توګه عمومي اسامبله د نوي غړیتوب وړاندیز په دوه ثلثه رایو تائیدوي. د ملګرو ملتونو په سازمان کې د غړیتوب منلو طرزالعمل د ملتونو ټولنې په پرتله یو څه پېچلی دی.

په ملتونو ټولنه کې د نویو غړو منل د عمومي اسامبلې انحصاري واک و، په داسې حال کې چې په ملګرو ملتونو سازمان کې بیا امنیت شورا د ویټو له حق څخه برخمنه ده.

د یادونې ده، چې د منشور په څلورمه ماده کې د توصیې (Recommendation) د کلیمې معنا دمنشور له (۱۱،۱۰، ۱۴، ۳۶، ۳۷ او ۳۸ مو) مادو سره توپیر لري. یعنې دلته (توصیه) یوه ساده رایه او مشورتي نظر چې حقوقي ارزښت ولري، نه ده. بلکې دغه کلمه دلته د پرېکړې (Decision) په معنا په کار وړل شوې ده.

په امنیت شورا کې د نوي غړیتوب د موضوع د څېړلو په موخه د رایې غوڅ اکثریت ته اړتیا ده او دا کار سبب کېږي، چې د امنیت شورا دایمي غړي عملاً د ویټو له حق څخه برخمن اوسي. تر ۱۹۵۵ کال پورې شوروي اتحاد ۴۷ ځلې د هغو شپاړسو هېوادونو په وړاندې ویټو وکاروله، چې

غوښتل يې د ملګرو ملتونو په سازمان کې نوی غړيتوب ترلاسه کړي. شوروي اتحاد دا کار په ملګرو ملتونو سازمان کې د سوسياليستي بلاک هېوادونو د غړيتوب نه منلو په غبرګون کې ترسره کاوه.

په داسې حال کې چې لويديځو هېوادونو په دقت سره د هر نوي غړيتوب د وړانديز پر څېړلو ټينګار کاوه، پخواني شوروي اتحاد په پرلپسې توګه د ملګروملتونو په سازمان کې د نوي غړيتوب وړانديزونه ردول.

دغو ناندريو کابو درې کاله دوام وکړ او سازمان يې له يوې اوږدې کشالې سره مخامخ کړی و. د ۱۹۵۵ کال په ډيسمبر کې دوو نړيوالو پېښو يعنې د ستالين مړينې او د جينيوا سرمشريزې غونډې، په ختيځ او لويديځ سياسي بلاکونو پورې اړوند ۱۲ هېوادونو ته په سازمان کې د نوي غړيتوب شرايط برابر کړل.

بالاخره د دغو شپاړسو هېوادونو د غړيتوب موضوع د امنيت شورا تر تصويب وروسته عمومي اسامبلې ته د تائيد په موخه وړاندې شوه او عمومي اسامبلې هم له جاپان او مغولستان پرته، د يادو هېوادونو غړيتوب د رايو په اکثريت ومانه.

پورتنۍ حقوقي مسئله چې د منشور د ۴ مادې ۲ فقرې له امله رامنځته شوې وه، عمومي اسامبلې دوه ځله د تفسير په موخه نړيوالې محکمې ته وړاندې کړه:

۱- د محکمې په لومړۍ مشورتي پرېکړه کې چې د ۱۹۴۸ کال د مې په ۲۸ مه ترسره شوه، راغلي و: د ملګروملتونو سازمان هېڅ غړی نه شي کولی سازمان ته د هغو هېوادونو غړيتوب وړانديز وکړي، چې د غړيتوب له طرزالعمل او شريطو سره برابر نه وي. دا پرېکړه په حقيقت کې په ضمني توګه پخواني شوروي اتحاد ته متوجې وه او د دغه هېواد کړنې يې محکومولې.

۲- د ۱۹۵۰ کال د مارچ په درېيمه، د محکمې په دويمه رايه کې راغلي وو: عمومي اسامبله نه شي کولای، د يوه هېواد غړيتوب ومني، مګر دا چې امنيت شورا ورسره له مخکې توافق کړی وي.

هغه مهمه مسئله چې له غړيتوب څخه وروسته مطرح کېږي، د دولتونو ټوليزه او انفرادي پېژندنه ده. د عمومي اسامبلې له خوا د هېواد غړيتوب منل د ټوليزې پېژندنې لږ ترلږه دوه پر درېيمه برخه جوړوي. خو ايا انفرادي پېژندنه هم په دې کې راتلای شي؟

يا په بل عبارت، ايا د يوه نوي هېواد له ټوليزې پېژندنې سره همهماله، انفرادي پېژندنه هم بايد ترسره شي او که نه؟

دا مسئله د فلسطين په اړه په جدي توګه مطرح شوه. که څه هم اسرائيل له جوړېدو سره سم د ملګروملتونو غړی شو او د عمومي اسامبلې لخوا هم وپېژندل شو، خو عربي هېوادونو د نوموړي هېواد په رسميت پېژندلو څخه ډډه وکړه.

د اسلامي هېوادونو دغه درېځ له نړیوالو اصولو او مقرراتو سره په ټکر کې نه و ځکه په ۱۹۵۰ کال کې د سازمان د سکرټریت په دې اړه یوه اعلامیه خپره کړه چې انفرادي پېژندنه په کې شرط نه وه ګڼل شوې. یو شمېر لیکوالانو لکه رایټ (Q.wright) د نویو غړو انفرادي پېژندنه د ټولو دولتونو خپلواک حق ګڼي.

## ۳- د ملګروملتونو په سازمان کې د نا غړو دولتونو وضعیت

د ملګروملتونو منشور د هغو هېوادونو لپاره ځانګړي مقررات په پام کې نیولي دي، چې د سازمان غړي نه دي:

لومړی: د ناغړو هېوادونو له خوا د منشور منل: د منشور ۲ مادې ۶ فقرې له مخې، هغه هېوادونه چې د ملګرو ملتونو غړیتوب نه لري، د سازمان منشور ته په درناوي کولی شي چې د نړیوالې سولې او امنیت په برخه کې له ملګرو ملتونو سره همکاري وکړي.

دوهم: د ناغړو هېوادونو ترمنځ د نړیوالو شخړو هواری: د منشور ۳۲ مادې له مخې، هغه مسایل چې په امنیت شورا کې تر بحث لاندې وي او د ملګرو ملتونو یو نا غړی دولت په مسئله کې ځان ښکېل وګڼي، امنیت شورا به نوموړي دولت ته په قضیه کې د ګډون بلنه ورکړي، خو د رایې حق نه لري او امنیت شورا مکلفه ده چې یادو هېوادونو ته وړ او مناسب شرایط برابر کړي.

پورتني مقررات د ناغړو دولتونو له حقونو او مواضعو څخه د ملاتړ په موخه ټاکل شوي دي. په همدې اساس، ملګري ملتونه به د هېڅ هېواد په حق کې ناسم قضاوت و نه کړي.

همدغه راز د امنیت شورا داخلي کړنلارې له مخې، شورا کولی شي ناغړي هېوادونه د اختلاف او شخړې په صورت کې د توضیحاتو په موخه شورا ته را وغواړي.

د نړیوالې قضایي رویې پربنسټ، د ملګروملتونو سازمان حقوقي شخصیت پر ناغړو دولتونو هم منل کېږي او سازمان کولی شي پر هغوی دعوا اقامه کړي. (د نړیوالې محکمې مشورتي پرېکړه،۱۱، اپرېل، ۱۹۴۹).

دغه راز د عمومي اسامبلې پرېکړې هم د ټولو هېوادونو (غړو او ناغړو) په وړاندې د اجرا وړ دي. (د نامیبیا د قضیې په اړه د نړیوالې محکمې پرېکړه، ۲۱، جون، ۱۹۷۱).

بل ځای د منشور د ۳۵ مې مادې دربیمه فقره هم ورته حکم کوي: (هغه هېوادونه چې د ملګروملتونو غړي نه دي، منشور ته په بشپړ درناوي کولی شي د خپلو حقوقي مسایلو د حل په موخه د امنیت شورا او عمومي اسامبلې پام ځان ته راواړوي).

همدغه راز د منشور په ۵۰ مه ماده کې هم ورته خبره شوې ده: ( کله چې د امنیت شورا له لوري د یوه هېواد پر وړاندې قهري او احتیاطي تدابیر نیول کېږي او دغه تدابیر د یوه بل هېواد د

اقتصادي زيان لامل شي، زيانمن هېواد کولی شي چې د يادې ستونزې په اړه امنيت شورا سره خبرې وکړي).

## ۴- له ملګرو ملتونو سره د همکارۍ په موخه د ناغړو هېوادونو رابلل

د ملګرو ملتونو له سازمان سره د ناغړو هېوادونو همکاري په فرعي سازمانونو ؛ په ځانګړې توګه په سيمه ييزو اقتصادي کمېسيونونو کې د پام وړ ده او ددې همکاريو مخينه بايد د بروس (Bruce) په راپور کې چې په ۱۹۳۹ کال کې د ملتونو ټولنې د ځانګړې کمېټې په مرسته چمتو شوی و، ولټول شي.
په ياد راپور کې د غړو او ناغړو دولتونو ترمنځ د مساوي حقونو پربنسټ د اقتصادي او ټولنيزې همکارۍ لپاره د يوې مرکزي دايمي کمېټې د جوړېدو وړانديز شوی و.
ناغړي دولتونه او سمهال په ملګرو ملتونو کې خپل څارونکي استازي لري.
لکه سويس له ۱۹۴۶ کال څخه تر ۲۰۰۲ زېږديز کاله پورې په ملګرو ملتونو کې څارونکي غړي لرل.
واتيکان له يو دايمي پلاوي سره، ۱۹۲۷.
سره له دې چې سويس تر ۲۰۰۲ کال پورې د ملګرو ملتونو رسمي غړی نه و، خو د ملګرو ملتونو سازمان په دغه هېواد کې يو دايمي مقر پرانيستی و.
نا غړي دولتونه کولی شي چې په خپله خوښه د ملګرو ملتونو سازمان په ځينو ارګانونو، لکه د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام او د ملګرو ملتونو د پراختيا او سوداګرۍ په کنفرانس کې برخه واخلي. سازمان په خپلو کنفرانسونو کې ناغړو هېوادونو ته د ګډون بلنه هم ورکوي.

## ۵- د کوچنيو هېوادونو(micro-state) وضعيت

په نړيوالو سازمانونو کې له جغرافيوي پلوه د کوچنيو هېوادونو غړيتوب، يوه ستونزمنه مسئله ګڼل کېږي، ځکه يو شمېر هېوادونه ډېر کوچنی جغرافيوي مساحت او لږ شمېر نفوس لري.
لکه د باربادوس هېواد د ۴۳۰ کيلومتره مربع پراخوالي سره په ۱۹۶۶ کال کې په ملګرو ملتونو کې د غړيتوب پرمهال ۲۵۰ زره وګړي لرل.
دغه راز مالديف هېواد د ۳۰۰ کيلومتره مربع پراخوالي سره په ۱۹۶۵ کال کې په ملګرو ملتونو کې د غړيتوب پرمهال ۱۱۰ زره وګړي لرل.
خو په ملتونو ټولنه کې وضعيت بل ډول و، په ياد سازمان کې ميکرو يا کوچنيو هېوادونو ته د غړيتوب حق نه ورکول کېده.

که څه هم په سازمانونو کې د دولتونو د غړیتوب لپاره د نفوس او جغرافیې کوم ټاکلي او ځانګړي حدود نشته، خو له دې سره سره بیا هم په دې اړه د ملګرو ملتونو او ملتونو ټولنې ترمنځ ډېر توپیر لیدل کېږي.
د ملګرو ملتونو سازمان، جغرافیوي پراخوالی او نفوس شرط نه ګڼي، بلکې دولتوالی او حاکمیت د یوه هېواد د غړیتوب د مهمو عناصرو په توګه پېژني.
په همدې اساس، د ملګرو ملتونو سازمان د ۱۹۶۴ او ۱۹۷۳ کلونو ترمنځ نږدې ۲۲ نوي غړي ومنل. له دې جملې یوازې اتو هېوادونو له یو میلیون څخه ډېر وګړي لرل او پاتې نور له دې څخه په ټیټه کچه کې وو.
په هرحال، امریکا په ۱۹۶۹ کال کې د ملګروملتونو سازمان ته وړاندیز وکړ، چې له کوچنیو هېوادونو څخه دې په عمومي اسامبلې کې د رایې حق واخیستل شي او په بدل کې دې ورته مالي ونډه معاف کړل شي.
دغه راز انګلیستان هم ورته وړاندیز وکړ، چې کوچني هېوادونه په سازمان کې د غړیتوب اخیستو په بدل کې باید په خپل خوښه د رایې کارونې له حق څخه تېر شي.

## ۶- د دولتونو د استازیو پلاویو وضعیت

د منشور په مقدمه کې راغلي، چې دولتونو د خپل ولس د استازیتوب په موخه د ملګرو ملتونو سازمان جوړ کړی دی او همدغه دولتونه دي چې خپل منتخب استازي سازمان ته لېږي؛ ځکه ولس په مستقیم ډول په سازمان کې برخه نه شي اخیستی.
هر غړی هېواد د ملګرو ملتونو په سازمان کې یو دایمي پلاوی لري. د منشور له څلورمې مادې پرته چې د نویو غړو شرایط په کې ذکر شوي دي، د استازي پلاوي په اړه کوم ځانګړي مقررات نه دي ټاکل شوي، خو د امنیت شورا، عمومي اسامبلې او اقتصادي او ټولنیزې شورا داخلي کړنلارې په دې برخه کې څرګند مقررات لري.
د یادو ارګانونو د کړنلارې پراساس که چېرې د یوه دولت د پلاوي د اعتبار په اړه اختلاف رامنځته کېږي، پلاوی کولی شي تر وروستۍ پرېکړې پورې خپل کار ته دوام ورکړي.
د چین او هنګري د پلاویو وضعیت هغه موارد وو، چې په ملګرو ملتونو سازمان کې یې د استازي پلاوي د اعتبار پر سر ناندرۍ را پورته کړې.
که څه هم چین د ملګرو ملتونو سازمان اصلي غړی او د سنفرانسیسکو کنفرانس بنسټګر و، خو د کمونیستي نظام په منځته راتګ سره د دغه هېواد غړیتوب په سازمان کې یو څه لانجمن شو.

په ۱۹۴۹ کال کې د مايوتسه تونګ په مشرۍ د يو کمونيستي انقلاب په ترڅ کې د چين ولسي ډيموکراتيک جمهوريت رامنځته شو او د چين جمهوري حکومت د چانکايچک په مشرۍ د فرموس(formose ) په نامه کوچنۍ ټاپو ته ولېږل شو.

په پيګنګ کې کمونيستي نظام واکمن و او د فرموس په ټاپو کې د پخواني حکومت مشرانو (taipeh ) ځان ته خپلواک حکومت جوړ کړ. که څه هم دغه رهبران له سياسي صحنې څخه څنګ ته شوي وو ، خو بيا هم دوی خپل ځانونه د چيني ولس مشروع استازي بلل. په همدې موخه د ملګرو ملتونو په سازمان کې د چين استازی پلاوی چې په ۱۹۴۵ کال کې د پخواني حکومت له خوا لېږدل شوی و ، په خپل ځای پاتې شو.

په ۱۹۵۰ کال کې په ملګرو ملتونو سازمان کې د چين د استازيتوب مسئله په جدي توګه مطرح شوه، خو يولس کاله يعنې تر ۱۹۷۱ کال پورې دا مسئله د عمومي اسامبلې د کار په اجنډا کې شامله نه شوه. په ۱۹۷۱ کال کې دوه مسلې، ( په ملګرو ملتونو کې د چين استازيتوب ) او ( په ملګرو ملتونو کې د چين ولسي جمهوريت د حقونو خونديتوب) د عمومي اسامبلې کاري اجنډاوې وې.

پخواني شوروي اتحاد په ۱۹۴۹ کال کې په ملګرو ملتونو سازمان کې د چين کمونستي نظام د استازيتوب مسئله د سازمان په بېلابېلو ارګانونو کې مطرح کړه، خو دغو ارګانونو د خپلې داخلي کړنلارې له مخې د شوروي وړانديز رد کړ.

د ملګرو ملتونو ټول ارګانونه، لکه عمومي اسامبله د منشور د ۲۱ مې مادې، امنيت شورا د منشور ۳۰ مې مادې او اقتصادي- ټولنيزه شورا د منشور د ۷۲ مې مادې له مخې کولی شي، چې خپلې داخلي کړنلارې په خپله تدوين او جوړې کړي. د يادو کړنلارو د پرېکړو له مخې، د سازمان د اصلي ارګانونو پرېکړې بايد په درې ثلثه رايو ترسره شي.

دغه راز د ۱۹۵۰ کال د ډسمبر په ۱۴ مه د عمومي اسامبلې له خوا د ۳۹۲ نمبر پرېکړې ليک په ترڅ کې د چين د استازيتوب پرمسلې سربېره، د رايو ترلاسه کولو پر اکثريت چې دوه پر درېيمه برخه وه ، هم ټينګار وشو.

په ملګرو ملتونو سازمان کې په ۲۰ لسيزه کې چې د غړيتوب لپاره د رايو ساده اکثريت په پام کې نيول شوی و ، ډېرې هېوادونو وکړای شول چې د سازمان غړيتوب خپل کړي. خو چين د منشور ۱۸ مادې او ۲ فقرې پربنسټ، نه شوای کولی چې د رايو په ساده اکثريت د ملګرو ملتونو غړيتوب ترلاسه کړي.

د يادې مادې له مخې، مهم مسايل بايد په دوه ثلثه رايو تصويب شي. امريکا چې هغه مهال په ملګرو ملتونو کې د چين کمونستي نظام د غړيتوب سخته مخالفه وه، په۱۹۵۰ کال کې پر عمومي اسامبلې يو نوی پرېکړه ليک تصويب کړ.

په پرېکړه لیک کې راغلي وو: (د منشور اتلسمې مادې له مخې د چین په استازیتوب کې د بدلون په اړه ټول وړاندیزونه، یوه مهمه او جدي مسئله ګڼل کېږي).
په ۱۹۷۰ کال کې د چین کمونیستي نظام د غړیتوب په اړه رای ګیري وشوه خو بریالی نه شو.
د ۱۹۷۱ کال په جولای کې د البانیا او یو شمېر نورو هېوادونو په وړاندیز دا مسئله یو ځل بیا عمومي اسامبلې ته وړاندې شوه، خو د امریکا د پرلپسې مخالفت له امله موضوع یو ځل بیا رد شوه او د چین له ملي جمهوري دولت (تایوان) څخه یې غوښتنه وکړه چې په عمومي اسامبلې کې خپل غړیتوب ته دوام ورکړي.
بالاخره، د ۱۹۷۱ کال د اکتوبر په **۲۵** مه نېټه ، له ۲۱ کلونو انتظار وروسته د امریکا له مخالفتونو سره- سره د چین کمونیست دولت په ۷۶ موافقو، **۳۵** مخالفو او ۱۷ ممتنع رایو وکولای شول چې د ملګرو ملتونو غړیتوب ترلاسه کړي.

## ۷- د وتلو او اېستلو شرایط، د غړیتوب ځنډول او رایه

**الف- د ملګرو ملتونو سازمان څخه وتل**

د ملګرو متلونو له سازمان څخه د غړو هېوادونو د وتلو د مخنیوي په برخه کې کوم ځانګړي مقررات نه دي پېشبیني کړي، خو د اېستلو لپاره یې په منشور کې ځیني مقررات ټاکلي دي.
د ملګرو ملتونو د منشور د تدوین او تنظیم پرمهال یو شمېر هېوادونو په منشور کې غړو هېوادونو ته د وتلو له حق سره مخالفت کاوه.
د سنفرانسیسکو د لومړي کمېسیون مشر هانري رولن (H.Rolin) په دې باور و، چې د دولتونو خاص او استثنایي حالت باید په پام کې ونیول شي او له سازمان څخه د غړو د وتلو په برخه کې باید خنډ رامنځته نه شي.
د نوموړي په اند، د دوه دلایلو له امله باید د دولتونو د خروج یا وتلو مخه ونه نیول شي:
۱- د دولتونو د حاکمیت اراده
۲- په ځانګړو حالاتو کې کېدای شي وتل یوازې له سازمان سره د مخالفت وسیله وي.
د ملګرو ملتونو سازمان له جوړېدا راهیسې تر اوسه یو ځل دا ډول پېښه رامنځته شوې ده، چې په ۱۹۶۴ کال کې له دغه سازمان څخه د اندونیزیا وتل و. نوموړي هېواد په همدې نېټه رسماً اعلان کړه، چې د **۱۹۶۵** کال د مارچ له لومړۍ نېټې څخه وروسته د سازمان له غړیتوب څخه وځي.
د اندونیزیا د وتلو لامل په سازمان کې د مالیزیا د غړیتوب له امله و چې له نوموړي هېواد سره یې یو لړ سیاسي او جغرافیوي اختلافات درلودل.

په هر حال، په ۱۹۶۶ کال د مارچ په يوولسمه د يوې نظامي کودتا له لارې د اندونيزيا ولسمشر سوکارنو له واک څخه ګوښه کړای شو او دې هېواد يو ځل بيا په ۱۹۶۶ کال کې ملګرو ملتونو سازمان سره خپله همکاري له سره پيل کړه.

که څه هم له سازمان څخه وتل تر يو ځل ډېر تکرار نه شول، خو له فرعي مؤسسو او سازمانونو څخه وتل په ځلونو تکرار شوي دي.

که د يوه هېواد بهرنی سياست د يو فرعي سازمان له فعاليتونو سره په ټکر کې وي، ياد هېواد کولی شي په خپله خوښه له سازمان څخه ووځي.

د سويلي افريقا هېواد په ۱۹۵۳ کال کې د يونيسکو او د روغتيا نړيوالو سازمانونو له غړيتوب څخه ووت.

همدا راز په ۱۹۵۰ کال کې د روغتيا له نړيوال سازمان څخه د بلغاريا، رومانيا، چکسلواکيا، هنګري او د پولنډ هېوادونو وتل هغه موارد وو، چې نورو دولتونو هم په ورته اقدام لاس پورې کړ او له فرعي سازمانونو څخه د بېلابېلو لاملونه له امله ووتل.

ب- د غړو اېستل

د منشور د ۲ مې مادې له مخې، که د ملګرو ملتونو سازمان هر غړی د منشور له پرېکړو څخه سرغړونه وکړي، د امنيت شورا او عمومي اسامبلې له خوا به د سازمان له غړيتوب څخه واېستل شي.

له نړيوالو دولتي سازمانونو څخه د اېستلو پېښه يوازې يو ځل په ۱۹۳۹ کال کې ترسره شوه. هغه مهال پخواني شوروي اتحاد پر فنلينډ د پوځي يرغل له امله د ملتونو له ټولنې څخه واېستل شو.

د ملګرو ملتونو د سازمان له جوړېدا راهيسې تر اوسه هېڅ هېواد له دې سازمان څخه نه دی اېستل شوی او نه هم د اېستل شوي هېواد د بيا ځلي غړيتوب لپاره په منشور کې کوم مقررات پېشبيني شوي دي.

ج- د غړيتوب ځنډول

د منشور د ۵۰ مې مادې له مخې، کله چې امنيت شورا د يوه غړي هېواد پر وړاندې په قهري اقدام لاس پورې کړي، د شورا په وړانديز به د عمومي اسامبلې له لوري د نوموړي هېواد ځيني حقوق او امتيازات وځنډول شي. د يادونې ده، چې دا حقوق او امتيازات بايي د امنيت شورا له خوا بېرته ورکړل شي.

په ياده ماده کې هغه حقوق او مزايا چې ځنډول کېږي، نه دي په ډاګه شوي، خو داسې انګېرل کېږي چې له ځنډ څخه موخه د رايې ورکولو، ټاکلو او د سازمان د ټولو ارګانونو په غونډو کې د نه ګډون حقوق دي.

لکه په ۱۹۷۴ کال کې د عمومي اسامبلې په عمومي غونډه کې د اسيايي او افريقايي هېوادونو ډلې د غوښتنې پر اساس، سويلي افريقا د عمومي اسامبلې په غونډه کې له ګډون څخه محرومه شوه.

د - د رايې حق

د منشور د ۱۹ مې مادې له مخې، د ملګرو ملتونو هر هغه غړی چې د مالي ونډې په ورکړه کې له دوو کلونو ډېر ځنډ وکړي، په عمومي اسامبله کې د رايې ورکولو حق نه لري، خو که چېرې عمومي اسامبله دا جوته کړي چې د ونډې نه ورکول د مالي بې وسۍ له امله دی، په دې صورت کې غړی هېواد کولی شي د رايو له حق څخه ګټه واخلي.

کانګو ته د ملګرو ملتونو له خوا د سوله ساتو ځواکونو لېږل د شوروي او فرانسې له مخالفت سره مخ شو او دا يې يو غير قانوني عمل وباله. يادو هېوادونو ددې کړنې په غبرګون کې سازمان ته د مالي ونډې له ورکړې څخه ډډه وکړه او ادعا يې کوله چې د منشور د ۱۷ مې مادې او ۲ مې فقرې له مخې، د دوی لپاره هېڅ کوم قانوني مکلفيت نه شته.

د يادې مادې دويمه فقره داسې حکم کوي: (د سازمان لګښت د عمومي اسامبلې له لوري د ټاکل شوې ونډې له مخې، د غړو هېوادونو پر غاړه ده).

عمومي اسامبلې ددې قضيې د حل په موخه له نړيوالې محکمې څخه د مشورتي نظر غوښتنه وکړه او محکمې په ۱۹۶۲ کال د جولای په شلمه په دې اړه خپله پرېکړه اعلان کړه.

په پرېکړه کې راغلي و، چې پوځي عمليات د نړيوالې سولې او امنيت د ساتنې په منظور ترسره کېږي او دغه مسئله د ملګرو ملتونو سازمان له واکونو څخه ده او همدا راز د دې عملياتو لګښت کېدای شي د ټول سازمان د بوديجې يوه برخه وګڼل شي او ټول غړي هېوادونه د لګښت پر ورکړې مکلف دي.

د ۱۹۶۴ کال په عمومي غونډه کې امريکا د منشور د ۱۹ مې مادې پربنسټ عمومي اسامبلې ته وړانديز وکړ، چې د مالي ونډې د نه ورکولو له امله دې په ملګرو ملتونو سازمان کې د شوروي او فرانسې د رايې حق وځنډول شي، خو دا چې دا مسئله د نړيوالو ستونزو د زېږېدو لامل کېده، په ۱۹۶۵ کال امريکا له خپلې پرېکړې واوښته او فرانسې سره له دې چې په کانګو يې پوځي عمليات غيرقانوني ګڼلي وو، په ۱۹۷۲ کال کې خپله ځنډېدلې مالي ونډه سازمان ته ورکړه.

## ۸- په ملګرو ملتونو کې اصلاحات

په نړيواله کچه بدلونونو ته په پام سره، پر نړيوالې ټولنې د حاکمو قواعدو اصلاح او بيا کتنې ته اړتيا ليدل کېږي. د ملګرو ملتونو منشور هم د نورو نړيوالو تړونونو په څېر اصلاح ته اړتيا لري. د

دولتونو ترمنځ د قدرت په موازنه کې بدلون او د هېوادونو د شمېر زیاتوالی سبب شوي چې د سازمان په مقرراتو کې یو لړ اصلاحات او بدلونونه رامنځته شي.
په ملګرو ملتونو کې د اصلاحاتو بهیر په دوه لنډو جملو کې بیانولی شو:
۱- د سازمان له تأسیس څخه تر زریزې اعلامیې پورې (۲۰۰۰ میلادي کال)
۲- په ۲۰۰۰ میلادي کال کې له زریزې اعلامیې وروسته د اصلاحاتو نوی بهیر

**۱- د ملګرو ملتونو له تاسیس څخه تر ۲۰۰۰ میلادي کال پورې:**
د ملګرو ملتونو د سازمان په جوړښت کې د اصلاح لپاره هڅې په لومړي ځل په **۱۹۴۷** کال کې د امریکا د سنا مجلس د مالي چارو د کمېټې له طرحې وروسته پیل شوې او هغه عمده اصلاحات چې په دې وخت کې ترسره شول دلته به یې په لنډه ډول بیان کړو:
- د امنیت شورا د غیر دایمي غړو شمېر له **۶** څخه ۱۰ ته لوړول: په **۱۹۲۳** کال کې د عمومي اسامبلې له خوا د یوه پرېکړه لیک په ترڅ کې د امنیت شورا د غیردایمي غړو په شمېر کې زیاتوالی راغی، چې دغه کار د سازمان په جوړښت کې د بدلون لامل شو. په **۱۹۴۵** کال کې د سازمان د ټولو غړو شمېر **۵۱** هېوادونه وو، خو په **۱۹۲۳**کال کې دغه شمېر **۱۱۴** ته لوړ شو.
- د امنیت شورا د رای ګیرۍ په نصاب کې بدلون: د عمومي اسامبلې د **۱۹۲۳** کال پرېکړه لیک له مخې د امنیت شورا د رایو اکثریت له **۷** څخه ۱۰ ته لوړ شو.
- د جغرافیوي وېش له مخې د امنیت شورا په غیر دایمي غړیتوب کې بدلون: تر **۱۹۲۵** کال پورې د امنیت شورا د غیر دایمي غړو لپاره جغرافیوي وېش په دې ډول وو:
۱- د لاتیني امریکا هېوادونه (**۲** غړي)
۲- ختیځه اروپا (**۱** غړی)
**۳**- لویدیځه اروپا (**۱** غړی)
**۴**- منځنی ختیځ (**۱** غړی)
**۵**- د ګډو ګټو هېوادونه (**۱** غړی)
خو د **۱۹۲۳** کال پرېکړه لیک له مخې، په **۱۹۲۵** کال کې د جغرافیوي وېش پر اساس د امنیت شورا په غیر دایمي غړیتوب کې په لاندې توګه بدلون راغی:
اسیاسي –افریقایي هېوادونه (**۵** غړي)
د لاتیني امریکا هېوادونه (**۲** غړي)
د ختیځې اروپا هېوادونه (**۱** غړی)
د لویدیځې اروپا هېوادونه (**۱** غړی)
نور هېوادونه (**۱** غړی)

- د یو کلنۍ دورې لپاره د امنیت شورا د غړیتوب ترلاسه کولو شونتیا: که څه هم د منشور ۲۳ مې مادې په امنیت شورا کې د غیردایمي غړیتوب موده دوه کاله ټاکلې ده، خو له شپږمې میلادي لسیزې وروسته هڅو دولتونو ته د یوه کال لپاره په امنیت شورا کې د غړیتوب زمینه برابره شوه، چې د عمومي اسامبلۍ له خوا یې مساوي رایې ترلاسه کړې وې.
- د اقتصادي او ټولنیزې شورا د غړو زیاتوالی: د ۱۹۶۳ کال پرېکړه لیک له مخې د اقتصادي او ټولنیزې شورا غړي له ۱۸ څخه ۲۷ او له ۲۷ څخه ۵۴ ته لوړ شول.
- د (XXVI) ۲۸۴۷ نمبر پرېکړه لیک له مخې د منشور ۶۱ مه ماده اصلاح شوه، چې پر اساس به یې د اقتصادي او ټولنیزې شورا غړي د جغرافیوي وېش له مخې ټاکل کېدل.
- د غړو هېوادونو په مالي ونډه کې بدلون: تر ۱۹۵۵ کال پورې امریکا ۳۹ سلنه، انګلستان ۱۱ سلنه او پخواني شوروي اتحاد ۲ سلنه د ملګرو ملتونو بودیجه پرې کوله، چې د بودیجې ټولټال ۶۰ سلنه برخه یې جوړوله او پاتې ۴۰ سلنه د نورو غړو له خوا ورکول کېده.
خو د سازمان د غړو زیاتوالي ته په پام سره چې ۱۱۸ ته رسېدلي وو، عمومي اسامبلۍ په ۱۹۵۵ زېږدیز کال کې د غړو هېوادونو د مالي ونډې په کچه کې بدلون راوست چې حد اکثر ۳ سلنه او حد اقل ۴ سلنه وټاکل شوه. د درېیم ځل لپاره په ۱۹۷۷ کال کې د غړو په مالي ونډه کې بدلون راغی. خو د وروستي ځل لپاره په ۲۰۰۰ میلادي کال کې حد اکثر ۲۵ سلنه او حد اقل ۲۲ سلنه وټاکل شوه.

**۲- په ۲۰۰۰ میلادي کال کې د زریزې اعلامیې له مخې د نویو اصلاحاتو بهیر**

عمومي اسامبلۍ د ۲۰۰۰ ز کال په سپټمبر کې د ۱۴۷ غړو هېوادونو په ګډون د یوې غونډې په ترڅ کې د زریزې اعلامیې (millenuim declaration) په نوم یوه ګډه اعلامیه خپره کړه، چې په ملګرو ملتونو کې د نویو اصلاحاتو پیلامه ګڼل کېږي.
دغه اقدامات د پخواني عمومي منشي کوفي عنان له خوا په ۱۹۹۷ کال کې پیل شوي وو. نوموړي په ملګرو ملتونو کې د لازمو اصلاحاتو په موخه یو ۱۲ کسیز پلاوی وګوماره.
پلاوي د ((ننګونې، ګواښونه او بدلونونه؛ سوله ییزه نړۍ: زموږ ګډ مسؤلیت)) تر نامه لاندې په ۲۰۰۴ کال کې خپل راپور خپور کړ.
کوفي عنان هم د یاد راپور پربنسټ د ((امنیت، ازادۍ او بشري حقونو د لا تحقق په موخه هڅې)) په نوم په ۲۰۰۵ کال کې خپل راپور د نظر او ارزونې په موخه د عمومي اسامبلۍ غونډې ته وړاندې کړ.
عمومي اسامبلۍ هم د درې ورځنۍ سرمشریزې غونډې په پای کې د ملګرو ملتونو د اصلاحاتو په اړه یو پرېکړه لیک خپور کړ.

۱- د بشر حقوقو د شورا جوړول
۲- د سولې کمېسيون جوړول
۳- د بشريت پر وړاندې د جنايت د مخنيوي طرحه، ټولوژنه او جنګي جنايت.
خو په دې ناسته کې غړي په دې بريالي نه شول چې په سازمان کې اړين او لازم اصلاحات راولي. دغه اصلاحات په امنيت شورا کې اړين وو.

## څلورمه برخه:

# د ملګرو ملتونو اصلي څانګې

د ملګرو ملتونو اصلي ارګانونه په لاندې ډول دي:
۱-امنيت شورا
۲- عمومي اسامبله
۳- اقتصادي او ټولنيزه شورا
۴- د عدالت نړيواله محکمه
۵-دارالانشاء
۶- د قيموميت شورا.

### لومړۍ څانګه: امنيت شورا

د منشور د ۲۴ مې مادې له مخې، امنيت شورا د ملګرو ملتونو له اصلي څانګو څخه ګڼل کېږي، چې د نړيوالې سولې او امنيت د ټينګښت دنده پر غاړه لري. د يادونې ده، چې امنيت شورا ته ددغه مسؤليت د سپارلو وړانديز، د سترو قدرتونو له خوا چې ددويمې نړيوالې جګړې پرمهال يې د يوه نړيوال سازمان د جوړېدو هيله لرله، د ډومبارټن اوکس په کنفرانس کې وشو.
د ملګرو ملتونو سازمان د تأسيس پرمهال د سازمان په چوکاټ کې د يوه دايمي اجرايوي ارګان د جوړولو پېشبيني وشوه، ترڅو وکړای شي نړيوالې سولې او امنيت ته د ورپېښو ګواښونو پرمهال پر يوه بېړني اقدام لاس پورې کړي او د منشور په اووم څپرکي کې پېشبيني شوی اجباري مکانيزم پلی کړي.

**۱- دامنيت شورا جوړښت**

امنيت شورا د پخوانۍ (ملتونو ټولنې) شورا ته ورته له يو څو محدودو هېوادونو څخه جوړه شوې د ملګرو ملتونو اصلي څانګه ده.

د امنیت شورا غړي پر دوو برخو وېشل شوي دي، چې دایمي او غیر دایمي غړي نومېږي.
د ملتونو ټولنې برعکس، د ملګرو ملتونو امنیت شورا نیمه دایمي غړي له یوې دورې زیات نه شي کولی، چې د امنیت شورا غړیتوب ته ځان ونوموي.
د منشور د **۲۳** مې مادې له مخې امنیت شورا له پنځلس غړو څخه جوړه شوې ده.
چین، فرانسه، روسیه، انګلستان او د امریکا متحده ایالات د شورا دایمي غړي دي، چې یاد پنځه غړي په امنیت شورا کې ددایمي غړیتوب پر ځانګړي امتیازات سربېره، د (ویټو) له ځانګړي امتیاز څخه هم برخمن دي.
پروفیسور جېس آپ (Jessup) د امنیت شورا پنځو دایمي غړو ته ددې ډول امتیازونو د ورکړې موضوع څېړلې او وایي، چې دا امتیاز دیادو هېوادونو ترمنځ له نورو غړو سره د قدرت پرسر د اختلاف له امله دی. یا په بل عبارت؛ داچې د نړیوالې سولې او امنیت ساتنې مسؤلیت په لومړي سرکې د دغو پنځو دایمي غړو پر غاړه دی، په دې اړه تصمیم او ددې مسؤلیت د ترسره کولو څرنګوالی هم باید ددوی پر غاړه وي.
که څه هم په **۱۹۴۵** کال کې د لویو قدرتونو په توګه امنیت شورا ته د پنځو دایمي غړو ټاکل د یوه انکار نه منونکي حقیقیت په توګه ومنل شو، خو په یویشتمه پېړۍ کې نه شو کولی ووایو، چې دغه پنځه غړي اوس هم د نړیوال زبرځواک په توګه پاتې او یا پاتې به شي.
دا چې د امنیت شورا د پنځو دایمي غړو ټاکل په نړیواله کچه د قدرت انډول ته پام سره، یو سیاسي انتخاب و، په اوسنیو شرایطو کې د قدرت بدلون او د نویو نړیوالو قدرتونو رامنځته کېدو ته په کتو سره، د امنیت شورا پر اوسني جوړښت باید له سره غور وشي.
له همدې امله د ملګرو ملتونو په سازمان کې یو شمېر هېوادونه په جدي ډول د امنیت شورا د غړو د ډېرېدو غوښتونکي دي. د المان، جاپان، برازیل او هند په څېر یو شمېر نور مخ پر ودې هېوادونه په امنیت شورا کې د نوي دایمي غړیتوب مستحق ګڼل کېږي.
که څه هم د امنیت شورا پر جوړښت بیا کتنه نه ده شوې، خو د غیر دایمي غړو د جوړښت په اړه ځینې اصلاحات رامنځته شوي دي. په **۱۹۴۵** کال کې د شورا دایمي غړي پنځه هېوادونه او غیر دایمي غړي چې د عمومي اسامبلې له خوا د دوو کلونو لپاره انتخابېدل، شپږ وو.
د یادونې ده، چې د امنیت شورا لومړني جوړښت په **۱۹۲۳** کال کې د عمومي اسامبلې د یوه اصلاحي پرېکړه لیک له مخې بدلون وموند او دغه اصلاح په **۱۹۵۲** کال د اجرا وړ وګرځېده. یاده اصلاحیه بې له دې چې د شورا د دایمي غړو په جوړښت کې بدلون رامنځته کړي، د غیر دایمي غړو شمېر یې له شپږو څخه لسو ته لوړ کړ. په همدې اساس، د امنیت شورا ټول غړي له **۱۱** څخه **۱۵** ته زیات شول، چې له دې جملې **۵** دایمي او **۱۰** غیر دایمي غړي دي.

دا بدلون د ملګرو ملتونو د غړو شمېرته په کتو، چې له ۱۹۲۳ کال څخه تر ۱۹۷۳ کاله پورې له ۱۱۲ هېوادونو څخه ۱۳۵ دولتونو ته زيات شوي وو، ترسره شو. د منشور د ۲۳ مې مادې پربنسټ، عمومي اسامبله بايد په امنيت شورا کې د غير دايمي غړو د ټاکلو پرمهال لاندې معيارونه په پام کې ونيسي:

۱- د نړيوالې سولې او امنيت او د سازمان د نورو موخو په تحقق کې مرسته؛

۲- د جغرافيې له مخې په شورا کې د څوکيو عادلانه وېش؛

د غير دايمي غړو ټاکل د عمومي اسامبلې د رايو په اکثريت (دوه ثلثه) ترسره کېږي، خو د رايو دا اکثريت په اسانۍ نه شي ترلاسه کېداى. ځينې هېوادونو لکه پولنډ د راى ګيرۍ په ۵۱ دوره (۱۹۲۳)، يوګوسلاويا په شپږديرشمه دوره (۱۹۵۵) او يونان په نولسمه دوره (۱۹۵۱) کې د امنيت شورا غير دايمي غړيتوب ترلاسه کړ.

د امنيت شورا څوکۍ ته نوماندو هېوادونو کولى شول چې له خپل نوماندۍ څخه تېر شي. لکه کاناډا په ۱۹۴۲ کال، هند په ۱۹۴۷ کال او لبنان په ۱۹۵۰ کال کې امنيت شورا ته له خپل نوماندۍ څخه تېر شول. همدغه راز د مساوي رايو په صورت کې به پچه اچونه ترسره کېده. دغه راز د امنيت شورا غير دايمي غړو په توګه په يو وخت ددوه هېوادونو ټاکل هم شونې وو.

د يادونې ده، چې په يو وخت د دوه نوماندانو ټاکل، د منشور ۲۳ مې مادې د دويمې فقرې خلاف عمل دى، ځکه د يادې مادې له مخې د امنيت شورا هر غير دايمي غړى د دوو کلونو لپاره ټاکل کېږي، خو وروسته دا مسئله بيا د عمومي اسامبلې له خوا تصويب شوه او په منشور کې اصلاح راغله او د هېوادونو د غړيتوب موده يو کال وټاکل شوه. له ۱۹۵۵ کال څخه تر ۱۹۲۳ کال پورې پنځه ځلي د همهاله انتخاب پېښه رامنځته شوه:

يوګوسلاويا- فلپين(۱۹۵۵، ډيسمبر ۲۰)

پولنډ- ترکيه (۱۹۵۹ ډيسمبر ۱)

ليبيا- ايرلينډ(۱۹۶۰، ډيسمبر ۲۰)

رومانيا- فلپين(۱۹۶۱، ډيسمبر ۱)

چکسلواکيا- ماليزيا (۱۹۶۳، اکتوبر ۳۰).

لکه مخکې چې ورته اشاره وشوه، د امنيت شورا د غير دايمي غړو په ټاکلو کې د عمومي اسامبلې يو معيار د جغرافيې پر اساس د څوکيو عادلانه وېش دى، خو عمومي اسامبلې ددغه وېش لپاره عملاً سياسي يا حقوقي وېش په پام کې نيولى دى.

د ګډو ګټو (commonwealth) هېوادونه له ۱۹۲۴، ۱۹۲۵ او ۱۹۷۲ کلونو پرته، نور په پرلپسې توګه د امنيت شورا غير دايمي غړي پاتې شوي دي. په همدې اساس، د لاتيني امريکا، عربي او افريقايي هېوادونه به معمولاً د امنيت شورا غير دايمي غړي وو.

د پروفیسور ویرالي (virally) په وینا ، عمومي اسامبلې په امنیت شورا کې د غیر دایمي غړو د ټاکلو لپاره د فزیکي جغرافیې پرځای سیاسي جغرافیه د معیار په توګه ټاکلې ده. دې قاعدې ته په کتو چې د (غیر دایمي غړو ټاکل باید عادلانه وي) پورتنۍ کړنه هېڅ راز معقولیت او توجیه نه لري. تر ۱۹۶۵ کاله پورې د جغرافیې و بش پربنسټ د امنیت په شورا کې د غیر دایمي غړو ټاکل په لاندې ډول و:

- د لاتیني امریکا دولتونه (۲ غړي)
- لوېدیځه اروپا (۱غړی)
- ختیځه اروپا (۱غړی)
- منځنی ختیځ(۱غړی)
- د ګډو ګټو هېوادونه (۱غړی)

پورتنۍ ډلبندي یا وېش ځو مسایل په ډاګه کوي: لومړی داچې، د لاتیني امریکا هېوادونو ته د دوه ځوکیو ځانګړي کول، هغه مهال چې ملګرو ملتونو له شپېتو څخه زیات غړي نه لرل او د شلو په شاو خوا کې غړي یې د لاتیني امریکا هېوادونه وو، کومه نیوکه پرې نه وه. خو وروسته سازمان ته د افریقایي او اسیایي هېوادونو په راتلو سره، په لومړي وېش کې بدلون رامنځته شو او د لاتیني امریکا د هېوادونو لپاره وروستنی وېش د منلو وړ نه وو.

پر دې سربېره، د (ختیځې اروپا هېوادونه) تر نامه لاندې دا عنوان سم نه و. ځیني وخت د ختیځې اروپا نوم کمونیستي هېوادونو ته کارول کېده او کله به ورڅخه هغه هېوادونه مقصد وو چې له ختیځ کمونیستي بلاک سره تړلي نه وو، بلکې یوازې په ختیځه اروپا کې یې موقعیت درلود. لکه یوګوسلاویا.

همدغه راز په ختیځه اروپا کې لویدیځ پلوو هېوادونو هم موقعیت درلود، لکه یونان او ترکیه. دویمه مسئله دا چې یو شمېر هېوادونه به کله د منځني ختیځ او کله به هم د ختیځې اروپا په نوم، د امنیت شورا غړیتوب ته ټاکل کېدل، لکه ترکیه.

د منشور د ۲۳ مادې تعدیل چې له مخې یې د امنیت شورا په غیر دایمي غړو کې زیاتوالی راغی او همدغه راز په ۱۹۶۳ کال د عمومي اسامبلې د ۱۹۹۱ نمبر پرېکړه لیک له مخې، د جغرافیوي وېش له مخې د امنیت شورا غیر دایمي غړیو ټاکل په لاندې ډول بدلون وموند:

- اسیایي- افریقایي دولتونه (۵ غړي)
- د لاتیني امریکا دولتونه (۲ غړي)
- د ختیځې اروپا دولتونه(۱ غړی)
- د لویدیځې اروپا دولتونه (۱ غړی)
- د پاسفیک سیمې او نور دولتونه لکه کاناډا، نوی زیلانډ او... (۱ غړی)

د امنیت شورا پر دایمي او غیر دایمي غړو سربېره، د منشور د ۳۱ مې مادې له مخې، د ملګرو ملتونو هر غړی چې په امنیت شورا کې غړیتوب نه لري، کولی شي د شورا په غونډو کې د ناظر په توګه ګډون وکړي.
همداراز د منشور د ۳۲ مې مادې له مخې، د ملګرو ملتونو هغه غړي چې په امنیت شورا کې غړیتوب نه لري او یا هر هغه هېواد چې د ملګرو ملتونو غړیتوب نه لري، کولی شي د امنیت شورا په غونډو کې برخه واخلي او امنیت شورا مکلفه ده چې نا غړو هېوادونو ته په شورا کې د ګډون په موخه عادلانه او وړ شرایط په پام کې ونیسي.

## ۲ - په امنیت شورا کې د رایې اچونې ډول

په ۱۹۴۴ کال د یالټا په کنفرانس کې امریکا وړاندیز وکړ، چې د منشور د ۲۷ مه ماده باید په امنیت شورا کې د رایې اچونې ډول ته ځانګړې شي.
د ملتونو ټولنې په امنیت شورا کې پرېکړې به د رایو په اتفاق ترسره کېدې، خو د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې برعکس، د رایو په اکثریت ترسره کېږي. اکثریت رایې په ټولو پرېکړو کې معیار او شرط نه دی.
د سازمان داخلي مسایلو لکه، د داخلي کړنلارې په اړه د رایو څرنګوالی؛ نظر نورو مسایلو ته توپیر لري. په ۱۹۶۲ کال کې د منشور د ۲۷ مې مادې ۲ مې فقرې د اصلاح له مخې، د سازمان د داخلي کړنلارو د تعدیل او اصلاح لپاره د نهو مثبتو رایو اکثریت شرط ټاکل شوی دی.
دلته د رایې ورکوونکي د غړیتوب ډول (دایمي او غیر دایمي) په پام کې نه دی نیول شوی، بلکې د رایو دغه اکثریت د شمېر له مخې دی.
د یادونې ده چې د کړنلارې په تعدیل کې د امنیت شورا د دایمي غړو منفي رایه کوم اغېز نه شي لرلی او په دې اړه پرېکړه په ۹ مثبتو رایو ترسره کېږي.
د ملګرو ملتونو منشور، د سازمان په داخلي کړنلارې پورې اړوند مسایل نه دي مشخص کړي او په دې برخه کې ګونګ پاتې دي، خو د امنیت شورا د رویې پربنسټ کولی شو چې لاندې موارد د سازمان د داخلي کړنلارې یوه برخه وګڼو:
د شورا په غونډو پورې اړوند مسایل، د غونډې اجنډا ټاکل، د شورا د مشر ټاکل، په شورا کې د سازمان د غړو ګډون، یوه هېواد او یا یوه شخص ته د شورا په کارونو کې د ګډون بلنه او نور مسایل.
د سنفرانسیسکو په کنفرانس کې یوه تفسیري لایحه وړاندې شوه چې د امنیت شورا دایمي غړو له خوا د تائید وړ وګرځېده. په یاده لایحه کې راغلي وو، چې د امنیت شورا د غونډو په اجنډا کې

د هرې مسئلې شاملول، د داخلي کړنلارې يوه برخه ګڼل کېږي. په همدې اساس، د امنيت شورا هېڅ دايمي غړی نه شي کولی چې له ويټو څخه په استفادې اجنډا رد کړي.

له اجنډا پرته د نورو مسايلو په اړه پرېکړې د رايو په کيفي اکثريت يعنې له ويټو پرته په نهو مثبتو رايو ترسره کېږي. په دې ډول مسايلو کې که د شورا له پنځلسو غړو څخه څوارلس يې مثبتې رايې او يو دايمي غړی منفي رايه يا ويټو وکاروي، مسئله ويټو او رد ګڼل کېږي.

هغه مسايل چې د رايو کيفي اکثريت ته اړتيا لري په لاندې توګه دي:

- د اختلافونو سوله ييز حل؛
- تنبيهي اقدامات؛
- د غړو اېستل او د غړيتوب ځنډول ؛
- له عمومي اسامبلې سره د امنيت شورا همکاري او د سرمنشي ټاکنه.

د منشور په **۲۷** مه ماده کې درج شوی اصل دوه استثناوې لري:

لومړی، د منشور د شپږم څپرکي له مخې هغه هېوادونه چې د اختلاف په طرف کې واقع وي (nemo judex in re sua)، په غونډه کې د تصميم يا رايې اچونې حق نه لري.

دويمه استثناء د امنيت شورا د هغو اقداماتو په اړه ده، چې د سيمه ييزو شخړو د حل په منظور ترسره کېږي.

د منشور د **۲۵** مې مادې دويمې فقرې له مخې، د ملګرو ملتونو غړي کولی شي چې امنيت شورا ته تر مراجعې مخکې، خپلې سيمه ييزې ستونزې د هوکړه ليکونو او د سيمه ييزو سازمانونو په مرسته حل او فصل کړي.

### ۳- د يوه دايمي غړي د امتناع حقوقي اثار

په رای ګيرۍ کې د يوه غړي امتناع ويټو نه ګڼل کېږي او مصوبه يا پرېکړه د نورو مصوبو په څېر الزاميت او حقوقي اثار لري. دا پېښه په لومړي ځل د امنيت شورا په نهه دېرشمه غونډه کې د شوروي اتحاد له لوري د هسپانيا د قضيې په اړه رامنځته شوه. شوروي اتحاد د هسپانيا په قضيه کې ممتنع رايه وکاروله او څرګنده يې کړه چې له امتناع څخه يې موخه ويټو نه ده، چې دغه رويه د ډېرى هېوادونو د تائيد وړ وګرځېده.

يونان ته د ورلېږل شوي کمېسيون په اړه مهمې توصيه نامې(**۱۹۴۶**)، د ارام سمندرګي پر ټاپوګانو د امريکا د ستراتېژيک قيموميت تائيد (**۱۹۴۶**)، نړيوالې محکمې ته د کورفو تنګي د قضيې ارجاع کول (**۱۹۴۷**) او په ملګرو ملتونو کې د اسرائيلو غړيتوب (**۱۹۴۹**)، ټول هغه مسايل وو چې د امنيت شورا د ځينو دايمي غړو له امتناع سره مخ شول.

د ممتنع رايې په اړه په **۱۹۷۱** کال کې نړيوالې محکمې خپله پرېکړه داسې اعلان کړه:

په امنيت شورا کې د ممتنع رايو په اړه پورتني غبرګونونه دا په ډاګه کوي چې د امنيت شورا د يوه دايمي غړي ممتنع رايه د شورا پر پرېکړو هېڅ راز اغېز نه شي لرلی.
د امنيت شورا داخلي کړنلاره د ملګرو ملتونو د غړو له خوا د تائيد وړ ګرځېدلې.
په همدې اساس، که پورتنی عرف د منشور د ۲۷ مې مادې له ۳ فقرې سره په ټکر کې رانه شي، نو تر يوه بريده به د ويټو کارولو په وړاندې د يوه عملي تفسير بڼه خپله کړي.

**۴- د امنيت شورا دندې او واکونه**

د منشور ۲۴، **۲۵** او **۲۶** مې مادې د امنيت شورا دندې بيان کړې دي. د يادو مادو له مخې د نړيوالې سولې او امنيت د ساتنې مسؤليت امنيت شورا ته سپارل شوی دی. د سازمان غړو پر دې سلا کړې، چې امنيت شورا د خپلې وسپارل شوې دندې د اجرا واک لري.
ددې ترڅنګ، امنيت شورا مکلفه ده چې د سازمان د اهدافو او اصولو په چوکاټ کې خپل فعاليتونه ترسره کړي. يا په بل عبارت، د امنيت شورا دندې او پرېکړې تر منشور پورې محدودې دي او له دې د باندې فعاليتونو واک نه لري.
د منشور د **۲۵** مې مادې له مخې، د سازمان غړي په دې موافقه کوي چې د منشور د پرېکړو پربنسټ به د امنيت شورا ټولې پرېکړې مني.
له پورتنۍ مادې څخه څرګندېږي، چې د غړو موافقه يوازې د شورا پرېکړو ته شاملېږي او توصيه نامې (Recommendations) په کې نه راځي.
امنيت شورا د خپلې اصلي دندې په اجرا (دنړيوالې سولې او امنيت ساتنه) کې له دوه لارو عمل کوي:
- د نړيوالو شخړو د هوارې په موخه سوله ييزه مداخله. (د منشور شپږم څپرکی).
- قهري مداخله او يا اجباري تدابير. (د منشور اووم څپرکی).

**الف- د اختلافونو سوله ييز حل**:

د نړيوالو شخړو او اختلافونو د حل په موخه، د ملګرو ملتونو د منشور په شپږم څپرکي کې يو لړ مقررات پېشبيني شوي دي او دغه څپرکی شپږ مادې لري. (۳۳ – ۳۸).
د يادو مقرراتو پربنسټ، ټولې هغه شخړې چې نړيوالې سولې او ثبات ته ګواښ پېښوي، امنيت شورا ته په کې د مداخلې واک ورکړل شوی دی. امنيت شورا دې ډول مسلو ته له سوله ييز حل لارې رسيدګي کوي.
د ملګرو ملتونو امنيت شورا نړيوالې سولې ته د ورپېښو ګواښونو، د سولې نقضولو او د پوځي يرغل په صورت کې، د دعوا دواړو لورو ته د سوله ييز حل لارې چارې توصيه کوي او ددې کار لپاره د شپږم څپرکي پر مقرراتو عمل کوي.

د منشور **۳۳** مه ماده، د ستونزې په هوارې کې تر ډېره دودیزو (عرفي) روشونو ته اشاره کوي او ښکېلې غاړې په خپلو کې خبرو اترو ته هڅوي او په خپل منځ کې د روغې جوړې عرفي لارې چارې په لاندې ډول په ګوته کوي:

۱- خبرې (Negotiation)

۲- منځګړیتوب (Mediation)

۳- جوړجاړی (conciliation)

۴- داوري (Arbitrage)

۵- قضایي رسیدګي (judicial settlement)

الف: د نړیوالو شخړو د حل صلاحیت لرونکي مراجع: له پورتنیو دودیزو روشونو پرته، لاندني مقامات او مراجع کولی شي چې په نړیوالو شخړو او اختلافونو پورې اړوند مسایل امنیت شورا ته ارجاع یا وړاندې کړي:

د سازمان غړي هېوادونه: د منشور **۳۵** مې مادې له مخې د ملګرو ملتونو ټول غړي کولی شي، چې د هر ډول نړیوالو شخړو په اړه عمومي اسامبلې یا امنیت شورا ته خبر ورکړي.

د سازمان ناغړي هېوادونه: هر هغه هېواد چې د ملګرو ملتونو غړی نه دی، په شخړه کې د ښکېلتیا په صورت کې کولی شي، امنیت شورا ته مراجعه وکړي، خو مشروط پر دې چې د منشور مقررات ته درناوی ولري. (د منشور د **۳۵** مې مادې ۲ فقره).

عمومي اسامبله: عمومي اسامبله نړیوالې سولې او امنیت ته د ګواښ په صورت کې کولی شي، امنیت شورا ته خبر ورکړي. (د ۱۱ مې مادې ۳ فقره).

د یادونې ده، که امنیت شورا د یوې شخړې یا اختلاف د حل په موخه عملاً په دنده بوخت وي، عمومي اسامبله د امنیت شورا له لارښونې پرته نه شي کولی چې د شخړې په اړه اقدام وکړي.(۱۲ مه ماده، ۱ فقره).

په همدې اساس ویلی شو چې عمومي اسامبله په دې ډول مسایلو کې یو ډول ثانوي واک لري.

عمومي منشـــي: د ملګرو ملتونو عمومي منشي کولی شي، د هرې هغې موضوع په اړه چې نړیوالې سولې او امنیت ته ګواښ پېښوي، امنیت شورا ته خبر ورکړي.(۹۹ مه ماده).

امنیت شورا ته د یادو مراجعو له خوا د یوې نړیوالې امنیتي مسئلې تر وړاندې کولو وروسته، شورا د خپل کار په اجنډا کې د موضوع په شاملولو غور کوي او اجنډا باید د رایو په اکثریت (۹ رایو) تصویب شي. یعنې له پورتني شرط پرته، هره مسئله په خپل سر د امنیت شورا د کار په اجنډا کې نه شي راتلای.

د یادونې ده، چې دغه پرېکړه د واک له مسئلې سره کوم تړاو نه لري او امنیت شورا ښایي دخپل کار په اجنډا کې د مسئلې تر خبرلو وروسته، دې پایلې ته ورسیږي چې ارجاع شوې موضوع

نړیواله مسئله نه ده او دا چې د منشور ۷ مې مادې، دویمې فقرې د هېوادونو داخلي مسایل د امنیت شورا واک نه ګڼي، نو شورا ته په دې ډول مسایلو کې د مداخلې حق نه دی ورکړل شوی. خو بیا هم امنیت شورا اختیار لري چې کومه موضوع د خپل کار په اجنډا کې شامله او کومه شامله نه کړي.

د دولتونو ترمنځ د نړیوالو امنیتي مسایلو د حل په موخه، امنیت شورا مسؤلیت لري چې د دعوا ښکېلو غاړو ته په مذاکراتو کې یوازې د ګډون حق ورکړي. همدغه راز شورا کولی شي، چې په مسئله کې نورو ښکېلو هېوادونو ته هم د ګډون اجازه ورکړي.

امنیت شورا کولی شي چې د یادو مسایلو د څېړلو په موخه یوه لنډ مهاله کمېټه جوړه کړي.

ب: د منشور له مخې شخړو ته د حل لاره: امنیت شورا د منشور د شپږم څپرکي له مخې کولی شي په لاندې توګه نړیوالو ستونزو ته رسیدګي وکړي:

۱- د منشور د ۳۳ مې مادې، دویمې فقرې له مخې امنیت شورا صلاحیت لري، د دعوا له ښکېلو غاړو(مدعي او مدعي علیه) څخه وغواړي چې خپل اختلاف د عرفي تعاملاتو (خبرې، منځګړیتوب، جوړجاړی ... ) په مرسته حل کړي، چې په دې صورت کې د انتخاب حق د دعوا دواړو غاړو ته ورکول کېږي.

۲- د منشور د ۳۶ مې مادې لومړۍ فقرې له مخې امنیت شورا کولی شي چې د دعوا په هر پړاو کې مناسبه کړنچاره توصیه کړي. په دې صورت کې د موضوع د حل ډول د دعوا دواړو غاړو ته وړاندیز کېږي. د کورفو تنګي په قضیه کې، امنیت شورا د دعوا دواړو لورو ته توصیه وکړه، چې موضوع نړیوالې محکمې ته وړاندې کړي.

۳- هغه جدي اختلافات چې ښایي د طرفینو حقوق اغېزمن کړي، امنیت شورا کولی شي د حل مناسبه لاره پېشنهاد کړي ترڅو اختلاف ته د پای ټکی کېښودل شي. په دې ډول مواردو کې امنیت شورا د نیمه قضایي مرجع یا ارګان رول لوبوي او دا طریقه یوازې هغه وخت د استفادې وړ ده، کله چې یوه مسئله نړیوالې سولې او امنیت ته ګواښ رامنځته کړي.

۴- امنیت شورا کولی شي د اختلافونو د حل په موخه یوه لنډ مهاله کمېټه جوړه کړي. لکه په ۱۹۴۷ کال کې په اندونیزیا کې د سولې کمېټه او د هند او پاکستان ترمنځ د کشمیر د مسئلې په اړه د یوې منځګړې کمېټې جوړول د یادولو دي.

همدغه راز امنیت شورا کولی شي ځیني مسئلې د حل په موخه د سازمان نورو اصلي ارګانونو ته وړاندې کړي. لکه عمومي اسامبلې ته د فلسطین د مسئلې ارجاع کول.

لکه څنګه چې لیدل کېږي، د منشور د شپږم څپرکي (د اختلافونو سوله ییز حل) له مخې د امنیت شورا واکونه معمولاً پر (توصیې) ولاړ دي.

د دعوا د طرفینو له خوا د (توصیه نامې) منل لازمي نه دي، بلکې دمنشور د **۲۵** مې مادې پربنسټ یوازې د شورا پرېکړې الزامي بڼه لري.
مثلاً، هغه توصیه نامه چې امنیت شورا د کورفو تنګي په قضیه کې نړیوالې محکمې ته صادره کړې وه، د یادې توصیه نامې د اجرا لپاره د طرفینو له لوري کومه ژمنه نه وه موجوده.
د منشور د اوم څپرکي له مخې د امنیت شورا پرېکړې یوازې د سوله ساتنې، د سولې نقض او د پوځي یرغل په برخه کې الزامي بڼه لري.
**ب- جبري او تنبیهي اقدامات:**
دا چې د نړیوالې سولې د ټینګښت مسؤلیت د امنیت شورا پرغاړه دی، نو پر اجباري اقدام لاس پورې کول باید د سولې د ټینګښت لپاره تر ټولو غوره لار وګڼو.
د ملګرو ملتونو موخې د منشور د اووم څپرکي د مقرراتو (له **۳۹** مې نه تر **۵۱** مې مادې) په اجرا کې صورت مومي. هغه پرېکړې چې امنیت شورا یې په دې برخه کې نیسي، پر ټولو غړو هېوادونو لازمي دي.
د منشور د **۳۹** مې مادې له مخې، امنیت شورا د سولې پر وړاندې هرډول ګواښ تر غور لاندې نیسي او د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت په موخه د منشور **۴۱** او **۴۲** مې مادو له مخې لازم اقدامات ترسره کوي.
امنیت شورا سولې ته د ګواښ یا د پوځي یرغل په صورت کې د منشور د اووم څپرکي له مخې له قهري او تنبیهي روشونو څخه کار اخلي.
د یادونې ده، چې د نړیوالې سولې او امنیت په برخه کې د امنیت شورا کړنې د منشور **۳۹** مې مادې سره ورته والی نه لري.
شورا یوازې د رودزیا قضیې پر وړاندې **۲۳۲** (۱۹۶۲) او **۲۵۳** نمبر پرېکړه لیکونو(۱۹۶۸) ته اشاره کړې ده.
د (سولې ته ګواښ او د سولې نقض او یرغل) د مفاهیمو په اړه دوه ټکي د یادولو وړ دي:
لومړی دا چې د منشور په **۳۹** مه ماده کې د (سولې) له کلیمې څخه اصلي موخه نه ده په ډاګه شوې، که چېرې له دې څخه موخه (نړیواله سوله) وي، نو هغه کوم موارد دي چې موږ یې د سولې پر وړاندې ګواښ او نقض ګڼو؟
ایا امنیت شورا کولی شي د هغه کورني اختلاف په اړه چې د نړیوالې سولې پر وړاندې ګواښ نه ګڼل کېږي، پر پوځي اقدام لاس پورې کړي او که نه؟
د یوه داخلي اختلاف یا شخړې پر وړاندې پوځي اقدام به د منشور خلاف عمل وي.

د کوريا او اندونيزيا د داخلي مسايلو په اړه همدا موضوع تر بحث لاندې ونيول شوه او پرېکړه وشوه، چې امنيت شورا د هېڅ ډول مداخلي حق نه لري، ځکه په دې ډول مسايلو کې هر ډول اقدام د يادو هېوادونو په کورنيو چارو کې د ښکاره لاسوهنې په معنا ده.
کانګو د خپل داخلي بحران د حل په موخه د ملګرو ملتونو له سازمان څخه د مداخلې غوښتنه کړې وه او امنيت شورا هم د منشور د ۴۰ مې مادې پر اساس د تاوتريخوالي او بحران د مخنيوي په موخه اقدام وکړ او سيمې ته يې سوله ساتي ځواکونه ولېږل. خو بيا هم د ملګرو ملتونو عمومي منشي د دولتونو په کورنيو چارو کې د نه لاسوهنې اصل ته په پام سره له نړيوالو سوله ساتو ځواکونو وغوښتل چې په جګړې کې له هېڅ ښکېلې غاړې څخه ملاتړ ونه کړي او يوازې د خلکو د سر- مال ساتنې او سولې د ټينګښت په موخه خپل ماموريت په ښه توګه سرته ورسوي.
بله دا چې په همدې ۳۹ مه ماده کې د (سولې پر وړاندې ګواښ، د سولې نقض او د يرغل) مفاهيم هم څرګند تعريف نه لري.
بايد وويل شي، چې ددغو مفاهيمو نه تعريفول يو قصدي عمل و او د سنفرانسيسکو په کنفرانس کې ددې مسئلې په اړه پرېکړه په قصدي ډول امنيت شورا ته وسپارل شوه.
په ياد کنفرانس کې د (سولې پر وړاندې ګواښ، نقض او پوځي يرغل) د مفاهيمو د بررسۍ پرمهال، د يرغل کليمې د تعريف ډله ددغه مفهوم په تعريف بريالۍ نه شوه.
يو شمېر هېوادونو له دې کار سره خپل مخالفت څرګند کړ او ويل يې، ناشونې ده ترڅو داسې يو نوملړ جوړ شي چې په هغه کې ټول تجاوز کارانه کړنې په ګوته شوې وي.
د همدې ناندريو په لړ کې په ۱۹۵۰ کال کې، په تېره بيا د کوريا د جګړې پرمهال، د يرغل تعريف ته اړتيا وليدل شوه.
عمومي اسامبلې په ۱۹۵۰ کال دغه موضوع د خپل کار په اجنډا کې ونيوله او په دې اړه تر اوږدو بحثونو وروسته بالاخره په ۱۹۷۴ کال کې د يرغل مفهوم د تعريف په اړه يو پرېکړه ليک تصويب شو.
په نوي تعريف کې هم چې د غړو هېوادونو له خوا د اجماع (consensus) په ډول تصويب شو، د پخوا په څېر د هغو کړنو بشپړ نوملړ چې يرغل بلل کېږي، نه دی په ډاګه شوی.
يرغل کليمې ته د حقوقي تعريف موندنې پرځای، غوره داده چې (يرغل) بايد د موثقو مادي اطلاعاتو د ترلاسه کولو په پايله کې تشخيص کړل شي.
امنيت شورا هم د خپلو کمېسيونونو د راپور تر اورېدو وروسته د پرېکړه ليک پر صادرېدو اقدام کوي. دغې شورا د کوريا د قضيې په اړه د (UNCOK) کمېسيون او د لبنان د قضيې په اړه د (UNOGIL) کمېسيون د راپورونو تر اورېدو وروسته خپل پرېکړه ليکونه صادر کړل.

د منشور د اووم څپرکي له مخې، امنیت شورا کولی شي په دوه ډوله قهري یا تنبیهي اقداماتو لاس پورې کړي:

۱-: د منشور۴۱ مې مادې له مخې امنیت شورا باید داسې اقدامات ترلاس لاندې ونیسي چې زور په کې ونه کارول شي.

په دې ډول اقدام کې امنیت شورا کولی شي چې د ملګرو ملتونو له غړو څخه غوښتنه وکړي، ترڅو له سرغړونکو هېوادونو سره سیاسي او اقتصادي اړیکې پرې کړي.

۲-: د ۴۲ مې مادې له مخې داسې اقدامات باید ترسره شي، چې زور په کې کارول شوی وي.

که چېرې امنیت شورا په ۴۱ مه ماده کې پېشبیني شوي اقدامات کافي ونه ګڼي، د نړیوالې سولې او ټیکاو په موخه کولی شي چې له هوایي، ځمکني او سمندري پوځي ځواک څخه کار واخلي او دغه پوځي اقدام ښایي د پوځي مانور، محاصرې او یا پوځي عملیاتو په بڼه وي.

مخکې له دې چې امنیت شورا پر پوځي او تنبیهي اقداماتو غور وکړي، د منشور ۳۹ مې مادې له مخې شورا باید دا په ډاګه کړي چې ایا نړیوال امنیت او سوله ګواښل شوې او یا پر کوم هېواد پوځي یرغل شوی دی او که نه؟

که چېرې له پورتنیو مواردو څخه یو مورد نقض شوی وي، شورا به د رایو په غوڅ اکثریت ۱۵/۹ تصمیم ونیسي.

له داخلي مسایلو پرته په امنیت شورا کې د نورو مهمو مسایلو په اړه د رایو غوڅ اکثریت ددې لامل شوی چې د دایمي غړو او د هغوی د متحدینو پر وړاندې هر ډول قهري او تنبیهي اقدام ناشونی شي.

دا په حقیقت کې د ویټو نتیجه ده چې د نړۍ ستر قدرتونه یې له هرډول جبري اقداماتو څخه خوندي کړي دي.

د ملګرو ملتونو د سازمان له تأسیس وروسته، پر نړیوالو اړیکو حاکم دوه قطبي نظام سبب شو چې د منشور ۴۱ او ۴۲ مې مادې په سمه توګه پلي نه شي، ځکه د لوېدیځ او ختیځ بلاک دوه سرسخت سیالان (امریکا او شوروي) په امنیت شورا کې د ویټو له حق څخه برخمن وو او هغه پرېکړې چې د دوی د متحدینو خلاف وې، ویټو کېدې.

د ۱۹۴۷ او ۱۹۶۰ کلونو ترمنځ د اندونیزیا او کانګو د بحران پرمهال امنیت شورا ونه شوای کړای چې د منشور اووم څپرکي له مخې لازم اقدامات ترسره کړي.

په ۱۹۵۰ کال کې د کوریا په قضیه کې د شوروي اتحاد د نه ګډون له امله، امنیت شورا بریالۍ شوه چې ځیني اقدامات او تدابیر تر لاس لاندې ونیسي.

### ۵- ویټو veto

د ملتونو ټولنې له تجربو څخه په استفادې چې د نړیوال امنیت په ټینګښت کې پاتې راغله، د ملګرو ملتونو سازمان د تأسیس پرمهال غړو هېوادونو د نړیوالې سولې د تضمین په موخه هوکړه وکړه، چې د امنیت شورا دایمي غړو ته باید د ممتازې رایې حق(ویټو) ورکړل شي.
ددې امتیاز ورانديز د امریکا پخواني ولسمشر روزولټ له لوري د یالټا په کنفرانس کې وشو، چې د انګلستان او شوروي اتحاد په ګډون د یو شمېر هېوادونو د مشرانو له خوا ومنل شو. په همدې اساس، د امنیت شورا دایمي غړي په شورا کې د یوې اساسي نړیوالې مسئلې په اړه د اختلاف په صورت کې له ویټو څخه استفاده کوي.
د منشور د ۲۵ مې مادې له مخې د امنیت شورا پرېکړې د ملګرو ملتونو پر ټولو غړو د اجرا وړ دي او د شورا پرېکړې پر ځان لازمي بولي.
د ملتونو ټولنې په میثاق کې دې ته ورته څه نه و پېشبیني شوي. د میثاق په شپاړسمه ماده کې راغلي وو: ((که د ملتونو ټولنې کوم غړی پر بل یوځې برید وکړي، لکه د ټولنې پر ټولو غړو چې برید شوی وي. په دې صورت کې د ټولنې غړي تر ټولو لومړی باید له تېري کوونکي هېواد سره خپلې سوداګریزې او اقتصادي اړیکې پرې کړي)).
خو د اجرایوي ضمانت نه شتون او سازشونه سبب شول چې دغه مقررات نیمګړي او اجرا نه شي. د ملتونو په ټولنه کې د تنبیهي مقرراتو وضع کول، د سزاګانو ټاکل او د سرغړونکو پر وړاندې اقدام د اسامبلې مسؤلیت و او شورا ددې ډول مسایلو واک نه درلود.
له همدې امله د ټولنې اسامبلې ونه شو کړای چې د نړیوالو شخړو مخه ونیسي او بالاخره کوچنۍ شخړې په لویو بحرانونو واوښتلې او ورانوونکو جګړو ټوله نړۍ په سر واخیسته. بالاخره د دویمې نړیوالې جګړې په جریان کې متفقین دې هوکړې ته ورسېدل چې د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت په موخه باید له څو محدودو نړیوالو قدرتونو څخه یو سازمان رامنځته کړي.
په همدې لړ کې د ۱۹۴۳ کال د اکتوبر په ۳۰ مه د مسکو په اعلامیه کې د ګډ امنیتي سیستم پر جوړېدا ټینګار وشو او دغه سیستم د ۱۹۴۴ کال په سپټمبر کې د ډومبارټن اوکس په کنفرانس کې تصویب او د ملګرو ملتونو په منشور کې ګډ نړیوال امنیتي سیستم پېشبیني شو.
په دې سیستم کې تر ټولو عمده مسئله د امنیت په شورا کې د تصمیم نیونې ډول دی. په شورا کې د تصمیم نیونې مسئله د دایمي غړو د (ویټو) پر حق راڅرخي.
(ویټو) په امنیت شورا کې د پرېکړه لیک د تصویب پرمهال دهر دایمي غړي منفي رایې ته ویل کېږي. منفي رایه یوازې د نړیوالو مسایلو په اړه کارول کېږي، نه د سازمان د داخلي مسایلو په اړه.

د يوې مسئلې په اړه د امنيت شورا د يوه دايمي غړي او د عمومي اسامبلې منفي رايو ته غبرګه ويټو(Double veto) ويل کېږي.

د امنيت شورا د دايمي غړو له خوا د ويټو له حق څخه په غير عادلانه توګه استفاده کېږي چې د وخت او نړيوالو شرايطو عوامل د دې حق په کارولو کې اغېز لرلی.

هغه پرېکړې چې د امنيت شورا د جوړېدا له پيل څخه تر ۲۰۰۸ کال پورې ويټو شوي، په لاندې ډول دي:

روسيې ۱۲۳ ځلي، امريکا ۸۱ ځلي، انګليستان ۳۲ ځلي، فرانسې ۱۸ ځلي او چين ۶ ځلي.

شوروي د ۱۹۴۶ او ۱۹۶۲ کلونو ترمنځ ۱۰۰ ځلي او له ۱۹۶۲ کال نه تر ۱۹۸۹ کاله پورې ۱۲ ځلي له دې حق څخه استفاده کړې ده.

دا چې شوروي د ملګرو ملتونو سازمان ته د غرب پلوه هېوادونو له راتګ څخه اندېښنه لرله، نو له همدې امله تر ۱۹۶۲ کال پورې په ملګرو ملتونو کې د لويديځ بلاک هېوادونو د غړيتوب د مخنيوي په موخه يې ۵۰ ځلي ويټو کارولې ده.

انګلستان او فرانسې معمولاً د دې لپاره چې يو ماهوي پرېکړه ليک د شورا له خوا په تصويب ونه رسېږي، له ويټو څخه استفاده کړې ده.

امريکا اته ځلې د فلسطين، درې ځلې پر لبنان د اسرائيلو د يرغل (۱۹۸۲)، يو ځل د اسرائيلو له خوا د لبنان د سويلي سيمې د اشغال او يو ځل د اسرائيلو د بريدونو د محکومولو په تړاو د ويټو له حق څخه استفاده کړې ده.

همدغه راز د امريکا متحده ايالتو د مرکزي امريکا د مسايلو په باب په لاندې مواردو کې له ويټو څخه کار اخيستی دی:

په ۱۹۸۲ کال کې د هاندوراس پر وړاندې پوځي عمليات، په ۱۹۸۳ کال کې پر ګراناډا پوځي يرغل او په ۱۹۸۴ کال کې د نيکاراګوا پر سرحدي سيمو د ماينونو کرل.

يو شمېر هېوادونه د ويټو له حق څخه د دفاع په موخه بېلابېل دلايل وړاندې کوي، خو ځيني نور بيا د دې امتياز پر وړاندې مخالفت کوي او په دې اړه خپل دلايل لري، چې دلته به يې په تفصيل سره وڅېړو.

**الف: د ويټو پلويان**

د ويټو له حق څخه د دفاع پلويان په لاندنيو دلايلو استناد کوي:

۱- د ويټو حق يو قانوني امتياز دی چې په ۱۹۴۵ کال کې د ملګرو ملتونو د بنسټ ايښودونکو غړو او وروسته د نويو غړو له خوا د امنيت شورا پنځه دايمي غړو ته ورکړل شو. د ملګرو ملتونو غړو د منشور تر تصويب وروسته د شورا د پرېکړو الزاميت منلی دی.

۲- دا چې د پنځو سترو قدرتونو ګټې او نظریات سره جلا دي، طبیعي ده چې نور هېوادونه به ددغو پاشلو نظریاتو او ګټو تابع وي. په همدې اساس، کله چې دامنیت شورا دایمي غړي د یوې مسئلې پرسر توافق ته ورسېږي، د یوه نړیوال لیدلوري او سیاسي حل استازیتوب کوي.
۳- د ویټو حق د عمومي اسامبلې په وړاندې د توازن یو عامل ګڼل کېږي. په عمومي اسامبلې کې ډېر کوچني هېوادونه لکه (کومور) او (سېشل) د چین او امریکا په څېر لویو هېوادونو سره په رایه کې برابر حق لري، خو په امنیت شورا کې د رایې ډول د قدرت پراساس ټاکل شوی دی.
۴- ویټو د امنیت شورا د دندې په اجرا کې د نړیوالې سولې او منیت ساتنې په برخه کې یو مهم عامل نه شي کېدای. ځکه که ویټو نه وای، دغو پنځو نړیوالو قدرتونو به خپلو موخو ته د رسېدا لپاره له نورو لارو چارو کار اخیست.
- وېټو په امنیت شورا کې ددایمي غړو ترمنځ د شخړې او اختلاف مخه نیسي.
- که چېرې د وېټو حق موجود نه وای، ممکن د ملتونو ټولنې په څېر، ځیني قدرتونه له سازمان څخه وتلي وای.

**ب: د وېټو مخالفین**

هغه کسان چې د وېټو له حق سره مخالفت کوي داسې دلایل وړاندې کوي:
۱- د ویټوحق د منشور ددویمې مادې او لومړۍ فقرې له مخې د غړو هېوادونو د حاکمیت د برابرۍ له اصل سره په ټکر کې دی.
۲- د امنیت شورا دایمي غړو ته د وېټو حق ورکړه، د شورا له خوا د دوی پر وړاندې هر ډول اقدام ناشونی کوي. که چېرې د امنیت شورا د یوه دایمي غړي له خوا سوله نقض یا تجاوز کارانه اقدام ترسره شي، متجاوز هېواد کولی شي چې له وېټو څخه په استفادې د ځان پر وړاندې د امنیت شورا د هرډول اقدام یا پرېکړې مخه ونیسي.
د بېلګې په توګه کولی شو لاندې پېښو ته اشاره وکړو:
الف- په **۱۹۵۲** کال کې د هنګري په قضیه کې شوروي اتحاد مداخله وکړه او د وخت حکومت په نسکورولو سره یې په ښکاره ددغه هېواد خپلواکي ترپښو لاندې کړه.
ملګرو ملتونو دپېښې د څېړنې په موخه یوه ځانګړې کمېټه جوړه کړه، خو هنګري ته د ورتګ اجازه ور نه کړل شوه.
دغه راز امنیت شورا غوښتل چې د شوروي ددې اقدام پروړاندې یو پرېکړه لیک صادر کړي خو نوموړي هېواد وېټو کړ او قضیه همداسې پاتې شوه.
ب- پر افغانستان د شوروي د پوځي یرغل د غندنې په اړه امنیت شورا د یوه پرېکړې مسوده وړاندې کړه، خو شوروي دغه پرېکړه لیک وېټو او رد کړ.

ج- په ۱۹۸۳ کال کې امریکا پر ګراناډا پوځي یرغل وکړ. امنیت شورا د امریکا ددې اقدام پر وړاندې یو پرېکړه لیک چمتو کړ، خو د نوموړي هېواد له خوا وېټو شو.

۳- د شورا ددایمي غړو ګټو ته په کتو په شورا کې ډېرې پرېکړې له ځنډ یا رکود سره مخ کېږي. دلته به له یو څو بېلګو یادونه وکړو:

الف- په ۱۹۷۴ کال کې انګلیستان، امریکا او فرانسې د ملګرو ملتونو سازمان څخه د سوېلي افریقا د ایستلو پرېکړه لیک وېټو کړ.

ب- په ۱۹۸۲ کال کې د امریکا متحده ایالاتو پر لبنان د اسرائیلو دیرغل په اړه درې پرېکړه لیکونه وېټو کړل.

ج- او په ۱۹۸۲ کال کې امریکا او انګلستان د فالکلن ټاپو د بحران په اړه پرېکړه لیک وېټو کړ.

**۲- د امنیت شورا کړنلاره (کاري طرزالعمل)**

د امنیت شورا مؤقت طرزالعمل د غونډو رابلل، اجنډا، ریاست او نور اړونده مسایل دي چې په لنډ ډول به ورته اشاره وکړو:

**الف- د شورا غونډې**

د شورا غونډې پر دوو برخو: نوبتي او غیر نوبتي وېشل شوې دي.

نوبتي غونډې د منشور د ۲۸ مې مادې ۲ مې فقرې او مؤقتې غونډې د داخلي کړنلارې د ۴ مې مادې پر بنسټ په کال کې دوه ځلې دایرېږي.

غیر نوبتي غونډې د اړتیا پرمهال دایرېږي. د غونډو ترمنځ واټن له تر لږه باید څوارلس ورځې وي، خو دغه قاعده تر ډېره د شورا له خوا نه ده رعایت شوې. مثلاً، امنیت شورا په ۱۹۵۹ کال کې یوازې نهه غونډې وکړې چې دا د ملګرو ملتونو په تاریخ کې ترټولو کم شمېر غونډې بلل کېږي.

د امنیت شورا غونډې د عمومي اسامبلې په توصیه، د شورا د هر غړي او یا د عمومي منشي د غوښتنې پر اساس جوړېږي.

که د منشور د ۳۵ مې او ۱۱ مې مادو پر اساس کوم اختلاف یا شخړې د امنیت شورا پام ځان ته ور واړاوه، د شورا رئیس کولی شي چې غونډه دایره کړي.

**ب- دکار اجنډا**

د ملګرو ملتونو عمومي منشي د بېلابېلو هېوادونو او د اصلي څانګو عرایض او په امنیت شورا پورې اړوند نور مسایل شورا ته د بحث لپاره وړاندې کوي.

امنیت شورا د هرې غونډې لنډ مهاله اجنډا د عمومي منشي له خوا تنظیم او وروسته شورا ته د تصویب لپاره وړاندې کېږي.

د کار اجنډا باید له غونډې لږ تر لږه درې ورځې مخکې د عمومي منشي له خوا امنیت شورا ته اعلان شي. خو په بیړنیو حالاتو کې د غونډې له جوړېدا سره هممهاله اعلانېږي. شورا د غونډې تر پیل وړاندې باید خپله اجنډا تصویب کړي. که په غونډه کې پر ټاکل شوې اجنډا غور ونه شي، موضوع به راتلونکې غونډې ته وځنډول شي. مګر دا چې شورا بل ډول تصمیم ونیسي.

**ج- د شورا مشري**

د امنیت شورا مشري د انګلیسي د الفبا تورو په ترتیب په نوبتي ډول د هر دایمي غړي هېواد پر غاړه وي. د امنیت شورا د ریاست دوره یوه میاشت ټاکل شوې ده.

که د امنیت شورا مشر په شورا کې د یوې مسئلې څېړل چې دده په خپل هېواد پورې اړه ولري، د دندې د ښې اجرا او حسن نیت پراساس کولی شي د شورا له مشرۍ څخه تېر شي چې په دې صورت کې د شورا څوکۍ باید د انګلیسي د الفبا تورو له مخې بل هېواد ته وسپارل شي.

**د- د شورا دچارو اداره**

د شورا مشر د غونډې اجنډا اعلانوي او هر غړي ته د بحث او نظر وړاندې کولو لپاره په نوبت سره بلنه ورکوي. شورا کولی شي د اړتیا پرمهال د یوې ځانګړې موضوع د څېړلو په موخه کمېسیون، کمېټه یا یو مخبر وټاکي. دشورا مشر کولی شي چې مخبر ته د لومړیتوب حق ورکړي.

کله چې د یادو مراجعو له خوا طرحه وړاندې شي، د شورا مشر باید له ځنډ پرته خپل حکم صادر کړي.

که حکم تر نیوکې لاندې راشي، نو د شورا مشر باید په امنیت شورا کې خپل قضاوت د بیړني تصمیم نیونې لپاره وړاندې کړي. د شورا د مشر حکم ترهغه چې نقض شوی نه وي، معتبر ګڼل کېږي.

وړاندیز شوي پرېکړه لیکونه، اصلاحیې او د ماهوي طرحو وړاندیزونه ( substantive motions ) باید په لیکلې بڼه استازو ته ورکړل شي.

اصلي وړاندیزونو (principa motions ) او د پرېکړه لیکونو طرحو ته لومړیتوب ورکول کېږي.

لاندې وړاندیزونه چې په ترتیب سره ذکر شوي دي، په غونډه کې به پر ټولو اصلي وړاندیزونو او د پرېکړه لیکونو پر طرحو لومړیتوب ولري:

۱- د غونډې ځنډول

۲- د غونډې مؤقتي رخصتي

۳- بلې ټاکل شوې ورځ او ساعت ته د غونډې ځنډول

۴- یوې ټاکلې نېټې ته د خبرو ځنډول

۵- د اصلاحیې پېژندنه

د وړاندیز شوې طرحې او پرېکړه لیک په اړه تر رای ګیرۍ مخکې، د لغوه کېدو امکان یې شته دی. د ملګرو ملتونو هر غړی د امنیت شورا په غونډو کې برخه نه شي اخیستی. که امنیت شورا په یوه غونډه کې د یوه غړي ګډون لازمي او ګټور وګڼي او یا هم د منشور د ۳۵ مې مادې او لومړۍ فقرې له مخې یوې مسئلې ته د امنیت شورا پام ور واړوي، کولی شي چې نوموړي هېواد ته د شورا په غونډه کې یوازې د ګډون اجازه ورکړي.

که د منشور د پورتنۍ مادې او یا د ۳۲ مې مادې له مخې د ملګرو ملتونو یوه غړي ته په امنیت شورا کې د ګډون اجازه ورکړل شي، دغه غړی کولی شي چې شورا ته د پرېکړه لیک یوه طرحه وړاندې کړي.

طرحه به د امنیت شورا د یوه غړي له غوښتنې وروسته شورا ته د رای اخیستنې په موخه وړاندې شي.

**هـ- د شورا ډاګیزې غونډې**

د امنیت شورا غونډې ډاګیزې (علني) دي، مګر دا چې بل ډول تصمیم ونیول شي. البته د شورا له لوري عمومي اسامبلې ته د عمومي منشي د ټاکنې په اړه توصیه باید په سري (پټه) غونډه کې ترسره شي.

د شورا د علني غونډې رسمي سوابق او همدارنګه نور اړونده اسناد باید له ځنډ پرته په رسمي ژبو خپاره شي.

سرمنشي باید د شورا د پټې غونډې په اړه یوه خبرپاڼه خپره کړي. د ملګرو ملتونو هغه غړي چې د شورا په سري غونډو کې برخه اخلي، له غونډې وروسته کولی شي چې د سوابقو د ترلاسه کولو لپاره عمومي دفتر ته مراجعه وکړي.

امنیت شورا کولی شي د ملګرو ملتونو هغو غړو ته چې جواز لري، یادو سوابقو او اسنادو ته د لاسرسي اجازه ورکړي.

عمومي منشي هر کال باید د محرمو دوسیو او اسنادو یو لېست چمتو او امنیت شورا ته یې وړاندې کړي. امنیت شورا د اسنادو له ترلاسه کولو وروسته پرېکړه کوي چې له دې جملې کوم اسناد باید ښکاره او کوم یې پټ یا محرم وساتل شي.

**و- په امنیت شورا کې اصلاحات**

د ملګرو ملتونو سازمان له تأسیس څخه راهیسې په امنیت شورا کې د څوکیو د عادلانه وېش موضوع مطرح ده او له هماغه پیله یو شمېر هېوادونو امریکا، روس، چین، فرانسې او انګلستان ته د وېټو حق له ورکړې سره مخالفت کاوه.

خو په دې اړه رسمي وړاندیز په ۱۹۵۷ کال کې د لاتیني امریکا د ۱۷ هېوادونو له خوا د عمومي اسامبلې یولسمې او دولسمې عمومي غونډې اجنډا ته وړاندې شو.

همدغه راز په **۱۹۵۶** کال کې د ناپېیلو هېوادونو غورځنګ او په **۱۹۶۳** کال کې د افریقا د خپلواکې شورا کنفرانس له خوا هم د اصلاح وړاندیزونه وشول.
خو د سازمان د غړو زیاتوالي ته په کتو په سازمان کې د اصلاح غوښتنې بهیر ګړندی شو او بالاخره په **۱۹۶۳** کال کې د [**۱۸/۱۹۹۱**] نمبر پرېکړه لیک له مخې د عمومي اسامبلې له لوري په امنیت شورا کې د غیر دایمي غړو شمېر له **۶** څخه **۱۰** ته زیات شو.
د نړیوالو بدلونونو په لړ کې په امنیت شورا کې د اصلاحاتو مسئله له سره مطرح شوه او له **۱۹۷۹** کال راهیسې د عمومي اسامبلې د کلنۍ غونډې د بحث موضوع ده.
په سومالیا کې د ملګرو ملتونو د ماموریت د پاتې راتلو له امله، د ناپېیلو غورځنګ سازمان په خپله لسمه سرمشریزه غونډه کې چې په **۱۹۹۲** کال په جاکارتا کې ترسره شوه، په امنیت شورا کې د اصلاحاتو غوښتنه وکړه.
بالاخره عمومي اسامبلې په **۱۹۹۳** کال کې د یوه پرېکړه لیک په ترڅ کې یوې کمېټې ته دنده وسپارله ترڅو په امنیت شورا کې د نویو غړو د زیاتېدو مسئله وڅېړي.
دغې کاري کمېټې یوه لسیزه فعالیت وکړ خو نه یوازې دا چې په امنیت شورا کې د غړو د زیاتوالي په اړه د ملګرو ملتونو غړي په خپل منځ کې سره توافق ته ونه رسېدل، بلکې ترمنځ یې جدي اختلافونه هم رامنځته شول.
په ملګرو ملتونو، په ځانګړې توګه د امنیت شورا په جوړښت کې د نویو اصلاحاتو بله لړۍ په **۲۰۰۳** کال کې د ملګرو ملتونو د پخواني عمومي منشي کوفي عنان له خوا پیل شوه.
نوموړي د بدلونونو په موخه یو شپاړس کسیز پلاوی وګوماره او پلاوي له څېړنې وروسته په **۲۰۰۴** کال د ډیسمبر په **۲** مه خپل راپور عمومي منشي ته وړاندې کړ.
له راپور وروسته عمومي منشي د (امنیت، پرمختګ او بشري حقونو د لا تحقق په موخه) تر نامه لاندې په **۲۰۰۵** کال د مارچ په **۲۱** مه یوه اعلامیه خپره کړه، چې د امنیت شورا په جوړښت کې د بدلونونو په موخه د دوو اصلاحي موډلونو (الف موډل- ب موډل) وړاندیز په کې شوی و.
خو دغه موډلونه تر اوسه نه دي منل شوي او اوس هم د عمومي اسامبلې په هره غونډه کې د دولتونو له خوا مطرح کېږي.
د کوفي عنان وړاندیز شوي موډلونه په دې ډول دي:
- **الف موډل**: په دې موډل کې دنړۍ له بېلابېلو لویو وچو څخه بې له وېټو **۶** دایمي غړي او **۱۳** غیر دایمي غړي وړاندیز شوي دي.
د الف موډل پر اساس **۲** دایمي څوکۍ افریقا، دوه اسیا، **۱** څوکۍ اروپا او **۱** څوکۍ د امریکا لویې وچې ته ځانګړې شوې دي. همدا راز د غیردایمي غړیتوب لپاره **۴** څوکۍ افریقا، **۳** څوکۍ اسیا، **۳** څوکۍ اسیا او پاسفیک او **۲** څوکۍ اروپا او **۴** څوکۍ امریکا ته ځانګړې شوې دي.

ددې موډل له مخې غیر دایمي غړي یو ازې د یوې دورې لپاره د دوو کلونو لپاره ټاکل کېږي.
- **ب موډل**: ددې موډل له مخې د امنیت شورا اوسني **۱۵** غړي **۲۴** ته زیات شوي دي. په دغه موډل کې دایمي غړي نه دي پېشبیني شوي، خو ۸ غړي پرته له ټاکلې دورې څخه د څلورو کلونو لپاره پېشنهاد شوي دي. پر دې سربېره دوه غړي پرته له ټاکلې دورې څخه د دوو کلونو لپاره پېشنهاد شوي دي. هغه غړي چې د تجدید وړ نه دي او د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي، په دې ډول دي: اسیا، افریقا، اروپا او امریکا هر یو دوه دوه غړي. همدغه راز ۴ غیر دایمي څوکۍ افریقا، ۳ اسیا، ۱ اروپا او ۳ امریکا ته ځانګړې شوې دي.

## دویمه څانګه: عمومي اسامبله

### ۱- د عمومي اسامبلې د غړو جوړښت

عمومي اسامبله د ملګرو ملتونو له غړو څخه جوړ مهم مشورتي ارګان دی. د ملګرو ملتونو هر غړی دولت کولی شي چې په اسامبله کې پنځه تنه استازي ولري او هر هېواد یوازې د یوې رایې حق لري.
عمومي اسامبله د یو نړیوال مجلس په توګه د نړیوالې ټولنې د غړو د نظریاتو او بحثونو ځای دی. که څه هم عمومي اسامبله د ملګرو ملتونو یو نړیوال ارګان ګڼل کېږي، خو تر یوې مودې سازمان ته د نوي غړیتوب له منلو یې ډډه وکړه. هغه دوه عمده دلایل چې په ملګرو ملتونو سازمان کې یې د یو شمېر هېوادونو د غړیتوب مخنیوی کاوه په دې ډول دي:
- د دوو نړیوالو زبرځواکونو(امریکا او شوروي) سیالۍ؛
- له جغرافیوي پلوه د یو شمېر هېوادونو کوچنیوالی.
تر **۱۹۵۵** کال پورې د یادو دوو زبرځواکونو سیاسي رقابت ددې لامل شو چې سازمان ته د نویو هېوادونو پرمخ د غړیتوب دروازې وتړل شي.
خو وروسته یو زیات شمېر لویو او کوچنیو هېوادونو د ملګرو ملتونو سازمان ته د غړیتوب لار پیدا کړه چې له دې سره د عمومي اسامبلې د نړیوال توب ماهیت څرګند شو. خو بیاهم ځینې هېوادونه د ځینو دلایلو له مخې له غړیتوب څخه پاتې شول. لکه ختیځ- لویدیځ المان او سوېلي او شمالي کوریا.
بالاخره دغو هېوادونوهم په **۱۹۷۳** او **۱۹۹۱** کلونو کې په رسمي ډول د ملګرو ملتونو غړیتوب ترلاسه کړ. دغه راز سویس هم په ۲۰۰۲ کال کې د ملګرو ملتونو غړی شو.

د نوي غړيتوب په ترلاسه کولو کې يو بل خنډ له جغرافيوي پلوه د يو شمېر هېوادونو د کوچنيوالي مسئله وه.
تر اويايمې لسيزې پورې امريکا او يو شمېر نورو لويديځو هېوادونو په ملګرو ملتونو سازمان کې د کوچنيو هېوادونو (Micro-state) له غړيتوب سره مخالفت کاوه او دليل يې دا و چې کوچني هېوادونه نه شي کولی د منشور د پرېکړو مطابق خپلې ژمنې سرته ورسوي.
په همدې اساس، په ۱۹۶۷ کال کې د ملګرو ملتونو عمومي منشي (اوتانټ) هم څرګنده کړه چې کوچني هېوادونه د منشور د پرېکړو د پلي کولو وړتيا نه لري. د استعمار ځوړتيا او د نويو هېوادونو په رامنځته کېدو سره، د کوچنيو هېوادونو په اړه دا ډول نظريات بدل شول او د اويايمې لسيزې په لومړيو کې کوچني هېوادونه وتوانېدل چې د ملګرو ملتونو غړيتوب ترلاسه کړي او له دې سره د عمومي اسامبلې نړيوال توب تحقق پيدا کړ.

**۲- رايه**

د منشور د ۱۸ مې مادې له مخې د عمومي اسامبلې هر غړی د يوې رايې حق لري او د رايې اچونې طريقه د موضوع په ارزښت پورې اړه لري.
په عمومي اسامبلې کې د بحث وړ مسايل کولی شو په لاندې ډول وويشو:
۱- مهم مسايل ۲- بېلابېل مسايل
عمومي اسامبله د مهمو مسايلو په اړه په دوه ثلثه رايو تصميم نيسي او مهم مسايل په لاندې ډول دي:
- د نړيوالې سولې او امنيت د ټينګښت په اړه توصيه کول
- د امنيت شوارد غيردايمي غړو ټاکل
- د اقتصادي او ټولينزې شورا د غړو ټاکل
- د منشور ۸۶ مې مادې له مخې د قيموميت شورا د غړو ټاکل
- د ملګرو ملتونو په سازمان کې د نويو غړو منل
- د غړو د مزاياوو او حقونو ځنډول او د غړو ايستل
- د قيموميت په نظام پورې د اړونده مسايلو راجع کول
- او په بوديجې پورې اړونده مسايل
د يادونې ده، که څه هم عمومي اسامبله کولی شي چې د رايو په ساده اکثريت نور مسايل د مهمو مسايلو په نوملړ کې شامل کړي، خو تر دې مهاله يې د مهمو مسايلو په نوملړ کې نور مسايل نه دي شامل کړي او يوازې پورتني مسايل تر بحث او څېړنې لاندې نيسي.

په همدې اساس عمومي اسامبلې په ۱۹۵۰ کال کې د سوېلي افریقا مسئله نړیوالې محکمې ته وړاندې کړه او خپل دغه اقدام یې یو غیر مهم تصمیم وګاڼه.
د عمومي اسامبلې ترسره شوې پرېکړې او تصمیمونه د (مصوبې)، (پرېکړه لیک) او (اعلامیې) په نومونو یادیږي.
په عمومي اسامبلې کې د رایې اچونې په اړه اعلان له نورو هغو سره توپیر لري.
ځیني وخت د یوې موضوع په اړه د رایې اچونې اعلان د ټولو غړو د خوښې (ګډ تصمیم) پر اساس صورت نیسي چې په دې ډول حالت کې د عمومي اسامبلې غړي له ګډ تصمیم څخه هرکلی کوي او دا ډول تصمیم د ټولپوښتنې اړتیا هم له منځه وړي.
خو ځیني وخت بیا له یوې موضوع سره د توافق په صورت کې غړي په علني ډول خپل یو لاس پورته کوي.
دغه راز ډېری وختونه مستقیمه رایه هم کارول کېږي چې په دې ډول رایه اچونه کې د هر هېواد د استازي نوم اخیستل کېږي او راځي خپله رایه وړاندې کوي.
همدا راز پټه رایه اچونه هم هغه طریقه ده چې معمولاً په ټاکنو کې ترې استفاده کېږي.
د پټې رایې اچونې ښکاره بېلګه د عمومي اسامبلې نولسمه عمومي غونډه ده، چې په یاده غونډه کې تصمیمونه او پرېکړه لیکونه له رای ګیرۍ پرته د رایو په اتفاق ترسره شول.
د رای ګیرۍ دغه ډول تر ډېره اغېزمن دی، ځکه چې د غړو ترمنځ د ناندریو او شخړو مخه نیسي.
د یادونې ده چې په عمومي اسامبله کې د ټولو غړو رایې سره برابرې دي او د اسامبلې ټول غړي (لوی، کوچني، ځواکمن او کمزوري) هېوادونه د رایې اچونې له برابرو حقونو څخه برخمن دي.
په یوه سازمان کې د رایې د برابرۍ اصل د یوې مسئلې د اغېزناک حل تر ټولو غوره لار ګڼل کېږي.
خو دا چې د ځانګړو موضوعاتو په اړه پرېکړې په انفرادي ډول نه شي ترسره کېدای، نو د رای ګیرۍ په جریان کې په عمومي اسامبله کې بېلابېلې ډلې جوړېږي. لکه د لاتینې امریکا د هېوادونو ډله، د اسیایي او افریقایي هېوادونو ډله او د لویدیځو هېوادونو ډله.
په اسامبله کې دغه ډلبازۍددې سبب کېږي چې یو شمېر محدود هېوادونه له یوه ځانګړي بلاک سره په یوځای کېدو تر یوه بریده خپل سیاسي نفوذ پراخ کړي، داسې چې د هغه له حقیقي قدرت سره په تناسب کې نه وي.
له همدې امله د امریکا متحده ایالات، عمومي اسامبله د اکثریت دیکتاتورۍ د مرکز په نامه یادوي، ځکه د درېیمې نړۍ هېوادونه په ګډه د یوې ځانګړې ډلې په جوړلو له خپل نفوذ څخه په استفادې د ځینو مسایلو په اړه په خپله ګټه پرېکړه کوي.

**۳- د عمومي اسامبلې دندې او واکونه**

عمومي اسامبله چې د ټولو هېوادونو له استازو څخه جوړه شوې ده، د يوه نړيوال ليدلوري ځرګندونه کوي.

د عمومي اسامبلې ټول غړي د منشور د ۱۰ مې او ۱۷ مې مادو پربنسټ له پراخو واکونو څخه برخمن دي.

هغو بېلابېلو مسايلو ته په پام سره چې د عمومي اسامبلې په غونډو کې تربحث لاندې نيول کېږي، کولی شو ووايو چې دغه ارګان د نړيوالو پر عمومي افکارو باندې د پام وړ اغېز لري.

د عمومي اسامبلې له دې ځانګړنو سره نه شو کولی چې دې ارګان ته يو نړيوال پارلمان ووايو او يا هم د هېوادونو له داخلي پارلمانونو سره يې پرتله کړو، ځکه عمومي اسامبله داسې قوانين نه تصويبوي چې الزامي وي خو پرېکړه ليکونه يې توصيوي بڼه لري.

د منشور لسمې مادې عمومي اسامبلې ته پراخ واکونه ورکړي دي. د يادې مادې له مخې (عمومي اسامبله کولی شي د منشور په چوکاټ کې هره مسئله د خپلو واکونو له مخې تر بحث او غور لاندې ونيسي او همدارنګه د منشور په ۱۲ مه ماده کې له راغلي حالت پرته، عمومي اسامبلې کولی شي د ملګرو ملتونو غړو يا امنيت شورا ته د ځينو مسايلو په اړه توصيه وکړي).

همدا راز د منشور په ۱۱ مه ماده کې راغلي دي:

((عمومي اسامبله کولی شي چې د نړيوالې سولې او امنيت په موخه د ګډې همکارۍ اصول لکه د بې وسلې کولو او د وسلو د تنظيم اصول تر بحث او څېړنې لاندې ونيسي او دغه راز کولی شي چې د يادو اصولو په اړه د سازمان غړو او يا هم امنيت شورا ته توصيه وکړي. همدغه راز د مهمو مسايلو په اړه پرېکړه به د عمومي اسامبلې له خوا تر بحث وروسته امنيت شورا ته وړاندې شي)).

په ټوله کې کولی شو چې د عمومي اسامبلې واکونه پر انحصاري او غير انحصاري واکونو ووېشو.

**الف: د عمومي اسامبلې انحصاري واکونه**

عمومي اسامبله په لاندې برخو کې انحصاري واکونه لري او د سازمان نورې څانګې حق نه لري چې د اسامبلې په چارو کې لاسوهنه وکړي.

- د فرعي څانګو جوړول؛
- د نړيوالو حقوقو تدريجي پراختيا او تدوين؛
- نا خپلواکه سيمې؛
- او د ملګرو ملتونو داخلي مسايل.

۱- **د فرعي څانګو جوړول**: عمومي اسامبله کولی شي چې فرعي څانګې جوړې کړي. د فرعي څانګو له جملې د ملګرو ملتونو اختصاصي صندوق دی، چې موخه یې له مخ پر ودې هېوادونو سره د پانګونې په برخه کې مالي مرسته ده.
خو وروسته دغه صندوق بیا (د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام) په نوم ونومول شو. فرعي څانګې به وروسته هر یو په جلا- جلا توګه وڅېړو.
۲- **د بین المللي حقوقو تدریجي پراختیا او تدوین**: د منشور د ۱۳ مې مادې له مخې، عمومي اسامبله د نړیوالو حقوقو د پراختیا او تدوین په موخه لازمې هڅې کوي.
په همدې اساس، عمومي اسامبلې په ۱۹۴۷ کال کې د نړیوالو حقوقو( international law commission ) په نامه یو کمېسیون جوړ کړ.
یاد کمېسیون د نړۍ له څلور د برش تکړه حقوقپوهانو څخه جوړ شوی دی او د اسامبلې له خوا د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي.
دا کمېسیون په کال کې یو ځل غونډه کوي او غړي یې په کمېسیون کې د خپل دولت استازیتوب نه شي کولی بلکې د هغوی ټاکل د علمي صلاحیت او تخصص پر اساس کېږي.
د کمېسیون عمده مسؤلیتونه د نړیوالو حقوقو پراختیا او د قانوني طرحو چمتو کول دي. البته ځینې وختونه د عمومي اسامبلې او اقتصادي او ټولنیزې شورا له لوري هم نوموړي کمېسیون ته ځینې طرحې وړاندې کېږي.
وروسته له دې چې کمېسیون قانوني طرحه چمتو کړي، عمومي اسامبله د یوه کنوانسیون د لاسلیک په موخه یو نړیوال کنفرانس جوړوي.
هغه نړیوال کنوانسیونونه چې ملګرو ملتونو تر دې دمه لاسلیک کړي دي:
۱- د سمندرونو او تر څارنې لاندې سیمو په اړه کنوانسیون، جینیوا (۱۹۵۸)
۲- د سواحلو په اړه کنوانسیون، جینیوا (۱۹۵۸)
۳- د ازادو اوبو په اړه کنوانسیون، جینیوا (۱۹۵۸)
۴- په ازادو سمندرګیو کې د کبانو ښکار او د ژوندیو موجوداتو د ساتنې په اړه کنوانسیون، جینیوا - (۱۹۵۸).
۵- په ډیپلوماتیکو اړیکو پورې اړوند کنوانسیون، ویانا- (۱۹۶۱)
۶- په قونسولي اړیکو پورې اړوند کنوانسیون، ویانا- (۱۹۶۳)
۷- د معاهداتو په حقوقو پورې اړوند کنوانسیون، ویانا- (۱۹۶۹)
۳- **ناخپلواکه سیمې**:
عمومي اسامبله تر قیمومیت (سرپرستۍ) لاندې سیمو په اړه یو لړ پراخ واکونه لري.

د قيموميت او څارنې په اړه د هوکړه ليکونو تصويب او د تر قيموميت لاندې سيمو ته د خپلواکۍ په اړه پرېکړه، د عمومي اسامبلې له انحصاري واکونو څخه ګڼل کېږي.
عمومي اسامبلې ناخپلواکه سيمو ته د ازادۍ په ترلاسه کولو کې ډېرې هلې ځلې کړې دي. اسامبلې په ۱۹۲۰ کال کې هغه سيمې چې د يو شمېر هېوادونو له خوا مستعمره او اشغال شوې وې، د خپلواکۍ په اړه يې يوه اعلاميه خپره کړه او د دې اعلاميې د څار او پلي کېدا په موخه يې يوه کمېټه هم جوړه کړه.

**۴- د ملګرو ملتونو کورني مسايل:**

د امنيت شورا د غير دايمي غړو ټاکل، د اقتصادي او ټولنيزې شورا د غړو ټاکل، د نورو تخصصي موسسو د غړو ټاکل او د بوديجې تنظيم د عمومي اسامبلې له انحصاري واکونو څخه ګڼل کېږي.
دا چې د سازمان د بوديجې تصويب تر ټولو مهمه مسئله ده، لاندې به يې په تفصيل سره وڅېړو.
- د بوديجې تنظيم او چمتوکول: د ملګرو ملتونو د بوديجې د تنظيم په اړه د منشور اولسمه ماده داسې حکم کوي:
الف- عمومي اسامبله د ملګرو ملتونو د سازمان د بوديجې د تصويب او څېړلو واک لري.
ب- عمومي اسامبله مسؤليت لري چې د سازمان د مالي لګښت د تأمين په موخه له غړو هېوادونو څخه ټاکلې ونډه راټوله کړي.
ج- عمومي اسامبله ټول هغه مالي او بوديجوي مسايل چې د ۵۷ مې مادې له مخې د سازمان تخصصي ارګانونو ته منظورېږي، تصويب او څېړي.
له پورتنۍ مادې څخه داسې ښکاري چې د ملګرو ملتونو د بوديجې تنظيم او تصويب او پر غړو دولتونو د مالي ونډې وېشل، د عمومي اسامبلې له انحصاري واکونو څخه شمېرل کېږي.
د عمومي اسامبلې له لورې د بوديجې تر تصويب وروسته پر ټولو غړو د اجرا وړ ده.
د ملګرو ملتونو سازمان د بوديجې په اړه د لا ډېرو معلوماتو لپاره لاندې درې ټکي د يادولو وړ دي:
۱- د ملګرو ملتونو د سازمان د مالي لګښت ورکړه؛
۲- د ملګرو ملتونو د بوديجې د تصويب او تنظيم پړاوونه؛
۳- د غړو هېوادونو له لورې د سازمان مالي ونډه.
۱- د ملګرو ملتونو مالي لګښت: د ملګرو ملتونو د سازمان مالي لګښت په درې برخو وېشل شوی دی:

●عادي بودیجه: عادي بودیجه په هرو دوو کلونو کې یوځل د عمومي اسامبلې له لوري تصویبیږي. د بودیجې پېشنهاد لومړی د عمومي منشي له خوا کېږي، وروسته بیا د څېړلو په موخه د اداري او بودیجوي چارو مشورتي کمېټې ته وړاندې کېږي.
همدارنګه پر پېشنهادي بودیجې بیا کتنه او بېلابېلو څانګو ته د بودیجې تخصیص، د پروګرامونو او همغږۍ ۳۴ کسیزې کمېټې ( committee for programs and coordination ) له لوري ترسره کېږي.
د ۲۰۰۹ - ۲۰۰۸ کلونو ځانګړې شوې بودیجه چې په ترتیب سره په ۲۰۰۷ کال د ډسمبر په ۲۱ مه په مقدماتي پړاو کې تصویب شوه، نږدې ۴،۱۷ ملیارده امریکایي ډالره اټکل شوې وه.
● نا اټکل شوې او غیر عادي بودیجه(unforeseen and Extraordinary Expenses)
د ملګرو ملتونو نا اټکل شوې او فوق العاده بودیجه په هرو دوو کلونو کې په عمومي بودیجه کې پېشبیني کېږي.
عمومي منشي واک لري چې د ملګرو ملتونو د مالي او بودیجوي چارو له مشورتي کمېټې سره په سلا او همغږۍ د نړیوالو بیړنیو مسایلو په موخه نږدې دوه میلیونه کلنۍ بودیجه چمتو کړي.
که چېرې د ځانګړې یا غیر عادي بودیجې لپاره تر دوو میلیونو ډالره زیاتو پیسو ته اړتیا ولیدل شي، عمومي اسامبله باید په دې اړه بیړنۍ غونډه را وغواړي او پرېکړه وکړي.
مثلاً، په ۱۹۸۸ کال کې د ایران او عراق ترمنځ له اوربند وروسته، ملګرو ملتونو د دواړو هېوادونو ترمنځ پر ګډه پوله نړیوال سوله ساتي ځواکونه ځای پرځای کړل او ددغه ماموریت د مالي لګښت لپاره عمومي اسامبلې بیړنۍ غونډه وکړه او اړه شوه، ترڅو د شپږو میاشتو لپاره نا اټکل شوې بودیجه چې نږدې ۰۰۰،۲۰۰،۷۵ امریکایي ډالرو ته رسېده، په تصویب ورسوي.
● د معاشونو له مالیاتو څخه لاسته راغلې بودیجه (working capital fund)
په ۱۹۴۸ کال کې د معاشونو د مالیاتو صندوق په جوړېدو سره، د هر کال لپاره د څلوېښت میلیونه ډالرو معادل بودیجه ورته اټکل شوه.
په ۱۹۸۵ کال کې دا مبلغ ۱۰۰ میلیونه ډالرو ته لوړ شو چې د یو شمېر هېوادونو له نیوکو سره مخ شو.
ددې صندوق پیسې چې د غړو دولتونو له خوا تأمینیږي، په سازمان کې د بودیجې کسر په جبرانولو کې مرسته کوي.
په بودیجه کې د کسر لامل د غړو له خوا په خپل وخت د مالي ونډې (سهم) نه ورکول دي. پر دې سربېره ملګري ملتونه (د سازمان د ګډ ځانګړي صندوق) په نوم د پیسو یو بل صندوق هم لري چې په ۱۹۷۰ کال کې د غړو هېوادونو د داوطلبانه مرستو پراساس جوړ شو. ددې صندوق د جوړلو موخه د مالي بحران پرمهال له سازمان سره مالي مرسته کول دي.

د یادونې ده چې د پیسو له یادو دوو صندوقونو څخه یوه هم د ۱۹۸۵ کال د بودیجې کسر جبران نه شوای کړای او نه هم د سازمان مالي ستونزو په حل کې یې مرسته کړې ده.
دا راز په ۱۹۸۵ کال کې د غړو هېوادونو په ځانګړې توګه د امریکا له خوا د کلنۍ مالي ونډې نه ورکول، د سازمان په بودیجه کې لوی کسر رامنځته کړ چې له دې سره په صندوق کې هم څه پاتې نه شول.
خو بالاخره د سازمان ستونزه حل نه شوه، ځکه چې د معاشونو له مالیاتو څخه لاسته راغلې پیسې د ځانګړو حالاتو او په بودیجه کې د کوچني کسر لپاره اټکل شوې وې، نه د لوی بودیجوي کسر لپاره، چې په ملګرو ملتونو سازمان کې د لوی مالي بحران سبب وګرځېد.

**د ملګرو ملتونو د بودیجې د تنظیم څرنګوالی او د تصویب پړاوونه**

● د بودیجې د تنظیمو څرنګوالی: د ملګرو ملتونو بودیجه د عمومي اسامبلې په مختلفو کمېټو کې تر یو لړ بحث او څېړنې وروسته چمتو کېږي او دا کمېټې عبارت دي له:
۱- پنځمه کمېټه یا د ملګرو ملتونو د مالي او اداري چارو کمېټه
۲- د مالي او ادراي چارو مشورتي کمېټه
۳- د پالیسۍ او همغږۍ کمېټه
۴- د مالي ونډې کمېټه
۱- پنځمه کمېټه: دغه کمېټه د عمومي اسامبلې یوه مهمه کمېټه ده، چې د سازمان ټول اداري او مالي مسایل لکه: بودیجه، د پرسونل استخدام، د هېوادونو په ونډو کې بدلون، مالي چمتو والی او د تخصصي سازمانونو بودیجوي مسایل تر مطالعې او څېړنې لاندې نیسي.
د کمېټې پرېکړې د رایو په ساده اکثریت ترسره کېږي او وروسته خپلې پرېکړې عمومي اسامبلې ته وړاندې کوي. کمېټه معمولاً د عمومي اسامبلې د عادي غونډو پرمهال خپلې غونډې دایروي، خو د اړتیا او د بیړنۍ بودیجې د تصویب پرمهال کولی شي له عمومي اسامبلې سره په یو وخت بیړنۍ غونډه دایره کړي.
دا چې مالي کمېټه پر مالي چارو د څارنې مسؤلیت لري، نو د عمومي اسامبلې د نورو کمېټو په منځ کې ځانګړی ځای لري.
د عمومي اسامبلې په هره کمېټه کې چې د مالي مسایلو په اړه پرېکړې کېږي، ترڅو چې د مالي کمېټې تائید ترلاسه نه کړي، په اسامبلې کې به تصویب نه شي.
هغه عمده مسایل چې هر کال د پنځمې کمېټې تر څار لاندې پرې بحث کېږي:
- د ملګرو ملتونو د دوه کلنې بودیجې تصویب او څېړل
- د مالي راپورونو او د تخصصي سازمانونو د مالي چارو څېړل

- د سازمان د فعالیتونو د همغږۍ او پراختیا په موخه د پروګرامونو او طرحو څېړل
- د سازمان پر دوه کلنې جاري بودیجې بیاکتنه او څېړل
- د سازمان بېړنی مالي وضعیت
- د ملګرو ملتونو د څارنې د ګډ مرکز د راپورونو څېړل
- د ملګرو ملتونو د غړو لپاره د مالي ونډو ټاکل
- د سازمان د استخدام چارې
- د کنفرانسونو د کمېټې د راپورونو څېړل
- د ملګرو ملتونو او د هغه د تخصصي سازمانونو د کارکوونکو مصؤنیتونو او مزایاو پورې اړونده مسایلو ته رسیدګي
- د ملګرو ملتونو د کارکوونکو په اړه د سازمان ګډ سهم او په دې اړه د استخدام د نړیوال کمېسیون د راپورونو څېړل
- د تقاعد د چارو څېړل
- د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو د مالي چارو څېړل
- د ملګرو ملتونو د مالي بحران څېړل.

۲- د مالي او بودیجوي چارو مشورتي کمېټه: دا کمېټه په ۱۹۴۶ کال کې جوړه شوه چې د سازمان ۱۲ غړي په کې برخه لري.

نوموړې کمېټه د عمومي اسامبلې د کاري طرزالعمل ۱۵۵ او ۱۵۷ مې مادو پر اساس فعالیت کوي او دنده یې د سازمان د مالي او اداري چارو مطالعه او له پنځمې کمېټې سره مرسته کول دي.

هغه مهم موضوعات چې په دې کمېټه کې تر بحث لاندې نیول کېږي: د سازمان د کلنۍ بودیجې په اړه د عمومي منشي د راپور څېړل؛ د تخصصي سازمانونو د بودیجې څېړل او د هغوی مالي چارو په اړه لازم وړاندیزونه او د ملګرو ملتونو د مالي مسؤل د راپورونو څېړل.

۳- د پالیسۍ جوړونې او همغږۍ کمېټه: دا کمېټه په لومړي سر کې په اقتصادي او ټولنیزې شورا پورې تړلې وه، خو وروسته په ۱۹۷۲ کال کې د عمومي اسامبلې د یوې فرعي څانګې په توګه ومنل شوه. د دې کمېټې مهمې دندې:

د سازمان د منځ مهاله پروګرامونو څېړل؛ د پروګرامونو د لومړیتوبونو پېژندل؛ د سکرتریت د کارونو په اړه توصیه؛ د تخصصي سازمانونو دبرنامو بررسي او د عمومي اسامبلې له پنځمې کمیټې سره همکاري.

یاده کمېټه او سمهال ۳۴ غړي لري چې ۹ له افریقا، ۷ له اسیا، ۷ له لاتینې امریکا، ۴ له ختیځې اروپا او ۷ غړي یې له لویدیځې امریکا ټاکل کېږي.

د پالیسۍ جوړونې او همغږۍ کمېټې د کړنلارې له مخې، دغه کمېټه په کال کې شپږ اونۍ د پالیسۍ جوړونې او څلور اونۍ د بودیجې د څېړلو په موخه غونډې کوي.
۴- د ونډو کمېټه: د مالي ونډې د ورکړې کمېټه په ۱۹۴۶ کال کې رامنځته شوې ده او د عمومي اسامبلې له مهمو څانګو څخه ګڼل کېږي.
ددې کمېټې مهمې دندې: پر غړو هېوادونو د سازمان د بودیجې د مالي ونډې وېشنه، د هغو غړو په اړه پرېکړه نیول چې ونډه یې ځنډولې وي او د فرعي سازمانونو د غړو د ونډې په اړه مشورتي توصیې.
نوموړې کمېټه اتلس غړې لري چې د جغرافیوي وېش پربنسټ او دتجربې له مخې د درې کلونو لپاره ټاکل کېږي.
د یادونې وړ ده چې د غړو په ټاکنه کې پر جغرافیوي معیار سربېره، یاده کمېټه څو کاله په پرلپسې ډول د امریکا او شوروي په ولکه کې وه.
دغه کمېټه هر کال د خپلو فعالیتونو، د غړو د ونډې، د ونډې لپاره د معیارونو ټاکل او د سازمان د بودیجې د مناسب وېش په هکله عمومي اسامبلې ته راپور وړاندې کوي.
کمېټه دغه راز په هرو دوو کلونو کې یوځل د سازمان بودیجه د درې کلونو لپاره د یو لړ معیارونو له مخې پر غړو هېوادونو باندې تقسیموي او خپل ګزارش پنځمې کمېټې ته وړاندې کوي. دغه معیارونه د هېوادونو اقتصادي ځواک، نفوس او د هېوادونو د سړي سر عاید له مخې ټاکل شوې دي.
• دبودیجې د تصویب پړاوونه: د ملګرو ملتونو د سازمان بودیجه له ۱۹۷۴ کال راهیسې په هرو دوو کلونو کې یوځل د عمومي منشي له خوا د عمومي اسامبلې کلنۍ غونډې ته د تصویب په موخه وړاندې کېږي.
د اسامبلې پنځمې کمېټې ته د بودیجې تر وړاندې کولو مخکې د مالي او اداري چارو مشورتي کمېټه او د پالیسۍ او همغږۍ کمېټه، دبودیجې په باب د عمومي منشي راپور په غور او دقت تر بحث او څېړنې لاندې نیسي او وروسته بیا د عمومي منشي له خوا اسامبلې ته وړاندې کېږي.
عمومي اسامبلې دا راپورونه د نهایي کولو او ارزولو په موخه پنځمې کمېټې ته لېږي. نوموړې کمېټه مسؤلیت لري چې د عمومي اسامبلې ددرې میاشتنۍ عادي غونډې په جریان کې راپورونه وڅېړي او خپله وروستۍ پرېکړه عمومي اسامبلې ته وړاندې کړي.

### د ملګرو ملتونو د سازمان د بودیجې د تمویل طریقه
د عمومي اسامبلې د کړنلارې د ۱۲۰ مې مادې له مخې، د سازمان د مالي ونډې کمېټه په هرو دوو کلونو کې یوځل د سازمان مالي لګښت پر غړو دولتونو تقسیموي.

دغه راز نوموړې کمېټه کولی شي چې د اسامبلې د کړنلارې ۲۰ مې مادې له مخې، د ملګرو ملتونو د ناغړو دولتونو مالي ونډه وټاکي.
هر دولت خپله ونډه باید د عمومي منشي تر اعلان وروسته د دېرش ورځو په لړ کې او یا د میلادي کال له پیل سره سم چې د ملګرو ملتونو مالي کال هم ګڼل کېږي، تحویل کړي.
که د ځینو هېوادونو مالي کال د سازمان له مالي کال سره په ټکر کې و او نه شي کولی چې پر وخت خپلې ونډې سازمان ته تحویل کړي، د بودیجې د کسر په صورت کې سازمان کولی شي چې د معاشونو د مالیاتو له پولي صندوق او یا له احتیاطي صندوق څخه خپله مالي اړتیا پوره کړي.
د دولتونو ترمنځ د سازمان د بودیجې وېش پر ځانګړو معیارونو ولاړ دی، چې مهم او اصلي هغه یې د پیسو د ورکړې ظرفیت(Real capacity to pay) په نوم یادېږي.
همدغه راز دوه نور معیارونه هم په پام کې نیول شوي دي چې د (سړي سر کلنی او ملي عاید ) څخه عبارت دي او په امریکایي ډالرو محاسبه کېږي.
په یادو دوو معیارونو کې د هغوی منځنۍ کچه (حد اوسط ) محاسبه کېږي.
د بېلګې په توګه، د ۱۹۸۹او۱۹۹۱ کلونو د ونډې ټاکلو لپاره منځنی حد لس کاله ۱۹۷۷-۱۹۸۷ د مالي ونډې د ټاکلو لپاره د هېوادونو د سرسړي کلنی عاید په پام کې نیول شوی دی. د هېوادونو د اقتصادي ځواک د معیار پر اساس، تر ټولو زیاته ونډه امریکا ورکوي.
په ۱۹۴۶ کال کې د ملګرو ملتونو له (۱۹،۳۹۰،۰۰۰) امریکایي ډالره بودیجې څخه ۳۹ سلنه امریکا، ۱۱ سلنه انګلیستان، ۶ سلنه شوروي او پاتې نوره برخه یې ۵۲ غړو تمویل کړې وه.
تر ۱۹۵۵ کال پورې د ملګرو ملتونو د بودیجې کابو نیمه برخه امریکا، انګلیستان او شوروي اتحاد تامینوله. خو په همدې کال کې سازمان ته د نویو غړو په زیاتېدو چې ۱۱۸ ته ورسېدل، عمومي اسامبلې پرېکړه وکړه چې غړو هېوادونو ته باید د مالي ونډې د ورکړې لپاره حداکثر او حداقل معیار وټاکي، چې حداکثر د بودیجې دېرش سلنه او حداقل یې څلور سلنه وټاکل شو.
په ۱۹۷۰ کال کې په ملګرو ملتونو کې د ونډو د معیارونو د ټاکلو موضوع مطرح شوه او پرېکړه وشوه چې پر پخواني معیار سربېره باید نوي معیارونه لکه نفوس، انفلاسیون، د هېوادونو اقتصادي بحران، په بهرنیو اسعارو دداخلي اسعارو د تبادلې اړتیا او نور په پام کې ونیول شي.
په همدې لړ کې عمومي اسامبلې په ۱۹۷۳ کال کې پرېکړه وکړه، چې باید ترټولو لوړه ونډه ۲۵سلنه او ټیټه یې ۰،۰۲ برخه وټاکل شي.
خو په ۱۹۷۷ کال کې د حداقل ونډې په اړه ځینې اصلاحات رامنځته شول او دا کچه ۰،۰۱ته راکمه شوه او د حداکثر په کچې کې کوم بدلون را نغی. خو په ۱۹۹۷ کال کې یو ځل بیا د حداقل کچه را کمه شوه او د عمومي اسامبلې د ۲۱۵/۲۵ پرېکړه پر اساس، دغه کچه ۰،۰۰۱ وټاکل شوه.

خو په ۲۰۰۰ کال کې په حد اکثر کچه کې یو ځل بدلون راغی او ۲۲ سلنه وټاکل شوه چې د امریکا ونډه هم همدومره ده.

**ب- د عمومي اسامبلې غیر انحصاري واکونه**

د عمومي اسامبلې غیر انحصاري عمده واکونه: د نړیوالې سولې او امنیت ساتنه، د نړیوالې محکمې د قاضیانو ټاکل، د عمومي منشي ټاکل، د نویو غړو منل - ایستل، د غړیتوب ځنډول او د منشور اصلاح.

۱- د نړیوالې سولې او امنیت ساتنه: د عمومي اسامبلې تر ټولو عمده غیر انحصاري واک چې په حقیقت کې د امنیت شورا له واک سره تداخل لري، د نړیوالې سولې او امنیت ساتنه ده. د اسامبلې واکونه په لاندې ډول خلاصه کولی شو:
۱- د منشور لسمه ماده: (( عمومي اسامبله کولی شي د منشور له مخې هره مسئله که هغه په هر ارګان پورې اړه ولري، تربحث لاندې ونیسي او په ۱۲ مه ماده کې له راغلي حالت پرته عمومي اسامبله همدغه راز کولی شي چې د ملګرو ملتونو غړو یا امنیت شورا ته د ځینو مسایلو په اړه توصیه وکړي )).
عمومي اسامبله د منشور د لسمې او یوولسمې مادې له مخې کولی شي چې د خپرو شویو توصیو او پرېکړه لیکونو په واسطه د نړیوالو پر عمومي افکارو د نفوذ یو عامل شي.
له بل پلوه که چېرې کومه مسئله په امنیت شورا کې د یوه دایمي غړي له لوري وېټو شي او شورا له ناندریو سره مخ کړي، عمومي اسامبله کولی شي چې د مسئلې د حل په موخه اقدام وکړي او د اړتیا په صورت کې نهایي پرېکړه لیک هم تصویب کړي.
۲- عمومي اسامبله د لومړۍ کمېټې له لارې سیاسي او امنیتي مسایل څېړي.
۳- عمومي اسامبله د ملګرو ملتونو پر ټولو فعالیتونو د څارنې په ترڅ کې هر کال د امنیت شورا او عمومي منشي د کار راپور څېړي او په اړه یې لازمې توصیې کوي.
۴- عمومي اسامبله د امنیت شورا د غیر دایمي غړو په ټاکنه کې مهم رول لوبوي. د امنیت شورا ۲ پر ۳ برخه غړي د عمومي اسامبلې له لوري ټاکل کېږي.
عمومي اسامبله د پراخو واکونو د لرلو ترڅنګ، د نړیوالې سولې او امنیت ساتنې دویمه درجه مسؤلیت هم پر غاړه لري.
د عمل په ډګر کې امینت شورا په دې برخه کې لومړنی رول ترسره کوي. یو شمېر هېوادونو د نړیوالې سولې او امنیت د ساتنې په برخه کې د عمومي اسامبلې د رول د برجسته کولو په موخه ځیني اقدامات ترسره کړي دي، چې په لاندې ډول دي:

**۱- د لنډ مهالي کمېټې جوړول - Interim committee**

د سړې جګړې پرمهال د امريکا او شوروي ترمنځ اړيکې ترينګړې شوې او د ملګرو ملتونو په سازمان کې د هرې مسئلې په اړه د دواړو هېوادونو هوکړه يو ناممکن کار ګرځېدلی وو.
له ويټو څخه د شوروي پرلپسې استفادې د امنيت شورا فعاليتونه په ټپه درولي وو، خو امريکا په عمومي اسامبله کې د ډېری هېوادونو ملاتړ له ځانه سره درلود.
ددې لپاره چې د نړيوالې سولې او امنيت په تړاو د ځينو مهمو پرېکړو واک له امنيت شورا څخه عمومي اسامبلې ته ولېږل شي، وړانديز وشو ترڅو د منشور د ۲۲ مې مادې له مخې يوه لنډمهاله کمېټه جوړه شي.
د يادې کمېټې د جوړېدو موخه د هغه وضعيت کابو کول وو، چې په عمومي اسامبله کې يې د مهمو پرېکړو مخه نيولې وه.
لنډمهاله کمېټه د عمومي اسامبلې له ټولو غړو څخه جوړه شوې وه او د هر غړي هېواد يوه استازي په کمېټه کې برخه لرله.
د کمېټې واک تر يوه بريده خپله له عمومي اسامبلې څخه محدود و. ددې ترڅنګ، يادې کمېټې واک درلود چې عمومي اسامبلې ته د وړانديز شويو مسايلو د حل په موخه اقدام وکړي او دا راز د اړتيا پر مهال د بيړنيو غونډو د جوړولو صلاحيت يې هم درلود.
د يادونې وړ ده چې شوروي اتحاد د لنډ مهالي کمېټې له جوړېدو سره مخالفت څرګند کړ او دا کار يې د منشور د ۲۰ مې مادې خلاف عمل وباله.
دغه کمېټه تر ړنګېدو وروسته په ۱۹۴۹ کال کې يو ځل بيا جوړه شوه، خو له دې وروسته يې بيا نه ده جوړه شوې او عمومي اسامبله تر دې مهاله په دې توانېدلې چې د نړيوالې سولې او امنيت د ټينګښت په موخه ټول مسايل د خپلې کلنۍ عمومي او بيړنيو غونډو له لارې وڅېړي او په اړه يې اړونده ارګانونو ته لازمې توصيې وکړي.

**۲- د سولې لپاره د يووالي پرېکړه ليک**

د سولې په موخه د يووالی ترنامه لاندې پرېکړه ليک چې د ۱۹۵۰ کال د نومبر په ۳ مه د عمومي اسامبلې له خوا تصويب شو، د نړيوالې سولې او ټيکاو په برخه کې د عمومي اسامبلې لپاره يوه لويه لاسته راوړنه وه.
دغه پرېکړه ليک د کوريا د جګړې او په ملګرو ملتونو کې د چين د خلکو جمهوريت د غړيتوب منلو په اړه د شوروي اتحاد د اعتراض په غبرګون کې خپور شوی و.

امریکا د ملګرو ملتونو سوله ساتي ځواکونه د سویلي کوریا د ملاتړ په موخه د شمالي کوریا پر وړاندې جګړې ته ولېږل.
شوروي ددې اقدام د مخنیوي لپاره امنیت شورا ته مراجعه وکړه، خو امریکا په عمومي اسامبلې کې د سولې لپاره د یووالي ترنامه لاندې د پرېکړه لیک مسئله مطرح کړه.
په یاد پرېکړه لیک کې راغلي وو: ((که امنیت شورا د سولې د ناقضینو او متجاوزینو پروړاندې اقدام ونه شو کړای، عمومي اسامبله به د یوې بیړنۍ غونډې په ترڅ کې بحراني سیمې ته د وسلوالو ځواکونو د لېږلو پرېکړه وکړي)). دا پرېکړه لیک د شوروي د تمې خلاف په تصویب ورسېد.

## ۳- د ګډو اقداماتو کمېټه (Collective measures committee)

دا کمېټه څوارلس غړي لري او دنده یې د عمومي اسامبلې د توصیې پربنسټ د ملګرو ملتونو د ټولو غړو د فعالیتونو همغږي کول دي.
د سولې په اړه مسایل لکه: نړیوالې سولې ته د ګواښ او پوځي یرغل په صورت کې عمومي اسامبله د **۲۴** ساعتونو په ترڅ کې د امنیت شورا په توصیه بېړنۍ غونډه جوړوي. دا رویه د انګلیستان او فرانسې له مخالفت وروسته له هغه وخت راهیسې دود شوه، کله چې په **۱۹۵۲** د اکتوبر په **۳۱** د سویز کانال د شخړې په اړه امریکا د مصر پر وړاندې د پوځي عملیاتو د درولو پرېکړه لیک تصویب کړ.
همدغه راز له دې پېښې څلور ورځې وروسته د همدې کال په نومبر کې پخواني شوروي اتحاد په امنیت شورا کې د هنګري مسئله وېټو کړه. خو د ډله ییزو اقداماتو د کمېټې له لوري مسئله د څېړنې لپاره عمومي اسامبلې ته وړاندې شوه.

## ۴- د عمومي اسامبلې بیړنۍ ځانګړې کمېټې

د (سولې او یووالي ترنامه لاندې پرېکړه لیک) د عمومي اسامبلې د بیړنیو کمېټو د رامنځته کېدو اساس نه شي کېدای، بلکې دا ډول کمېټې په اصل کې د امنیت شورا د ځینو غړو په هڅو جوړې شوې دي.
که د امنیت شورا یو غړی تشخیص کړي چې د یوې وېټو شوې مسئلې په اړه د غړو ترمنځ اختلاف د شورا کار له خنډ او ځنډ سره مخ کوي، کولی شي چې په دې ډول اقدام لاس پورې کړي.
د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې تر ۱۹۹۱ کال پورې نهه بیړنۍ غونډې جوړې کړې دي چې پنځه یې د پورتنۍ یادې مسئلې په اړه او څلور نورې یې د سولې لپاره د یووالي پرېکړې پراساس دایرې کړې دي.

۲- د نړیوالې محکمې د قاضیانو ټاکل: د نړیوالې محکمې لپاره قاضیان ددغې محکمې د اساسنامې د ۴ او ۱۴ مې مادو پربنسټ د امنیت شورا او عمومي اسامبلې له خوا په ګډه ټاکل کېږي.
۳- د عمومي منشي ټاکل: د منشور د ۹۷ مې مادې له مخې د ملګرو ملتونو منشي د امنیت شورا په توصیه د عمومي اسامبلې له خوا ټاکل کېږي.
۴- د نویو غړو منل: د منشور د څلورمې مادې دویمې فقرې له مخې، د ملګرو ملتونو په سازمان کې د نوي غړیتوب منل د امنیت شورا په وړاندیز او د عمومي اسامبلې په تائید ترسره کېږي.
۵- ایستل: د ملګرو ملتونو د منشور شپږمې مادې له مخې که د امنیت شورا هر غړي په منشور کې له راغلیو اصولو څخه سرغړونه وکړه، د شورا په توصیه او د اسامبلې په تائید به د ملګرو ملتونو له سازمان څخه وایستل شي.
۶- د غړیتوب ځنډول: د منشور د ۵ مې مادې له مخې که چېرې امنیت شورا د کوم غړي دولت پر وړاندې اقدام کوي، کولی شي چې عمومي اسامبلې ته توصیه وکړي ترڅو نوموړی هېواد له امتیازونو او مصؤنیتونو څخه محروم کړي.
دغه امتیازات او مصؤنیتونه کېدای شي د امنیت شورا له لوري بېرته ورکړل شي. د ملګرو ملتونو په سازمان کې تر اوسه د غړیتوب ځنډولو او ایستلو پېښه نه ده رامنځته شوې، خو د یو شمېر هېوادونو باورلیکونه بېرته ورکړل شوي دي.
لکه په ۱۹۷۴ کال د سپټمبر په دېرشمه د عمومي اسامبلې د ۳۲۰۷ نمبر پرېکړه لیک(XXX) له مخې د سوېلي افریقا باور لیک مسترد شو.
۷- د منشور اصلاح: د منشور د ۱۰۹ مې مادې له مخې، د منشور تعدیل او بیاکتنه د ملګرو ملتونو د ټولو غړو په ګډون د یوه عمومي کنفرانس له لارې د عمومي اسامبلې په درې ثلثه رایو او د امنیت شورا په نهو مثبتو رایو صورت مومي.
په دې کنفرانس کې هر غړی د یوې رایې حق لري.

## ۵- د عمومي اسامبلې اړونده کمېټې

د عمومي اسامبلې اصلي کمېټې په دې ډول دي:

- لومړۍ کمېټه: د سیاسي او امنیتي چارو کمېټه؛
- دویمه کمېټه: د اقتصادي او مالي چارو کمېټه
- درېیمه کمېټه: د ټولنیزو، بشري او کلتوري چارو کمېټه
- څلورمه کمېټه: د ناخپلواکه سیمو او قیمومیت کمېټه

- پنځمه کمېټه: اداري او بوديجوي کمېټه
- شپږمه کمېټه: د حقوقي چارو کمېټه
- اومه کمېټه: د سياسي چارو کمېټه.

عمومي اسامبله په پورتنيو کمېټو سربېره دوه تشريفاتي کمېټې او دوه دايمي کمېټې هم لري.
تشريفاتي کمېټې له عمومي کمېټې او د باور ليکونو کمېټو څخه عبارت دي او همدغه راز دايمي کمېټې عبارت دي له: اداري او بوديجوي کمېټه او د غړيتوب د ونډو (حق العضويت) کمېټه.

هغه موضوعات چې د عمومي اسامبلې په غونډه کې مطرح کېږي، عمومي کمېټه دغه موضوعات د غور او څېړنې په موخه اړوندو کمېټو ته، چې د عمومي اسامبلې اوه ګوني اصلي کمېټې دي، وړاندې کوي.

اصلي کمېټې د غړو هېوادونو له استازو څخه جوړې شوې دي چې خبرې او مذاکرات په کې ترسره کېږي. عمومي اسامبله يوازې د غونډې په پای کې د اصلي کمېټو د راپورونو په اړه د رای ګيرۍ لپاره له سره غونډه دايروي.

د يادونې وړ ده چې په عمومي اسامبله کې پر يوې موضوع بيا کتنه او خبرې ډېر لږ ترسره کېږي. پر يادو کمېټو سربېره، عمومي اسامبله کولی شي چې د خپلې دندې د اجرا پرمهال د منشور د ۲۲ مې مادې پربنسټ د اړتيا پرمهال فرعي څانګې جوړې کړي.

## ۲- د عمومي اسامبلې کاري طرزالعمل

### الف- غونډې

عمومي اسامبله درې ډوله غونډې لري: عادي غونډې، ځانګړې غونډې او بيړنۍ غونډې.

۱- عادي غونډې: عادي غونډې هر کال د سيپټمبر مياشتې په دريمه اونۍ د سه شنبې په ورځ دايرېږي او د عمومي کمېټې د توصيې پراساس د غونډې د پای نېټه هم په همدې ورځ ټاکل کېږي. د عمومي اسامبلې مقر يا ځای د امريکا په نيويارک ښار کې موقعيت لري.

عمومي اسامبله کولی شي چې د تېرې غونډې د پرېکړې او يا د اکثريت غړو د غوښتنې پراساس له اصلي مقر څخه پرته په بل ځای کې غونډه دايره کړي.

دغه راز د ملګرو ملتونو هر غړی کولی شي چې د کلنۍ غونډې تر پيله درې مياشتې وړاندې له سازمان څخه غوښتنه وکړي چې له اصلي مقر (نيويارک) څخه پرته په بل ځای کې غونډه جوړه کړي.

عمومي منشي دغه وړانديز د ملګرو ملتونو ټولو غړو ته رسوي او يوه مياشت وخت لري څو په دې اړه غور وکړي.

له یوې میاشتې وروسته که چېرې د غړیو اکثریت برخه له دې وړاندیز سره همغاړې (موافق) وو، نو غونډه به په هماغه ترتیب ترسره شي.
عمومي منشي باید د کلنۍ عمومي غونډې له پرانېستې درې میاشتې مخکې ټول غړي خبر کړي. عمومي اسامبله کولی شي چې غونډه تر یوې معلومې نېټې پورې وځنډوي.
۲- ځانګړې غونډې: ځانګړې غونډې د امنیت شورا یا د سازمان د غړو په غوښتنه جوړېږي.
د عمومي اسامبلې د داخلي کړنلارې د ۸ مې مادې له مخې، ځانګړې غونډه د امنیت شورا او د ملګرو ملتونو د سازمان د غړو په وړاندیز د اسامبلې د داخلي کړنلارې له ۹ مې مادې سره سم باید د پنځلس ورځو په ترڅ کې جوړې شي.
۳- بیړنۍ غونډې: د (v) A ۳۷۷ نمبر پرېکړه لیک پراساس عمومي منشي باید د امنیت شورا، د اکثریت غړو او یا د یوه غړي له وړاندیز سره سم د ۲۴ ساعتونو په موده کې بیړنۍ غونډه راوغواړي.
هغه ځانګړې غونډې چې د امنیت شورا په غوښتنه او یا هغه غونډې چې د سازمان اکثریت غړو په غوښتنه دایرېږي، عمومي منشي باید د غونډې تر پیل لږترلږه څلوېښت ورځې مخکې د ملګرو ملتونو ټولو غړو ته د موضوع په اړه خبر ورکړي.
که چېرې د ۸ مې مادې پربنسټ بیړنۍ غونډه رابلل کېږي، عمومي منشي باید د غونډې تر پرانیستې ۱۲ ساعته وړاندې ټول غړي خبر کړي او د منشور د ۵۷ مې مادې د ۲ مې فقرې له مخې د ملګرو ملتونو ټولو اصلي او فرعي څانګو ته باید د غونډې د دایرېدو په اړه اطلاعیه واستول شي.

## ب- د غونډې اجنډا

د عادي غونډو اجنډا: د عادي غونډې اجنډا باید د عمومي منشي له خوا تنظیم او د غونډې تر پیل لږ ترلږه دوه میاشتې مخکې د ملګرو ملتونو ټولو غړو ته ولېږل شي. د عادي غونډو اجنډا به داسې وي:

- د سازمان د فعالیتونو په اړه د عمومي منشي راپور
- د اصلي او فرعي څانګو راپورونه
- ټول هغه موضوعات چې په تېره غونډه کې یاداشت شوې وي
- د غړو له خوا د بحث په موخه وړاندې شوي موضوعات
- د تېر او راتلونکي کال د بودیجې په تړاو موضوعات.
- ټول هغه موضوعات چې د عمومي منشي په باور اړین وي

- د منشور د **۳۵** مې مادې او دويمې فقرې له مخې د هغو دولتونو په وړانديزونو غور کول چې د ملګرو ملتونو غړيتوب نه لري.
د ملګرو ملتونو عمومي منشي او غړي کولی شي چې د غونډې له پيله دوه مياشتې وړاندې خپل موضوعات د غونډې اجنډا ته وسپاري.
اجنډا ته ورسپارل شوي موضوعات بايد له غونډې څخه شل ورځې مخکې له ټولو غړو سره شريک شي، ترڅو په وروستي لېست کې ځای پرځای شي.
هغه مهم او عاجل مسايل چې له يوې مياشتې په لږه موده کې د عادي غونډې له پيل يا د غونډې په جريان کې په اجنډا کې د شاملولو په موخه وړاندې کېږي، د عمومي اسامبلې د اکثريت غړو له تصويب وروسته به په اجنډا کې شامل شي.
بې له اړونده کمېټې، د اجنډا له سپارلو اووه ورځې وروسته هېڅوک نه شي کولی چې په اجنډا کې قيد شوي موضوعات تر بياکتنې او غور لاندې ونيسي. مګر دا چې عمومي اسامبله په دوه ثلثه رايو بل ډول تصميم ونيسي.
د ځانګړې غونډې اجنډا: د ځانګړې غونډې اجنډا د غونډې تر جوړېدو څوارلس ورځې مخکې بايد د ملګرو ملتونو ټولو غړو ته ولېږل شي.
که چېرې ځانګړې غونډه د اکثريت غړو په غوښتنه يا د يوه غړي په غوښتنه راوبلل شي، اجنډا بايد د غونډې له پيل څخه شل ورځې مخکې ټولو ته واستول شي.
د ځانګړې غونډې په اجنډا کې بايد يوازې هغه موضوعات شامل وي، کوم چې پخوا مشخص شوي وي.
البته د سازمان هر غړی او عمومي منشي کولی شي چې د ځانګړې غونډې تر پرانېستو څلور ورځې مخکې په اجنډا کې د موضوع د شاملولو لپاره وړانديز وکړي، څو موضوع ژر تر ژره د اجنډا په لېست کې شامله او ټولو غړو ته اعلان شي.
اجنډا بايد د حاضرو غړو له خوا دوه پر درېيمې برخې د رايو تصويب شي. په اجنډا کې د هېڅ راز تعديل او تبديل وړانديز نه منل کېږي، مګر دا چې له غونډې څخه درې مياشتې مخکې وړانديز شوی وي.

**ج- استازی پلاوی**

د ملګرو ملتونو هر غړی هېواد کولی شي چې **۵** تنه استازي، **۵** تنه نايبان، يو شمېر سلاکاران او متخصصين د يو ګډ پلاوي په ترکيب کې د ملګرو ملتونو سازمان ته ولېږي. نايب استازي ته چې د پلاوي د رئيس له خوا کومه دنده ورسپارل کېږي، بايد د يوه استازي په توګه يې پرمخ يوسي.

**د- د باور لیکونو کمېټه**

د باور لیکونو کمېټه چې په ترکیب کې نهه غړي لري، د غونډې له پرانیستو سره په یو وخت کې جوړېږي.

د کمېټې غړي د اسامبلې د مشر په وړاندیز او د غړو په تائید ټاکل کېږي. نوموړې کمېټه د ملګرو ملتونو د ټولو استازو غړو باورلیکونه څېړي او په اړه یې اړونده ادارې ته راپور وړاندې کوي.

که د هر استازي د غړیتوب په اړه د چا له خوا څه اعتراض موجود وو، تر هغې چې د باور لیکونو کمېټې خپل راپور نه وي بشپړ کړی او عمومي اسامبلې ته یې نه وي وړاندې کړی، نوموړی استازی کولی شي چې د نورو په څېر په عادي ډول په غونډو کې ګډون وکړي.

د غونډې رئیس او مرستیال

د عمومي اسامبلې د هرې نوې غونډې په پیل کې ترڅو چې نوی رئیس ټاکل کېږي، پخوانی یعنې د تېرې دورې رئیس به د غونډې مشري کوي.

عمومي اسامبله له غړو څخه یو تن د رئیس او ۲۱ تنه به د مرستیالانو(نایبانو ) په توګه ټاکي.

د اووه ګونو اصلي کمېټو رئیسان هم له همدغو نایبانو څخه ټاکل کېږي. هغه څوک چې عمومي کمېټې ته د مشر په توګه ټاکل کېږي، باید د کمېټې د چارو د پرمخ بیولو وړتیا ولري.

که چېرې رئیس په غونډه کې حاضر نه و له خپلو نایبانو څخه به یو تن د غونډې مشر وټاکي.

مرستیال یا نایب به د رئیس په څېر واک ولري او که چېرې رئیس د خپلې دندې له اجرا څخه عاجز و، د پاتې مودې لپاره به نوی رئیس وټاکل شي.

د عمومي اسامبلې د مشر دندې او واکونه دادي: د غونډې د پیل او پای اعلانول، د غونډې نظم ساتل او د غونډې پر اجنډا څارنه، د خبرو لپاره د نوبت تنظیمول، د پرېکړو او تصمیمونو اعلانول او رئیس همدغه راز باید د انظباطي تدبیرونو په اړه تصمیم ونیسي او پر غونډې پوره څارنه ولري.

رئیس د خپلې دندې د اجرا پرمهال د عمومي اسامبلې تابع دی. رئیس او د هغه نایبان چې د ریاست کفیل ګڼل کېږي، د رایې ورکولو حق نه لري او کولی شي د ځان پر ځای له پلاوي څخه یو تن استازی وټاکي.

**و- د اسامبلې ژبې**

عمومي اسامبله او فرعي کمېټې پنځه رسمي ژبې لري: عربي، انګلیسي، فرانسوي، چینایي، روسي او هسپانوي.

په عمومي اسامبله کې له دغو شپږو ژبو که پر هرې یوې څوک خبري کوي، هماغه ګړی باید په شفاهي ډول پنځه نورو هغو ته وژباړل شي.

دغه راز هر استازی کولی شي چې د اسامبلې له رسمي ژبو پرته پر نورو ژبو هم وینا وکړي چې په دې صورت کې نوموړی استازی باید دژباړې اسانتیا برابره کړي چې دده وینا او خبرې په ژوندۍ بڼه د اسامبلې له شپږو رسمي ژبو څخه یوې ته یې وژباړي.
هغه وینا چې په نورو غیر رسمي ژبو د ملگرو ملتونو د سکرتریت د ژباړونکو له خوا وړاندې کېږي، د وینا متن له مخکې باید ژباړل شوی وي.
د عمومي اسامبلې د غونډو په لړ کې د (ملگرو ملتونو ورځپاڼه) د اسامبلې په رسمي ژبو چاپیږي. همدغه راز ټول پرېکړه لیکونه او اسناد هم په همدغو رسمي ژبو خپرېږي.
د یادونې وړده چې د ملگرو ملتونو په نور رسمي ژبو باندې د اسنادو د خپرولو لگښت د سازمان پر غاړه دی، مگر په عربي ژبه د خپاره شویو اسنادو لگښت به عربي هېوادونه په خپله ورکوي.

## دریمه څانگه: د عدالت نړیواله محکمه

### ۱- تاریخچه:

ددې نړیوال قضایي ارگان بنسټ په ۱۹۰۷ کال کې د لاهای سولې په دویم کنفرانس کې کېښودل شو او د کنفرانس برخوالو په لومړي سر کې د دوو قضایي ارگانونو د جوړېدو وړاندیز کړی و:
د جنگي غنیمتونو محکمه (prize court) او د داورۍ محکمه (Arbital court of justice).
که څه هم دا دوې محکمې جوړې نه شوې، خو د کنفرانس برخوالو ته یې د یوه قضایي ارگان د جوړولو احساس ورکړ چې په پایله کې همدا احساس د نړیوالې محکمې د تأسیس سبب شو.
ددې ترڅنگ، د (الیهو روټ) وړاندیز چې د نړیوالې محکمې د جوړېدو لپاره یې کړی و، هم د یادولو وړ دی.
نوموړې په خپله طرحه کې وړاندیز کړی و، چې د نړۍ ټول حقوقپوهان باید په دې محکمه کې غړیتوب ولري.
که څه هم دا طرحه د ځینو هېوادونو له خوا تائید شوه، خو د محکمې د قاضیانو د ټاکلو پرسر اختلاف راپورته شو او هر دولت غوښتل چې په محکمې کې خپل استازي ولري.
دا چې محکمې کوچنی جوړښت او تشکیل درلود او د ټولو هېوادونو غوښتنې نه شوای پوره کېدای، نو د نړیوالې محکمې د تأسیس دغه طرحه همداسې پاتې شوه.
نړیوالو قضایي پېښو ته په کتو، د ملتونو ټولنې له جوړېدو مخکې هم یو شمېر محاکم موجود وو لکه په ۱۹۰۷ کال کې د مرکزي امریکا محکمه.
دا چې یادې محکمې ونه کړای شوه چې د خلکو باور ترلاسه کړي، په ۱۹۱۷ کال کې د غړو هېوادونو (کاستاریکا، گواتیمالا، هاندوراس، نیکاراگوا او السلوادور) له خوا رنگه شوه.

**۲- د عدالت نړیوالې محکمې پیدایښت**

د یوه نړیوال قضایي ارګان اړتیا ته په پام سره، د ملتونو ټولنې بنسټګر غړي د نړیوالې محکمې د جوړېدو په هڅه کې شول.

یادو هېوادونو خپله غوښتنه د میثاق په څلورمه ماده کې داسې بیان کړې وه:

((د ټولنې شورا ته دنده سپارل کېږي چې د یوې نړیوالې دایمي محکمې طرحه تنظیم او د ټولنې غړو ته یې وسپاري. محکمه به د ټولو هغو نړیوالو شخړو او مسایلو د څېړلو او رسیدګۍ واک ولري چې دوی ته وړاندې کېږي. دغه راز که چېرې د عمومي اسامبلې او شورا له خوا د مشورتي نظر څرګندولو په موخه کومه قضیه محکمې ته ارجاع شي، محکمه باید خپله بشپړه بېطرفي وساتي)).

د همدې مادې پر اساس، ملتونو ټولنې پرېکړه وکړه چې د حقوقپوهانو یوه کمېټه جوړه کړي ترڅو د محکمې لپاره اساسنامه ترتیب کړي.

کمېټې د اساسنامې لپاره یوه مقدماتي طرحه چمتو کړه چې د عمومي اسامبلې او شورا له یو لړ اصلاحاتو وروسته په ۱۹۲۰ کال کې په تصویب ورسېده.

د محکمې اساسنامه د ملتونو ټولنې د اکثریت غړو له لاسلیک او تائید وروسته د اجرا وړ وګرځېده او نړیوالې محکمې د ۱۹۲۲ کال د فیبرورۍ په میاشت کې رسماً په خپل کار پیل وکړ. په ۱۹۲۹ کال کې په اساسنامه کې ځینې اصلاحات رامنځته شول او په ۱۹۳۶ کال کې نوې اساسنامه د اجرا وړ وګرځېده.

د نړیوالې محکمې د اساسنامې له مخې، محکمې ۱۵ قاضیان لرل چې یوولس یې اصلي او څلور یې مؤقتي وو او د عمومي اسامبلې او شورا د رایو په اکثریت به د ۹ کلونو لپاره ټاکل کېدل.

ددې محکمې مقر د لاهای د سولې په ماڼۍ کې و.

محکمې په کال کې یوځل عادي غونډه دایروله او د اړتیا پر مهال ځانګړې او بیړنۍ غونډې یې هم دایرولای شوې. محکمې دغه راز یو رسمي دفتر هم درلود چې په راس کې یې یو رئیس او مرستیال و او دنده یې د اداري چارو پرمخ وړل وو.

یادې محکمې دوه ډوله، ترافعي او تفسیري صلاحیتونه درلودل چې د لومړي صلاحیت پر اساس به یې حکم او ددویم صلاحیت پر اساس به یې مشورتي رایه صادروله.

د محکمې یوه ځانګړنه، له ملتونو ټولنې څخه د هغې حقوقي خپلواکي وه او له همدې امله له امریکا او شوروي څخه پرته، نورو ټولو هېوادونو اساسنامه رعایتوله او د محکمې واکونو ته یې درناوی درلود.

د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال نړیواله محکمه له هاګ څخه جینیوا ته ولېږدول شوه، ځکه المان اعلان کړی و چې د قاضیانو هېڅ ډول مصؤنیت نه شي تضمینولی.

د دويمې نړيوالې جګړې په لړ کې کله چې متحدينو د يو نړيوال سازمان د جوړېدو وړانديز وکړ، ورسره د يو نړيوال قضايي ارګان جوړول يې هم د خپل کار په لومړيتوبونو کې شامل کړ.
د همدې موضوع په تړاو د ډومبارټن اوکس په کنفرانس کې بحث وشو چې ايا د ملتونو ټولنې نړيواله محکمې په خپل ځای پرېښودل شي او که پر ځای يې نوې محکمې جوړې شي.
دا مسئله د ملګرو ملتونو د حقوقپوهانو کمېټې ته وسپارل شوه، څو په دې اړه بحث او څېړنه وکړي.
يادې کمېټې د ۱۹۴۵ کال د اپرېل له ۹ تر ۲۰ مې پورې په واشنګټن کې د يوې غونډې په ترڅ کې پرېکړه وکړه، چې د ځينو دلايلو پر اساس د نوې محکمې جوړول اړين دي:
لومړی، د دې لپاره چې له پخوانۍ حالت څخه مخنيوی وشي چې له مخې يې ځينو هېوادونو لکه امريکا او شوروي په پخوانۍ محکمه کې له غړيتوب څخه ډډه کوله او همدغه راز د دې لپاره چې غړي دولتونه د هغوی له خوښې پرته د محکمې غړي او سي، نوې محکمه بايد تأسيس شي.
بله دا چې نوې محکمه له پخوانۍ محکمې سره پوره ورته والی ولري او د پخوانيو قضيو څېړلو ته به دوام ورکړي.
په همدې اساس د پخوانۍ محکمې اساسنامه پر خپل ځای پاتې شوه او اعلان وشو، هغه تړونونه چې د ملتونو د ټولنې په وخت کې شوي وو، ټول د اعتبار او اجرا وړ دي.
د سنفرانسيسکو په کنفرانس کې د ملګرو ملتونو د منشور د لاسليک ترڅنګ د نړيوالې محکمې اساسنامه هم د منشور ضميمه وګرځول شوه او د کنفرانس د برخوالو له لوري د تائيد وړ وګرځېده او د منشور د ۹۳ مادې له مخې د نړيوالې محکمې اساسنامه د ملګرو ملتونو پر ټولو غړو منل شوې ده.
د نوي محکمې له پرانېستو سره پخوانۍ محکمه رنګه اعلان شوه او د محکمې قاضيانو د ۱۹۴۵ کال په اکتوبر کې له خپلې دندې استعفا وکړه. د ۱۹۴۶ کال په اپرېل مياشت کې د ملتونو ټولنې عمومي اسامبلې هم د خپل او د محکمې د کار د پای اعلان وکړ او ټول اسناد يې نوې محکمې ته تحويل کړل.
نوې محکمه د قاضيانو تر ټاکلو وروسته د ۱۹۴۶ کال په جنورۍ کې د عمومي اسامبلې له خوا په لندن ښار کې پرانېستل شوه او د همدې کال په اپريل مياشت کې رسماً په لاهای کې په کار پيل وکړ.
د ملګرو ملتونو د عدالت نړيوالې محکمې اساسنامه د ملتونو ټولنې له نړيوالې محکمې سره ورته والی لري او د ملګرو ملتونو نړيوالې محکمې په خپله لومړۍ غونډه کې دغه اساسنامه ومنله. خو په ۱۹۷۲ کال کې د قضايي چارو د لاسمون او اسانتيا په موخه په نوموړې اساسنامه کې يو لړ بدلونونه رامنځته شول او په ۱۹۷۸ کال د جولای په لومړۍ نېټه د اجرا وړ وګرځېده.

**۳- د ملتونو ټولنې دمحکمې او د ملګرو ملتونو د محکمې پرتلنه**

د ملتونو ټولنې او د ملګرو ملتونو سازمان د محاکمو ترمنځ ګډ او اختلافي ټکي په لاندې ډول دي:

**الف- ګډ ټکي:**

۱- دواړه محکمې له نړیوالو جګړو وروسته د نړیوالو شخړو او اختلافونو د سوله ییز حل په منظور جوړې شوې.

۲- د دواړو محکمو د کار ماهیت قضایي چارې دي.

۳- د دواړو محکمو دندې د دولتونو ترمنځ د اختلافونو حل او فصل او د حقوقي قضیو تفسیر دی.

۴- د محکمې دروازې یوازې د دولتونو پرمخ خلاصې دي او د صلاحیت سرچینه یې هم د اختلاف اړخونه دي.

۵- یوازې نړیوالو سازمانونو ته مشورتي رایه ورکوي او دولتونه ددې ډول رایې حق نه لري.

۶- یوازې د دولتونو حقوقي قضیې څېړي او یوازې د حقوقي قضیو په اړه مشورتي رایه ورکولی شي.

۷- دواړه محکمې د هغوی له واک سره د اختلاف په صورت کې، پرېکنده تصمیم نیسي.

**ب- د اختلاف ټکي**

۱- د عدالت نړیواله محکمه د ملګرو ملتونو له اصلي ځانګو څخه ده، چې اساسنامه یې د منشور ضمیمه او نه بېلېدونکې برخه ده.

خو د ملتونو ټولنې نړیواله محکمه د ټولنې جلا ارګان و او اساسنامه یې هم له میثاق څخه جلا وه چې د عمومي اسامبلې د یو پرېکړه لیک له مخې تصویب شوې وه.

۲- د ملګرو ملتونو غړي په عین حال کې د نړیوالې محکمې غړي هم دي، خو د ملتونو ټولنې په محکمه کې به غړي هېوادونه د محکمې غړي نه ګڼل کېدل.

۳- د ملتونو ټولنې په محکمه کې د غړیتوب دروازې یوازې ددې ټولنې د غړو او هغو دولتونو پرمخ خلاصې وې چې د میثاق په ضمیمه کې یې نومونه راغلي وو، خو د ملګرو ملتونو د عدالت په نړیواله محکمه کې ټولو غړو ته دا حق ورکړل شوی دی.

۴- د ملتونو ټولنې نړیوالې محکمې ته یوازې ددې ټولنې عمومي اسامبلې او شورا د مشورتي رایې د غوښتنې وړاندیز کولی شوای، خو د ملګرو ملتونو نړیوالې محکمې ته پر عمومي اسامبلې او امنیت شورا سربېره، اصلي او فرعي ارګانونه هم کولی شي چې د یوې قضیې په اړه مشورتي رایه وغواړي.

**۵**- د ملتونو ټولنې د محکمې د پرېکړو پلي کول د محکوم عليه دولت په خوښه او يا د محکوم لهُ دولت په ځواک او قدرت پورې تړلي وو، خو که د ملګرو ملتونو د نړيوالې محکمې له حکمونو څخه کوم هېواد سرغړونه وکړي، امنيت شورا يې په اړه اقدام کوي.
دا چې د ملګرو ملتونو د نړيوالې محکمې احکام د داخلي محاکمو له حکمونو سره توپير لري، نو د دولتونو داخلي حاکميت ته په پام ستونزمنه ده چې اغېزمن مقررات وضع شي او ځيني وختونه کېداى شي د امنيت شورا يو دايمي غړى محکوم عليه واقع شي چې دا کار وضعيت لاپسې پېچلى کوي.
لکه د نيکاراګوا له هېواد سره د امريکا دعوا، چې امريکا په کې محکومه شوې وه.
۶- پخوانۍ محکمې ۱۱ اصلي قاضيان او ۴ غير دايمي قاضيان لرل. خو اوسنۍ محکمه له **۱۵** اصلي قاضيانو څخه جوړه شوې ده.
۷- د پخوانۍ محکمې په اساسنامه کې تعديل نه و پېشبيني شوی، خو د اوسنۍ نړيوالې محکمې په اساسنامه کې د منشور د ۶۹ او ۷۰ مو مادو پربنسټ تعديل يا اصلاح شوې ده.

### ۴- د عدالت د نړيوالې محکمې تاسيس

نړيواله محکمه د ملګرو ملتونو سازمان اصلي څانګه ده، چې اساسنامه يې د منشور نه بېلېدونکې برخه ګڼل کېږي. ددې محکمې اساسنامه د **۱۹۴۵** کال د جون په **۲۶** مه د سنفرانسيسکو په کنفرانس کې د ملګرو ملتونو د **۵۱** غړو له خوا لاسليک شوه او قاضيان يې هم د **۱۹۴۶** کال د فبرورۍ په **۵** مه د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې په لومړنۍ عمومي غونډه کې وټاکل شول، چې د همدغه کال د اپرېل په ۱۸ مه يې رسماً په کار پيل وکړ.

**الف- تشکيلات او جوړښت**:

د عدالت نړيواله محکمه د اساسنامې له دويمې مادې څخه تر دوه دېرشمې او همدارنګه د داخلي طرزالعمل د ۳۲ او ۳۷ مې مادو له مخې اداره کېږي.
د عدالت نړيوالې محکمې د ۲ او ۳ مې مادو له مخې محکمه په خپل ترکيب کې پنځلس قاضيان لري. دغه قاضيان له نژادي او قومي تبعيض پرته، د پوهې او مسلک پر بنسټ د امنيت شورا او عمومي اسامبلې له لوري ټاکل کېږي.
د عدالت نړيوالې محکمې قاضيان د خپل هېواد استازي نه ګڼل کېږي او نه هم کولی شي چې له خپل موقف څخه په استفادې د خپل هېواد په ګټه فعاليتونه ترسره کړي او يا هم د خپل دولت غوښتنې ومني.
په همدې اساس د ملګرو ملتونو سازمان په قضايي چارو کې د قاضيانو د استقلال په موخه يو لړ مصؤنيتونه وضع کړي دي.

قاضیان عزل کېدای نه شي او نه هم حق لري چې د دندې د اجرا پرمهال بله دنده پرمخ بوزي.
قاضیان له ټاکل کېدو وروسته او د دندې تر پیل مخکې باید لوړه وکړي چې د محکمې د اساسنامې پراساس خپله ورسپارل شوې دنده په بشپړې بې طرفۍ او صداقت سرته رسوي.
قاضیان د نهو کلونو لپاره ټاکل کېږي او د وخت تر پوره کېدو وروسته د دویم ځل لپاره هم انتخابېدای شي.
د محکمې غړي د امنیت شورا او عمومي اسامبلې له لوري د رایو په غوڅ اکثریت په مستقل ډول ټاکل کېږي او د اساسنامې د ۸ او ۱۰ مو مادو پربنسټ د قاضیانو په ټاکنه کې د امنیت شورا د دایمي او غیر دایمي غړو رایه یو شان ده او د وېټو مسئله نه مطرح کېږي.
دغه راز د اساسنامې د ۱۲ مې مادې له مخې قاضیان باید د خپلې دندې د تصدۍ پرمهال په سیاسي او دولتي چارو بوخت نه شي.
همدا راز د اساسنامې په ۱۷ مه ماده کې راغلي، دنړیوالې محکمې هېڅ غړی نه شي کولی چې د دعوا په صورت کې د یو طرف استازیتوب یا وکالت وکړي او نه هم په ملي یا بین المللي محاکمو کې د غړیتوب حق لري.
د اساسنامې د ۳۵ مې مادې د ۳ مې فقرې له مخې په قضایي جلسه کې لږ تر لږه باید نهه تنه قاضیان حضور ولري.
د نړیوالې محکمې د قاضیانو په ټاکنه کې دوه ټکي ډېر مهم دي، چې د دې محکمې په اساسنامه کې هم ورته اشاره شوې ده:
لومړی، د نړیوالې محکمې د قاضیانو د ټاکلو لپاره د امنیت شورا د دایمي او غیر دایمي غړو په رایه کې کوم توپیر نه شته.
که چېرې امنیت شورا او عمومي اسامبلې له یوه څخه زیاتو کسانو ته رایه ورکړه، نو د عمر پر اساس به له هغوی څخه تر ټولو محسن شخص ټاکل کېږي.
په همدې اساس د امنیت شورا دایمي غړي د وېټو حق نه لري. د محکمې د اساسنامې د ۱۰ مې مادې پربنسټ هېڅ هېواد نه شي کولی چې د عدالت په نړیواله محکمه کې تر یوه زیات غړي ولري.
دویم، د قاضیانو په ټاکنه کې دې ټکي ته باید ډېره پاملرنه وشي، هغه اشخاص چې د نړیوالې محکمې غړیتوب ته ټاکل کېږي، نه یوازې دا چې په شرایطو برابر وي بلکې د نړۍ له ټولو حقوقي او قضایي سیسټمونو سره بلدتیا او اشنایي ولري او د ټولو استازیتوب وکړای شي.
پورتني اصل ته په پام سره، چې قاضیان باید د نړۍ د ټولو بشري تمدنونو او حقوقي نظامونو استازیتوب وکړای شي، ددې ترڅنګ دولتونه نه شي کولی چې په خپله خوښه محکمې ته قاضیان پېشنهاد کړي، بلکې دغه کار په دوو پړاوونو کې صورت مومي:

لومړی پړاو: په دغه پړاو کې د ملي ډلو له خوا نوماند قاضيان معرفي کېږي او ياد قاضيان د داورۍ محکمې غړي دي.

دغه قاضيان له ملي مراجعو لکه داخلي قضايي ادارو او د حقوقو پوهنځيو سره تر مشورې وروسته معرفي کېږي.

هره ملي ډله حق لري چې څلورتنه استازي معرفي کړي چې له دې جملې يوازې دوه تنه يې بايد عمومي منشي ته ور وپېژندل شي.

منشي د نوماندو قاضيانو يو لېست چمتو کوي او د تائيد لپاره يې عمومي اسامبلې او امنيت شورا ته لېږي.

دويم پړاو: دويم پړاو د عمومي اسامبلې او امنيت شورا له لوري د قاضيانو ټاکل دي.

دغه طريقه چې پخوا د ملتونو په ټولنه کې هم ترې استفاده کېده، تر نورو هغو مناسبه او ښه طريقه ده، ځکه چې د ټولو لويو او کوچنيو هېوادونو نظريات په پام کې نيول کېږي.

د يادونې ده چې د نړيوالې محکمې قاضيان د ملګرو ملتونو کارکوونکي ګڼل کېږي او حقوق او مزايا يې د ملګرو ملتونو له عادي بوديجې څخه ورکول کېږي.

همدغه راز قاضيان د خپلې دندې د اجرا پرمهال له ډيپلوماتيکو مزايا او مصؤنيتونو څخه برخمن دي او همدا راز هېڅوک نه شي کولی چې د محکمې کوم غړی له دندې عزل او يا ګوښه کړي، مګر دا چې غړي د رايو په اتفاق بل ډول تصميم ونيسي.

**ب- له اختصاصي قاضي څخه استفاده**

اختصاصي قاضي ته په دوو حالاتو کې اړتيا ده:

۱- که چېرې د نړيوالې محکمې يو قاضي د دعوا له طرفينو څخه د يوه هېواد وګړی وي، د دعوا مقابل لوری کولی شي چې له خپل هېواد يا له بهر څخه يو قاضي چې په شرايطو برابر وي، نړيوالې محکمې ته معرفي کړي، چې دې ته اختصاصي قاضي(judge ad hoc) وايي.

۲- که چېرې قاضي د طرفينو په خوښه نه وي، په دې صورت کې کولی شي چې د پورتنۍ طريقې له مخې بل قاضي انتخاب کړي.

د يادونې ده چې اختصاصي قاضي د خاصې دعوا او لنډې مودې لپاره ټاکل کېږي او د دعوا له حل وروسته دنده يې پای ته رسېږي.

د اختصاصي قاضي په اړه د نړۍ حقوقپوهان بېلابېل نظريات لري. يو شمېر حقوقپوهان له دې کار سره مخالف دي او د خپل مخالفت لپاره دوه دلايل وړاندې کوي:

لومړی دا چې قاضي بايد د قانون، عدل او انصاف اصل ته پوره پاملرنه وکړي، ځکه اختصاصي قاضيانو د خپلو هېوادونو د قضيو د څېړلو پر مهال تل په خپلې ګټې له پورتنيو اصولو څخه سرغړونه کړې ده.

بل دا چې دغه کار له (هېڅوک باید د خپلې دعوا قاضي ونه اوسي) حقوقي قاعدې سره په ټکر کې ده. خو د اختصاصي قاضي پلویان بیا لاندې پنځه دلایل وړاندې کوي:
۱- هغه قاضیان چې د خپل هېواد ارجاع شوې قضیه څېړي، دا په حقیقت کې هغه اصل دی چې له پخوا راهیسې د داورۍ په ټولو محکمو کې منل شوی دی.
۲- که څه هم اختصاصي قاضیان تر ډېره تمایل لري چې قضیه د خپل هېواد په ګټه فیصله کړي، خو محکمې ته د هغوی د نظریاتو اوربدل مهم دي او له پرېکړو سره مرسته کوي.
۳- اختصاصي قاضیان له ټاکل کېدو وروسته د یوه ناپېیلي پلاوي په توګه خپله دنده سرته رسوي او د خپل هېواد استازیتوب نه شي کولی. نو له همدې امله باید له قضاوت څخه محروم نه شي.
پر دې سربېره ډېر ځله دا سې شوي چې اختصاصي قاضیانو د خپلو دولتونو د ګټو خلاف قضاوت کړی دی. د ایران، انګلیستان او چین ترمنځ په دعوا کې لارد مک نایر(Lord mc nair) همدا سې وکړل.
دغه راز د دوسیې تر بشپړېدو وروسته یوازېنی لار چې له محکمې سره د قضیې په هواري کې مرسته کوي، هغه د اختصاصي قاضي دلایل او څرګندونې دي.
۴- د اختصاصي قاضیانو ګډون هغه وخت زیانمن ثابتېدای شي، کله چې ولیدل شي چې په محکمه کې د اختصاصي قاضي ګډون او نظر یوه مهمه پرېکړه اغېزمنولای شي.
دا موضوع نورو قاضیانو ته نه شاملېږي.
۵- اړینه نه ده چې اختصاصي قاضي دې د دعوا له طرفینو څخه باید د یوه دولت وګړی وي. اختصاصي قاضیان ډېری وخت له بې پرې هېوادونو څخه ټاکل کېږي.
د نړیوالې محکمې اساسنامه ملي قاضیانو ته حق ورکوي چې قضیه وڅېړي او په قضایي غونډه کې برخه واخلي. اساسنامه دا راز د طرفینو د دلیلونو انډول ته په پام سره اختصاصي قاضي ته جواز ورکوي.
اختصاصي قاضیان چې د محکمې رسمي غړیتوب نه لري، له محکمې سره هېڅ راز امتیاز او حقوق نه لري او په محکمې کې ورځنی ګډون په هغوی پورې اړه لري.

### ۵- د عدالت د نړیوالې محکمې واکونه

محکمه هغه وخت قضیې ته د رسیدګۍ صلاحیت لري، کله چې د دعوا دواړه خواوې محکمې ته مراجعه وکړي. ځکه د نړیوالو شخړو په اړه قضاوت او پرېکړه، د دولتونو له رضایت پرته نه شي ترسره کېدای او د دولتونو ترمنځ د شخړو په حل او فصل کې د هغوی رضایت او توافق اصلي شرط ګڼل کېږي.

پر دغه واک سربېره چې د (قضايي يا ترافعي واک) په نامه يادېږي، د اساسنامې د ۱۲ مې مادې له مخې نړيواله محکمه همدارنګه کولی شي چې نړيوالو سازمانونو او مؤسسو ته هم حقوقي او قضايي مشورې ورکړي. په همدې اساس کولی شو چې د محکمې واکونه پر دوو برخو: ترافعي او مشورتي واکونو باندې وو وېشو.

**ترافعي واک**: لکه مخکې چې ورته اشاره وشوه، په نړيواله محکمه کې د دعوا اقامه کولو په اړه د هېوادونو رضايت شرط دی. يا په بل عبارت، محکمه مخکې له دې چې د قضيې پر څېړلو پيل وکړي، د دعوا دواړه لوري بايد په دې سلا شوي وي چې قضيه په محکمه کې وڅېړل شي او له دې پرته د قضيو څېړل امکان نه لري.

د اساسنامې د ۳۶ مې مادې لومړۍ فقره، د نړيوالې محکمې د صلاحيت په اړه داسې حکم کوي: ((د نړيوالې محکمې په صلاحيت کې د دولتونو په شمول په ټولو هغو دعوو غور شامل دی چې د ملګرو ملتونو په منشور، تړونونو او يا په هوکړه ليکونو کې پېشبيني شوي وي)).

په داسې حال کې چې محکمه د دعوا طرفينو، موضوع، د طرفينو موجوديت او د طرفينو د رضايت په برخه کې ځيني محدوديتونه لري، خو د اساسنامې ۳۶ مه ماده بې له دې چې ځيني محدوديتونه په نظر کې ونيسي، د محکمې صلاحيتونه يې اعلان کړي دي. دغه محدوديتونه به په لاندې توګه وڅېړو.

# د نړيوالې محکمې د واک دايره

## ۱- (مدعي او مدعي عليه)

په نړيواله محکمه کې د دعوا اړخونه معمولاً دولتونه وي، خو ځيني وخت کېدای شي چې نړيوال سازمانونه او اشخاص هم په نړيواله محکمه کې د مدعي او مدعي عليه په توګه واقع شي.

**الف- دولتونه**:

د محکمې د اساسنامې د ۳۴ مې مادې له مخې، يوازې دولتونه کولی شي محکمې ته مراجعه وکړي. خو دلته پوښتنه پيداکېږي چې کوم دولتونه په محکمه کې دعوا اقامه کولی شي؟ دغه دولتونه کولی شو په درې برخو وو وېشو:

۱- د ملګرو ملتونو غړي دولتونه:

د ملګرو ملتونو د منشور د ۹۳ مې مادې په لومړۍ فقره کې راغلي: ((د ملګرو ملتونو ټول غړي مکلف دي، چې د نړيوالې محکمې اساسنامه ومني)).

همدغه راز د يادې مادې دويمه فقره حکم کوي:

((ددې اساسنامې لاسليکوونکي دولتونه د اړتيا پرمهال محکمې ته د مراجعې حق لري)).

۲-د ملګرو ملتونو ناغړي دولتونه چې د محکمې اساسنامه یې منلې ده:
د منشور د ۹۲ مې مادې د ۲ مې فقرې له مخې، هغه دولتونه چې د ملګرو ملتونو غړیتوب نه لري کولی شي د هغو شرایطو پر اساس چې د عمومي اسامبلې او امنیت شورا له خوا ټاکل کېږي، د نړیوالې محکمې اساسنامه ومني.
سویس په لومړي ځل په ۱۹۴۶ کال کې د ملګرو ملتونو له سکرتریټ څخه د یوه استعلام په ترځ کې د ناغړو هېوادونو لپاره په نړیواله محکمه کې د غړیتوب د شرایطو په اړه وړاندیز وکړ.
په همدې اړه عمومي اسامبلې د امنیت شورا په توصیه د ۱۹۴۶ کال د ډسمبر په ۱۱ مه د (۱) ۹۱ نمبر پرېکړه په صادرولو سره د عدالت په نړیواله محکمه کې د غړیتوب شرایط داسې وټاکل:
- د اساسنامې منل
- د منشور د ۹۴ مادې د پرېکړو منل
- په محکمه کې د غړیتوب ونډه
که څه هم سویس د ملګرو ملتونو په سازمان کې غړیتوب نه لري، خو په ۱۹۴۸ کال د جولای په ۲۸ یې د ملګرو ملتونو د نړیوالې محکمې غړیتوب ترلاسه کړ.
۳- هغه دولتونه چې نه په ملګرو ملتونو کې غړیتوب لري او نه هم په نړیواله محکمه کې:
دغه دولتونه هغه وخت کولی شي محکمې ته مراجعه وکړي چې د امنیت شورا له خوا ټاکل شویو شرایطو ته غاړه کېږدي.
دغه شرایط چې د امنیت شورا د ۹ نمبر پرېکړه لیک له مخې په ۱۹۴۶ کال د اکتوبر پر پنځمه وټاکل، په دې توګه دي:
۱- هغه هېوادونه چې په ملګرو ملتونو سازمان او په نړیواله محکمه کې غړیتوب نه لري، د قضیې له څېړلو مخکې د یوې اعلامیې له مخې باید د محکمې واکونه ومني او پرېکړو ته یې غاړه کېږدي.
۲- یاده اعلامیه کېدای شي چې عمومي یا خصوصي وي. په خصوصي اعلامیه کې د اعلامیې صادرونکی هېواد یوازې په یو څو محدودو قضیو کې د محکمې صلاحیت مني، په داسې حال کې چې په عمومي اعلامیه کې په ټولو قضیو کې د محکمې ټول صلاحیتونه منل کېږي.
۳- د اعلامیې اصلي کاپي د محکمې په ارشیف کې ساتل کېږي او د محکمې د ادارې له خوا یوه- یوه کاپي د محکمې ټولو اصلي او فرعي غړو او عمومي منشي ته استول کېږي.
۴- امنیت شورا د دې اعلامیې د الغا یا اصلاح حق چې ښایي د یوې بلې اعلامیې په واسطه محکمې ته ولېږل شي، ځان ته خوندي ګڼي.
۵- ټول هغه مسایل او پرېکړې چې د دغې اعلامیې پر اساس ترسره کېږي، د محکمې تابع دي.

**ب- اشخاص**:

د نړيوالې محکمې د اساسنامې له **۳۴** مې مادې څخه داسې مفهوم اخلو چې محکمې ته ارجاع شوې قضيه هېڅکله په اشخاصو او افرادو پورې اړه نه لري، بلکې دوی یوازې دومره کولی شي چې د خپل متبوع دولت سیاسي ملاتړ ترلاسه کړي او غوښتنه ور څخه وکړي چې په محکمه کې دده پر قضیې پوره غور وشي او وڅېړل شي. په دې صورت کې په حقوقي قضیو کې ښکېل افراد حق لري چې ځان ته مدافع وکیل او حقوقي سلاکاران وټاکي او خپله دعوا پرمخ بوځي.

**ج- نړیوال سازمانونه**:

که څه هم د نړیوالې محکمې د اساسنامې **۳۴** مه ماده په څرګنده دا حکم کوي چې محکمه یوازې د دولتونو ترمنځ د حقوقي قضیو د څېړلو صلاحیت لري، خو د همدې مادې **۲** او **۳** فقرې د محکمې او نړیوالو سازمانونو ترمنځ همکارۍ ته اشاره کړې ده. یعنې نړیوال سازمانونه کولی شي چې له نړیوالې محکمې څخه یوازې مشورتي رایه و غواړي.

## ۲- د دعوا موضوع

دا چې د عدالت نړیواله محکمه یو حقوقي بنسټ دی، نو له هرډول مشروع اقدام څخه وړاندې باید له حقوقي پلوه د دعوا شتون او خپل صلاحیت تثبیت کړي.

د عدالت نړیواله محکمه یوازې حقوقي مسایلو ته رسیدګي کوي، سیاسي او جنایي قضیې ددې محکمې په واک کې نه شاملېږي.

د نړیوالې محکمې د اساسنامې د **۳۶** مې مادې او **۲** مې فقرې له مخې، لاندې موضوعات د ملګرو ملتونو د نړیوالې محکمې په صلاحیت کې شامل دي:

الف- د نړیوالو تړونونو تفسیر

ب- په نړیوالو حقوقو پورې اړوند مسایل

ج- له نړیوالو تعهدونو څخه سرغړونه

د- د عدالت نړیواله محکمه له نړیوال تعهد څخه د سرغړونې په صورت کې باید د غرامت کچه او ډول وټاکي.

پوښتنه پیداکیږي چې ایا د عدلت نړیواله محکمه صلاحیت لري، هغه قضیه وڅېړي چې په عین وخت کې حقوقي او سیاسي دوه اړخونه ولري؟

نړیواله محکمه په دې اړه د حقوقي مسایلو یو پراخ تعریف وړاندې کوي او لیکي: هغه مسایل چې په یو وخت کې حقوقي او سیاسي اړخونه ولري، محکمه یوازې د قضیې حقوقي اړخ څېړي.

لکه نیکاراګوا چې د امریکا پر وړاندې نړیوالې محکمې ته شکایت وکړ. خو امریکا استدلال کاوه، چې د نیکاراګوا قضیه سیاسي اړخ لري او دغه مسئله باید په امنیت شورا او یا د امریکایي هېوادونو په سازمان کې مطرح شي او د ملګرو ملتونو نړیواله محکمه په هېڅ صورت د دې ډول قضیو د څېړلو اصلي مرجع نه شي کېدای. خو نړیوالې محکمې د امریکا دې استدلال ته په ځواب کې داسې څرګنده کړه:

((دا چې د عدالت نړیواله محکمه د ملګرو ملتونو د سیستم یوه برخه ده، نو په دې باور ده چې په امنیت شورا کې د قضیې څېړل په عین وخت کې په محکمه کې هم ترسره کېدای شي. د امنیت شورا دندې سیاسي او د محکمې دندې حقوقي ماهیت لري. نو په همدې اساس دواړه د یو او بل د دندو بشپړونکي ارګانونه دي او دواړه کولی شي چې په جلا- جلا ډول موضوع بررسي او وڅېړي)).

## ۳- د دولتونو رضایت

محکمه یوازې د مدعي او مدعي علیه د رضایت په صورت کې کولی شي چې حقوقي قضیو ته رسیدګي وکړي. د دعوا له طرفینو څخه هېڅ یو نه شي کولی چې په یوازې توګه محکمې ته د دعوا اقامه کولو لپاره مراجعه وکړي. دا کار هغه وخت شونی دی، کله چې طرفین د قضیې له څېړلو مخکې او یا وروسته د محکمې صلاحیت ومني.

## ۴- د محکمې واک منل

لکه څنګه چې مخکې مو یادونه وکړه چې (a) دولت نه شي کولی د (b) دولت له رضایت څخه پرته په محکمې کې دعوا اقامه کړي، نو په همدې اساس محکمه نه شي کولی چې قضیه وڅېړي.
د دولتونو له لوري محکمې ته د قضیې د څېړلو د رضایت اعلانول، په دوه ډوله صورت نیسي:
- د محکمې د واک منلو په موخه د ځانګړي هوکړه لیک لاسلیکول: ځانګړي هوکړه لیکونه د دولتونه ترمنځ د اختلاف تر پیدا کېدو وروسته لاسلیک کېږي.
په هوکړه لیک کې دواړه لوري ژمنه کوي چې د موجوده اختلاف یا شخړې د هواري په موخه به نړیوالې محکمې ته مراجعه کوي، چې دې طریقې ته د (محکمې د صلاحیتونو اختیاري منل) وایي. دولتونه د ځانګړو هوکړه لیکونو تر لاسلیکولو وروسته د محکمې دارالانشاء ته خبر ورکوي.
- د اجباري واک منل: په دې ډول حالت کې دولتونه د اختلاف تر رامنځته کېدو وړاندې د محکمې واک ته غاړه ږدي او دولتونه ژمنه کوي چې که په راتلونکې کې د دوی ترمنځ کوم

اختلاف رامنځته کېږي، نو د څېړلو لپاره به یې نړیوالې محکمې ته مراجعه کوي او پرېکړې به یې مني.
د محکمې اجباري واک منل کېدای شي په لاندې دوو طریقو ترسره شي:
۱- د نړیوالو هوکړه لیکونو له مخې د محکمې اجباري واک منل: د محکمې د اساسنامې د ۳۲ مې مادې پربنسټ، محکمه د ټولو هغو قضیو چې طرفین ورته مراجعه کوي او یا د ملګرو ملتونو د منشور او نورو تړونونو او هوکړه لیکونو پر اساس منل شوي وي، د څېړلو واک لري.
ډېری نړیوال هوکړه لیکونه د محکمې د اجباري واک منلو په برخه کې لاسلیکېږي او ددغو هوکړه لیکونو له مخې دولتونه ژمنه کوي چې د اختلاف د رامنځته کېدو په صورت کې به نړیوالې محکمې ته مراجعه کوي.
قضیه د مدعي له لوري باید د یوه لیک په ترځ کې محکمې ته وړاندې شي او مدعي علیه مکلف دی چې محکمې ته حاضر شي.
محکمې ته د مدعي علیه حاضرېدل الزامي دي، ځکه د هوکړه لیک له مخې دواړه هېوادونه مکلف دي چې د اختلاف د رامنځته کېدو پرمهال د محکمې پرېکړو او واکونو ته غاړې کېږدي.
عریضه یا لیک په حقیقت کې یو اړخیز سند دی چې د اختلاف موضوع او د دعوا طرفین په کې بیان شوي دي.
پر دوو اړخیزه او څو اړخیزه هوکړه لیکونو سربېره، نور هوکړه لیکونه هم شته چې نړیوالې محکمې ته د حقوقي قضیو د څېړلو واک ورکوي.
په دې اړه یو ښه مثال د ډله ییزې وژنې د مخنیوي کنوانسیون دی او د یاد کنوانسیون په نهمه ماده کې داسې راغلي دي:
((د غړو له خوا د سرغړونې، د کنوانسیون د نه پلي کولو، ابهام او د اختلاف په صورت کې طرفین کولی شي چې د قضیې د څېړلو په موخه نړیوالې محکمې ته مراجعه وکړي)).
دغه راز د نړیوالې محکمې د اساسنامې په ۳۷ مه ماده کې راغلي: په هر هغه هوکړه لیک یا کنوانسیون کې چې د غړو ترمنځ د قضایي پېښو د څېړلو مرجع په کې نړیواله محکمه ښودل شوې وي، قضیه همدغې محکمې ته باید وړاندې شي.
په همدې اساس، نړیواله محکمه د ټولو هغو قضیو د څېړلو صلاحیت لري چې د دعوا لورو پرې له مخکې توافق کړی وي.
۲- د یو اړخیزه اعلامیو له مخې د محکمې د واک منل
د نړیوالې محکمې د اساسنامې د ۳۲ مې مادې د ۲ مې فقرې له مخې، د دې اساسنامې لاسلیکوونکي دولتونه کولی شي چې د محکمې اجباري صلاحیتونه د یو اړخیزې اعلامیې په ترځ کې په لاندې مواردو کې ومني:

- د معاهدې تفسیر
- په نړیوالو حقوقو پورې اړونده مسایل
- له نړیوالو ژمنو څخه سرغړونه
- نړیواله محکمه له ژمنې څخه د سرغړونې په صورت کې باید د غرامت کچه او ډول وټاکي.
د یادونې وړ ده چې ددغه ډول اعلامیو خپرول اختیاري دي. یعنې دولتونه ددغو اعلامیو په خپرولو او نه خپرولو کې خپلواک دي او کولی شي هر مهال او هره شېبه چې لازمه وګڼي دا ډول اعلامیې خپرې کړي او یا یې بېرته واخلي.
دولتونه همدغه راز کولی شي چې په یادو اعلامیو کې اصلاحات راولي او یا د موجوده اعلامیې پرځای بله اعلامیه خپره کړي.
د ملګرو ملتونو عمومي منشي ته د اعلامیې له سپارلو وروسته دولتونه ژمنه کوي چې ددې اعلامیې له مخې به د اختلاف پرمهال د ملګرو ملتونو نړیوالې محکمې ته مراجعه کوي.
د یادونې ده چې دغه اعلامیې ځیني وخت کېدای شي په مشروط او یا بې له شرطه خپرې شي. د اعلامیې شرطونه دا دي:
- د اعلامیې د اعتبار موده
- د متقابلې معاملې شرط: دا شرط تر ډېره د محکمې د اجباري صلاحیت منلو پورې اړونده اعلامیه کې ټاکل کېږي او دغه شرط دوې پایلې لرلی شي:
لومړی دا چې هر هېواد حق لري په محکمه کې یوازې هغه وخت دعوا اقامه کړي چې پر مقابل لوري هم د اقامې وړ وي او دویم دا چې محکمه به هم د خپل واک یا نه واک له تشخیص څخه وروسته پر قضیې کار کوي.
- د داخلي محاکمو د صلاحیت شرایط: یو شمېر هېوادونه په خپلو ډېری اعلامیو کې په داخلي محاکمو پورې اړونده دعوې د نړیوالې محکمې له واکونو څخه بېلوي.
ددې ډول شرطونو اصلي سرچینه د ملتونو ټولنې د میثاق د ۱۵ مې مادې په ۸ مه فقره او د ملګرو ملتونو د منشور د ۲ مې مادې ۷ مې فقرې ته ورګرځي.
د یادونې ده چې ځیني حقوقپوهان د یادشوي وروستي شرط له ټاکلو سره مخالفت کوي.
- د شخړو د سوله ییز حل طریقې: یو شمېر هېوادونو په خپلو اعلامیو کې ځیني شرایط ټاکلي او ددغو شرایطو له مخې که چېرې د یوې قضیې د څېړلو لپاره پر نورو طریقو هوکړه شوې وي، نو د محکمې له اجباري واک څخه به خارج وي.
د څو اړخیزه هوکړه لیکونو شرایط: دا ډول شرط په لومړي ځل په ۱۹۴۶ کال کې د امریکا له لوري په یوه اعلامیه کې وټاکل شو.

د څو اړخيزه هوکړه ليکونو له امله رامنځته شويو اختلافونو ته په محکمه کې هغه وخت رسېدنه کېدای شي، چې د هوکړه ليک ټولې خواوې توافق وکړي.
امريکا په نيکاراګوا کې د خپلو پوځي عملياتو په اړه د محکمې ياد شرايط تر پښو لاندې کړل. د امريکا حکومت استدلال کاوه چې نيکاراګوا يوازې د تړون د څلور غړو دولتونو رضايت له ځان سره لري او محکمه په هغه صورت کې قضيې ته رسيدګي کولی شي چې د تړون ټول غړي په محکمه کې حضور ولري.
محکمې د خپلې اساسامې د **۵۹** مې مادې له مخې امريکا ته ددې ادعا په اړه په ځواب کې داسې وويل: (( د محکمې د صلاحيت تثبيت د دعوا په طرفينو پورې اړه لري او هر هغه هېواد چې ګومان کوي د محکمې پرېکړې دده په زيان وي، کولی شي د قضيې د څېړلو پرمهال محکمې ته حاضر شي او يا هم په جلا ډول خپل غوښتنليک محکمې ته وړاندې کړي. له دې پرته نور داسې کومه قانوني توجيې نشته چې له مخې يې درېيم طرف هم محکمې ته حاضر شي ))
- د نه پېژندګلوۍ شرايط: ځينو هېوادونو په خپلو اعلاميو کې د نه پېژندنې شرط ځای پرځای کړی دی.
اسرائيلو د **۱۹۵۰** کال په اعلاميه کې په ډاګه کړې، هغه هېوادونه چې دغه هېواد په رسميت نه پېژني، د اختلاف په صورت کې محکمه نه شي کولی چې په قضيه کې مداخله وکړي.
- د جګړې شرايط: دغه شرط چې له لومړۍ نړيوالې جګړې وورسته دود شو، د جګړې په اړه اختلافونه د محکمې واک نه ګڼي.
- د ګډو ګټو هېوادونو ترمنځ د اختلاف په اړه شرايط: انګليستان په **۱۹۳۰** کال کې د يوې اعلاميې له مخې د ګډو ګټو هېوادونو ترمنځ د اختلاف د حل مرجع نړيوالې محکمه نه ده ټاکلې.
- ځانګړی شرط: کله کله په ځينو اعلاميو کې داسې اختلافات رامنځته کېږي چې د هماغه هېواد په ځانګړو شرايطو پورې اړه لري، چې دغه ډول شرايط هم د نړيوالې محکمې له صلاحيتونو څخه بهر دي. لکه د مصر له لوري د **۱۹۲۲** کال اعلاميه چې د سويز کانال ټول مسايل يې د محکمې له واکونو څخه بېل کړي وو.
په ځينو اعلاميو کې د محکمې واکونه چې د اعلاميې له صادرولو وروسته کوم اختلاف رامنځته کېږي، محدود شوي دي.
ب- د محکمې مشورتي واک: د نړيوالې محکمې مشورتي واک هغه حقوقي او قضايي پرېکړې ته وايي، چې د نړيوالو سازمانونو حقوقي قضيو ته د رسيدګۍ په اړه يې کوي.
د نړيوالې محکمې دغه مشورتي واک د هغو اصولو او قواعدو سرچينه ده، چې د انګلو ساکسونو په هېوادونو کې دود دي.

په ۱۹۲۰ کال کې په امریکا او انګلیستان کې د ځینو نړیوالو حقوقي مسایلو په باب د نړیوالې محکمې په اساسنامه کې د مشورتي واک وړاندوېینه وشوه.
د اساسنامې ۲۵ مې مادې له مخې، د ملګرو ملتونو ټولې اصلي او فرعي څانګې کولی شي، خپلو حقوقي قضیو ته د حل په موخه له نړیوالې محکمې څخه مشورتي رایه وغواړي.
هغه ارګانونه چې د مشورتي رایې د غوښتنې حق لري، نومونه یې د ملګرو ملتونو په منشور کې راغلي دي.
هغه سازمانونه او ارګانونه چې په منشور کې یې نوم نشته، کولی شي د عمومي اسامبلې په مرسته له نړیوالې محکمې څخه د خپلو حقوقي مسایلو په اړه مشورتي رایه وغواړي.
عمومي اسامبله او امنیت شورا هم کولی شي له نړیوالې محکمې څخه مشورتي نظر واخلي او همدغه راز د منشور له مخې د قیمومیت شورا او اقتصادي او ټولنیزې شورا ته هم دغه حق ورکړل شوی دی.
همدا راز یو شمېر نورو فرعي سازمانونو هم د هغو هوکړه لیکونو له مخې چې له ملګرو ملتونو سره یې کړي دي، دا حق ترلاسه کړی دی. د ملګرو ملتونو منشور ټول حقوقي مسایل د محکمې د مشورتي نظر وړ ګڼلي دي. لکه دغه مسایل:
تشکیلات، دندې او د سازمان کړنلاره، د سازمانونو خپل منځي اختلافونه، د سازمان د غړو او ناغړو هېوادونو ترمنځ اختلافونه، د سازمانونو د اساسنامې او په نړیوالو حقوقو پورې د اړونده تړونونو تفسیر.
د یادونې ده، چې د نړیوالې محکمې مشورتي واک له یوې مهمې مسئلې سره مخ دی.
د ملتونو ټولنې نړیوالې محکمې او د ملګرو ملتونو نړیوالې محکمې هغو پوښتنو ته قانع کوونکی ځواب نه دی ویلی، چې د دولتونو ترمنځ په حقوقي قضیو کې یې د پام وړ اغېز درلود.
له حقوقي پلوه د نړیوالې محکمې مشورتي رایه الزامي نه ده، مګر دا چې په نړیوالو تړونونو او یا په ځینو ځانګړو مسایلو کې الزامي وپېژندل شي.
مثلاً، د ملګرو ملتونو سازمان د مصؤنیتونو او همدارنګه د سازمان او دولتونو ترمنځ د اختلاف په اړه د محکمې رایه الزامي او قطعي ده.
له دې سره سره چې د نړیوالې محکمې مشورتي رایه الزامیت نه لري، خو په ځینو برخو کې، په تېره بیا د سازمانونو او دولتونو ترمنځ د اختلافونو په حل کې اغېزمنه تمامه شوې ده.
مثلاً، ملګرو ملتونو په ۱۹۵۲ کال کې کانګو ته نړیوال سوله ساتې ځواکونه واستول او محکمې د ۱۹۲۲ کال د جولای په شلمه ددغه ماموریت په اړه مشورتي رایه ورکړه، چې د پوځي ماموریت لګښت د ملګرو ملتونو د بودیجې یوه برخه ده او ټول غړي اړ دي چې سازمان ته خپلې ونډې ورکړي.

فرانسې او پخواني شوروي اتحاد پر خپل دغه دریځ ټینګار کاوه چې د پوځي ماموریت لګښت د ملګرو ملتونو د عادي بودیجې له لګښتونو څخه جلا دی او د خپلې ونډې له ورکړې څخه یې انکار وکړ. خو نړیوالې محکمې مشورتي رایه ورکړه او دا مسئله یې په ډاګه کړه چې دغه لګښتونه د ملګرو ملتونو له عادي بودیجې څخه شمېرل کېږي او غړي دولتونه باید خپله ونډه سازمان ته ورکړي.

## څلورمه څانګه: اقتصادي او ټولنیزه شورا

**۱- د غړو جوړښت:**

اقتصادي او ټولنیزه شورا اوسمهال **۵۴** غړي لري او د ملګرو ملتونو له اصلي ارګانونو څخه ګڼل کېږي.

د شورا غړي د عمومي اسامبلې له لوري ټاکل کېږي او اتلس نوي غړي یې هر کال د درېیو کلونو لپاره ټاکل کېږي.

د شورا هر غړی کولی شي، خپل یو استازی شورا ته معرفي کړي، هغه غړي چې د غړیتوب موده یې پوره شوي وي، دویم ځل هم کولی شي په شورا کې غړیتوب واخلي.

د منشور د **۲۱** مې مادې د تعدیل له مخې چې د عمومي اسامبلې د 2847 (XXVI) نمبر پرېکړه لیک پر اساس ترسره شو ، د اقتصادي او ټولنیزې شورا غړي د جغرافیوي، اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري معیارونو له مخې باید وټاکل شي.

په پرېکړه لیک کې راغلي، چې د شورا غړي باید له لاندې پنځو ډلو څخه وټاکل شي: د افریقایي هېوادونو ډله، د اسیایي هېوادونو ډله، لاتینه امریکا او د لوېدیځې او ختیځې اروپا هېوادونه.

پر دې سربېره، د امنیت شورا پنځه دایمي غړي هم د اقتصادي او ټولنیزې شورا د غړو په توګه ټاکل کېږي. په شورا کې رایه د برابرۍ په اصل ولاړه ده او هر غړی د یوې رایې حق لري.

**۲- د تصمیم نیونې طریقه**

اقتصادي او ټولنیزه شورا هر کال دوه عادي غونډې دایروي او د هرې غونډې لپاره جلا اجنډا ټاکل کېږي.

د کار اجنډا په عمومي غونډو کې تر بحث لاندې نیول کېږي او د بررسۍ په موخه اجلاسي کمېټو (sessional committes) ته استول کېږي.

هغه موضوعات چې په کمېټو کې تر بحث لاندې نیول کېږي لکه د بحثونو لنډیز، د پرېکړه لیکونو طرحه او توصیه شوي پرېکړه لیکونه عمومي غونډې ته وړاندې کېږي او په اړه یې وروستی تصمیم نیول کېږي.

هر غړی د یوې رایې حق لري او د شورا پرېکړې (که څه هم د غیر الزامي ماهیت لرونکي دي) د حاضرو غړو په ساده اکثریت ترسره کېږي.

د شورا پرېکړې د لاندنیو اسنادو د تصویب لامل ګرځي:

الف) د عمومي غونډې اسناد چې (سریال نمبر/کال/E) په نښه ښودل کېږي او د کار د اجنډا بشپړ توضیحات پکې شامل وي.

د مطرح شوې موضوع په اړه مکتوب صادرول او همدارنګه د بحث وړ موضوعاتو په اړه د اجلاسي کمېټې رپوټ.

ب) د اجلاسي کمېټو اسناد چې د(,-/E/year/c.1/,c.2) په ځانګړنو ښودل کېږي. په دې کې اطلاعاتي پاڼې او مدارک، پېشنهادي طرحې، اداري سندونه او د کومېټو د غونډو ډولونه شامل دي.

ج) اختصاصي عمومي غونډې چې په دې (E/year/SR) ځانګړنو باندې ښودل کېږي او دا یوازې د غونډې د ګډونوالو لپاره د لنډ وخت لپاره وي.

د) هر پرېکړه لیک چې د عمومي اسامبلې لپاره چمتو کېږي، د کال په پای کې د لومړي نمبر رسمي اسنادو د ضمیمې په توګه بیا یوځل له سره صادرېږي.

د رسمي اسنادو په ضمیمو کې معمولاً د فرعي ارګانونو کلني رپوټونه، ځانګړي رپوټونه، پرېکړه لیکونه او تصمیمونه شامل دي.

**۳- د اقتصادي او ټولنیزې شورا دندې او واکونه**

اقتصادي او ټولنیزه شورا د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزو فعالیتونو اصلي رکن ګڼل کېږي. دغه شورا د منشور د نهم او لسم څپرکي د حکمونو پراساس د عمومي اسامبلې تر څارنې لاندې فعالیت کوي.

د سنفرانسیسکو په کنفراس کې دریېمې کمېټې ته دنده سپارل شوې وه چې په منشور کې په اقتصادي او ټولنیزو همکاریو پورې اړوند مقررات تنظیم او تدوین کړي.

کمېټې د منشور دویمې مادې له مخې اعلان وکړ، چې د منشور په راتلونکي نهم او لسم څپرکیو کې د ملګرو ملتونو سازمان حق نه لري، چې د هېوادونو په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي.

په دې اساس د اقتصادي او ټولنیزې شورا پرېکړې او تصمیمونه الزامیت نه لري، بلکې یوازې د توصیې بڼه لري.

وړاندې له دې چې د اقتصادي او ټولنیزې شورا دندې او واکونه وڅېړو، باید یادونه وکړو چې ددغې شورا د کار ساحه ډېره پراخه ده، خو محدود اختیارات او واکونه لري.
بله دا چې ددغې شورا عمده فعالیتونه د فرعي سازمانونو له خوا ترسره کېږي، نو ویلی شو، هغه فعالیتونه چې دغه شورا یې ترسره کوي، تر ډېره په هغو برخو متمرکز دي چې په تخصصي سازمانونو پورې اړه نه لري او دا کار سبب شوی چې اقتصادي او ټولنیزه شورا تقریباً په یوه تکمیلي ارګان بدله کړي.
د منشور د ۶۲ مې مادې پربنسټ د شورا دندې او واکونه په لاندې توګه دي:
**الف- د مطالعاتو او څېړنو ترسره کول:**
د منشور د ۶۲ مې مادې د لومړۍ فقرې له مخې، د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزه شورا کولی شي په اقتصادي، کلتوري، علمي او روغتیايي برخو کې مطالعات ترسره او په اړه یې عمومي اسامبلې او د ملګرو ملتونو تخصصي سازمانونو ته توصیه وکړي.
ددغه ډول مطالعاتو او څېړنو غوښتنه باید له عمومي منشي، سیمه ییز اقتصادي کمېسیونونو، ځانګړې کمېټو، کارپوهانو او تخصصي سازمانونو ته واستول شي.
**ب- د توصیه نامې صادرول:**
د منشور د ۶۲ مې مادې او دویمې فقرې له مخې، اقتصادي او ټولنیزه شورا کولی شي، د بشر حقونو او اساسي ازادیو د هڅونې او درناوي په موخه د ملګرو ملتونو ټولو غړو ته توصیه وکړي.
د یادې مادې په رڼا کې درې ټکي د یادولو دي:
لومړی دا چې شورا کولی شي د ګڼو موضوعاتو لکه بشر حقوق او اساسي ازادیو په اړه موضع ګیري وکړي او دویم دا چې شورا یوازې د توصیې نامې د صادرولو حق لري.
د شورا پرېکړې الزامیت نه لري او په همدې اساس شورا په خپل پرېکړه لیکونو کې دا ډول جملې(...څخه هیله کېږي) کاروي.
توصیه نامې کېدای شي ټولو ته مخاطبې وې او دا په خپله د دې مانا ورکوي چې شورا د مخاطبینو په برخه کې هېڅ راز محدودیت نه لري. لکه شورا حق لري چې عمومي اسامبلې، دولتونو او تخصصي سازمانونو ته توصیه نامه صادره کړي.
**ج- د کنوانسیونونو لپاره د طرحې چمتو کول:**
اقتصادي او ټولنیزه شورا د خپل صلاحیت له مخې کولی شي عمومي اسامبلې ته د کنوانسیونونو طرحې چمتو او وړاندې کړي.
د کنوانسیونونو ډېری طرحې په مستقیم ډول د اقتصادي او ټولنیزې شورا له خوا چمتو کېږي او وروسته د تصویب لپاره عمومي اسامبلې ته لېږل کېږي. لکه، د ډله ییزې وژنې د مخنیوي کنوانسیون.

خو د یو شمېر نورو کنوانسیونونو طرحې بیا ځانګړو نړیوالو کنفرانسونو ته ارجاع کېږي. لکه د کډوالو په اړه د کنوانسیون طرحه چې په ۱۹۵۴ کال کې د ملګرو ملتونو ځانګړي کنفرانس ته وړاندې شوه.

**د- د نړیوالو کنفرانسونو جوړول:**

د نړیوالو کنوانسیونونو د طرحو په چمتو کولو سربېره، اقتصادي او ټولنیزه شورا همدغه راز واک لري چې ځینې نړیوال کنفرانسونه دایر کړي.

هېره دې نه وي چې یاد کنفرانسونه، بین الدولي کنفرانسونه نه دي، بلکې کېدای شي سیمه ییز، نادولتي او یا هم تخصصي کنفرانسونه اوسي. لکه له منابعو څخه د ګټې اخیستنې او ساتنې په اړه د ملګرو ملتونو علمي کنفرانس چې په ۱۹۴۹ کال کې جوړ شوی و.

بله دا چې کېدای شي دغه کنفرانسونه د ګڼو موضوعاتو لکه: روغتیا، سوداګري، مهاجرت او د حمل او نقل په اړه دایر شي.

**هـ - له فرعي سازمانونو سره مرسته او همغږي:**

د ملګرو ملتونو د فرعي سازمانونو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کول، د اقتصادي او ټولنیزې شورا له مهمو دندو څخه دي.

د فرعي سازمانونو او د اقتصادي او ټولنیزې شورا ترمنځ د اړیکو ټینګول د یوه هوکړه لیک له مخې ترسره کېږي.

د منشور د ۶۲ مې مادې له مخې، د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزه شورا کولی شي له هرې فرعي مؤسسې سره چې د منشور په ۵۷ مه ماده کې ترې یادونه شوې ده، هوکړه لیک لاسلیک کړي او هغه شرایط هم باید په ډاګه کړي چې له مخې یې نوموړې مؤسسې له ملګرو ملتونو سره تړل کېږي او دا ډول هوکړه لیکونه باید د عمومي اسامبلې له لوري تصویب شي.

د ملګرو ملتونو سازمان د اقتصادي او ټولنیزې شورا په واسطه تر اوسه شپاړسو فرعي سازمانونو سره د همکارۍ تړونونه لاسلیک کړي دي. چې په دې ډول دي:

۱- د مخابراتو نړیواله ټولنه (**I.T.U**)

۲- د پوست نړیواله ټولنه (**U.P.U**)

۳- د کار نړیوال سازمان (**I.L.O**)

۴- د خوراکي توکیو او کرنې نړیوال سازمان (**FAO**)

۵- د پیسو نړیوال صندوق (**I.M.F**)

۶- د رغونې او پرمختګ نړیوال بانک (**I.B.R.D**)

۷- نړیواله مالي ټولنه (**I.F.C**)

۸- د ملګرو ملتونو علمي او کلتوري سازمان (**UNESCO**)

۹- د ملکي هوايي چلند نړیوال سازمان (ICAO)
۱۰- د روغتیا نړیوال سازمان (WHO)
۱۱- د هوا پېژندنې نړیوال سازمان (WMO)
۱۲- د بحري چلند نړیواله ټولنه (IMO)
۱۳- د ملګرو ملتونو د صنعتي ودې سازمان (UNIDO)

باید یادونه وکړو، چې د اټومي انرژۍ نړیوال اژانس ته یو تخصصي سازمان نه شو ویلی. ځکه د هغه هوکړه لیک له مخې چې په ۱۹۵۷ کال د نومبر په ۱۴ ددغه اژانس او ملګرو ملتونو ترمنځ لاسلیک شو، دغه هوکړه لیک د نورو فرعي سازمانونو د هوکړه لیکونو په منځ کې یو مثال دی.
دا چې ددغه سازمان اصلي موخه د نړیوالې سولې او امنیت او د سوله ییز اټومي پروګرام پرمختګ دی، نو په خپلو چارو کې ډېره خپلواکي ورکړل شوې ده.
د دغه سازمان ډېرې اړیکې له عمومي اسامبلې او د امنیت له شورا سره دي، له اقتصادي او ټولنیزې شورا سره ډېرې اړیکې نه لري.

## پنځمه څانګه: د ملګرو ملتونو دارالانشاء

د منشور د ۷ مې مادې له مخې دارلانشاء (سکرتریت) د ملګرو ملتونو له اصلي څانګو څخه ده.
دغه راز د منشور د ۹۷ مې مادې له مخې، دارلانشاء له یوه عمومي منشي، مرستیالانو او کارکوونکو څخه جوړه شوې ده.
دا چې د دارلانشاء فعالیت تر ډېره په خپله منشي پورې اړه لري، نو لومړی باید منشي، ورپسې دارلانشاء او بیا د هغه نړیوال هویت تربحث او څېړنې لاندې ونیسو.

**۱- د ملګرو ملتونو عمومي منشي**

منشي د ملګرو ملتونو تر ټولو لوړ مقام دی، چې د دارلانشاء مشري پر غاړه لري.
د سنفرانسیسکو د کنفرانس له جوړېدا مخکې یو شمېر هېوادونو وړاندیز کړی و، چې د سازمان د اداري چارو د سمبالښت لپاره عمومي منشي او د اجرائیوي چارو لپاره باید اجرایوي رئیس وټاکل شي. خو دا طرحه ونه منل شوه او دواړه دندې عمومي منشي ته وسپارل شوې.

**الف- د عمومي منشي د ټاکنې بهیر**: لومړی امنیت شورا په خپله یوه ځانګړې ناسته کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ټاکلو په اړه بحث او خبرې اترې کوي او وروسته د یوه پرېکړه لیک له مخې عمومي اسامبلې ته په شرایطو وړ نوماندان ور پېژني.
عمومي اسامبله په خصوصي مذاکراتو کې موضوع څېړي او وروسته په یوه عمومي غونډه کې د سري رایو په واسطه خپل پرېکنده نظر اعلانوي.

که څه هم په منشور کې د عمومي منشي د دندې موده په ډاګه شوې نه ده، خو عمومي اسامبلې په **۱۹۴۶** کال کې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د کار موده **۵** کاله وټاکله.

په لومړي سر کې د عمومي منشي په ټاکنه کې ځیني حقوقي ستونزې رامنځته شوې وې.

لومړی ستونزه په **۱۹۵۰** کال کې د ملګرو ملتونو د لومړني عمومي منشي(ټريګولي) د کار په وروستيو وختونو کې رامنځته شوې وه. په همدغه کال امنيت شورا اعلان وکړ چې هيڅ غړی حق نه لري چې د عمومي منشي د دندې په اړه په فردي توګه اسامبلې ته توصيه وکړي.

د امنيت شورا له دې پرېکړې وروسته عمومي اسامبلې د شوروي اتحاد له مخالفتونو سره- سره د عمومي منشي د ټاکلو موضوع د خپل کار په اجنډا کې شامله کړه او د [(V) ۴۹۲] نمبر پرېکړه ليک له مخې پرېکړه وشوه چې ښاغلی«Tryge lie» دې د نورو درې کلونو لپاره په خپل ځای پاتې شي.

دې ته ورته بله پېښه د ښاغلي هامرشولډ له مړينې وروسته رامنځته شوه، چې د هغه له مړينې وروسته ښاغلی «اوټانټ» د پاتې دورې لپاره د عمومي اسامبلې له لوري د منشي په توګه وټاکل شو او نوی منشي د امنيت شورا له توصيې وروسته د دواړو ارګانونو له خوا تائيد شو.

د ملګرو ملتونو د سازمان له جوړېدو څخه تر اوسه دغه کسان د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشيانو په توګه ټاکل شوي دي:

۱- ټريګويلي (Trygve Lie) د **۱۹۴۶** کال له فيبروری څخه د **۱۹۵۳** کال تر اپرېل مياشتې پورې. له دې وړاندې د ناروې د بهرنيو چارو وزير و.

۲- ډېګ هامرشولډ (Dag hammershold)- **۱۹۵۳**، اپرېل تر ۱۹۶۱، سيپټمبر. له دې وړاندې د سويډن د بهرنيو چارو وزارت کارکوونکی و.

۳-او ټانټ (U.thant)- سيپټمبر، ۱۹۶۱- جنوري، ۱۹۷۲. په ملګرو ملتونو کې د برما هېواد د پلاوي مشر.

۴-کورټ والډهايم (kurt waldheim)- جنوري، ۱۹۷۲- جنوري، ۱۹۸۲. د اتريش هېواد اوسېدونکی و.

۵-جانوير پرز ډو کويار (janvier perez De cueller) جنوري، ۱۹۸۲-۱۹۹۲. د پيرو هېواد اوسيدونکی و.

۶- پطروس غالي (Boutros- ghali)- جنوري، ۱۹۹۲- ډيسمبر، ۱۹۹۶. د مصر هېواد اوسېدونکی و.

۷- کوفي عنان(kufi annan) جنوري، ۱۹۹۲-۲۰۰۷. د ګانا افريقا هېواد اوسېدونکی و.

۸- بانکي مون(Ban ki- moon) د ۲۰۰۷ کال د جنوری له لومړۍ څخه تر دې دمه. نوموړی د سوېلي کوريا اوسېدونکی دی.

**ب- د عمومي منشي دندې او واکونه**: د عمومي منشي دندې او واکونه د منشور په ۹۷ او ۱۰۱ مې مادو کې په ډاګه شوي او د هغه اغېزمن رول او فعالیت په لاندنیو عواملو پورې اړه لري:

- د عمومي منشي شخصیت او وړتیا ؛
- سیاسي بصیرت او پوهه؛
- له منشور څخه پراخ تفسیر.

پورتنیو عواملو ته پام سره د ملګرو ملتونو د منشیانو کړنې له یو بل سره توپیر لري.

د بېلګې په توګه؛ د دوه قطبي نظام له ړنګېدو وروسته په نړیوالو شرایطو کې «پرز دو کویار» فعال او هڅاند کرکتېر، نوموړی نسبتاً یو بریالی منشي ثابت کړ.

د عمومي منشي دندې پر دوو برخو وېشل شوي دي: ۱- اداري دندې ۲- اجرايوي دندې

اداري دندې: عمومي منشي د ملګرو ملتونو تر ټولو لوړ مقام دی، چې عمده اداري دندې یې په لاندې توګه دي:

- د ملګرو ملتونو سازمان د غونډو تنظیمول؛
- د کنفرانسونو د طرزالعمل او روش په اړه وړاندیز ؛
- د طرحه شویو اسنادو د چمتوکولو په اړه فني او حقوقي مشوره؛
- د سکرتریټ له چارو سره د فرعي سازمانونو همغږي کول؛
- د سازمان د کلنۍ بودیجې تنظیمول؛
- د نړیوالو تړونونو ثبتول او خپرول
- عمومي اسامبلې ته د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه د کلني راپور وړاندې کول.

اجرايوي دندې: د عمومي منشي اجرايوي دندې سیاسي بڼه لري، چې کولی شي په نړیوال سیاست کې مهم رول ولوبوي.

شوروي اتحاد په ۱۹۶۱ کال کې وړاندیز وکړ، چې د عمومي منشي په مقام کې یو درې کسیز پلاوی باید ور زیات شي. شوروي ځکه دا وړاندیز کړی و، چې یاد هېواد د هغه وخت عمومي منشي (ډاګ هامر شولډ) له سیاسي کړنو څخه ناخوښه و. دا چې په یاد وړاندیز کې د شوروي اتحاد له خوا د عمومي منشي د رول د محدودولو غوښتنه شوې وه او د عمومي منشي واک یې یوازې اداري چارو ته محدود کړی و، نو د عمومي اسامبلې له لوري رد شو.

د عمومي منشي مهمې اجرايوي دندې دا دي:

- د نړیوالې سولې او امنیت په اړه د امنیت شورا پام اړول؛
- نوښت رامنځته کول، یعنې د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت په برخه کې د موجوده خلا ډکول. د بېلګې په توګه، په ۱۹۵۷ کال کې کله چې هامر شولډ د ملګرو ملتونو منشي وټاکل شو ،

اعلان یې وکړ چې دی به د ملګرو ملتونو د منشور او پر دوديزې ډيپلوماسۍ ولاړ سيستم کې د هرډول تشې ډکولو لپاره اړين اقدامات وکړي.
- غوره هڅې (good offices) او د دولتونو ترمنځ منځګړيتوب: د غوره هڅې او منځګړيتوب ښه بېلګه په ۱۹۷۰ کې د عراق او ايران په جګړه کې د ملګرو ملتونو د وخت سرمنشي پرز ډوکوير منځګړيتوب و.
- نيابتي واکونه: عمومي اسامبلې د **۱۹۵۸** کال د اګسټ په **۲۱** مه، په خپله دربيمه بېړنۍ غونډه کې له عمومي منشي څخه وغوښتل څو د لبنان او اردن هېوادونو په اړه د منشور د موخو او اصولو د ساتنې په موخه عملي تدابير تر لاس لاندې ونيسي.
- د ملګرو ملتونو د سازمان په استازيتوب د تړونونو لاسليکول: عمومي منشي واک لري چې د ملګرو ملتونو سازمان په استازيتوب ځيني هوکړه ليکونه لاسليک کړي. لکه د ملګرو ملتونو د سازمان او د امريکا متحده ايالتونو ترمنځ د ځای يا مقر هوکړه ليک، چې له مخې دغه سازمان د امريکا په نيويارک ښار کې خپل فعاليتونه پرمخ وړي. همدغه راز په سازمان کې د ګومارل کېدو يا استخدام هوکړه ليکونه. په دې ډول هوکړه ليکونو کې عمومي منشي د ملګرو ملتونو د باصلاحيته استازي په توګه عمل کوي.
- په قضايي ارګانونو کې د سازمان حقوقي دعوو څارل.

## ۲- دارلانشاء

الف- د دارلانشاء يا سکرتريټ نړيواله پېژندنه: د دارلانشاء په اړه د منشور په ۱۰۰ مه ماده کې راغلي: د ملګرو ملتونو سرمنشي او کارکوونکي، د خپلې دندې د اجرا پرمهال حق نه لري چې د کوم دولت يا بهرني مقام امر او دستور ته غاړه کېږدي.
د ملګرو ملتونو ټول غړي ژمنه کوي چې ددغه سازمان د سرمنشي او کارکوونکو دندو او مسؤليتونو ته درناوی کوي او د دندې د اجرا پرمهال دې پر هغوی د هر ډول فشار څخه ډډه وکړي.
د اداري مقرراتو له مخې، د سکرتريت کارکوونکي له يو شمېر محدوديتونو سره مخ دي. د سکرتريت کارکونکي نه شي کولی چې په عين وخت کې بله دنده ولري او همدغه راز له بهرنيو سرچينو څخه پيسې نه شي ترلاسه کولی؛ د رسمي څرګندونو حق نه لري؛ د چا له خوا ډالۍ يا بخشش نه شي اخيستی او (له رايې ورکولو پرته) سياسي فعاليتونه هم نه شي کولای.
په **۱۹۵۲** کال کې د امريکا متحده ايالتونو د ملګرو ملتونو د سکرتريت شل تنه کار کوونکي د امريکا پر ضد په يوې پټې توطيې باندې تورن کړل.
د وخت عمومي منشي ټريګولي د يادو کسانو دندې وځنډولې او د حقوقپوهانو يوه کمېسيون ته يې دنده وسپارله څو د انضباطي تدابيرو په اړه نظر ورانديې کړي.

یاد کمېسیون استدلال کاوه چې دغه کسان له اداري مقرراتو څخه د سرغړونې په تور باید له دندې ګوښه کړل شي.
تورنو کسانو د ملګرو ملتونو له ادراي محکمې څخه د موضوع د څېړلو غوښتنه وکړه. محکمې د کمېسیون د نظر خلاف اعلان وکړ چې د کارکونکو بې مقدمې خارجول د انضباطي تدابیرو خلاف عمل دی او جواز نه لري.
بالاخره عمومي منشي اړ شو ترڅو یاد کسان یا بېرته خپلو دندو ته ولېږي او یا دې د خسارې په ورکړې له دندو ګوښه کړي، چې په پایله کې دویمه لاره یې غوره کړه.
دغه موضوع پروفیسور (باوټ) په څلورو کرښو کې څېړلې ده:
۱- په نړیواله او ملي کچه د وفادارۍ ترمنځ تعارض شتون نه لري. د تعارض د شتون په صورت کې کولی شو، دغه موضوع د شغل بدلون او یا په ځانګړو شرایطو کې له دندې څخه د شړلو په واسطه حل کړو.
اعتصابونه د اداري او سازمان د مقرراتو په وړاندې سرغړونه نه شو ګڼلی، ځکه ګڼ شمېر سازمانونو لکه د کار نړیوال سازمان، یونیسکو، د اروپا اقتصادي ټولنې، ناټو او خپله د ملګرو ملتونو سازمان خپلو کارکوونکو ته د اعتصاب حق ورکړی دی.
۲- دا د سرمنشي دنده ده څو ځان ډاډه کړي چې د ملګرو ملتونو د یوه کارکونکي په وړاندې د لګېدلو تورونو په اړه کافي دلایل شته دي او که نه.
همدغه راز سرمنشي باید په پام کې ولري چې له شهادت څخه د تورن شخص انکار، له سازمان څخه د نوموړي د ایستلو کافي دلیل نه شي کېدای.
۳- دولتونه اړ دي د هغو شکمنو کسانو په اړه چې غواړي په سازمان کې دنده واخلي، له وړاندې باید سازمان ته خبر ورکړي.
۴- ټول کارکونکي که هغه د کوربه هېواد تبعه وي او که د بل غړي هېواد، د ټولو ژمنې او تعهدات یو شان دي.
ب- د سکرتریت د استخدام مقررات
د ملګرو ملتونو سازمان ۱۵۳۰۸ کارکوونکي، په منشور کې د راغلو استخدامي او اداري مقرراتو تابع دي.
د منشور د ۱۰۱ مې مادې د لومړۍ فقرې له مخې، د ملګرو ملتونو کارکوونکي د عمومي اسامبلې له مقرراتو سره سم د سرمنشي له لوري ټاکل کېږي.
اداري مقررات د عمومي اسامبلې له لوري ټاکل کېږي او د سازمان استخدامي لارښوونې په کتابچو کې خپرېږي.

البته د سازمان اداري لارښوونې ددې لپاره چې تغير منونکي دي، په کتابچه کې نه خپرېږي، خو که د اداري قواعدو په چوکاټ کې وضع شوي وي، پر ټولو کارکوونکي باندې لازمي دي.
په دې اړه د سازمان د اداري مقرراتو د ۱۲ مې مادې لومړی فقره داسې وايي: ((عمومي اسامبله واک لري دغه حاضر مقررات پرته له دې چې د کارکونکو حقوقو ته زيان ورسيږي، اصلاح يا تعديل کړي)).
د سازمان اداري محکمې د کارکوونکو مکتسبه حقوق په ډاګه کړي دي. د سازمان استخدامي تړونونه، هم قانوني عنصر ګڼل کېږي او هم قراردادي.
د تړونونو قانوني عنصر شخصي بڼه نه لري او د سازمان سکرتريت تر اغېز لاندې راولي او د اداري مقرراتو د بدلون په صورت کې، دغه عناصر هم بدلون مومي او د مکتسبه حقوقو برخه نه ګڼل کېږي، خو قراردادي عناصر شخصي بڼه لري.
لکه د تړون ماهيت، رتبه، حقوق، امتيازات او نور. دغه قراردادي عناصر د مکتسبه حقوقو يوه برخه ده او د دواړو له لورو له هوکړې او رضايت پرته بدلون په کې نه شي راتلای.
په سکرتريت کې د استخدام د شرايطو په اړه د منشور د ۱۰۱ مې مادې دريمه فقره داسې وايي: ((د کارکوونکو استخدام او د هغوی د خدمت په اړه هغه څه چې بايد په پام کې ونيول شي، کاري وړتيا او صداقت دی. د کارکوونکو په استخدام کې د جغرافيوي انډول معيار ته هم بايد لازمه پاملرنه وشي)).
د پورتنۍ مادې له مخې په سکرتريت کې د کارکوونکو د ګومارنې په اړه دوه مهم اصول په پام کې نيول شوي دي:
۱- د کاري وړتيا اصل
۲- د جغرافيوي انډول اصل
پورتني دوه اصول په اسانۍ سره د پلي کېدو وړ نه دي. د لومړي اصل په اړه بايد وويل شي، هغه کسان چې له بېلابېلو هېوادونو څخه په سازمان کې دندې لري، له يوه ډول معياري زده کړو څخه برخمن نه دي، چې دا يوه ستونزمنه مسئله ده.
د بېلګې په توګه، په امريکا، اروپا، اسيا او يا په افريقا کې عمومي او لوړې زده کړې، يو له بله سره توپير لري. نو په دې اساس، ستونزمنه ده چې د لومړي اصل پربنسټ له ټولې نړۍ څخه دا ډول افراد غوره کړای شي.
د دويم اصل په اړه بايد ووايو، چې د غړو هېوادونو له خوا د ګډون ونډې (حق العضويت) کچه ددې لامل شوې، چې د جغرافيوي انډول اصل ته چنداني پاملرنه نه کېږي.
مثلاً له افغانستان او توګو هېوادونو څخه دوه يا درې تنه او له امريکا څخه ۳۲۷ نه تر ۴۳۲ تنو پورې ددغو هېوادونو له ګډون ونډې سره ورته والی لري.

د وخت پر اساس د استخدامي تړونونو وېش
د ملګرو ملتونو د سکرتریت استخدامي تړونونه په لاندې ډول وېشل شوي دي:
- دايمي انتصاب
- لنډ مهاله انتصاب
- مرتب انتصاب
۱- دايمي انتصاب: ددې ډول انتصاب له مخې، یو کارکوونکی په سازمان کې په دې شرط خپلې دندې ته دوام ورکولی شي، چې هر پنځه کاله وروسته د نوموړي د کاري وړتیا او ظرفیتونه ارزونه وشي.
که کارکونکی د استخدام د مقرراتو او منشور له شرایطو سره برابر نه و، له دندې څخه يې د ګوښه کېدو پرېکړه کېږي.
د يادونې ده، چې د انتصاب له پای ته رسېدو سره، د ځانګړي مشورتي پلاوي له خوا یو رپوټ بايد له مخکې چمتو شوی وي.
۲- لنډ مهاله انتصاب: لنډ مهاله انتصاب په لاندې درې ډوله وېشل کېږي:
الف- ټاکلی انتصاب: لکه څنګه چې له نوم څخه يې څرګنده ده، ددغه ډول انتصاب موده ټاکلې او مشخصه ده، چې له پنځو کلونو څخه لږه ده.
دغه ډول انتصاب معمولاً د هغو کسانو لپاره دی، چې د دولتي خدمت دوره يې پای ته رسېدلې وي. د ټاکلي انتصاب د پای رسېدو شرایط، د دايمي انتصاب له شرايطو سره ورته والی لري.
ب- نا ټاکلی انتصاب: دا ډول انتصاب چې ټاکلی او مشخص وخت نه لري، د هغو کارکوونکو لپاره په پام کې نيول شوی، چې د سيمه ييز ماموريت لپاره ګومارل کېږي.
د سازمان د کارکونکو د مقرراتو د ۹ مې مادې له مخې، که ددغو کارکوونکو ګوښه کول د سازمان په ګټه وي، سرمنشي واک لري چې د لرې کولو په اړه يې اقدام وکړي، خو د سازمان اداري محکمه ګوري، که په داسې حالاتو کې د عمومي منشي پرېکړه ناسمه وه، پرېکړه بېرته اخېستل کېږي.
ج- ازمايښتی انتصاب: دغه ډول انتصاب معمولاً د دوو کلونو لپاره ترسره کېږي. خو دايمي انتصاب ته د تبديلۍ شونتيا يې هم شته ده.
ددې انتصاب د پای ته رسېدو شرايط، د دايمي او لنډ مهاله انتصابونو له شرايطو سره ورته والی لري.
۳- مرتب انتصاب: دا ډول انتصاب د سازمان د سيمه ييز پرسونل په برخه کې، چې مخکې يې ازمايښتی تړون په خپله خوښه پای ته رسولی وي، ترسره کېږي.
د پای ته رسېدو شرايط يې له لنډمهاله او ناټاکلي انتصابونو سره ورته دي.

د استخدامي تړونونو وېش؛ د پوست (دندې) د ډول له مخې:
د پوست (دندې) د ډول له مخې د ملګرو ملتونو کارکوونکي په درې برخو وېشل شوي دي:
۱- لوړ پوړي اجرايوي مديران او چارواکي
۲- مسلکي کارکوونکي
۳- د عمومي خدمتونو پرسونل.
لوړ پوړي اجرايوي مديران او چارواکي: دغه ډله کارکونکي د سازمان د پاليسي جوړونکو يوه برخه ګڼل کېږي، چې د سرمنشي او د سرمنشي د مرستيالانو تر مستقيمې څارنې لاندې کار کوي.
مسلکي کارکوونکي: دغه ډله کارکوونکي چې د دارلانشاء اصلي برخه جوړوي، د وظيفوي رديفونو له p1 څخه نيولې تر p2 پورې دندې اجرا کوي.
د عمومي خدمتونو پرسونل: د عمومي خدمتونو پرسونل، هغه ډله سيمه ييز کارکوونکي دي چې له G1 څخه تر G5 پوستونو کې کار کوي.

## شپږمه څانګه: قيموميت شورا (Trusteeship council)

### ۱- تاريخچه:

قيموميت شورا د ملګرو ملتونو شپږمه اصلي څانګه ده چې د تر قيموميت لاندې سيمو د څارنې مسؤليت پر غاړه لري.
له دې مخکې هم دې ته ورته د ملتونو ټولنې په چوکاټ کې د سرپرستۍ نظام (Mandate) په نوم يو ارګان موجود و.
د ملتونو ټولنې د سرپرستۍ نظام له مخې د عثماني امپراتورۍ او المان تر ولکې لاندې سيمې د فاتحو هېوادونو له خوا اداره کېدې. د دغه نظام له مخې سرپرست دولتونه د ځمکې د اداره کولو د څرنګوالي په برخه کې د ملتونو ټولنې په وړاندې مسؤليت درلود. تر سرپرستۍ لاندې سيمې د پرمختګ او ودې پربنسټ په درېو برخو وېشل شوې دي:
الف: لومړۍ هغه ډله سيمې وې، چې له لنډې مودې سرپرستۍ وروسته، د خپلواکۍ او استقلال لپاره چمتو شوې وې. لکه يو شمېر عربي هېوادونه چې د عثماني امپراتورۍ برخه وې.
ب: دويمه ډله هغه هېوادونه وو، چې په نږدې راتلونکي کې د خپلواکۍ د ورکړې او د لومړنيو حقونو د خونديتوب ژمنې ورسره شوې وې او همدا رنګه پرېکړه شوې وه چې د مستعمرې په توګه به اداره کېږي. لکه: په ختيځې او لوېديځې افريقا کې د المان مستعمرات.
ج: درېيمه ډله هغه هېوادونه وو، چې د سرپرست هېواد له لوري د خپلې خاورې په توګه اداره کېدل او د خپلواکۍ د ورکړې ژمنه ورسره نه وه شوې.

د ملتونو میثاق له مخې، د قیمومیت لاندې سیمو د ادارې د څرنګوالي او څارنې په موخه د کارپوهانو یو لس کسیز کمېسیون جوړ شوی و.
یاد کمېسیون ته دنده سپارل شوې وه، څو ددې ډول څمکو په اړه ملتونو ټولنې ته راپور ورکړي.
په ۱۹۴۶ کال کې له جنوبي افریقا پرته، د ملتونو ټولنې تر سرپرستۍ لاندې ټولې سیمې، چې خپلواکي یې ترلاسه کړې نه وه، تر قیمومیت نظام لاندې راغلې.
تر قیمومیت لاندې سیمې د یوه ځانګړي هوکړه لیک له مخې چې اداره کوونکو هېوادونو چمتو او عمومي اسامبلې تصویب کړی و، د قیمومیت شورا تر واک لاندې راغلې. د قیمومیت لاندې سیمو د ادارې د څرنګوالي او څارنې مسؤلیت د امنیت شورا پر غاړه دی. امنیت شورا ددې ډول سیمو د اوسېدونکو شکایتونه څېړي او حل لارې ورته پیدا کوي.

## ۲- د قیمومیت نظام

د ملګرو ملتونو د منشور له مخې، قیمومیت شورا هغه نظارتي ارګان دی چې د دوه ډوله سیمو د څارنې مسؤلیت پرغاړه لري: ستراتېژیکې او غیر ستراتېژیکې سیمې.
پر غیر ستراتېژیکو سیمو څارنه د عمومي اسامبلې د پرېکړو تابع ده، په داسې حال کې چې د ستراتېژیکو سیمو څارنه د قیمومیت شورا مسؤلیت دی.
د یادونې ده، چې د ملګرو ملتونو قیمومیت شورا، د ملتونو ټولنې د سرپرستۍ نظام په پرتله یو پراخ جوړښت دی.
د منشور د ۷۷ مې مادې له مخې، د قیمومیت شورا د لاندې درې ډوله سیمو د ادارې مسؤلیت پرغاړه لري:
الف: هغه سیمې چې حاضر دمه تر سرپرستۍ لاندې دي.
ب: هغه سیمې چې ښایي له دویمې نړیوالې جګړې وروسته له یو شمېر هېوادونو څخه جلا شي.
ج: هغه ځمکې چې د اداره کوونکي هېواد له خوا قیمومیت شورا ته په داوطلبه توګه سپارل کېږي.
تر اوسه یوازې له (الف) او (ب) ګروپونو څخه سیمې د قیمومیت شورا تر واک لاندې راغلې دي.
د منشور ۷۷ مې مادې د ۲ مې فقرې له مخې، یوازېنۍ سیمه چې خپلواکي یې ترلاسه کړې، هغه د ایتالیا سومالیا لنډ هېواد دی.
د یادې مادې درېیمه فقره هم په دې دلیل چې هېڅ یوه سیمه په خپله خوښه د قیمومیت نظام تر واک لاندې نه شي راتلای، تر اوسه یې عملي بېلګه ونه لیدل شوه.

نو ویلی شو، چې د ملتونو ټولنې د میثاق له مخې، د قیمومیت نظام یوازې د هغو سیمو د سرپرستۍ واک درلود، چې یادې ټولې سیمې په خپله خوښه د نوي نظام تر سرپرستۍ لاندې راغلې وې.

خو د جنوب لویدیځې افریقا سیمې ور څخه استثنا وې او دغه سیمې چې د جنوبي افریقا له خوا اداره کیدې، په قیمومیت نظام کې له ورګډیدو څخه یې ډډه وکړه او خپله یې اداره کولې.

د سرپرستۍ لاندې سیمو د څارنې په موخه، د قیمومیت شورا جوړښت په لاندې ډول و:

۱- د قیمومیت لاندې سیمو ټول اداره کوونکي غړي؛

۲- د امنیت شورا دایمي غړي چې د قیمومیت لاندې سیمو د اداره کولو مسؤلیت پرغاړه نه لري.

۳- نور انتخابي غړي چې د قیمومیت لاندې سیمو د اداره کوونکو اوغیر اداره کوونکو هېوادونو ترمنځ د منځګړي په توګه ټاکل کېږي.

۱۹۲۸ کال، د قیمومیت شورا د فعالیتونو اوج و، چې (چین، فرانسه، شوروي اتحاد، استرالیا، برېتانیا، د امریکا متحده ایالات او نیو زیلند) د قیمومیت لاندې سیمو اداره کوونکي غړي وو.

په ۱۹۸۷ کال کې د امریکا په ګډون د امنیت شورا څلور دایمي غړي یوازېني اداره کوونکي دولتونه وو. خو چین په دې شورا کې برخه نه اخیسته.

د قیمومیت شورا دندې په دې توګه وې:

عمومي اسامبلې ته توصیه؛

د قیمومیت لاندې سیمو د اوسېدونکو د شکایتونو اورېدل؛

د کلنیو او ځانګړو رپوټونو برابرول او د قیمومیت لاندې ځمکو د څارنې او لیدنې په موخه سیمې ته د پلاوي لېږل.

د یادونې ده، چې د ستراتېژیکو سیمو په برخه کې د ملګرو ملتونو ټول مسؤلیتونه؛ له دې جملې د هوکړه لیک د شرایطو تصویبول، اصلاح او تعدیل، د امنیت شورا له خوا ترسره کېږي.

د منشور ۸۳ مې مادې له مخې یاده شورا همدغه راز د امنیتي مصلحتونو په پام کې نیولو او په قیمومیت پورې اړونده تړونونو په رعایتولو سره په اقتصادي، سیاسي، کلتوري او علمي برخو کې باید د قیمومیت شورا له همکارۍ او مرستې څخه استفاده وکړي.

دغه راز د منشور ۸۴ مې مادې له مخې اداره کوونکی مقام مکلف دی، ترڅو د قیمومیت لاندې سیمې د نړیوالې سولې او امنیت په ټینګښت کې په اغېزمن ډول وکاروي.

اداره کوونکی مقام په قیمومیت لاندې هېواد کې بنایي د امنیت شورا په وړاندې د خپلو ژمنو د عملي کولو، د خاورې دفاع، د عامه نظم ساتنه او د قانون ملاتړ په بدل کې، ددې سیمې له داوطلبې قوې، اسانتیاوو او نورو امتیازاتو څخه ګټه واخلي.

قیمومیت شورا د دغه ډول مسؤلیتونو د ترسره کولو په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې لرلې.

تر ۱۹۸۲ کال پورې، يوولس سيمې چې تر قيموميت لاندې وې، لسو يې خپلواکي ترلاسه کړه او همدغه راز د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې د يوې ټولپوښتنې په ترڅ کې له ګاونډيو هېوادونو سره متحدې شوې. دا سيمې عبارت وې له:
د برېتانيا توګو لنډ (با غنا ۱۹۵۷) د فرانسې توګو لنډ (توګو، ۱۹۶۰) د فرانسې کامرون (کامرون، ۱۹۶۰) د ايټاليا سوماليا لنډ (۱۹۶۰) د برېتانيا کامرون (يوه برخه يې له نايجريا او بله برخه يې له کامرون سره وتړل شوه، ۱۹۶۱) (تانزانيا، ۱۹۶۱) (رووانډا بروونډي، ۱۹۶۲) لويديځ ساوو (ساموا، ۱۹۶۲) (نايورو، ۱۹۶۸) او نيو ګيوينيا، ۱۹۷۵.
په ارام سمندرګي کې د پالايو ټاپو چې د امريکا متحده ايالتونو له خوا اداره کېده، په قيموميت شورا پورې اړونده وروستۍ سيمه وه، چې په ۱۹۹۴ کال کې د امنيت شورا د پرېکړې په ترڅ کې خپلواکه سيمه اعلان شوه.
په اوس وخت کې د قيموميت لاندې سيمې شتون نه لري، قيموميت شورا خپله کړنلاره بدله کړې او يوازې د اړتيا پرمهال غونډه کوي.

## پنځمه برخه:

# د ملګرو ملتونو فرعي څانګې

ملګري ملتونه د اصلي څانګو ترڅنګ، بېلابېلې فرعي څانګې هم لري، چې هره يوه يې په اصلي څانګو پورې تړلې دي.
د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې فرعي څانګې، د عمومي اسامبلې د پرېکړه ليک له مخې رامنځته کېږي، خو په ځينو مواردو کې عمومي اسامبلې له عمومي منشي څخه هم د فرعي څانګو د جوړېدو غوښتنه کړې ده.
په فرعي څانګو کې د غړيتوب مسئله ځينې وخت په پرېکړه ليک او ځينې وخت له پرېکړه ليک څخه جلا د عمومي اسامبلې له لوري ښېړل کېږي، خو ځينې وخت بيا د عمومي اسامبلې د مشر په توصيه يا د اصلي ارګانونو له لوري د غړو په توګه ټاکل کېږي. په ځينو مواردو کې چې د ارګانونو غړي د دولتونو پرځای په افرادو پورې تړلي وو، چې دغه پروسه بيا د ټاکنو په واسطه ترسره شوې ده.
دې مسئلې د ملګرو ملتونو د نړيوالو حقوقو کمېسيون او د ځينو نورو کمېټو او ارګانونو په برخه کې صحت درلود، خو په ملګرو ملتونو سازمان کې د چين د غړيتوب د ارزونې په اړه د جوړې شوې ځانګړې کمېټې يا د سوداګريزو حقوقو نړيوال کمېسيون (uncitral) په برخه کې چې غړي يې له غړو هېوادونو څخه ټاکل کېدل، د ازادو ټاکنو له طريقې څخه کار واخيستل شو.

ځيني فرعي ارګانونه یا بنسټونه په مستقل ډول کار کوي، چې له دې جملې د جزایي صلاحیت نړیواله کمېټه یا د ملګرو ملتونو ښوونیزه او څېړنیزه مؤسسه (unitar) د یادولو دي.
د ملګرو ملتونو څېړنیزه مؤسسه د یوې اړونده موضوع له څېړنې وروسته، خپل راپور عمومي اسامبلې، عمومي منشي او یا د ملګرو ملتونو یو اصلي ارګان ته وړاندې کوي.
د یادولو ده، د بې وسلې کولو کمېسیون، چې یو مستقل بنسټ دی، خپل راپور د غړو هېوادونو کنفرانس ته وړاندې کوي.
ځيني نور بیا په خپلو پرېکړو کې له استقلالیت څخه برخمن دي، لکه د فلسطین د اوربند څارنې سازمان او ځيني نور له دولتونو سره د مستقیمو خبرو اترو له واک څخه برخمن دي، لکه د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ.
عمومي اسامبله د یونېسف په څېر ځيني خیریه ارګانونه لري، چې دغه ډول ارګانونه یو سکرتریت او د پلان او پالیسۍ جوړونې یو مدیره پلاوی لري.
عمومي اسامبله قضایي او حقوقي بنسټونه هم لري. لکه، د ملګرو ملتونو د اداري دعوو د څېړنې اداره او د نړیوالو حقوقو کمېسیون.
اوسنیو حالاتو ته په پام سره، د فرعي ارګانونو د تأسیس په اړه د عمومي اسامبلې اقدامات د یادولو دي. لکه د ملګرو ملتونو د تجارت او پراختیا کنفرانس، د ملګرو ملتونو د صنعتي پراختیا سازمان، د ملګرو ملتونو د چاپېریال ساتنې پروګرام او د خوړو نړیواله شورا.
پورتني وروستي دوه سازمانونه، د کړنلارې او دندو له پلوه د فرعي ارګانونو او تخصصي سازمانونو ترمنځ قرار لري. نوموړي ارګانونه د بودیجې، سکرتریت او جلا ادارو په لرلو سره ځيني وخت له عمومي اسامبلې سره ستونزې رامنځته کوي.
دغه راز د اقتصادي او ټولنیزې شورا او تخصصي سازمانونو ترمنځ هم یو لړ ستونزې زېږوي. په هر حال، په عمومي اسامبلې پورې اړوند فرعي ارګانونه یوازې په هغه صورت کې رامنځته کېدای شي، چې واکونه یې د عمومي اسامبلې په چوکاټ کې تثبیت شوي وي. البته دلته موخه د عمومي اسامبلې صریح واکونه نه دي، بلکې ضمني واکونه دي.
د اداري محکمې جوړېدا، چې له پوره واک څخه برخمنه وه، د نړیوالې محکمې له لوري د تائید وړ وګرځېده او نړیوالې محکمې څرګنده کړې وه، چې عمومي اسامبله کولی شي ان ځان ته د اسې یو قضایي ارګان تأسیس کړي، چې د الزامي پرېکړو واک او صلاحیت ولري.
د ملګرو ملتونو درې اصلي څانګې یا ارګانونه (عمومي اسامبله، امنیت شورا او ټولنیزه – اقتصادي شورا) بېلابېلې فرعي څانګې لري، خو پاتې درې نورې اصلي څانګې فرعي څانګې نه لري. د فرعي څانګو مهمې دندې او موخې به په جلا ډول په تفصیل سره وڅېړو.
د عمومي اسامبلې فرعي څانګې

عمومي اسامبله لاندې څوارلس فرعي ارګانونه لري:
- د نړیوالو حقوقو کمېسیون (ILC)
- د کډوالو عالي کمېشنري (UNHCR)
- د ملګرو ملتونو د تجارت او پراختیا کنفرانس (UNFDA)
- د ملګرو ملتونو د نفوسو صندوق (UNFPA)
- د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق (UNICEF)
- د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP)
- د ملګرو ملتونو د چاپېریال ساتنې پروګرام (UNEP)
- د ملګرو ملتونو د مخدره توکو د مخنیوي پروګرام (UNDCP)
- د ښځو د پرمختګ لپاره د ښوونې او څېړنې نړیواله مؤسسه (INSRRAN)
- د ملګرو ملتونو د غړو د اوسېدو مرکز (UNCHS)
- د ملګرو ملتونو پوهنتون (UNU)
- د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو پراختیایي صندوق (UNIFEM)
- د ملګرو ملتونو تحقیقاتي او روزنیزه مؤسسه (UNITAR)
- د ګډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د مرستو دفتر (UNRWA)

**۱- د نړیوالو حقوقو کمېسیون (INTERNATIONAL LAW COMISSION)**

عمومي اسامبلې په ۱۹۴۷ کال کې د نړیوالو حقوقو د تدوین او پراختیا په موخه د نړیوالو حقوقو کمېسیون تاسیس کړ. دغه کمېسیون چې له ۳۴ پیاوړو حقوقپوهانو څخه جوړ شوی دی، د عمومي اسامبلې له خوا د هرو پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي. یاد کمېسیون هر کال یو ځل کلنۍ غونډې دایروي.

د کمېسیون غړي د خپل هېواد استازیتوب نه کوي، بلکې د علمي وړتیا پر اساس ټاکل کېږي. د بین الملل حقوقو تدوین او پراختیا په دوو جلا طریقو سره د کمېسیون له خوا ترسره کېږي. د نړیوالو حقوقو تدریجي پراختیا د کمېسیون د مستقیمو وړاندیزونو او طرحو پر اساس نه شي ترسره کېدای، بلکې په دې اړه طرحې او وړاندیزونه د عمومي اسامبلې له لوري کمېسیون ته وړاندې کېږي. خو د تدوین په برخه کې، کمېسیون صلاحیت لري، چې د بررسۍ او څېړنې په موخه موضوعات انتخاب کړي.

د یادونې ده، چې په دې اړه هم کمېسیون باید د عمومي اسامبلې غوښتنو ته لومړیتوب ورکړي. کمېسیون د پراختیا او تدوین لپاره له مشابې طریقې څخه کار اخلي او د هرې موضوع لپاره یو ځانګړی رپورټر ټاکل کېږي.

د کار د ترسره کولو په موخه یوه مناسبه طرحه هم چمتو کېږي او له دولتونو څخه غوښتنه کېږي چې د مطرح شوې موضوع په اړه قوانین، فرمانونه، قضایي پرېکړې، تړونونه او ډیپلوماتیک مکتوبونه وړاندې کړي.
ځانګړی رپورټر، خپل راپور چمتو کوي چې له مخې یې کمېسیون مؤقتي طرحه تصویبوي او دا طرحه په کمېسیون کې د موضوع د سوابقو او د نظر اختلاف تضمینونکې او د وړاندیز شوې حل لارې بنه لري.
مؤقتي طرحه د کمېسیون د سند په توګه خپرېږي او عمومي اسامبلې ته وړاندې کېږي. همدغه راز د نظر څرکندولو په موخه غړو هېوادونو ته هم لېږل کېږي.
یادو دولتونو ته یو کال وخت ورکول کېږي، څو د لېږل شوې طرحې له ارزولو او څېړلو وروسته په لیکلې بڼه خپل نظر کمېسیون ته وړاندې کړي.
ځانګړی رپورټر، ترلاسه شوي نظریات په شپږمه کمېټه کې تر بحث لاندې نیسي. همدارنګه په طرحه کې د بدلونونو په تړاو بل راپور هم کمېسیون ته تسلیموي.کمېسیون د وړاندې شویو نظریاتو له مخې وروستۍ طرحه چمتو کوي او د تصویب په موخه یې عمومي اسامبلې ته وړاندې کوي.
د نړیوالو حقوقو کمېسیون له جوړېدو راهیسې تر اوسه لاندې کنوانسیونونه تنظیم او چمتو کړي دي:
- د سمندري حقوقو په اړه د جینیوا څلورګونی کنوانسیون (۱۹۵۸)
- په تابعیت پورې اړوند کنوانسیون (۱۹۶۱)
- د ډیپلوماتیکو اړیکو په اړه د ویانا کنوانسیون (۱۹۶۱)
- د کنسولي اړیکو په اړه د ویانا کنوانسیون (۱۹۶۳)
- د ځانګړې پلاوي په اړه کنوانسیون (۱۹۶۹)
- د معاهدو د حقوقو په اړه کنوانسیون (۱۹۶۹)
- د ډیپلوماتانو د قضایي مصؤنیت پورې اړوند کنوانسیون (۱۹۷۳)
- له نړیوالو سازمانونو سره د اړیکو په اړه د دولتونو کنوانسیون، ویانا. (۱۹۷۵)
- د نړیوالو معاهداتو په اړه د ویانا کنوانسیون (۱۹۷۸)
- د نړیوالو سازمانونو او دولتونو ترمنځ د معاهدو تړلو کنوانسیون (۱۹۸۶)

### ۲- د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ- UNHCR
له کډوالو څخه د ملاتړ په برخه کې هڅې په لومړي ځل د ملګرو ملتونو له خوا په ۱۹۲۱ کال کې ترسره شوې. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو لومړی ګام د یوه عالي کمېشنر ټاکل و.

په لومړي سر کې د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې د (ملګرو ملتونو د مرستې او بیا رغونې اداره) جوړه شوه، وروسته په ۱۹۴۶ کال کې د (کډوالو نړیوال سازمان) چې د یادې ادارې چارې یې پر غاړه لرلې، رامنځته شو.
کلونه وروسته، په ۱۹۴۹ کال کې عمومي اسامبلې پرېکړه وکړه چې د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنر وټاکي.
په ۱۹۵۰ کال کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ د اساسنامې تر تصویب وروسته، دغې ادارې د ۱۹۵۱کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه رسماً خپل کار پیل کړ.
دغه اداره له هغو کډوالو سره مرسته کوي، چې د عالي کمېشنرۍ د اساسنامې مطابق په شرایطو برابر وي.
د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ همدغه راز پر هغو لارو چارو کار کوي، چې له مخې یې د کډوالو ستونزې حل او په خپله خوښه خپلو هېوادونو ته یې د ستنېدو زمینه برابره شي. د کمېشنرۍ د اساسنامې د لومړي فصل د درېیمې فقرې له مخې، یاد سازمان یوازې په بشري او ټولنیزو چارو کې غیر سیاسي فعالیتونه پرمخ وړي.
د اساسنامې د دویم فصل له مخې، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ یوازې هغه کسان د کډوال (مهاجر) په توګه پېژني، چې د نژادي، مذهبي، قومي تاوتریخوالي او سیاسي عقایدو له ویرې له خپل هېواد څخه بهر کډه شوي دي.
د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ دوه اصلي ارګانونه لري:
- عالي کمېشنر
- اجرایوي کمېټه
عالي کمېشنر: کمېشنر د عمومي منشي په توصیه او د عمومي اسامبلې په تائید ټاکل کېږي.
عالي کمېشنر د اقتصادي او ټولنیزې شورا له لارې د عمومي اسامبلې په وړاندې مسؤلیت لري.
د عالي کمېشنر د خدمت موده د عمومي منشي په وړاندیز د عمومي اسامبلې له خوا ټاکل کېږي.
عالي کمېشنر هر کال د اقتصادي او ټولنیزې شورا له لارې خپل کلنی راپور عمومي اسامبلې ته وړاندې کوي.
اجرایوي کمېټه: د کډوالو د عالي کمېشنرۍ اجرایوي کمېټه ۴۳ غړي لري او غړي له هغو هېوادونو څخه ټاکل کېږي، چې د کډوالۍ په برخه کې همکاري او مرستې ته ځانګړې علاقه لري.
اجرایوي کمېټه هر کال د اکتوبر په میاشت کې غونډه کوي او د عالي کمېشنرۍ د بودیجې اړوند مسایل څېړي. اجرایوي کمېټه کولی شي د عالي کمېشنر په غوښتنه مشورتي نظر وړاندې کړي.
په عمومي ډول، اجرایوي کمېټه د عالي کمېشنرۍ پر کړنو او فعالیتونو څارنه کوي.

### ۳- د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پراختیا کنفرانس- UNCTAD

د مخ پر ودې هېوادونو لېوالتیا ته په کتو سره د سوداګرۍ او پراختیا په موخه د یوه دایمي بنسټ جوړولو مسئله په لومړي ځل د ۱۹۲۰ لسیزې په لومړیو کې مطرح شوه.
وروسته له دې چې په ۱۹۲۲ کال کې د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزې شورا په یوه ځانګړې کنفرانس کې د نړیوالو سوداګریزو مسایلو د پراختیا په اړه ټینګار وکړ، د سوداګرۍ او پراختیا لومړنی کنفرانس د ۱۹۲۴ کال په مارچ او جون میاشتو کې په جینیوا کې جوړ شو.
دغه کنفرانس د (ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پراختیا کنفرانس) نوم غوره کړ او د عمومي اسامبلې د یوه فرعي رکن په توګه ومنل شو.
یاد کنفرانس د هېوادونو د اقتصادي ودې په موخه د نړیوالې سوداګرۍ د پراختیا او هڅونې په برخه کې فعالیت کوي.
انکټاډ (UNCTAD) د نړیوالو سودګریزو چارو د څارنې او د هېوادونو اقتصادي ودې په موخه یو لړ اصول او پالیسۍ وړاندې کوي او همدا راز د بېلابېلو هېوادونو اقتصادي نظامونو ته په کتو سره، د خپلې پالیسي د اجرا په موخه ځینې پېشنهادونه وړاندې کوي.
د نړیوالو تجارتي سازمانونو او مؤسسو د فعالیتونو پر همغږي کولو سربېره، انکټاډ په دې هڅه کې دی، ترڅو د ولسونو د اقتصادي ودې د پالیسیو په چارو کې د تجارتي فعالیتونو د همغږي کولو لپاره د سیمې یو اقتصادي مرکز او سي.
د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پراختیا کنفرانس جوړښت:
۱- کنفرانس: کنفرانس د انکټاډ تر ټولو مهم رکن دی، چې د عمومي اسامبلې په څېر له ټولو غړو دولتونو څخه جوړ شوی دی.
د کنفرانس عمومي غونډه هر درې یا څلور کاله وروسته د تجارت او پراختیا د پلاوي په توصیه د غړو هېوادونو د مشرانو، بهرنیو چارو او د اقتصاد وزیرانو په ګډون جوړېږي. په غونډه کې د غړو هېوادونو له خوا د نړیوالو تجارتي او اقتصادي مسایلو په اړه د وړاندیزونو او نظرونو تر ارزونې او څېړنې وروسته د یوې دورې لپاره یوه عمومي کړنلاره تصویبېږي. د غونډې راپور، چې اعلامیې او پرېکړه لیکونه په کې شامل وي، عمومي اسامبلې ته وړاندې کېږي. د یادونې ده، چې د کنفرانس ټول غړي د یوې رایې حق لري.
۲- د سوداګرۍ او پراختیا پلاوی: د سوداګرۍ او پراختیا پلاوی د انکټاډ دایمي رکن دی، چې عادي ځانګړې غونډې په لاره اچوي.
د پلاوي عادي غونډې له معمول سره سم په کال کې یو وار ترسره کېږي، خو ځانګړې غونډې د اکثریت غړو، د عمومي اسامبلې او یا د کنفرانس په غوښتنه ترسره کېږي. همدغه راز د پلاوي

ځانګړې غونډه ښايي د کنفرانس د پنځو غړو او يا د اقتصادي او ټولنيزې شورا په غوښتنه جوړه شي.
پلاوی له پراخو واکونو څخه برخمن دی. کله چې د کنفرانس غونډې نه وي، پلاوی خپل ورسپارل شوې دنده اجرا کوي.
پلاوی همدغه راز د سپارښتنو، اعلاميو، پرېکړه ليکونو او د کنفرانس نورو تصميمونو د څارنې او پلي کېدا په موخه لازم اقدامات ترلاس لاندې نيسي. پلاوی همدغه راز د تجارت او پراختيا په برخه کې يو لړ مطالعې ترسره کوي او راپورونه چمتو کوي.
د ملګرو ملتونو له اقتصادي کمېسيونونو او نورو ادارو سره د اړيکو ټينګول هم د پلاوي دنده ده.
پلاوی د سوداګرۍ او پراختيا کنفرانس د غونډو د جوړولو تخنيکي او تدارکاتي مسؤليت پرغاړه لري او همدارنګه د غونډې وخت او مناسب ځای د ټاکلو په اړه لازمې مشورې وړاندې کوي.
پلاوی هر کال عمومي اسامبلې ته بايد خپل راپور وړاندې کړي او کنفرانس د خپلو فعاليتونو له جريان څخه خبر کړي. پلاوی کولی شي د خپلو کارونو د ترسره کولو په موخه فرعي څانګې جوړې کړي.
اصلي کمېټې او فرعي تشکيلات:
۱- د توکو کمېټه، ۲- د توليد شويو توکو کمېټه، ۳- د تجارت اړوند مالي او د نامعلومو توکو کمېټه، ۴- د بېړۍ چلونې کمېټه، ۵- د مهارتونو او د مخ پر ودې هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاريو کمېټه.
نوموړې کمېټې د تجارت او پراختيا د پلاوي تر نظر لاندې فعاليت کوي او له معمول سره سم په کال کې يو وار غونډه کوي. خو ددغو کمېټو په کړنلاره کې د تعديل له امله چې په دولسمه غونډه کې ترسره شو، راغلي چې کمېټې به دوې عادي غونډې د تجارت او پراختيا کنفرانس له غونډې وروسته ترسره کوي او د کمېټو د غونډو نېټه د پلاوي له لوري ټاکل کېږي.
۳- سکرتريت: انکټاډ يو دايمي سکرتريت لري چې دملګرو ملتونو په سکرتريت کې موقعيت لري. سکرتريت کنفرانس ته لازم خدمتونه، پلاوی او فرعي تشکيلات وړاندې کوي. د سکرتريت په رأس کې د کنفرانس منشي قرار لري، چې هر څلور کاله وروسته د ملګرو ملتونو عمومي منشي په وړانديز او د عمومي اسامبلې په تائيد سره ټاکل کېږي.

**۴- د نفوسو په چارو کې د ملګرو ملتونو صندوق- UNFPA**

په **۱۹۲۵** کال کې د نفوسو په اړه د نړیوال کنفرانس د جوړېدو په ترڅ کې عمومي اسامبلې له اقتصادي او ټولنیزې شورا وغوښتل چې د ملګرو ملتونو د فرعي ارګانونو په مرسته د نفوسو د پراختیا او په اقتصادي ودې پورې اړوند مسایل مطالعه او وڅېړي.

په دې برخه کې لومړنی اقدام (د نفوسو د چارو د تنظیم په اړه د ملګرو ملتونو د مرستې صندوق) جوړول و، چې په **۱۹۶۷** کال کې د عمومي منشي له خوا جوړ شو.

په **۱۹۶۹** کال کې د عمومي منشي له خوا د دغه صندوق چارې د ملګرو ملتونو د بیارغونې پروګرام مشر ته وسپارل شوې او د (نفوسو د فعالیتونو لپاره د ملګرو ملتونو صندوق) په نوم ونومول شو.

خو د **۱۹۷۲** کال د ډسمبر په **۱۸** عمومي اسامبلې د صندوق چارې پر خپله غاړه واخیستې او د (ملګرو ملتونو د بیارغونې پروګرام شورا) یې د صندوق د اداره کوونکې رکن په توګه وټاکله.

په پای کې عمومي اسامبلې په **۱۹۸۷** کال کې نوموړی صندوق د (د ملګرو ملتونو د نفوسو صندوق) په نوم د خپل فرعي رکن په توګه ومانه.

اقتصادي او ټولنیزې شورا په **۱۹۷۳** کال کې د ملګرو ملتونو دنفوسو صندوق دندې په لاندې توګه وټاکلې:

- د نفوسو او کورنۍ په برخه کې په ملي، سیمه ییزه او نړیواله کچه د اړتیاوو پوره کولو په موخه د لازم میکانیزم رامنځته کول.
- په ملي او نړیواله کچه د ټولنیزو او اقتصادي اړتیاوو، د چاپېریال ساتنې او په نفوسو پورې اړونده مسایلو په اړه عامه پوهاوی.
- له هغو هېوادونو سره مرسته چې د نفوسو په برخه کې ستونزې لري.
- د ملګرو ملتونو په سازمان کې د نفوسو په برخه کې د پروګرامونو د پلي کولو رهبري.

د ملګرو ملتونو د نفوسو صندوق جوړښت:

۱- مشرتابه شورا: مشرتابه شورا د ملګرو ملتونو د نفوسو صندوق اداره کوونکی ارګان دی، چې د اقتصادي او ټولنیزې شورا تر مشرۍ لاندې فعالیت کوي.

شورا د پالیسي جوړونې، د مالي امکاناتو برابرولو، د مالي مقرراتو ټاکلو او د کلنۍ بودیجې د تصویب مسؤلیت پر غاړه لري. شورا همدغه راز هر کال د خپلو فعالیتونو او د صندوق په اړه اقتصادي او ټولنیزې شورا ته راپور ورکوي.

۲- اجرایوي مدیریت: د ملګرو ملتونو عمومي منشي له مشرتابه شورا سره تر سلا مشورې وروسته، د صندوق لپاره اجرایوي مدیر ټاکي.

### ۵- د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق- UNICEF

عمومي اسامبلې په **۱۹۴۶** کال کې د اقتصادي او ټولنيزې شورا په وړانديز د دويمې نړيوالې جګړې له امله له جنګ ځپلو ماشومانو او تنکيو ځوانانو سره د بيړنيو مرستو په مقصد د مرستې نړيوال صندوق پرانيست. خو د **۱۹۵۰** کال په ډسمبر کې د عمومي اسامبلې د پريکړې له مخې، د مخ پر ودې هيوادونو له ماشومانو سره د لازمو مرستو په موخه يونيسف په خپل ماموريت کې بدلون راوست.

بالاخره عمومي اسامبلې د **۱۹۵۳** کال په اکتوبر کې پريکړه وکړه، چې يونيسف د خپلې فرعي څانګې په توګه ومني.

د يونيسف جوړښت او څانګې:

۱- اجرايوي پلاوی: اجرايوي پلاوی له ۴۱ غړو څخه جوړ دی او دغه غړي د جغرافيوي ويش او مالي مرسته کوونکو ته په پام سره د اقتصادي او ټولنيزې شورا له لوري د يوې درې کلنې دورې لپاره ټاکل کيږي.

**۲**- سکرتريت: سکرتر د اجرايوي پلاوي په مشوره د عمومي منشي له خوا ټاکل کيږي. سکرتر د يونيسف اداري چارو او د اجرايوي پلاوي د پروګرامونو پرمخ بيولو مسؤليت پر غاړه لري.

**۳**- سيمه ييز دفترونه: سيمه ييز دفترونه د نړۍ په بيلابيلو برخو کې د يونيسف د پروګرامونو د پلي کولو مسؤليت لري.

د يونيسف سيمه ييز دفترونه په لاندې سيمو کې موقعيت لري:

ختيځه او سويلي افريقا (نايروبي - کينيا) لويديځه او مرکزي افريقا (ابيجان- عاج ساحل) امريکايي هيوادونه او د کارايب حوزه (بوګاټا- کولمبيا) ختيځه اسيا او پاکستان (بنکاک- ټايلنډ) شمالي افريقا (عمان- اردن) سويلي اسيا (نوی ډيلی- هندوستان).

### ۶- د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام- UNDP

عمومي اسامبلې په **۱۹۶۵** کال کې د اقتصادي او ټولنيزې شورا په وړانديز د (ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام) په نوم سازمان رامنځته کړ.

د دغه سازمان لګښت د ملګرو ملتونو د غړو له خوا په داوطلبه توګه ورکول کيږي. ياد سازمان د **۱۹۶۶** کال په جنوري کې رسماً په کار پيل وکړ. UNDP په ګڼو هيوادونو کې په بيلابيلو اقتصادي، کرنيزو، صنعتي، سوداګريزو، روغتيايي، کلتوري، ښوونيزو، کور جوړونې، ټرانسپورټ او مخابراتو په برخه کې فعاليتونه کوي.(**۷۵**)

د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام (**UNDP**) جوړښت:

۱- مشرتابه شورا: مشرتابه شورا اته څلوېښت غړي لري، چې د هرو دريو کلونو لپاره د اقتصادي او ټولنيزې شورا له خوا ټاکل کېږي او د شورا غړي د جغرافيوي وېش پربنسټ په لاندې توګه ټاکل کېږي:
الف- مخ پر ودې هېوادونو ته ۲۷ څوکۍ ورکړل شوي چې له دې جملې ۱۱ افريقايي هېوادونو، ۹ څوکۍ اسيايي هېوادونو او ۷ څوکۍ د لاتيني امريکا هېوادونو ته ځانګړې شوې دي.
ب- پرمختللي هېوادونه ۲۱ څوکۍ ونډه لري چې ۱۷ څوکۍ لوديځې اروپا او ۴ ختيځې اروپا ته ورکړل شوې دي.
۲- اجرايوي مديريت: عمومي منشي له مشرتابه شورا سره په مشوره او د عمومي اسامبلې په تائيد د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام اجرايوي مدير ټاکي.
۳- اړونده اداري: په UNDP پورې اړونده فرعي څانګې معمولاً د ځانګړو صندقونو تر نامه لاندې په بېلابېلو برخو کې فعاليتونه کوي، چې په دې ډول دي:
- د ملګرو ملتونو د پانګې د پراختيا صندوق(UN capital development fund)
- په وچه کې ايسار مخ پر ودې هېوادونو لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی صندوق. (UN fund for landlocked devolpping countries).
- د ملګرو ملتونو د ټيکنالوژۍ د پراختيا ځانګړی مؤقتي صندوق
- د نفوسو په چارو کې د ملګرو ملتونو صندوق
- د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو پراختيايي صندوق
- د اشغال شويو هېوادونو لپاره د مرستو صندوق
- د طبيعي زېرمو د مطالعې او څېړنې صندوق
- د ازادي غوښتونکو غورځنګونو لپاره د ملګرو ملتونو د مرستې صندوق
- د هېوادونو ترمنځ د فني همکاريو په موخه نړيوالې ځانګړې کاري ډلې
- د ملګرو ملتونو د رضاکارانو مرکز

## ۷- د خوړو نړيوال پروګرام WFP

د غذايي مرستو په اړه د يوه بنسټ رامنځته کولو هڅې په لومړي ځل په ۱۹۳۰ کال کې پيل شوې. هغه مهال د ځينو هېوادونو کرنيز محصولات دومره زيات و، چې ان بازار ته د خرڅلاو له کچې هم زيات شوي وو او همدا لامل و، چې يو شمېر هېوادونو له بې وزلۍ او لوږې سره د مبارزې په موخه هڅې پيل کړې.
په همدې اساس د ۱۹۶۱ کال په نومبر مياشت کې د ملګرو ملتونو او د خوراکي توکو او کرنې نړيوال سازمان په مرسته د (خوړو نړيوال پروګرام) پيل شو.

د ملګرو ملتونو د خوړو نړيوال پروګرام (WFP) جوړښت او څانګې:
۱- د خوراکي مرستو د پروګرامونو او پلان جوړونې کمېټه: نوموړې کمېټه د مديره پلاوي تر مشرۍ لاندې فعاليت کوي. کمېټه په کال کې دوه ځلې په خپل اصلي مرکز چې د ايټاليا په پلازمېنه روم کې موقعيت لري، غونډې جوړوي.
کمېټه همدغه راز د بهرش غړي چې د اقتصادي او ټولنيزې شورا او د خوراکي توکو او کرنې نړيوال سازمان له خوا د درې کلونو لپاره ټاکل کېږي.
د دې کمېټې اصلي دنده، د خوړو نړيوال پروګرام د پراختيا او له کډوالو سره د بېړنيو مرستو په موخه د لازمو طرحو او پروګرامونو جوړول دي.
۲- اجرايوي مديريت: د خوړو نړيوال پروګرام مشر د ملګرو ملتونو عمومي منشي او د خوراکي توکو او کرنې نړيوال سازمان د مشر له خوا د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي.
د اجرايوي مدير دنده د کمېټې د پروګرامونو څارل او پرمخ وړل دي.

## ۸ - د ملګرو ملتونو د چاپېريال ساتنې پروګرام UNEP

په نړۍ کې د صنعت پرمختګ ته په پام سره، د شپېتمې ميلادي لسيزې په لومړيو کې د چاپېريال ساتنې موضوع د نړيوالو مسايلو په سر کې راتله.
همدې ستونزې ته په کتو سره عمومي اسامبلې په ۱۹۲۸ کال کې په لومړي ځل د چاپېريال ساتنې نړيوال کنفرانس جوړ کړ.
ورپسې په ۱۹۷۲ کال کې د سويډن په پلازمېنه ستاګلم کې د نږدې ۱۱۰ هېوادونو او ۱۲۰۰ برخه والو په ګډون يو ستر نړيوال کنفرانس تشکيل شو. د کنفرانس په پای کې د (بشر د چاپېريال ساتنې نړيواله اعلاميه) خپره شوه، چې د چاپېريال ساتنې په برخه کې لومړنۍ نړيواله بيانيه ګڼل کېږي.
په اعلاميه کې د هېوادونو ترمنځ د چاپېريال ساتنې په برخه کې د ټينګار ترڅنګ له ګډون کوونکو هېوادونو څخه وغوښتل شول چې د نړيوال چاپېريال ساتنې په موخه لازم اقدامات ترسره کړي او د نورو محيط ته له زيان اړولو دې په کلکه ډډه وشي.
په کنفرانس کې همدغه راز د ژوند د حفاظت او د هوا ککړتيا د مخنيوي په موخه په ۱۰۲ مو مادو کې يوه عملي کړنلاره تصويب شوه. له ياد کنفرانس وروسته په ۱۹۷۲ کال کې د ملګرو ملتونو د چاپېريال ساتنې سازمان رسماً پرانېستل شو. ددې سازمان مرکز په کېنيا کې دی.
د چاپېريال ساتنې د اداري جوړښت او څانګې:
۱- د حکامو شورا: دغه شورا له ۵۸ پنځوس غړو هېوادونو څخه جوړه شوې ده، چې د عمومي اسامبلې له خوا د درېو کلونو لپاره ټاکل کېږي او غړي يې جغرافيوي انډول ته په پام سره په دې توګه ټاکل کېږي:

افریقایي هېوادونه، ۱۲ غړي
اسیایي هېوادونه، ۱۳ غړي
ختیځې اروپا هېوادونه، ۶ غړي
لاتیني امریکا هېوادونه، ۱۰ غړي
لویدیځه اروپا ، ۱۳ غړي

د چاپېریال ساتنې په برخه کې د نړیوالې همکارۍ پراختیا او په دې اړه د لازمو تدبیرونو، همغږۍ رامنځته کول او د بودیجې تصویب د حکامو شورا له اصلي دندو څخه دي.

شورا په کال کې یو ځل عمومي غونډه جوړوي او د اقتصادي او ټولنیزې شورا له لارې د چاپېریال ساتنې په برخه کې د ترسره شویو اقداماتو او پروګرامونو په اړه عمومي اسامبلې ته راپور وړاندې کوي.

۲- سکرتریت: د سکرتریت مشر د ملګرو ملتونو د چاپېریال ساتنې ادارې مشري پر غاړه لري. سکرتر، د ملګرو ملتونو د عمومي منشي په وړاندیز د عمومي اسامبلې له خوا د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي.

سکرتر موظف دی، چې د ساحلي سیمو د حفاظت، د هوا ککړتیا او اقلیمي بدلونونو په اړه د هېوادونو طرحې او پروګرامونه حکامو شورا ته وړاندې کړي.

۳- د چاپېریال ساتنې صندوق: د چاپېریال ساتنې پروګرام د مالي اړتیاوو د پوره کولو په موخه، د مرستو یو داوطلبه صندوق لري.

د صندوق پیسې د چاپېریال ساتنې کنفرانس او حکامو شورا له خوا د اړونده پروګرامونو د پلي کولو او تطبیق په برخه کې لګول کېږي.

د یادونې ده، چې صندوق د مالي سرچینې د یوې ځانګړې برخې په توګه رامنځته شوی، د چاپېریال ساتنې ادارې اصلي مالي سرچینه د ملګرو ملتونو له بودیجې څخه تأمینېږي.

## د اقتصادي او ټولنیزې شورا فرعي څانګې

اقتصادي او ټولنیزه شورا پنځه فرعي څانګې لري:

د اروپا اقتصادي کمېسیون، د اسیا اقتصادي کمېسیون (پسفیک)، د لاتیني امریکا اقتصادي کمېسیون، د افریقا اقتصادي کمېسیون او د لویدیځې اسیا اقتصادي کمېسیون.

دا کمېسیونونه د ملګرو ملتونو منشور د ۶۸ مې مادې پربنسټ جوړ شوي دي. د یادې مادې پراساس، اقتصادي او ټولنیزه شورا کولی شي چې د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو او د بشري حقونو د ترویج په موخه د اړتیا وړ کمېسیونونه جوړ کړي.

د یادونې ده، چې د ځانګړو کمېسیونونو جوړول، له مخکې په سنفرانسیسکو کنفرانس کې نه و پېشبیني شوي، خو د اروپا بیارغونې چارو او د مخ پر ودې هېوادونو پرمختګ ته په پام سره، د یادو کمېسیونونو د جوړېدا په اړه پرېکړه وشوه.

۱- د اروپا اقتصادي کمېسیون: د اروپا اقتصادي کمېسیون د اقتصادي او ټولنیزې شورا لومړۍ فرعي څانګه وه، چې په ۱۹۴۷ کال کې رامنځته شوه.

دغه کمېسیون چې د امریکا متحده ایالتونو په هڅه رامنځته شو، د دویمې نړیوالې جګړې له امله د ویجاړې شوې اروپا بیارغونه یې د فعالیت اساسي موخه وه.

د اروپا اقتصادي کمېسیون په پیل کې اتلس غړي لرل، خو په ۱۹۷۰ لسیزه کې نور هېوادونه هم ور ګډ شول، چې او سمهال څلور دېرش غړي لري.

که څه هم له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د اروپا بیارغونې لپاره یو مارشال پلان جوړ شو، خو دغه مارشال پلان یوازې د لویدیځې اروپا هېوادونو لپاره و.

د اروپا اقتصادي کمېسیون موخه د مارشال پلان برعکس، د ټولو اروپایي هېوادونو بیارغونه او اقتصادي پرمختګ دی.

یاد کمېسیون په دې برخه کې ډېرې هڅې کړې او غړو هېوادونو ته یې د اقتصادي پرمختګ او بیارغونې په برخه کې لازمې همکارۍ او مرستې کړې دي.

د اروپا اقتصادي کمېسیون بېلابېلې کاري کمېټې لري، لکه د ټرانسپورټ، صنعت او چاپېریال ساتنې کمېټه. کمېسیون هر کال د غړو هېوادونو د لوړ پوړو چارواکو په ګډون په جینوا کې غونډه کوي.

۲- د اسیا اقتصادي کمېسیون یا پسیفیک: د اسیا اقتصادي کمېسیون په ۱۹۷۴ کال کې جوړ شو او مرکز یې په بنکاک کې دی.

کمېسیون په پیل کې لس غړي لرل، خو حاضر دمه پنځه دېرش غړي لري. د اسیا اقتصادي کمېسیون د اسیایي هېوادونو د اقتصادي ودې او اقتصادي پروګرامونو د تنظیم په موخه جوړ شوی دی.

۳- د لاتیني امریکا اقتصادي کمېسیون: په ۱۹۴۸ کال کې په سنتیاګو کې رامنځته شو، چې موخه یې د اغېزمنو اقتصادي پروګرامونو پراختیا ده.

نوموړي کمېسیون د امریکا د همکارۍ مرکزي کمېټې په تشکیل او د لاتینې امریکا د ازادې سوداګرۍ سیمې په رامنځته کولو کې هم برخه لرله.

۴- د افریقا اقتصادي کمېسیون: ددې کمېسیون مقر په ادیس ابابا کې دی. دوه څلوېښت دایمي او شپږ ناظر غړي لري، چې ډېری غړي یې د ناپېیلي غورځنګ له هېوادونو څخه دي.

د افریقا اقتصادي کمېسیون فعالیتونه هم د نورو کمېسیونو په څېر د اقتصادي ودې پر پروګرامونو راڅرخي.
په ۱۹۷۳ کال کې د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزې شورا په غربي افریقا کې هم یو ځانګړی کمېسیون جوړ کړ.
**۵**- د لویدیځې اسیا اقتصادي کمېسیون: دغه کمېسیون په **۱۹۷۳** کال کې تشکیل شو.

## د امنیت شورا فرعي ځانګې

۱- **د ملګرو ملتونو سوله ساتي ماموریت**: **United nations peace keeping operations**

د امنیت شورا مهم فرعي ارګان یا ځانګه، نړیوال سوله ساتي ماموریت دی. د «سوله ساتنې» اصطلاح په لومړي ځل د ملتونو ټولنې د میثاق په ۱۰، ۱۱، **۱۵** او **۱۲** مې مادو کې وکارول شوه. په همدې لړ کې د نړیوال کړکېچ او بحران پرمهال د سولې د ساتنې په موخه د «سولې ساتونکی پلاوی» جوړ شو.

د ملتونو ټولنو د سولې ساتونکي پلاوي ماموریتونه په لاندې ډول وو:

د المان اختلافات- لیتوانیا (۱۹۱۹-۱۹۲۴)

د الند (aland) ټاپو وضعیت- ۱۹۲۰

د لیتوانیا او پولنډ شخړه (۱۹۲۰-۱۹۲۳)

د یونان او یوګوسلاویا ارضي اختلافات (۱۹۲۳)

د یونان او بلغاریا بحران (۱۹۲۵)

د چین او جاپان اختلاف او پر ایتوپیا د ایټالیا یرغل.

امنیت شورا د منشور د **۴۲** مې مادې له مخې کولی شي، یوازې د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت په موخه له پوځي ځواک څخه کار واخلي او پوځي اقدام باید د منشور په **۴۳**- **۴۷** مې مادو کې د پېشبیني شویو مواردو پر اساس ترسره شي.

د ملګرو ملتونو سوله ساتي ځواکونه په لاندې توګه عمل کوي:

- حقیقت موندنه او راپور چمتو کول

- د اوربند څارنه (**Observation**): پر اوربند د څارنې پلاوي د ښکېلو غاړو ترمنځ د اوربند او د غیر پوځي سیمې رامنځته کولو په موخه ګڼ شمېر ماموریتونه ترسره کړي دي.

نوموړی پلاوی امنیت شورا ته خپل راپور وړاندې کوي، ترڅو په سیمه کې د اړتیا وړ اقدامات ترسره شي.

- سرپرستي (**supervision**): د نظارتي مسؤلیت ترڅنګ، د نظارت پلاوي ته د سرپرستۍ یو لړ نور مسؤلیتونه هم ورکړل شوي دي. د ملګرو ملتونو سوله ساتي ځواکونه د ښکېلو غاړو ترمنځ له اوربند وروسته سیمه په لنډمهالې توګه په خپل ولکه کې اخلي او یرغلګر پوځونه له سیمې څخه باسي.

- د ځواکونو ترمنځ حایل (**separation of forces**): سوله ساتي ځواکونه ډېر ځله د وسلوالو ډلو ترمنځ د سپر په توګه ډېر اغېزمن تمام شوي دي.

دغه ځواکونه د ښکېلو وسلوالو ډلو ترمنځ بېلوالی رامنځته کوي او اوربند ته لار هواروي.

د سوله ساتو ځواکونو د عملیاتو حوزه ښايي له وسلوالو څخه تخلیه شوې یا حایل سیمې اوسي. لکه، د ترکیې او یونان ترمنځ د حایل سیمه رامنځته کول، د سینا پولې په اوږدو کې د ملګرو ملتونو د ځانګړو ځواکونو عملیاتي سیمه رامنځته کول.

د عامه نظم او قانون ساتنه: ددې ښه مثال، په کانګو کې د ملګرو ملتونو د سوله ساتو ځواکونو عملیات دي.

په کانګو کې د پوځ او بېلتون غوښتونکي غورځنګ ترمنځ د جګړې له امله په دغه هېواد کې وضعیت ډېر خراب شو، چې بالاخره امنیت شورا د عامه نظم او امنیت د ټینګښت په موخه دغه هېواد ته ځواکونه ولېږل.

- د سولې ټینګښت (**peace making**): د ملګرو ملتونو سوله ساتي ځواکونه له ۱۹۸۸ کال راهیسې د هېوادونو ترمنځ د سولې تړونونو په برخه کې د پام وړ هڅې کړې دي. سوله ساتو ځواکونو له دې مخکې یوازې د ښکېلو غاړو ترمنځ د اوربند رامنځته کولو په برخه کې رول لوبولی. په ټوله کې، سوله ساتي ځواکونه د هېوادونو ترمنځ د شخړې د هواري ترڅنګ د سولې په ټینګښت کې هم هڅه کوي.

نړیوال سوله ساتي ځواکونه یوازې د لاندنیو شرایطو پراساس کولی شي په پوځي مداخلې لاس پورې کړي:

۱- د یوه دولت له خوا له ملګرو ملتونو څخه د ځواکونو د لېږلو غوښتنه وشي.

۲- د ځواکونو لېږل باید د امنیت شورا د ټولو غړو په توافق او ملاتړ ترسره شي.

۳- په هغه سیمه کې چې سوله ساتي ځواکونه دېره کېږي، جګړه باید درول شوې وي.

۴- د ملګرو ملتونو غړي هېوادونه باید د پوځونو د مالي تجهیزاتي چارو د تأمین لپاره رضایت او چمتو والی ولري.

ملګرو ملتونو سازمان د جوړېدو له نېټې څخه تر ۲۰۰۸ کال پورې د نړیوالې سولې د امنیت د ټینګښت په موخه ۲۳ ځلي پوځي عملیات ترسره کړي دي او دغه سازمان تر ۲۰۰۷ کال پورې نږدې

سل زره پوځیان لرل چې ۱۰۱۷۳ د پاکستان، ۹۲۷۵ بنګله دېش، ۹۴۷۱ هندوستان او ۳۲۲۸ تنه د نېپال سرتېري وو.

## ۲- پوځي کمېټه

د منشور د پنځه څلوېښتمې مادې له مخې د دې لپاره چې ملګري ملتونه د نړیوالې سولې د ټینګښت په موخه پوځي اقداماتو ته چمتو وي، غړي هېوادونه خپل ځواکونه باید نړیوال ماموریت ته چمتو وساتي.
د ملګرو ملتونو د پوځي عملیاتو څرنګوالی د منشور د ۴۳ مې مادې له مخې له امنیت شورا سره د غړو هېوادونو د هوکړه لیکونو پر اساس د پوځي مرکزي کمېټې له خوا اجرا کېږي.
د یادونې ده چې امنیت شورا د قوې استعمال طرحه د پوځي مرکزي کمېټې په مرسته تنظیموي. (د منشور ۴۲ مه ماده).
د امنیت شورا پوځي کمېټه د شورا له دایمي غړو څخه جوړه ده.
که امنیت شورا لازمه وګڼي، چې له دایمي غړو پرته، نور غړي هم په کمېټه کې اغېزناک تمامېدای شي، کولی شي غوښتنه ترې وکړي څو پوځي کمېټې ته خپل یو استازی ور وپېژني.
پوځي کمېټه د امنیت شورا په لارښونه د وسلوالو ځواکونو د رهبرۍ او تنظیم چارې پر غاړه لري.
که څه هم د ملګرو ملتونو منشور د پوځي عملیاتو مشري او اړونده چارې په ښکاره توګه د امنیت شورا پوځي مرکزي کمېټې ته سپارلې، خو کمېټې تر اوسه عملي اقدام نه دی کړی.
د ملګرو ملتونو سازمان له خوا د قوې استعمال تل د امریکا په مشرۍ د سترو قدرتونو له لوري ترسره شوې. ددې ښکاره مثال، په ۱۹۹۱ کال کې د متحده ایالتونو له خوا د کویټ د ازادولو عملیات وو.

## په ملګرو ملتونو پورې اړوند تخصصي سازمانونه

**الف: د تخصصي سازمانونو ځانګړتیاوې او پېژندنه:**

۱- که څه هم د منشور په ۵۷ مه ماده کې د تخصصي سازمانونو په اړه هر اړخیز او منلی تعریف نه تر سترګو کېږي، خو په یاده ماده کې راغلي: هغه نړیوالې تخصصي مؤسسې چې د څو اړخیزه هوکړه لیکونو پر اساس په بېلابېلو اقتصادي، کلتوري، ټولنیزو، روغتیایي، علمي او نورو برخو کې فعالیت کوي او پراخ نړیوال مسؤلیتونه لري، د منشور د ۶۳ مې مادې پر اساس د ملګرو ملتونو له سازمان سره تړلي دي.

۲- هغه نړیوالې مؤسسې چې په ملګرو ملتونو پورې اړوند کېږي، له دې وروسته به د تخصصي مؤسسو په نوم یادېږي.
پورتني تعریف ته په کتو سره کولی شو چې د ملګرو ملتونو د تخصصي سازمانونو ټولیزې ځانګړتیاوې داسې بیان کړو:

**۱- هوکړه لیک**:
د هوکړه لیک یا تړون لپاره اساسي شرط دا دی، چې هوکړه لیک باید نړیواله بڼه ولري. یعنې تخصصي سازمان هغه بنسټ دی، چې د دولتونو ترمنځ د یوه هوکړه لیک پراساس رامنځته کېږي.
په پایله کې، ویلی شو چې د پورتني شرط د نشتوالي له امله، نه شو کولی نا دولتي نړیوال سازمانونه د تخصصي سازمانونو په ډله کې راولو.
د ملګرو ملتونو او تخصصي سازمانونو ترمنځ په تړون پورې اړونده چارې د منشور د **۲۳** مې مادې په لومړي بند کې ذکر شوې دي:
(( د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنیزه شورا د منشور د **۵۷** مې مادې له مخې کولی شي چې له نړیوالو تخصصي مؤسسو سره هوکړه لیک لاسلیک او هغه شرایط چې پراساس یې یادې مؤسسې له ملګرو ملتونو سره تړل کېږي، په ډاګه کړي. هوکړه باید د عمومي اسامبلې له خوا تصویب شي )).
د منشور پورتنۍ مادې ته په پام سره، د ملګرو ملتونو سازمان او تخصصي سازمانونو ترمنځ اړیکه قراردادي بڼه لري، چې هر سازمان د یوه جلا تړون له مخې فعالیت کوي.
ملګري ملتونه یوازې د لاسلیک شوي هوکړه لیک پراساس کولی شي چې د تخصصي سازمانونو پر فعالیتونو څارنه وکړي.
سره له دې چې د ملګرو ملتونو او تخصصي سازمانونو ترمنځ ځینې ګډې ځانګړتیاوې تر سترګو کېږي، خو د دواړو سازمانونو ترمنځ لاسلیک شوي هوکړه لیکونه د یوې واحدې نمونې څرګندویي نه شي کولای.
ډېری هوکړه لیکونه، په تېره بیا د ملګرو ملتونو او د کار نړیوال سازمان ترمنځ هوکړه لیک د یوه واحد موډل ښکارندویي کوي. خو مالي او پولي سازمانونو بیا داسې نه دي.
یادو سازمانونو د نورو په پرتله تر ډېره په خپلو چارو کې له استقلال څخه برخمن دي، چې دا استقلالیت په مالي او بودیجوي مسایلو کې د کتنې وړ دي، خو له دې سره سره، ډېری هوکړه لیکونه یو لړ ګډې ځانګړتیاوې لري چې مهمې یې په لاندې ډول دي:

- د یوه تخصصي سازمان په توګه د سازمان پېژندنه؛ د مالي او پولي سازمانونو د استقلال د ماهیت پېژندنې په اړه هم ټینګار کېږي.

- د داوړو سازمانونو استازو له خوا د یو او بل په غونډو کې د ګډون حق؛

د یادونې ده، چې د دواړو سازمانونو استازي په غونډه کې یوازې ګډون کولی شي او د رایې ورکونې حق نه لري.

- اړونده ارګانونو ته د کار اجنډا وړاندیزکول؛

دواړه سازمانونه کولی شي، چې د ځینو مسایلو په اړه کاري اجنډاوې په ګډه سره یو بل ته پېشنهاد کړي. خو عمومي اسامبله له دې څخه مستثناء ده.

مثلاً، د (I.M.O) سازمان یوازې د ملګرو ملتونو د ټولنیزې او اقتصادي شورا په سازمان کې له دې حقه برخمن دی. همدغه راز نړیوال بانک، د پیسو نړیوال صندوق او مالي ټولنه ژمن دي، چې د ملګرو ملتونو له خوا وړاندیز شوې موضوع ته په خپله اجنډا کې ځای ورکړي.

- د عمومي اسامبلې یا اقتصادي او ټولنیزې شورا له لوري تخصصي سازمانونو ته د توصیه نامې وړاندې کول؛

د یادونې ده، چې پولي او مالي سازمانونو ته د توصیه نامې وړاندې کول له یادو سازمانونو سره تر سلا او مشورې وروسته ترسره کېږي. خو دا چې ملګري ملتونه، په داخلي چارو کې ددې ډول سازمانونو استقلالیت ته درناوی لري، ددې سازمانونو په چارو کې مداخله نه کوي.

- د تخصصي سازمانونو له خوا له عمومي اسامبلې او اقتصادي او ټولنیزې شورا سره مرسته او همکاري؛

- تخصصي سازمانونه د مشورتي رایې د غوښتنې حق لري؛

د یادونې ده، چې د پوستې نړیواله ټولنې له دې حق څخه مستثناء ده.

- او په پای کې تخصصي سازمانونه ژمن دي، چې په ځینو حالاتو کې خپل سیمه ییز دفترونه د ملګرو ملتونو په سیمه ییز دفترونو کې مدغم کړي. د یادونې ده، چې دې ډول هڅو تر دې دمه کومه مثبته پایله نه ده لرلې.

حاضر دمه نږدې شپاړس تخصصي سازمانونه له ملګرو ملتونو سره یو ځای شوي دي.

شپاړسم تخصصي سازمان چې پخوا د ملګرو ملتونو فرعي څانګه یا مؤسسه ګڼل کېده، د ملګرو ملتونو د صنعتي پراختیا سازمان (یونیډو) دی.

په ۱۹۷۹ کال کې د نوموړي سازمان اساسنامه جوړه او په ۱۹۸۵ کال کې د اجرا وړ وګرځېده. په ۱۹۸۲ کال کې د یوه هوکړه لیک پر اساس د ملګرو ملتونو له سازمان سره یو ځای شو.

دا چې د اټومي انرژۍ نړیوال اژانس په ملګرو ملتونو سازمان کې له یو ځانګړي وضعیت څخه برخمن دی او د ملګرو ملتونو تخصصي سازمان نه ګڼل کېږي، د یو څو ټکو یادونه اړینه ده.

د اتومي انرژۍ اژانس او د ملګرو ملتونو ترمنځ د هوکړه لیک په مقدمه کې راغلي، چې دواړو سازمانونو د چارو د اسانتیا په موخه د یوه اغېزناک ارتباطي مېکانیزم د جوړېدو په اړه هوکړه کړې ده. نو له همدې امله، د یادو دواړو سازمانونو حقوقي سرچینه په منشور کې ذکر شوې ده.

سربېره پر دې، د ملګرو ملتونو او د اتومي انرژۍ د نړیوال اژانس ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک د لومړۍ مادې په لومړۍ فقره کې د اتومي انرژۍ نړیوال اژانس، د ملګرو ملتونو تر څار لاندې مؤسسه ګڼل شوې ده، نه تخصصي سازمان.

د هوکړه لیک په لومړۍ ماده کې همدغه راز په خپلو چارو کې دنوموړي سازمان پر استقلالیت ټینګار شوی.

**۲- په بېلابېلو برخو کې د پراخو نړیوالو مسؤلیتونو لرل**

د تخصصي سازمانونو یوه ځانګړنه داده، چې پراخ نړیوال مسؤلیتونه لري. د نړیوالو مسؤلیتونو له پراخوالي څخه دوه ډوله انګېرنې کېږي.

یوه ډله خلک د مسؤلیتونو پراخوالی په جغرافیوي پراخوالي پورې تړي، خو ځینې نور یې بیا د دندو پراخوالی ګڼي.

د سنفرانسیسکو مقدماتي کمېسیون د اجرایوي کمېټې د راپور له مخې، د «پراخو مسؤلیتونو» اصطلاح ظاهراً یو جغرافیوي مفهوم افاده کوي.

یعنې هغه نړیوال سازمانونه چې جهان شموله دي او د نړۍ بېلابېل هېوادونه په کې غړیتوب لري، له پراخو نړیوالو مسؤلیتونو څخه برخمن دي.

خو هغه سازمانونه چې غړیتوب او فعالیت یې یوازې په یوې سیمې پورې محدود دي، مسؤلیتونه یې سیمه ییزه بڼه لري.

د یادونې ده، چې د سنفرانسیسکو مقدماتي کمېسیون په خپل راپور کې له نړیوالو سازمانونو سره د ملګرو ملتونو سازمان اړیکه له پامه نه ده غورځولې، خو د «تخصصي سازمانونو» اصطلاح یې ورته نه ده کارولې.

**ب- د تخصصي سازمانونو جوړښت او تشکیلات:**

د تخصصي سازمانونو غړي (دولتونه) باید د ملګرو ملتونو د سازمان غړي نه وي، ځکه ځینې تخصصي سازمانونه د ملګرو ملتونو سازمان په پرتله کله ډېر او کله لږ غړي لري.

په ۱۹۴۶ کال کې د امریکا متحده ایالتونو وړاندیز وکړ، چې د تخصصي سازمانونو مرکز دې نیویارک وټاکل شي. خو فرانسې له دې وړاندیز سره مخالفت څرګند کړ او رد شو.

ټول تخصصي سازمانونو لږ تر لږه درې څانګې لري:

اسامبله (عمومي غونډه)

شورا (اجرایوي کمېټه)

سکرتریت(دارلانشاء)
عمومي غونډه یا اسامبله له غړو هېوادونو څخه جوړه ده، خو د اجرایوي کمېټې غړي د عمومي غونډې په پرتله لږ شمېر غړي لري او همدغه راز د کمېټې غړي ځیني وخت د دولتونو او ځیني وخت د ازادو اشخاصو له منځه، چې د مسلک او ظرفیت له مخې په دنده ګمارل کېږي او د کوم ځانګړي هېواد استازیتوب نه کوي، ټاکل کېږي.
سکرتریت له نړیوالو کارکوونکو څخه جوړ دی، چې د یوه سکرتر په مشرۍ فعالیت کوي.
د تخصصي سازمانونو کلنۍ بودیجې د نوموړو سازمانونو د عمومي غونډې (اسامبلې) له خوا تصویبیږي.
سربېره پر دې، د منشور اولسمې مادې دریېمې فقرې له مخې، عمومي اسامبله کولی شي، د یادو سازمونونو بودیجه وڅېړي او لازمې توصیې وړاندې کړي.
همدغه راز د منشور د ۶۳ مې مادې اقتصادي او ټولنیزې شورا ته ورته صلاحیت ورکړی، چې کولی شي د تخصصي سازمونونو بودیجه وڅېړي او ځینې سپارښتنې ورته وړاندې کړي.
خو لکه څنګه چې مخکې مو هم یادونه وکړه، پولي او مالي سازمانونه له دې قاعدې څخه مستثناء دي.
د ملګرو ملتونو او د پیسو نړیوال صندوق او د رغونې او پراختیا نړیوال بانک ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک د ۱۰ مې مادې د ۳ فقرې له مخې، د ملګرو ملتونو سازمان ژمن دی چې د منشور د ۱۷ مې مادې د دریمې فقرې پراساس یاد سازمانونه به د کلنۍ بودیجې له پلوه یوازې د غړو پر مالي ونډې متکي نه وي.
یاد سازمانونه همدغه راز د بودیجې په چارو کې له بشپړ استقلالیت څخه برخمن دي.
د پورتنیو مقرراتو له مخې، نوموړي سازمانونه په مالي او بودیجوي چارو کې کولی شي چې یوازې د ملګرو ملتونو سازمان په جریان کې کړي او بس.
ملګري ملتونه هم حق نه لري، چې د یادو سازمانونو بودیجوي مسایل وڅېړي یا په دې اړه سازمان ته توصیه وکړي.
تخصصي سازمانونه له هغو امتیازاتو او مصونیتونو څخه برخمن دي، چې د کوربه هېواد له خوا ورته ورکړل شوي دي.
له کوربه هېواد سره ددغو سازمانونو اړیکه د نړیوالو هوکړه لیکونو له مخې تنظیمېږي، چې د مقر تړون په نوم یادېږي. ددې ډول تړون مثال، له یونیسکو سازمان سره د فرانسې هېواد تړون دی. دغه تړون د ۱۹۵۴ کال په جولای میاشت کې لاسلیک شو.

**ج- د تخصصي سازمانونو د پرېکړو حقوقي ارزښت**

د تخصصي سازمانونو د فعالیتونو پراختیا ته په کتو، دا پوښتنه پیدا کېږي، چې ددې سازمانونو پرېکړې څومره حقوقي ارزښت لري او ایا دا پرېکړې د غړو ترمنځ د حقوقي ژمنو لامل کېدای شي او که نه؟

د یادو پوښتنو د ځواب په اړه باید هغه میتودونه او پرنسیپونه پیدا کړو، چې تخصصي سازمانونو د نړیوال حقوقي ژمنو په برخه کې ځان ته ټاکلي دي.

له موجوده پرنیسپونو څخه چې تخصصي سازمانونو ټاکلي، د کار نړیوال سازمان (ILO) پرنسیپ دی، چې د فردي انحصار له ځانګړنې څخه برخمن دی او یو شمېر نور سازمانونه هم دغه چاره ترسره کوي.

د کار نړیوال سازمان پرېکړې د کنفرانس د استازو په دوه ثلثه رایو ترسره کېږي. وروسته سند د کنفرانس د مشر له خوا لاسلیک او د سازمان عمومي مشر یې تصدیقوي.

خو د کنفرانس استازي نه شي کولای، هر یو په انفرادي توګه سند لاسلیک کړي.

که سازمان د کنوانسیون تر نامه لاندې یو سند چمتو کړي، د کنوانسیون متن باید ټولو ګډونوالو ته اعلان شي.

له اعلان وروسته، د هېوادونو پلاوي د کنوانسیون متن خپلو صلاحیت لرونکو مراجعو ته وړاندې کوي. اړونده مرجع مکلفه ده، چې کنوانسیون د یوه داخلي قانون په چوکاټ کې ولسي جرګې ته د تصویب په موخه وړاندې کړي.

لېږل شوی پلاوی مکلف دی، چې کنوانسیون د یوه کال یا په ځینو استثنایي حالاتو کې د اتلس میاشتو په ترځ کې د خپل هېواد صلاحیت لرونکي مقام ته وسپاري.

پلاوی همدغه راز مکلف دی، د کنوانسیون د تصویب په برخه کې څومره اقدامات چې ترسره شوي، په اړه یې د سازمان عمومي مدیر ته معلومات ورکړي.

د هېوادونو له لوري د کنوانسیون تر تصویب وروسته، سازمان د کنوانسیون د پلي کېدا دوامداره څارنه کوي. دا څارنه په دوه ډوله ترسره کېږي:

۱- سازمان ته د غړو هېوادونو له خوا د کلني راپور له لارې؛

۲- د کنوانسیون سرغړونکو هېوادونو په اړه د شکایتونو د اورېدو له لارې؛

د یادونې ده، هغه دولتونه چې کنوانسیون یې نه دی تصویب کړی، سازمان بیا هم د کنوانسیون څارنه کوي.

د سازمان اجرایوي پلاوی، هر وخت چې لازمه وګڼي، کولی شي له نا غړو دولتونو څخه د هغوی د داخلي قوانینو د وضعیت او د کنوانسیون په وړاندې د یادو دولتونو د رویې په اړه معلومات وغواړي.

د کار نړیوال سازمان د تړون لاسلیکولو چارې، له نورو نړیوال تړونونو سره توپیر لري.
دا توپیر په لاندې ډول ځرګندېږي:
۱- د کار نړیوال سازمان د کنوانسیون چمتوکولو او تنظیمولو د برخې کارکونکي یوازې د دولتونو استازي نه دي، بلکې د کارکوونکو او کارفرمایانو استازي هم د کنوانسیون په تنظیم او ترتیب کې برخه لري.
۲- د نړیوالو تړونونو د مسودې د لاسلیک حق د دولتونو استازو ته ورکړل شوی، خو د کار نړیوال سازمان کنفرانس ته لېږل شوي استازي د کنوانسیون د لاسلیک حق نه لري.
۳- د نړیوالو تړونونو د لاسلیک پرمهال دولتونو ته د ریزرف حق خوندي دی، خو د کار نړیوال سازمان غړي د کنوانسیون لاسلیک پرمهال نه شي کولی له دې حق څخه استفاده وکړي، چې لامل یې د تړونونو د تنظیم او چمتو کولو په اړه د تصمیم نیونې ډول دی.
دا چې د دولتونو استازي، کارګران او کارمشران د رایو په اتفاق کنوانسیونونه تصویبوي، نو له همدې امله ناشونې ده، چې د رایو دا اتفاق د یوه غړي له لوري د ریزرف حق څخه په استفادې زیانمن شي.
د یونیسکو سازمان په پرېکړو کې د کنوانسیون او توصیه نامې ترمنځ توپیر شته دی.
د یونیسکو کنوانسیونونه د رایو دوه پر درېیمه برخه او توصیه نامې د رایو په ساده اکثریت په تصویب رسېږي.
د یونیسکو سازمان د اساسنامې د ۴ مې مادې په ۴ مه فقره کې راغلي، غړي دولتونه مکلف دي چې د یوه کال په ترځ کې لاسلیک شوی کنوانسیون د تصویب په موخه خپل صلاحیت لرونکي مقام (ولسي جرګې) ته وسپاري.
د کنوانسیون غړي هېوادونه همدغه راز مکلف دي، چې د کنوانسیون په برخه کې د ترسره شویو اقداماتو او لاسته راوړنو په اړه سازمان ته وخت پر وخت ګزارش وړاندې کړي.
د روغتیا نړیوال سازمان هم تر ډېره بریده یونیسکو ته ورته طرزالعمل لري، خو یوازې په دې توپیر چې غړي دولتونه باید د اتلس میاشتو په ترځ کې کنوانسیون تصویب کړي. یونیسکو دا مهلت یو کال ټاکلی دی.
د روغتیا نړیوال سازمان په اساسنامه کې راغلي، که کوم هېواد په یاده موده کې کنوانسیون تصویب نه کړ، د نه تصویب په اړه یې باید د روغتیا نړیوال سازمان ته معلومات ورکړل شي.
غړي هېوادونه باید هر کال د کنوانسیون په برخه کې د ترسره شویو اقداماتو په اړه سازمان ته معلومات ورکړي.
دغه مصوبې الزامي بڼه لري، خو د مقننه ارګان له لوري د نه تصویب او د ریزرف حق په صورت کې الزامیت له لاسه ورکوي.

د روغتیا نړیوال سازمان د مقرراتو له مخې، ریزرف حق هغه وخت د اعتبار وړ دی، کله چې د دې سازمان د عمومي غونډې له خوا تائید شي.
د یادونې وړ ده، هغه هېوادونه چې تازه د روغتیا نړیوال سازمان غړیتوب ترلاسه کوي، له غړیتوب څخه درې میاشتې وروسته کولی شي چې د ریزرف له حق څخه استفاده وکړي.
که څه هم د کرنیزو او خوراکي توکو سازمان په اساسنامه کې دا شرط نه دی ایښودل شوی چې غړي هېوادونه باید لاسلیک شوی کنوانسیون د خپل هېواد صلاحیت لرونکي مقام (پارلمان) ته د تصویب په موخه وړاندې کړي، خو د نورو سازمانونو په څېر غړي هېوادونه په دې مکلف ګڼي چې د کنوانسیون په برخه کې د ترسره شویو اقداماتو او لاسته راوړنو په اړه سازمان ته منظم او پر وخت راپور وړاندې کړي.
سربېره پر دې، غړي هېوادونه اړ دي چې د سازمان په غوښتنه د تغذیې او خوراکي توکو په برخه کې خپل داخلي قوانین او مقررات د سازمان په واک کې ورکړي.
د هوا پېژندنې نړیوال سازمان (WMO) پرېکړې د نورو تخصصي سازمانونو په پرتله له نسبي الزامیت څخه برخمنې دي.
د یاد سازمان د اساسنامې له مخې، غړي دولتونه باید د کنګرې د پرېکړو د پلي کېدا په برخه کې جدي هڅې وکړي.
همدغه راز کنګره هم باید د اساسنامې د ۷ مې مادې له مخې بېلابېل مقررات تصویب کړي یا غړو ته توصیه نامې صادرې کړي.
غړي هم مکلف دي، که چېرې د یادو مقرراتو پلي کول ورته ناشوني وي، له دلایلو سره باید سازمان ته معلومات وړاندې کړي.
د قانون جوړونې مختلف ډولونه چې مخکې پرې بحث وشو، ټول د دولتونو د ټولیز تصمیم د تقویې او د تخصصي سازمانونو د حقوقي پرېکړو د ارزښت لوړونې په موخه ترسره شوي دي.
که څه هم دا ډول پرنسیپونه او میتودونه د معاهداتو د حقوقو له دې اصل سره په ټکر کې دي چې وایي: (هېڅ دولت په زور د تړون لاسلیک ته نه شي اړ کېدای) خو له دې سره سره دغه کار د نړیوالو تخصصي سازمانونو د پرېکړو اجرایوي ضمانت په برخه کې یو مهم عامل ګڼل کېږي.

**د- د ملګرو ملتونو د تخصصي سازمانونو پېژندنه**

ملګري ملتونه ګڼ شمېر تخصصي سازمانونه لري، چې په بېلابېلو تعلیمي، روزنیزو، مالي، روغتیایي او کرنیزو برخو کې فعالیت کوي.
دغه سازمانونه به لاندې په لنډ ډول تشریح کړو:

**۱- د کار نړیوال سازمان- international labour law**

په اروپا کې د صنعتي انقلاب یوه پایله دا وه، چې د ارزانه کاریګرو استثمار د صنعتکارانو په ګټه تمام شو.

کاریګر له ناوړه کاري شرایطو او نا مناسب روغتیایي وضعیت سره مخ وو، خو د نولسمې پیړۍ په لومړیو کې د کاریګرو په ژوند او کاري شرایطو کې ښه والی راغی.

انګلیسی عالم رابرټ اون (Robert owen) هغه لومړنی ټولنیز اصلاح غوښتونکی و، چې د کاریګرو د اړتیاوو او د هغوی په ژوند کې د بدلون په موخه د اخن کنفرانس ته دوه مهم وړاندیزونه وړاندې کړل.

رابرټ اون چې د کارګرو نړیوال غورځنګ لومړنی بنسټګر ګڼل کېږي، نه یوازې په ټوله نړۍ کې د کار عادلانه حقونو غوښتونکی و، بلکې د کارګرو ترمنځ د اقتصادي توکو د عادلانه وېش په برخه کې یې هم پوره هڅې کړې دي.

په همدې حال کې د لېګراند (legrand) په نوم یو بل کس هم له اروپایي هېوادونو ورته غوښتنه وکړه، ترڅو د کارګرو له حقونو څخه د ملاتړ په موخه عادلانه قوانین تصویب کړي.

همدغه راز په المان کې د واګنر او برنانټو په نومونو کسانو هم ورته عقیده لرله چې باید د کارګرو حقوق تأمین شي.

بله خوا په ۱۸۷۶ کال کې د کارګرو د حقوقو په اړه د سویس د ولسمشر په نوښت جوړ شوی نړیوال کنفرانس بې پایلې پای ته ورسېد.

خو په دویمه نړیواله کنګره کې چې د کارګرو ټولنو په کې د پام وړ نفوذ خپل کړی و، د کارګرو په اړه په کې ګڼ مسایل مطرح شول.

له څوارلسو کلونو څخه پر کم عمره ماشومانو کار کول منع اعلان شو، د کارګرو لپاره د ورځې اته ساعته کاري وخت وټاکل شو، په اونۍ کې یوه ورځ رخصتي اعلان شوه، شپې کار کول منع اعلان شو، بیمه او همدارنګه کارګرو ته د مناسبې اوجورې او معاش غوښتنه وشوه.

خو د المان دویم امپراتور ویلیم د سوسیالېستانو ددې مفکورې پر وړاندې د مبارزې په موخه د ۱۸۹۰ کال په فیبرورۍ میاشت کې د یوه نړیوال کنفرانس د جوړېدا غوښتنه وکړه.

د همدې کال په مارچ میاشت کې په لومړي ځل په برلین ښار کې د کار نړیوال کنفرانس تشکیل شو.

په یاد کنفرانس د هېوادونو پر استازو سربېره، د دولسو اروپایي هېوادونو د کارګرو او کارفرمایانو استازو هم برخه لرله.

په کنفرانس کې د کارګرو له حقونو څخه د ملاتړ په موخه نوي قوانین او اصول وټاکل شول.

له دې سره په يو وخت کې خصوصي ټولنو هم د کارګرو له حقونو څخه د ملاتړ په موخه ګټور اقدامات ترسره کړل.

په ۱۸۹۷ کال د اګست په مياشت کې په زوريخ او د همدې کال په سيپټمبر کې په بروکسل ښار کې دوه نړيوالې کنګرې جوړې شوې، چې د کارګرو ټولنو او يو شمېر اقتصاد پوهانو په کې برخه اخيستې وه.

د کنګرې په وروستۍ غونډه کې پرېکړه وشوه، چې په کارګرو پورې اړونده مسايلو ته د رسيدګۍ په موخه بايد يوه ټولنه جوړه شي.

ياده ټولنه چې بنسټ يې په کنګره کې کېښودل شو او د کار طرزالعمل يې په پاريس کې وټاکل شو، بالاخره په ۱۹۰۱ کال کې (له کارګرانو څخه دقانوني ملاتړ نړيواله ټولنه) په نوم د سويس په بال ښار کې رسماً پرانېستل شوه.

د دې ترڅنګ په ۱۸۹۷ کال کې د ټولنيزې بيمې نړيواله کمېټه هم د يادولو وړ ده.

د لومړۍ نړيوالې جګړې پرمهال، د ورسايلز سولې کنفرانس به د يو شمېر هېوادونو د استازو او کارګرو ټولنو په ګډون جوړېده.

ددې کنفرانس سياسي او ټولنيزې کمېټې، د ۱۹۱۹ کال په اپريل کې د کنفرانس عمومي غونډې ته د کار نړيوال کنفرانس جوړېدا طرحه وړاندې کړه.

د کار نړيوال سازمان د ملتونو ټولنې په چوکاټ کې په فعاليت پيل وکړ او مقر يې د سويس جينوا ښار وټاکل شو، چې کلنۍ غونډې به يې هم په همدې ښار کې جوړولې.

کوم هېواد به چې د ملتونو ټولنې غړيتوب ترلاسه کاوه، په عين وخت کې د کار نړيوال سازمان غړى هم ګڼل کېده. نوموړى سازمان د ملتونو ټولنې په پرتله له بشپړ استقلال څخه برخمن و.

## ۲- د ملکي هوايي چلند نړيواله اداره I.C.A.O

د الوتکې جوړونې صنعت او د هوايي ټرانسپورټ چټکې پراختيا ته په پام سره، د هېوادونو ترمنځ د همکارۍ او همغږۍ لپاره د يوه مرکز جوړېدا ته اړتيا وليدل شوه.

له دويمې نړيوالې جګړې وروسته، ملګرو ملتونو د ملکي هوايي چلند سازمان د جوړېدا موضوع تر بحث لاندې ونيوله.

امريکا په ۱۹۴۴ کال کې د دې سازمان د جوړېدو په موخه په شيکاګو کې يو مقدماتي کنفرانس جوړ کړ.

بالاخره د ۱۹۴۷ کال په اپرېل مياشت کې د ملکي هوايي چلند ( international civil avation organization ) سازمان په رسمي توګه پرانيستل شو او د کاناډا هېواد د غوښتنې پراساس ددې هېواد مونټريال ښار د نوموړي سازمان مقر وټاکل شو.

د شیکاګو له کنفراس څخه د ملکي هوایي چلند سازمان تر جوړېدو پورې، د (PICAO) په نوم یو لنډمهاله مشورتي سازمان هم جوړ شوی و.

د شیکاګو کنفرانس د تړون د ۴۴ مې مادې له مخې، د هوایي ټرانسپورټ مقرراتو ټاکل او پراختیا، د ملکي هوایي چلند سازمان اساسي موخې وټاکل شوې:

الف- سازمان مکلف دی، چې د الوتنو خوندیتوب تضمین کړي او د ملکي هوایي چلند خدمات ټولې نړۍ ته ورسوي.

ب- د الوتکې جوړونې طراحي او په سوله ییزو مقاصدو کې د هغه کارول باید وهڅول شي.

ج- د هوایي کرښو، هوایي ډګرونو او د رادار شبکو د پراختیا په موخه باید اقدامات ترسره شي.

د- د هوایي تګ راتګ په برخه کې سپرلۍ ته اسانتیاوې برابرول، د نظم رامنځته کول او د کرایې تنظیمول.

هـ- د نړیوالې هوانوردۍ په برخه کې د الوتنې د کچې لوړول.

د ملکي هوایي چلند د سازمان جوړښت:

۱- عمومي غونډه: عمومي غونډه لږ تر لږه په کال کې درې غونډې جوړوي، چې چارې یې د شورا له خوا پرمخ وړل کېږي.

په عمومي غونډه کې پرېکړې د رایو په اکثریت ترسره کېږي او هر غړی د یوې رایې حق لري.

د ملکي هوایي چلند سازمان په اقتصادي، حقوقي او د فني همکاریو په برخه کې د غړو ترمنځ د خبرو اترو زمینه برابروي او همدغه راز د راتلونکو پلانونو او پروګرامونو په اړه د سازمان غړو ته لازمې سپارښتنې او لارښوونې کوي.

۲- شورا: شورا له ۳۳ کسیز پلاوي څخه تشکیل شوې ده، چې د عمومي غونډې په وړاندې مسؤلیت لري. د شورا پلاوي د عمومي غونډې له خوا د درې کلونو لپاره ټاکل کېږي.

د شورا غړي تر ډېره د هغو هېوادونو استازي دي، چې په حمل او نقل کې فعاله ونډه ولري، د ټرانسپورټي وسایلو په برابرولو کې د پام وړ رول ولوبوي، هوایي تاسیسات او شبکې ولري او همدغه راز پراخې هوایي کرښې ولري.

شورا د فضایي حریم د کنټرول کمېسیون، د هوایي چلند کمېټه، د ګډو مرستو کمېټه، د هوایي چلند سرویسونه او د مالي چارو کمېټه او د سازمان د پالیسي جوړونې مسؤلیت پرغاړه لري.

د شورا یوه بله مهمه دنده، د نړیوالو سټنډرډونو ټاکل او د هغو اجرایوي روشونو پرمخ بیول دي، چې د (ANNEX ) ضمیمې په نامه، د نړیوال هوایي چلند کنوانسیون په نوم خپرېږي.

شورا همدغه راز د نړیوال هوایي چلند د پراختیا په موخه لازم اقدامات ترسره کوي.

### ۳- د خوراکي توکو او کرنې سازمان F.A.O

دا سازمان په حقيقت کې د (کرنې نړيوالې مؤسسې) ځاېناستی ګڼل کېږي.

د کرنې نړيوالې مؤسسې د ملتونو ټولنې د فعاليت پرمهال، د کار او روغتيا له نړيوالو سازمانونو سره د اطلاعاتو په راکړه ورکړه کې نږدې همکاري لرله.

دغې مؤسسې همدغه راز د نباتاتو په ساتنه او وده کې هم اغېزناکې هڅې ترسره کړې وې. خو د خوراکي توکو او کرنې سازمان (Food and agriculture organization) له جوړېدا وروسته، له نوموړې مؤسسې څخه د اروپا سيمه ييز دفتر په توګه کار واخيستل شو، چې بالاخره په ۱۹۴۸ کال کې په رسمي توګه ړنګه او مسؤليت يې FAO ته وسپارل شو.

د FAO د تأسيس طرحه په لومړي ځل په ۱۹۴۳ کال په مې کې د امريکا ولسمشر فرانکلن روزولټ له خوا د خوراکي توکو او کرنې په مناسبت په جوړ شوي نړيوال کنفرانس کې چې د امريکا په ويرجينيا ايالت کې جوړ شوی و، وړاندې شوه.

په دغه کنفرانس کې چې نږدې ۳۴ هېوادونو برخه لرله، په نړۍ کې د بېوزلۍ او د لوږې پر وړاندې د مبارزې په موخه د يوه نړيوال سازمان د جوړېدو پر اړتيا خبرې وشوې.

د سازمان غړو د ۱۹۴۵ کال په اکتوبر کې د کاناډا په کيوبک ښار کې په لومړي ځل غونډه وکړه، چې په ترڅ کې يې د غړو هېوادونو له خوا د سازمان اساسنامه لاسليک شوه.

د اساسنامې له لاسليک وروسته د خوراکي توکو او کرنې نړيوال سازمان په رسمي ډول په فعاليت پيل وکړ.

د يادونې ده، چې ياد سازمان له دويمې نړيوالې جګړې وروسته، لومړنی تخصصي سازمان و چې جوړ شو.

د FAO سازمان موخه له نړيوال اقتصادي پرمختګ سره مرسته او د عامه هوساينې پراختيا ده.

دغه سازمان خپلو موخو ته د رسېدو لپاره خپل فعاليتونه په لاندې برخو کې متمرکز کړي دي:

۱- د خلکو د ژوند د سطحې لوړول، ۲- د توليد اصلاح او د خوراکي او کرنيزو محصولاتو وېش، ۳- په کليوالي سيمو کې پراختيايي پروژو پلي کول.

د خوراکي توکو او کرنې سازمان جوړښت:

۱- کنفرانس: کنفرانس د FAO تر ټولو لوړ ارګان دی، چې په کال کې يو ځل غونډه دايروي. اصلي او څارونکي غړي کولی شي کنفرانس ته خپل استازي ولېږي، خو يوازې اصلي غړي په کنفرانس کې درايې حق لري.

که کنفرانس لازمه وګڼي کولی شي، د هغو نړيوالو سازمانونو استازي، چې موخې او فعاليتونه يې د کنفرانس له فعاليتونو سره ورته والی لري، په غونډو کې د ګډون لپاره کنفرانس ته راوغواړي.

یاد سازمانونه به یوازې د څارونکي په توګه په کنفرانس کې ګډون کوي او د کنفرانس په پرېکړو کې د رایې ورکونې حق نه لري.
۲- شورا: شورا د سازمان اجرایوي ارګان دی، چې ۴۹ غړي لري. د شورا غړي د کنفرانس له خوا د درې کلونو لپاره ټاکل کېږي.
شورا د کنفرانس له خوا د ورکړل شویو واکونو د پلي کولو مسؤلیت لري.
ددې شورا غړي پر اوه سیمه ییزو ډلو وېشل شوي دي، چې د لاندې وېش له مخې ورته څوکۍ ځانګړې شوي دي:
۱- عربي هېوادونه (۱۲ څوکۍ)
۲-د منځني ختیځ او اسیا هېوادونه (۹ څوکۍ)
۳-اروپایي هېوادونه (۱۰ څوکۍ)
۴-د لاتیني امریکا هېوادونه (۹ څوکۍ)
۵- د منځنۍ اسیا هېوادونه (۲ څوکۍ)
۶-د شمالي امریکا هېوادونه (۲ څوکۍ)
۷- د جنوب لوېدیځ ارام سمندرګي هېوادونه (۲ څوکۍ)

۳- منشي: د خوراکي توکو او کرنې سازمان منشي د سکرتریټ مشرتوب پر غاړه لري. منشي د کنفرانس له لوري د یوې دورې په مخه د شپږ کلونو لپاره ټاکل کېږي. د سازمان منشي د کنفرانس د توافق په صورت کې کولی شي، سیمه ییز دفترونه پرانیزي.

## ۴- د روغتیا نړیوال سازمان W.H.O

له دې سازمان څخه مخکې د روغتیا نړیوالې ادارې په نوم یو بل سازمان موجود و، چې د ملتونو ټولنې په چوکاټ کې یې فعالیت کاوه او مرکز یې د فرانسې په پاریس ښار کې و.
د ملګرو ملتونو سازمان د جوړېدا پرمهال، برازیل د سنفرانسیسکو په کنفرانس کې د یوه نړیوال روغتیایي سازمان د جوړېدا وړاندیز وکړ.
د نوموړي هېواد دغه وړاندیز د یو شمېر هېوادونو له هرکلي سره مخ شو او بالاخره د ۱۹۴۶ کال په جون کې د جینیوا په ښار کې د روغتیا نړیوال کنفرانس جوړ شو.
په یاد کنفرانس کې د روغتیا نړیوال سازمان اساسنامه تصویب شوه او د ۱۹۴۷ کال په اپرېل کې د اجرا وړ وګرځېده.
د سازمان د اساسنامې د لومړۍ مادې له مخې، ددې سازمان موخه د نړۍ ټولو خلکو ته د روغتیایي اسانتیاوو برابرول دي.

د روغتيا نړيوال سازمان (WHO) جوړښت:
۱- اسامبله: د سازمان اسامبله (غونډه) له اصلي غړو، نادولتي سازمانونو او د نورو همکارو بين الدولي سازمونونو له استازو څخه جوړه ده.
له اصلي غړو پرته، نور غړي د څارونکي په توګه يوازې د اسامبلې په غونډو کې د ګډون حق لري. د اسامبلې دندې په لاندې ډول دي:
د سازمان د پاليسيو ټاکل، دوه کلن پروګرامونه، د سازمان بوديجې تصويبول، د سازمان د منشي ټاکل، د قرنطين په برخه کې د مقرراتو ټاکل، د روغتيايي طرحو جوړول، د ناروغيو د تشخيص او درمل جوړولو په برخه کې د معيارونو او سټنډردونو ټاکل.
د اسامبلې غونډې هر کال د مې په مياشت کې دايرېږي.
۲- اجرايوي پلاوی: اجرايوي پلاوی له ۳۱ غړو څخه جوړ شوی دی. دا غړي د خپلو هېوادونو استازي نه دي، بلکې له خپلو دولتونو څخه مستقل مسلکي کسان دي.
د اجرايوي پلاوي دندې په دې ډول دي:
د اسامبلې غونډو ته اجنډا ټاکل، د اسامبلې د پرېکړو پلي کول او اسامبلې ته مشوره ورکول.
۳- سکرتريت: منشي د سازمان د لوړ پوړي اداري چارواکي په توګه د سکرتريت په سر کې ځای لري. سکرتر د اجرايوي پلاوي په وړانديز د اسامبلې له لوري د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي.
۴- سيمه ييز دفترونه: د روغتيا نړيوال سازمان شپږ سيمه ييز دفترونه لري، چې هر يو د يوې سيمه ييزې کمېټې او يو سيمه ييز دفتر لرونکی دی. هر سيمه ييز دفتر د يوه مشر له خوا اداره کېږي.
سيمه ييزې کمېټې له غړو هېوادونو او اړونده غړو (associated members) جوړې شوې دي.
سيمه ييز مديران د اجرايوي پلاوي له خوا د اړونده سيمه ييزې کمېټې له موافقې وروسته ټاکل کېږي.
مديران د سيمې له ځايي او سېدونکو څخه ټاکل کېږي او د يوه اداري او مسلکي مقام په توګه د سيمه ييز دفتر په رأس کې قرار لري.
د روغتيا نړيوال سازمان سيمه ييز دفترونه په لاندې ډول دي:
۱- د ختيځې مديترانې سيمه ييز دفتر (سکندريه – مصر)
۲- د افريقا سيمه ييز دفتر (برازاويل – کانګو)
۳- د اروپا سيمه ييز دفتر (کوپنهاک- ډنمارک)
۴- د لوېديځ پسفيک سيمه ييز دفتر (مانيل- فلپين)
۵- د ختيځې او لوېديځې اسيا سيمه ييز دفتر (نوی ډيلی- هند)
۶- د امريکا سيمه ييز دفتر (واشنګټن ډي سي- امريکا)

## ۵- د ملګرو ملتونو علمي او فرهنګي سازمان UNESCO

په علمي او فرهنګي برخه کې د نړيوالو همکاريو په موخه هڅې په لومړي ځل په ۱۹۱۴ کال کې د هالنډ هېواد له خوا پيل شوې.

هالنډ په نړيواله کچه د علمي او فرهنګي فعاليتونو د همغږۍ او تنظيم لپاره د يوه نړيوال کنفرانس د رابللو تابيا ونيوله. ټاکل شوې وه، چې دا کنفرانس په ۱۹۱۴ کال کې جوړ شي، خو د لومړۍ نړيوالې جګړې له امله ونه شو.

د ملتونو ټولنې له جوړېدا وروسته، فرانسې او بلجيم د ملتونو ټولنې په چوکاټ کې د عمومي اسامبلې او شورا د مشورتي ارګان په توګه د علمي همکاريو کمېسيون د جوړولو وړانديز وکړ. کمېسيون په ۱۹۳۰ کال کې جوړ شو، چې يوه اجرايوي کمېټه يې لرله.

د دغه کمېسيون د ملاتړ او تقويې په موخه، فرانسې هم په ۱۹۲۴ کال کې د (علمي همکاريو نړيوالې مؤسسې) په نوم يو سازمان جوړ کړ، چې تر دويمې نړيوالې جګړې پورې يې خپل فعاليت ته دوام ورکړ، خو وروسته ړنګ شو.

په ۱۹۴۵ کال د جولای په دولسمه د متحده هېوادونو د پوهنې او زده کړو وزيرانو په لندن کې د يوه پرېکړه ليک په ترڅ کې د برېټانيا له حکومت څخه غوښتنه وکړه چې د علمي او فرهنګي سازمان د جوړېدا په موخه يو کنفرانس جوړ کړي.

د ملګرو ملتونو د علمي او فرهنګي کمېسيون (يونيسکو) د تأسيس په موخه د څلور څلوېښت هېوادونو په ګډون غونډه جوړه شوه، چې د ۱۹۴۵ کال په نومبر مياشت کې يې د سازمان د تأسيس سند يا تړون لاسليک کړ.

يونيسکو په ۱۹۴۶ کال د ډيسمبر په مياشت کې د يوه تړون له مخې، د ملګرو ملتونو تخصصي سازمانونو په ډله کې راغی.

د يونيسکو سازمان د اساسنامې د لومړۍ مادې له مخې، ددغه سازمان موخه د ملتونو په ګډو هڅو په ټوله نړۍ کې د پوهنې، روزنې او فرهنګي چارو پراختيا، د سولې او امنيت په راوستو کې مرسته، د قانون حاکميت، د عدالت تأمين، د خلکو له اساسي ازاديو او بشري حقونو څخه ملاتړ دی.

د يادونې وړ ده، چې د ملګرو ملتونو په منشور کې هم له توکميز، مذهبي او جنسي توپير پرته د نړۍ ټولو اتباعو ترمنځ پر برابري او مساواتو ټينګار شوی دی.

د يونيسکو سازمان جوړښت:

عمومي کنفرانس: عمومي کنفرانس د يونيسکو له غړو څخه جوړ شوی دی، چې د نوموړي سازمان د تصميم نيونې مهم ارګان ګڼل کېږي.

عمومي کنفرانس د سازمان د تګلارې د ټاکلو او د بوديجې تصويب په موخه په هرو دوو کلونو کې يو ځل غونډه کوي.
په يونيسکو کې غړيتوب د اقتصادي او ټولنيزې شورا په توافق او د عمومي کنفرانس د غړو په دوه ثلثه رايو منل کېږي.
هر هغه هېواد چې غواړي د سازمان له غړيتوب څخه ووځي، يو کال مخکې بايد سازمان ته خبر ورکړي.
د سترو قدرتونو په وړاندې د يونيسکو مستقلو سياستونو له امله، امريکا په ۱۹۸۴، انګليستان او سنګاپور په ۱۹۸۵ کال کې د دغه سازمان له غړيتوب څخه ووتل.
اجرايوي شورا: اجرايوي شورا له ۵۱ غړو څخه جوړې شوې ده، چې د عمومي کنفرانس له خوا د غړو هېوادونو له منځه ټاکل کېږي.
د يونيسکو په پخوانۍ او لومړۍ اساسنامه کې راغلي و، چې د اجرايوي شورا غړي د خپل هېواد استازي نه دي، بلکې د يونيسکو د عمومي کنفرانس په استازيتوب په شورا کې فعاليت کوي.
خو په ۱۹۵۴ کال کې د امريکا په غوښتنه په اساسنامه کې بدلون راغی او له دې وروسته د اجرايوي شورا غړي د خپل هېواد په استازيتوب په شورا کې برخه اخلي.
دې مسئلې ته بايد د اندېښنې په ترځ کې ووايو، ددې پر ځای چې د يونيسکو اجرايوي شورا د نړۍ د نامتو او وتلو عالمانو ځای وي، د يو شمېر هېوادونو د بېلابېلو ګټو قرباني شوې ده.
سکرتريت: د يونيسکو سکرتريت د يوه منشي له خوا اداره کېږي. سکرتريت چې شاو خوا ۲۵۰۰ نړيوال کارکوونکي لري د اجرايوي شورا په وړانديز او د عمومي کنفرانس په تائيد د شپږو کلونو لپاره ټاکل کېږي. منشي د سازمان د پروګرامونو د پلي کولو مسؤليت پرغاړه لري. د يونيسکو سازمان مرکز په پاريس کې دی.
پر يادو ځانګو سربېره، يونيسکو کولی شي په علمي، ښوونيزه او کلتوري برخه کې هم د يو شمېر هېوادونو، نادولتي سازمانونو او ممتازه محصلينو په ګډون کمېسيونونه جوړ کړي.
د يادونې ده، چې دغه سازمان سيمه ييز دفترونه او ملي کمېسيونونه هم لري.
د يونيسکو سيمه ييز دفترونه د سکرټريټ د يوې فرعي ځانګې په توګه د مسؤليتونو د وېش او کاري حجم د کموالي په موخه د اسيا په څلور بېلابېلو برخو کې جوړ شوي دي.
دغه سيمه ييز دفترونه په دې ډول دي:
د اسيا لپاره د بنکاک دفتر، د افريقا لپاره د ډاکار دفتر، د لاتينې امريکا لپاره د سنتياګو دفتر او د عربي هېوادونو لپاره د بېروت دفتر.

ددې ترڅنګ چې سیمه ییز دفترونه په داخلي چارو کې خپلواک دي، په عین وخت کې د سازمان د سکرتریت تر څارنې لاندې فعالیت کوي.
سیمه ییز دفترونه د خپلو فعالیتونو د څرنګوالي او ورکړل شوي صلاحیت له مخې کولی شي، له اړتیا سره سم لاندې نورې څانګې یا دفترونه پرانېزي.
خو د یونسکو ملي کمېسیونونه یوازې په غړو هېوادونو کې جوړېدای شي. دا کمېسیونونه د یونیسکو سازمان او غړیو هېوادونو ترمنځ په فرهنګي، علمي او روزنیزو چارو کې د یوه ارتباطي پول حیثیت لري.
ملي کمېسیونونه همدغه راز په غړیو هېوادونو کې د خپل واک په دایره کې د سازمان د موخو او پروګرامونو د پلي کولو او همغږي کولو او ورسپارل شویو دندو د اجرا مسولیت پر غاړه لري.

## ۶- د پیسو نړیوال صندوق - I.M.F

په ۱۹۲۹ کال کې یوه ستر اقتصادي بحران د امریکا متحده ایالتونو د ځېلو ترڅنګ، د لوېدیځ یو شمېر نور پانګوال نظامونه یې هم اغېزمن کړل.
له همدې امله یو شمېر هېوادونو د پیسو نړیوال صندوق (International money fund) د جوړېدا په برخه کې هڅې پیل کړې.
په ۱۹۳۰ مه لسیزه او د دویمې نړیوالې جګړې پرمهال، یو شمېر هېوادونو د دې بحران د مخنیوي په موخه د خپلو پیسو په ارزښت کې کموالی راوست او په خپلو سوداګریزو چارو کې یې ځینې محدودیتونه رامنځته کړل.
خو د دې وضعیت په مقابل کې نورو هېوادونو هم ورته اقدامات ترسره کړل، چې بالاخره دې کار پر نړیوال تجارت او اقتصاد منفي اغېز پرېښود او په نړیوال تجارت کې کموالی راغی او د بېکارۍ کچه لوړه شوه.
د دویمې ورانوونکې نړیوالې جګړې پرمهال د نړیوال تجارت او اقتصاد په اړه د ځینو مقرراتو او د اصولو رامنځته کېدا ته اړتیا ولیدل شوه. په همدې موخه د ۱۹۴۰ لسیزې په لومړیو کې د یوه باثباته پولي او مالي نظام د رامنځته کېدو په موخه جدي هڅې پیل شوې.
په ۱۹۴۴ کال د جون له لومړۍ څخه تر دوه ویشتمې پورې، د څلور څلوېښت هېوادونو په ګډون د پیسو نړیوال صندوق د جوړېدا په موخه د امریکا په نیو همپشایر ایالت کې د برټون ووډز (Bertton woods) کنفرانس دایر شو.
د اساسنامې تر تصویب وروسته، چې نهه ویشت هېوادونو لاسلیک کړې وه، دغه سازمان په ۱۹۴۵ کال د ډسمبر په اووه ویشتمه رسماً په فعالیت پیل وکړ.

د ۱۹۴۲ کال په مارچ کې د سازمان له لومړۍ پرانیستونکې غونډې یو کال وروسته، یعنې د ۱۹۴۷ کال په مارچ کې د سازمان مالي چارې عملاً پیل شوې.

د یادونې ده، چې د سازمان پولي او مالي سیستم د لاندې څلورو وړاندې طرحو له مخې جوړ شوی دی:

لومړۍ طرحه: دغه طرحه د (نړیوالې باثباته پولي ټولنې) تر عنوان لاندې د برېټانوي اقتصاد پوه او د انګلیستان د مالیې وزارت سلاکار (جان کېنز) له خوا وړاندې جوړه شوې وه.

کېنز په دې باور و، چې سره زر د نړیوالې مالي پشتوانې (زېرمې) په توګه باید ونه کارول شي، ځکه د هغه په وینا د نړیوالې سوداګرۍ پراختیا ته په پام سره، ویلی شو، چې د هېوادونو ترمنځ په پولي راکړه ورکړه کې د سرو زرو مقدار کافي نه دی او په پایله کې هغه هېوادونه چې سره زر نه لري، ښایي د یوه ناڅاپي اقتصادي انفلاسیون خوا ته لاړ شي.

کېنز همدغه راز فکر کاوه، چې د هېوادونو پولي سیستم د سرو زور پر ځای، باید پر راکړه ورکړې، ملي عوایدو، د تجارت پر پراختیا او د نفوسو پر زیاتوالي متکي وي.

هغه پیسې چې کېنز د نړیوالې کرنسۍ په توګه وړاندیز کړې وې، محاسبوي پیسې وې او د دې پیسو زیاتوالی او کموالی په بشپړه توګه شونی و.

په داسې حال کې چې سرو زرو به انسانان د خپل ځان تابع ګرځول، کېنز پیسې او اثار د بشر په واک کې ورکول.

دویمه طرحه: دغه طرحه د امریکا د مالیې وزارت د مرستیال (هاري وایټ) له خوا د (د ملګرو ملتونو د پولي چارو د تثبیت نړیوال صندوق او ملګرو ملتونو د پراختیا او رغونې بانک) تر عنوان لاندې وړاندې شوه.

نوموړي د لومړۍ طرحې برعکس، سره زر یې په نړیوالو اړیکو کې یو اغېزمن عنصر وباله او په دې نظر و، چې د طلا یو نړیوال پولي واحد باید رامنځته شي، ترڅو د هغه له مخې پیسې وسنجول شي.

یاده طرحه له یو لړ بدلونونو وروسته د بېرټون ووډز کنفرانس د ګډونوالو له خوا د تایید وړ وګرځېده او طلا د پیسو نړیوال صندوق د مالي پشتوانې په توګه ومنل شوه.

خو امریکا له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د یوازېنې اقتصادي قدرت په توګه، له فرصت څخه ګټه پورته کړه او ډالر یې د پیسو نړیوال صندوق د پیشتوانې په توګه ومانه.

درېیمه طرحه: فرانسې په ۱۹۴۳ کال د مې په میاشت کې د (پیسو نړیوال مناسبات) تر نامه لاندې خپله چمتو کړې طرحه وړاندې کړه.

کاناډا هم د ۱۹۴۳ کال په جولای کې (د اسعارو د تبادلې د نړیوالې ټولنې) تر عنوان لاندې طرحه جوړه کړې وه.

له پورتنیو څلورو طرحو څخه یوازې لومړۍ او دویمه طرحه یې تر بحث او څېړنې لاندې ونیول شوه. په همدې تړاو په ۱۹۴۳ کال کې د امریکا او انګلستان د پلاویو له خوا بېلابېلې غونډې هم وشوې. بالاخره تر دوه کلونو (۱۹۴۴-۱۹۴۲) خبرو اترو او ناستو وروسته د پیسو نړیوال صندوق (IMF) د تأسیس ګډه اعلامیه چمتو شوه.

ددې سند د څېړنې په موخه په ۱۹۴۴ کال د جولای په ۲۴ د امریکا په اتلانتیک سیټي کې د شپاړسو هېوادونو په ګډون غونډه جوړه شوه.

په پای کې د پیسو نړیوال صندوق د اساسنامې لومړۍ مسوده چمتو او د Bertton woods په کنفرانس کې د ۴۴ هېوادونو له خوا لاسلیک شوه.

د پیسو نړیوال صندوق د لاندنیو موخو په اساس جوړ شوی:

۱- د پولي او مالي مسایلو په برخه کې د هېوادونو ترمنځ ګډې هڅې او همکاري.

۲- د اسعارو د نرخ په ثبات او د پولي مېکانیزم د ساتنې په برخه کې هلې ځلې.

۳- د نړیوالې سوداګرۍ د پراختیا په برخه کې د اسانتیاوو برابرول، د حقیقي عوایدو په زیاتوالي او د کاري فرصتونو برابرولو په برخه کې هڅې.

۴- د څو اړخیزې راکړه ورکړې سیستم په رامنځته کولو کې همکاري او د اسعارو په تبادله کې د محدودیتونو لرې کول.

سهام او د اخیستنې اسانتیاوې او د ځانګړې اخیستنې حق؛ دا دوه هغه موضوعات دي چې تفصیل ته اړتیا لري.

ونډه او د اخیستنې اسانتیاوې: د صندوق هر غړی خپله ونډه لري، چې د (اخیستنې ځانګړي حق) په نامه یادېږي.

د هر غړي ونډه، په صندوق کې د هغه له غړیتوب سره معادله ده او د صندوق د غړي ونډه د اخیستنې د ځانګړي حق له تخصیص څخه معلومېږي.

په (ای ایم اف) کې د غړو هېوادونو رول، د غړو هېوادونو له مالي ونډې سره مستقیمه اړیکه لري. یعنې هغه هېوادونه چې په صندوق کې تر نورو ډېره ونډه ولري، د صندوق په چارو کې یې رول تر نورو هغو برجسته دی.

د غړو هېوادونو ونډه په کال کې یو ځل بدلون مومي. د صندوق عمومي اسامبله چې د مشرتابه پلاوي په نامه هم یادېږي، په هرو پنځو کلونو کې د غړو هېوادونو ونډه څېړي او لازم بدلونونه په کې راولي. همدغه راز مشرتابه پلاوی کولای شي، د اړتیا پرمهال د هېوادونو مالي ونډه وڅېړي او لازم بدلونونه په کې رامنځته کړي.

د اخیستنې ځانګړی حق: د پیسو نړیوال صندوق د مقوم (قیمت لرونکو) توکو د زیاتوالي او لوړولو په موخه د اخیستنې د ځانګړي حق نړیوال پولي سیستم یې وضع کړی. له همدې لارې

غړي هېوادونه د نورو هېوادونو له مروجو پيسو څخه په استفادې سره کولی شي، د خپل تادياتي بيلانس ستونزو په هوارولو کې ترې استفاده وکړي.
پر دې سربېره هغه غړي چې د ورکړې (تاديې) له ځواک څخه برخمن وي، کولی شي هغه هېوادونه چې د تاديې موازنه يې کمزورې ده، د اخيستنې ځانګړي حق د قبلولو په موخه بايد د هغوی مروجې پيسې وټاکل شي.
په ۱۹۹۲ کال کې د اخيستنې ځانګړي حق لپاره د تخصيصي اعتبار مجموعه ۱۴۲ مليارده ډالره وه، چې دا تخصيص د هر غړي د ونډې د اعتبار پر اساس ټاکل شوی دی.
**د پيسو نړيوال صندوق جوړښت:**
۱- مشرتابه پلاوی: مشرتابه پلاوی د پيسو نړيوال صندوق تر ټولو لوړ تصميم نيوونکی مقام دی چې له غړو هېوادونو څخه جوړ شوی دی.
د پيسو نړيوال صندوق غړي معمولاً د غړو هېوادونو د ماليې وزيران او د مرکزي بانک رئيسان دي.
د مشرتابه پلاوي د دندې موده له مخکې ټاکل شوې ده او تر څو چې پر ځای يې بل کس نه وي معرفي شوی، خپل کار ته ادامه ورکوي. د مشرتابه پلاوي واکونه په لاندې ډول دي:
د نويو غړو منل، د ونډې ټاکل او د اخيستنې د ځانګړي حق تخصيص.
پاتې نور واکونه د مشرتابه پلاوي له خوا د صندوق اجرايوي پلاوي ته سپارل شوې دي.
د مشرتابه پلاوي غونډې د نږدې پنځلس غړو په غوښتنه يا لږ تر لږه د دوه ثلثه رايو پر اساس جوړېږي. دا غونډې د نړيوال بانک د مشرتابه پلاوي له غونډې سره هم مهاله په کال کې يو ځل دايرېږي. همدغه راز د پيسو نړيوال صندوق او نړيوال بانک غونډې دوه کاله سر په سر په امريکا او يو کال په نورو غړو هېوادونو کې جوړېږي.
۲- اجرايوي پلاوی: اجرايوي پلاوی له ۲۴ اجرايوي مديرانو او يو تن عامل مدير څخه جوړ شوی دی. يو شمېر مديران انتصابي او يو شمېر نور بيا انتخابي دي. د امريکا، انګليستان، جرمني، فرانسې او جاپان استازي انتصابي دي.
د يادونې ده، چې جاپان د پيسو په نړيوال صندوق کې تر ټولو زياته مالي ونډه لري.
دا مديران هم ترهغه چې پر ځای يې بل څوک نه وي معرفي شوی، خپل کار ته دوام ورکوي. پاتې نولس مديران له بېلابېلو ډلو څخه ټاکل کېږي، چې د کار موده يې له دوو کلونو زياته نه ده.
لنډمهالې (موقته) کمېټه: دا کمېټه په لاندې برخو کې څېړنې کوي او راپور يې صندوق ته وړاندې کوي: د نړيوال پولي نظام لپاره د لازمو تعديلاتو څرنګوالی، د هغو تصادفي اختلافونو څېړل چې نړيوال پولي نظام ورسره مخ کېږي او د اجرايوي پلاوي له خوا د وړانديزونو څېړل.

د پراختیا کمېټه: دا کمېټه د مخ پر ودې او وروسته پاتې هېوادونو په اړه د مطالعې او ارزونې په موخه جوړه شوې ده. ددې کمېټې غړي په دې ډول دي: د پیسو نړیوال صندوق او نړیوال بانک مشرتابه پلاوي، وزیران او نور چارواکي چې د دوو کلونو په مخه ټاکل کېږي. د صندوق هر غړی هېواد یو تن اجرایوي مدیر لري او همدغه راز هغه ډلې چې په عمومي ډول یو تن اجرایوي پلاوی انتخابوي، کولی شي یو تن استازی او اووه تنه سلاکاران د پراختیا کمېټې ته ور وپېژني. د پراختیا کمېټې غونډې له لنډ مهالې کمېټې سره په هم مهاله ډول په هماغه ځای کې دایرېږي.

**۷- د نړیوال بانک ډله – W.B.G**

د نړیوال بانک ګروپ (world bank group) له درې مالي مؤسسو څخه، چې تقریباً ورته موخې لري، جوړ شوی دی.

دغه درې مؤسسې عبارت دي له: د بیارغونې او پراختیا بانک، د پراختیا نړیواله مؤسسه او نړیواله مالي مؤسسه.

**الف: د بیارغونې او پراختیا بانک – I.B.R.D**

د بیارغونې او پراختیا بانک ( International bank for reconstration and development) په ۱۹۴۴ کال کې د پیسو نړیوال صندوق سره په یو وخت کې د برټون ووډز په کنفرانس کې تأسیس شو.

ددې بانک اساسنامه د همدغه کنفرانس ضمیمه ده او په ۱۹۴۶ کال کې یې په واشنګټن کې رسماً په فعالیت پیل وکړ.

د بانک موخه، مخ پر ودې هېوادونو ته د پورونو ورکول دي، ترڅو دغه هېوادونه خپلې پراختیایي پروژې او پروګرامونه پرې پلي کړي.

دا پورونه د برېښنا، د اور ګاډي پټلۍ، د ګازو نل لیکې، مخابراتو، کرنې، صنعت، د څښلو اوبه، د ښوونې او رزونې او د نورو عمراني پروژو د پلي کولو په منظور ورکول کېږي.

د یادونې ده، یوازې د پیسو نړیوال صندوق غړي کولی شي چې د نړیوال بانک غړیتوب ترلاسه کړي. همدغه راز د پراختیا نړیوالې مؤسسې او مالي چارو نړیوالې مؤسسې غړیتوب ترلاسه کولو اساسي شرط په نړیوال بانک کې غړیتوب دی.

د بیارغونې او پراختیا د بانک جوړښت:

مشرتابه پلاوی: مشرتابه پلاوی له غړو هېوادونو څخه جوړ دی او په کال کې یو ځل غونډه دایروي. د بیارغونې او پراختیا بانک د اساسنامې له مخې، مشرتابه پلاوي ته پراخ واکونه ورکړل شوي دي:

د غړیتوب منلو صلاحیت، د ځانګړې ګټې تخصیص او د بانک د سهمي پانګې وېش.

د یادونې وړ ده، چې مشرتابه پلاوی کولی شي، د اړتیا پرمهال خپل ځینې واکونه مدیره پلاوي ته وسپاري.

مدیره پلاوی: مدیره پلاوی پنځلس غړي چې له دې جملې شپږ غړي يې د بانک د مخکښو برخوالو (امریکا، انګلیستان، جرمني، فرانسې، جاپان او هندوستان) له خوا ټاکل کېږي او پاتې نور د غړو هېوادونو له خوا ټاکل کېږي.

اجرایوي مدیران د ټاکلو ضریبونو پراساس رایه ورکوي، یعنې د هر اجرایوي مدیر رایه د هغو دولتونو د رایو د جمعې حاصل دی، چې په بانک کې د هغوی استازیتوب کوي.

د نړیوال بانک مشر هم د مدیره پلاوي له خوا ټاکل کېږي.

د بانک مشر د خپلو ورسپارل شویو مسؤلیتونو په رڼا کې د بانک د چارو مشري او د کارکوونکو د ټاکلو او لرې کولو مسؤلیت پر غاړه لري.

د یادونې ده، چې د پور د ورکړې وړاندیز یوازې د بانک مشر کولی شي.

## ب: د نړیوالې پراختیا مؤسسه - I.D.A

دا مؤسسه (international development association) په نړیوال بانک پورې د یوې اړونده مؤسسې په توګه، د ۱۹۲۰ کال په جنورۍ کې د امریکا د متحده ایالتونو په هڅو رامنځته شوه، چې موخه يې له پرمخ ودې هېوادونو سره مرسته او همکاري ده.

دغه مؤسسه د پراختیایي طرحو د پلي کېدا په موخه له مخ پر ودې هېوادونو سره اوږد مهاله مرستې کوي. د نړیوالې پراختیا مؤسسه دوه ډوله غړي لري:

لومړی، پرمختللي صنعتي هېوادونه.

دویم، د منځنۍ کچې پرمختللي هېوادونه.

لومړۍ ډله هېوادونه خپله ټوله ونډه پر بدلېدونکې پیسو ورکوي او مؤسسه کولی شي چې یادې ټولې پیسې پور ته ځانګړې کړي. خو دویمه ډله هېوادونه د خپلې ونډې یو پر لسمه برخه پر بدلېدنکې پیسو او پاتې نور پر خپلو پیسو ورکوي.

د نړیوالې پراختیا مؤسسه نه شي کولای، چې د مربوطه هېواد له رضایت او اجازې پرته دغه پیسې پور ته ځانګړې کړي.

په هر حال، د نړیوالې پراختیا مؤسسې له خوا ځانګړي شوي پورونه، د بیارغونې او پراختیا نړیوال بانک په پرتله زیات د پور اخیستونکو هېوادونو په واک کې ورکول کېږي.

## ج: نړیواله مالي مؤسسه – I.F.C

دا مؤسسه (intrernational finance corporation) هم له نړیوال بانک سره د یوې تړلې مؤسسې په توګه د ۱۹۵۵ کال د مې په ۲۵ نېټه رامنځته شوه.
نړیواله مالي مؤسسه هغه یوازینی بین المللي سازمان دی، چې موخه یې د خصوصي مؤسسو پراختیا او مرسته ده.
مالي مؤسسه همدغه راز د دې موخې د پرمخ بیولو په منظور د پراختیایي پروګرامونو د پلي کېدا په موخه هېوادونو ته پور ورکوي.
نوموړې مؤسسه ډېر کله په خصوصي اقتصادي سازمانونو کې هم پانګونه کوي او ددې پانګونې له ګټې څخه خپل عواید لاسته راوړي.
د دې لپاره چې نړیواله مالي مؤسسه د اقتصادي سازمانونو په داخلي چارو کې لاسوهنه ونه کړي، د سازمان په پرېکړو کې د رایې له حق څخه برخمنه ده.

## ۸ - د کرنې د پراختیا نړیوال صندوق- IFAD

د کرنې د پراختیا نړیوال صندوق په ۱۹۷۴ کال د خوړو نړیوال کنفرانس په وړاندیز رامنځته شو.
ددغه سازمان اساسنامه په ۱۹۷۶ کال کې د ۹۱ هېوادونو له خوا په تصویب ورسېده او په ۱۹۷۷ کال د نومبر په ۳۰ د اجرا وړ وګرځېده او د همدې کال د ډیسمبر په یوولسمه یې رسماً په فعالیت پیل وکړ.
د آیفاډ موخه، د مخ پر ودې هېوادونو د کرنې د پراختیا په موخه له سرشاره منابعو څخه استفاده کول دي. له سرشاره منابعو څخه ګټه اخیستل، د ترجیحي شرایطو په پام کې نیولو سره صورت نیسي.
همدغه راز ددغه صندوق مسؤلیت د خوراکي توکو د تولید اصلاح او وده ده. صندوق همدغه راز مسؤلیت لري، ترڅو بې وزله وګړو سره د خوراکي توکو د مرستې په برخه کې ګام واخلي.
د کرنې د پراختیا نړیوال صندوق غړي په دریو ډلو وېشل شوي دي:
لومړی ډله د اقتصادي همکاریو د پراختیا سازمان غړي (OECD)، دویمه ډله د نفتو صادرونکي هېوادونو سازمان غړي (OPEC) او درېیمه ډله مخ پر ودې هېوادونه دي.
هغه هېوادونه چې غواړي تازه له دې سازمان سره یوځای شي، د مشرتابه شورا له پرېکړې وروسته په سازمان کې غړیتوب ورکول کېږي.
جوړښت:
۱- مشرتابه شورا: مشرتابه شورا له غړو څخه تشکیله شوې ده، چې تر ټولو با صلاحیته مقام ګڼل کېږي.

د صندوق د تګلارې ټاکل، د اساسنامې اصلاح، د غړيتوب منل، د غړيتوب ځنډول او د غړو په ډلبندۍ کې بدلون د مشرتابه شورا له واکونو څخه دي.

۲-اجرايوي پلاوی: اجرايوي پلاوی د صندوق د اساسنامې يا هوکړه ليک له مخې په صندوق پورې د اړونده چارو د پلي کولو مسؤليت پر غاړه لري. اجرايوي پلاوی اتلس غړي لري.

د اجرايوي پلاوي د پرېکړو تائيد د حاضرو غړو درې ثلثه رايو ته اړتيا لري.

۳-د آيفاډ مشر: د کرنې پراختيا نړيوال صندوق مشر د سازمان تر ټولو لوړ پوړی چارواکی دی چې د مشرتابه شورا له لورې د يوې دورې په مخه د څلور کلونو لپاره ټاکل کېږي. آيفاډ د رايې اچونې له حق پرته د اجرايوي پلاوي مشرتوب پرغاړه لري.

**۹- د ملګرو ملتونو د صنعتي پراختيا سازمان- UNIDO**

د ملګرو ملتونو نړيوال سازمان د جوړېدا پرمهال يو شمېر مخ پر ودې هېوادونه چې تازه د استعمار مرحله يې پای ته رسولې وه، تر دې دمه لا د صنعتي کېدو پړاو ته نه و رسېدلي.

په صنعتي برخه کې د مرستې په موخه ملګرو ملتونو بېلابېل پروګرامونه تر لاس لاندې و نيول، چې له دې جملې په ۱۰۴۸ کال کې د « ملګرو ملتونو د مرستو پراختيايي پروګرام »، په **۱۹۵۸** کال کې د « ملګرو ملتونو ځانګړی صندوق» او په ۱۹۲۰ کال کې د «صنعتي ودې کمېټه» د يادولو دي.

دا چې دغو پروګرامونو د مخ پر ودې هېوادونو اړتياوو ته ځواب ونه شو ويلی، نو په **۱۹۲۷** کال کې د عمومي اسامبلې له خوا د ملګرو ملتونو د صنعتي پراختيا سازمان (UNIDO) رامنځته شو.

د يونيډو په دويم کنفرانس کې چې په **۱۹۷۵** کال کې په پيرو هېواد کې جوړ شوی و، پرېکړه وشوه چې دغه سازمان د عمومي اسامبلې له فرعي ځانګې څخه تخصصي ته بايد ارتقاء وکړي.

په همدې موخه، ملګرو ملتونو په **۱۹۷۹** کال کې د يوې نوې اساسنامې د تنظيم او تدوين په موخه يو کنفرانس راوغوښت.

دغه اساسنامه چې د يونيډو سازمان د جوړېدو تضمين په کې شوی و، په **۱۹۷۹** کال د اپرېل په اتمه د يوه کنفرانس په ترڅ کې د نږدې ۷۰ هېوادونو له خوا تصويب او په **۱۹۸۵** کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه د اجرا وړ وګرځېده.

په همدې کال کې د ملګرو ملتونو او يونيډو سازمان ترمنځ د يوې هوکړې له مخې، يونيډو د ملګرو ملتونو د شپاړسم تخصصي سازمان په توګه ومنل شو.

د يونيډو سازمان د اساسنامې له مخې، ددغه سازمان د فعاليت اساسي موخه د صنعت پراختيا او وده ده.

د دغه سازمان فعاليتونه په دوه ډوله ترسره کېږي: په مستقله او په همغږې توګه.

مستقل فعالیتونه د تخنیک او د صنعتي کارپوهانو په تعلیم پورې د اړونده اطلاعاتو راټولول او لېږل دي.
ددې ترڅنګ یونیډو سازمان د یوه همغږي کوونکي مرکز په توګه د ملګرو ملتونو له نورو فرعي ارګانونو لکه د سوداګرۍ او پراختیا سازمان او سیمه ییز اقتصادي کمېسیونونو سره نږدې همکاري لري.
د ملګرو ملتونو د صنعتي پراختیا سازمان یا یونیډو جوړښت:
۱- عمومي کنفرانس: عمومي کنفرانس له ټولو غړو څخه تشکیل شوی دی چې هر دوه کاله وروسته یو ځل غونډه کوي.
د سازمان د عمومي تګلارې ټاکل او د هوکړه لیکونو تصویب، د عمومي کنفرانس له واکونو څخه دي. د عمومي کنفرانس لومړۍ غونډه په **۱۹۸۵** کال کې په ویانا کې جوړه شوه.
**۲**-مدیره پلاوی: مدیره پلاوی له نږدې درې پنځوس غړو څخه جوړ شوی دی، چې د جغرافیوي وېش اصل ته په پام سره د عمومي کنفرانس له خوا د څلور کلونو لپاره ټاکل کېږي.
د مدیره پلاوي اصلي دندې، د عمومي کنفرانس د مصوبو او پرېکړو د پلي کولو پر څرنګوالي څارنه ده.
**۳**-د پالیسۍ او بودیجې کمېټه: دغه کمېټه **۲۷** غړي لري چې د یونیډو عمومي کنفرانس له لوري د جغرافیوي وېش پر اساس د دوو کلونو لپاره ټاکل کېږي.
کمېټه همدغه راز د سازمان بودیجه او کاري پروګرامونه چمتو کوي او مدیره پلاوي ته یې سپاري او مدیره پلاوی له څېړنې او ارزونې وروسته د تصویب په موخه یې عمومي کنفرانس ته وړاندې کوي. دغه کمېټه په کال کې دوه ځلې غونډې دایروي.
د یادونې ده چې په ۱۹۹۰ کال کې د یونیډو سازمان کلنۍ عادي بودیجه **۱۵۷** میلیونه ډالره وه.
**۴**- سکرتریت: سکرتریت یو منشي، نایب منشي، مدیران او نور اداري کارکوونکي لري.
منشي د عمومي کنفرانس له خوا د څلور کلونو لپاره ټاکل کېږي او کولی شي چې د دویم ځل لپاره بیا وټاکل شي.
په نوي اقتصادي نظام کې د یونیډو د رول په اړه باید یادونه وکړو، چې دغه سازمان د مخ پر ودې هېوادونو په صنعتي کولو کې ځانګړی رول لوبوي.
همدغه راز مخ پر ودې هېوادونه هم په پام کې لري، چې د یونیډو سازمان له عمومي کنفرانس څخه د نوي نړیوال اقتصادي نظام په چوکاټ کې د صنعتي کولو د یوه چټک بهیر په توګه ترې استفاده وکړي.

د يونيډو په دويم کنفرانس چې په **۱۹۷۵** ميلادي کال کې په ليما کې ترسره شو، د يوه پرېکړه ليک په ترڅ کې وټېيل شوه چې د نړۍ په صنعتي توليداتو کې د مخ پر ودې هېوادونو ونډه د کال **۲۵** سلنې ته لوړه شي.
ددې ترڅنګ، د بهرنيو شرکتونو د مصادرې حق او د لومړنيو موادو د کارتلونو پياوړتيا غوښتنه هم وشوه. دغه راز پرېکړه وشوه چې د يونيډو په چوکاټ کې بايد د مخ پر ودې او صنعتي هېوادونو ترمنځ بايد يو مشورتي سيستم رامنځته شي.
د ليما اعلاميه يا پرېکړه ليک، که څه هم له اجرايوي ضمانت څخه برخمنه نه وه، خو د مخ پر ودې او صنعتي هېوادونو ترمنځ د اړيکو په پياوړتيا او ټينګښت کې اغېزمن رول ولوباوه.
په ۱۹۸۰ زېږديز کال کې د يونيډو په درېيم کنفرانس کې چې په نوي ډيلي کې جوړ شوی و، صنعتي هېوادونو د مخ پر ودې هېوادونو غوښتنې رد کړې.
د مخ پر ودې هېوادونو هغه وړانديز چې غوښتل يې د صنعتي ودې او پراختيا په موخه د پيسو يو صندوق تأسيس کړي، د صنعتي هېوادونو له خوا ونه منل شو.
صنعتي هېوادونو استدلال کاوه، چې مخ پر ودې هېوادونه د خپل صنعتي ودې او پراختيا لپاره بايد ترجيحي ګمرکي سيستم پياوړی کړي او همدارنګه يونيډو سازمان بايد د يوه همغږي صنعتي مرکز په توګه سمبال کړي.

### ۱۰- د هوا پېژندنې نړيوال سازمان – W.M.O

د هوا پېژندنې نړيوال سازمان (world meterological organization) د پخوانيو سازمانونو له جملې څخه دی، چې په ۱۸۷۸ کال کې د يو څو محدودو غړو له خوا تأسيس شوی و، خو په ۱۹۳۹ کال کې د يوه نړيوال سازمان په توګه ومنل شو.
دغه سازمان تر ډېرې مودې د خپلو فعاليتونو او تشکيلاتو د پراختيا هڅه کوله، تر دې چې په ۱۹۴۷ کال کې د خپل دولسم کنفرانس په ترڅ کې چې په واشنګټن کې جوړ شوی و، د هوا پېژندنې نړيوال سازمان اساسنامه يې تصويب کړه او د ۱۹۵۰ کال د مارچ په ۳۲ مه د اجرا وړ وګرځېده.
د هوا پېژندنې سازمان مهم اهداف، د هواپېژندنې د خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې د نړيوالې همکارۍ اسانتيا برابرول، د هوا پېژندنې اټکل، اوبه پېژندنه، د هواپېژندنې چټک اطلاعات، د هوا پېژندنې معياري کول، د هوابازۍ په برخه کې د هواپېژندنې د چارو پياوړتيا او بېړۍ چلونه.

**د هوا پېژندنې د سازمان جوړښت:**

۱- د هوا پېژندنه نړیواله کنګره: کنګره د غړو هېوادونو له استازو څخه جوړه شوې ده، چې د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې تر حکم لاندې فعالیت کوي.

کنګره په هرو څلورو کلونو کې یو ځل غونډه کوي چې د سازمان عمومي پالیسي او کړنلاره په کې ټاکل کېږي.

د سازمان د منشي، مرستیالانو او د اجرایوي شورا د غړو ټاکل د کنګرې له مسؤلیتونو څخه دي.

۲- اجرایوي شورا: اجرایوي شورا د سازمان اجرایوي ارګان ګڼل کېږي.

منشي، لومړی او دویم نایب منشي، د هواپېژندنې د سیمه ییزو ټولنو مشران او د غړیو هېوادونو شپږویشت سازمانونه د اجرایوي شورا غړي دي.

۳- د هواپېژندنې سیمه ییزې ټولنې: د هواپېژندنې سازمان د هوا پېژندنې شپږ ټولنې لري چې د کنګرې له خوا په اروپا، افریقا، اسیا، لاتیني امریکا، شمالي او مرکزي امریکا او د سمندرګي په جنوب ختیځ سیمو کې جوړ شوي دي.

یادې ټولنې د هوا پېژندنې په برخه کې د فعالیتونو همغږي کولو او د اطلاعاتو د تبادلې په موخه رامنځته شوې دي.

۴- فني کمېسیون: WMO همدغه راز ۸ فني کمېسیونونه لري. دا کمېسیونونه د هوا پېژندنې په برخه کې مطالعات کوي او اجرایوي شورا او کنګرې ته لازمې سپارښتنې وړاندې کوي. فني کمېسیونونه په دې ډول دي:

د هوا پېژندنې کمېسیون

د هوانوردۍ کمېسیون

د کرنې کمېسیون

د سمندري چارو کمېسیون

د اوبو پېژندنې کمېسیون

د اقلیم پېژندنې کمېسیون

د جوي علومو کمېسیون

۵- سکرتریت: د سکرتریت په رأس کې منشي قرار لري. منشي د کنګرې او اجرایوي شورا د غونډو مشري پر غاړه لري. سکرتریت په مجموع کې د هواپېژندنې په نړیوال سازمان پورې اړونده د ټولو سازمانونو ترمنځ د همغږۍ د یوه مرکز په توګه ګڼل کېږي.

## ۱۱ - د بېړۍ چلونې نړیوال سازمان – I.M.O

په نولسمه پېړۍ کې د نړیوالې سوداګرۍ پراختیا ته په پام سره، له سمندري ټرانزیټ څخه د استفادې اړتیا ولیدل شوه.

که څه هم د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې د سمندري نښو او امنیت په برخه کې ځینې اقدامات ترسره شول، خو د سمندري حقونو په برخه کې منل شوي اصول او قواعد و نه ټاکل شول.

د ملګرو ملتونو سازمان تأسیس او د سمندري تجارت پراختیا ته په کتو سره د بېړۍ چلونې او سمندري ټرانزیټ په برخه کې د مقرراتو او قواعدو د تدوین په موخه هڅې دوه برابره شوې.

په همدې تړاو، د ۱۹۴۸ کال د مارچ په شپږمه د ملګرو ملتونو له خوا په جینیوا ښار کې د سمندري چارو کنفرانس په لاره واچول شو، په ترڅ کې یې د بېړۍ چلونې نړیوال مشورتي سازمان (IMCO) اساسنامه تصویب شوه.

د سازمان د تأسیس سند د ۱۹۵۸ کال په مارچ میاشت کې د ۲۱ هېوادونو له خوا تصویب شو او دغه سازمان په ۱۹۵۹ کال د جنورۍ په میاشت کې په رسمي ډول په فعالیت پیل کړ.

د ۱۹۷۵ کال په نومبر کې د یاد سازمان اسامبلې د یوه پرېکړه لیک په ترڅ کې د (بېړۍ چلونې نړیوال مشورتي سازمان) نوم په (د بېړۍ چلونې نړیوال سازمان) بدل کړ.

د بېړۍ چلونې نړیوال سازمان (I.M.O) اساسي موخې د بېړۍ چلونې په برخه کې د هېوادونو ترمنځ د همکاریو پراختیا، د اغېزمنو مقرراتو ټاکل، د ستونزو او محدودیتونو لرې کول او د غړو هېوادونو ترمنځ د اطلاعاتو د تبادلې په موخه د اسانتیاوو برابرول دي.

د بېړۍ چلونې نړیوال سازمان جوړښت:

۱- اسامبله: اسامبله له غړو هېوادونو، د ملګرو ملتونو له تخصصي اژانسونو او همدارنګه د هغو سازمانونو له استازو، چې له IMO سره یې هوکړه لیکونه لاسلیک کړي، جوړه شوې ده.

د اسامبلې په غونډه کې یوازې اصلي غړي د رایې ورکونې حق لري او نور غړي یوازې په غونډو کې د ګډون حق لري.

اسامبله دوه ډوله غونډې لري: عادي او فوق العاده.

عادي غونډې په کال کې یو ځل دایرېږي. خو فوق العاده غونډې د درې ثلثه غړو په غوښتنه د اړتیا پرمهال جوړېږي.

اسامبله د IMO د یوه عالي ارګان په توګه د قوانینو تصویب، مالي چارې او د اداري تګلارې د ټاکلو واکونه لري.

اسامبله همدغه راز د شورا د ګزارشونو څېړل، د بودیجې تصویب، د مالي چارو تنظیم، د اساسي پروګرامونو پلي کول او د فرعي کمېټو د جوړولو مسؤلیت هم پر غاړه لري.

۲- شورا: شورا د سازمان اداري او اجرايوي ارګان دی چې د سازمان رواڼې چارې پرمخ بيايي. د شورا غړي د اسامبلې له لوري د دوو کلونو په مخه ټاکل کېږي. همدغه راز د شورا مشري د سازمان د مشر پر غاړه ده.

په حاضر وخت کې د اسامبلې د ۱۹۷۹ کال د پرېکړه ليک له مخې، شورا له ۳۲ غړو څخه جوړه شوې ده. دا غړي په درې ډلو وېشل شوي دي:

الف ډله: هغه هېوادونه دي چې د سمندري ټرانزيټ او تجارت په برخه کې تر ټولو زيات امکانات او ظرفيتونه لري. (۸ غړي)

ب- ډله: هغه هېوادونه دي، چې زيات واردات او صادرات لري. (۸ غړي)

ج – ډله: هغه ډله هېوادونه دي، چې د ازادو اوبو ته لاس رسی لري او د سمندري ټرانزيټ له درکه ډېره ګټه لاسته راوړي. (۱۲ غړي)

مختلفې کمېټې: ای ام او سازمان بېلابېلې کمېټې لري، چې په دې ډول دي:

د سمندري چارو د حفاظت کمېټه، د حقوقي چارو کمېټه، د سمندري چاپېريال ساتنې کمېټه او د تخنيکي همکاريو او اسانچارۍ کمېټه.

۳- سکرتريت: د بېړۍ چلونې د نړيوال سازمان د سکرتريت په رأس کې يو منشي قرار لري چې د اداري او اجرايوي چارو مسؤليت پر غاړه لري.

## ۱۲- د مخابراتو نړيواله ټولنه - I.T.U

د ارتباطي وسايلو پرمختګ ته په پام سره، د نولسمې پېړۍ په نيمايي کې د سيم لرونکي مخابراتو ځای بې سيم مخابراتو ونيو.

دا چې له دې ارتباطي وسيلې څخه استفاده، په نړيواله کچه د يوشمېر هېوادونو موافقې ته اړتيا لرله، نو په همدې اساس د ځينو هېوادونو ترمنځ څو اړخيز تړونونه لاسليک شول.

په ۱۸۵۰ کال کې د اتريش تلګرافي ټولنه منځته راغله، چې ګڼ شمېر هېوادونو ورسره غړيتوب واخيست.

لږه موده وروسته د لوېديځې اروپا يو شمېر هېوادونو، لکه: هسپانيا، بلجيم، پرتګال، سويس او فرانسې هم په ورته اقدام لاس پورې کړ او د (باختري اروپايي ټولنه) يې رامنځته کړه.

د سيمه ييزو ټولنو په جوړېدا سره، د نړيوالو ټولنو د جوړېدا اړتيا وليدل شوه.

په همدې تړاو د ۱۸۶۵ کال په مې مياشت کې د ۲۰ هېوادونو په ګډون په پاريس کې د تلګراف لومړنۍ نړيواله ټولنه تأسيس شوه.

دغې ټولنې د تلګراف نړيوال کنوانسيون هم تصويب کړ.

همدغه راز د ۱۹۰۶ کال په نومبر کې د ۲۷ هېوادونو په ګډون د راډیو تلګراف لومړنی کنفرانس په برلین کې په لاره واچول شو، چې په ترڅ کې یې د راډیو تلګراف نړیوال کنوانسیون تصویب شو. د نوموړي کنوانسیون پراساس، د سمندري بېړیو ترمنځ اړیکې او ارتباطات جبري وګرځول شوې.

له یادو دوو کنوانسیونونو نه وروسته یو بل کنوانسیون هم تصویب شو، چې د تلګراف نړیوال کنوانسیون او د راډیو تلګراف دواړه پخواني کنوانسیونونه په کې مدغم شول او د ۱۹۳۲ کال په ډسمبر کې د (مخابراتو نړیوال کنوانسیون) په نوم نوی کنوانسیون په تصویب ورسېد.

دا کنوانسیون د ۱۹۳۴ کال په جنوری کې د اجرا وړ وګرځېد.

د یاد کنوانسیون له مخې، د «مخابراتو نړیوالې ټولنې» د «تلګراف نړیوالې ټولنې» ځای ونیوه.

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په ۱۹۴۷ کال کې د اتلانتیک سیټي کنفرانس په مخابراتي مقرراتو کې د پام وړ بدلون راوست او دهغه ترون له مخې چې د مخابراتو نړیوالې ټولنې له ملګرو ملتونو سره لاسلیک کړی و، د مخابراتو ټولنه د ملګرو ملتونو د یوه تخصصي سازمان په توګه ومنل شوه.

دغه ترون د ۱۹۴۹ کال په جنوری کې د اجرا وړ وګرځېد او د ۱۹۵۳ کال تر ډسمبر پورې نافذ پاتې شو. خو په ۱۹۵۲ کې د بوینس ایرس (ارجنټاین) په کنفرانس کې د مخابراتو د نړیوالې ټولنې په اساسنامه کې ځیني اصلاحات رامنځته شول، چې بالاخره په ۱۹۵۴ کال کې د اجرا وړ وګرځېده.

د یادونې ده، چې د مخابرتو نړیوالې ټولنې په کنوانسیون کې څو ځلې بدلونونه راغلي، چې په دې ډول دي: د جینیوا کنفرانس ۱۹۵۹، د مونټرو کنفرانس- ۱۹۶۵ او د مالاګا ټورمو لینوس کنفرانس – ۱۹۷۳.

د مخابراتو نړیواله دوه ډوله؛ عادي او اړونده غړي لري. نا غړي هېوادونه د اړونده غړو په نوم یادېږي.

د عادي او اړونده غړو حقوق او مسؤلیتونه سره ورته دي. خو اړونده غړي په ټولنه کې د رایې ورکونې حق نه لري.

د ټولنې دندې عبارت دي له: د راډیویي فریکونسۍ ټاکل، د ټېلفوني مکالمو په بیو کې کموالی، په ټولو هېوادونو کې د مخابراتي خدمتونو د پراختیا هڅې او د مخابراتو په برخه کې مطالعه او تحقیق.

د مخابراتو نړیوالې ټولنې جوړښت:

۱- د تام الاختیاره استازو کنفرانس: دغه کنفرانس د ټولنې تر ټولو عالي ارګان دی، چې په کنفرانس کې د خپلو هېوادونو با صلاحیته استازي دي او دغه استازي هر پنځه کاله وروسته یو ځل غونډه کوي.

د اداري شورا د غړو ټاکل، د شورا د ګزارشونو څېړل، د کارکوونکو د معاشونو ټاکل، له نورو سازمانونو سره پر هوکړه لیکونو بیاکتنه او څېړنه او د اساسنامې اصلاح، د یاد کنفرانس له واکونو څخه دي.

۲- اداري کنفرانسونه: دا کنفرانس معمولاً د تام الاختیاره استازو د کنفرانس پرمهال دایرېږي.
پر مخابراتي مقرراتو څارنه او همدغه راز د فریکونسۍ نړیوالې کمېټې د غړو ټاکنه، ددې کنفرانس له مهمو دندو څخه دي.
د دې ترڅنګ، له اړتیا سره سم فوق العاده اداري کنفرانسونه هم دایرېدای شي.

۳- اداري شورا: دا ارګان په ۱۹۴۷ کال کې تأسیس شو. اداري شورا ۴۳ غړي چې د جغرافیوي وېش اصل ته په پام سره، د تام الاختیاره استازو کنفرانس له لوري د نړۍ له ټولو هېوادونو څخه په عادلانه ډول ټاکل کېږي.
همدغه راز اداري شورا په کال کې یو ځل غونډه کوي.
د شورا مهمې دندې په دې ډول دي: د ټولنې د فعالیتونو همغږي کول، د منشي او مرستیالانو ټاکل، د مقرراتو ټاکل، د کلنۍ بودیجې بررسي او تصویب، د معاشونو ټاکل، د کارکوونکو تقاعد او امتیازات او غونډې رابللو ته د کنفرانسونو جوړول.

۴- دایمي ارګان: د مخابراتو نړیواله ټولنه بېلابېل دایمي ارګانونه لري چې په دې ډول دي: سکرتریت، د فریکونسۍ د ثبت نړیوال پلاوی، د راډیو نړیواله مشورتي کمېټه، د ټلیفون او تلګراف نړیواله مشورتي کمېټه او د مخابراتو د پراختیا دفتر.

### ۱۳- د پوسټ نړیواله ټولنه – U.P.U

د پوستي تبادلاتو تاریخ اوومې میلادي پېړۍ ته رسېږي، خو هغه مهال دغه تبادلات لا د یوه منظم پوستي سازمان په چوکاټ کې نه و راغلي.
خو په نولسمه پېړۍ کې د ارتباطي وسایلو پراختیا او رامنځته کېدا ته په پام سره، منظم پوستي خدمات پیل شول او په دې برخه کې د یو شمېر هېوادونو ترمنځ تړونونه هم لاسلیک شول.
په ۱۸۴۰ کال کې په لومړي ځل انګلیستان له پوستي خدمتونو څخه استفاده وکړه، ورپسې فرانسې هم په ۱۸۴۸ کال کې دغې چارې ته مخه کړه.
په ۱۸۶۸ کال کې د UPU منشي په وړاندیز، امریکا د شپاړسو هېوادونو په ګډون په پاریس کې د پوست لومړنی نړیوال کنفرانس پر لاره واچوه.
نوموړی کنفرانس په دې بریالی شو، چې د خلکو ترمنځ د اړیکې ټینګولو په موخه د پوست په برخه کې ځیني اصول رامنځته کړي.
دا اصول د پوست په برخه کې د نورو راتلونکو هوکړه لیکونو بنسټ وګرځېد.

د یادونې ده، چې یادو اصولو کومه الزامي بڼه نه لرله، بلکې ددغو اصولو ټاکل د اړیکو د تنظیم په برخه کې د ځینو اساسي ستونزو هوارول وو.

د پوست لومړنۍ کنګره په ۱۸۷۴ کال کې تشکیل شوه او دغه کنګره چې د سویس هېواد په بلنه او د شمالي المان کنفدراسیون د پوستي خدمتونو د مشر (فرېش فن ستېفن) له خوا جوړه شوې وه، (د پوست عمومي ټولنې) د جوړېدا سبب شوه.

د پوست عمومي ټولنې، ددویمې پوستي کنګرې د جوړېدا په ترڅ کې، چې په ۱۸۷۸ کال کې په پاریس کې جوړه شوه، د پوست نړیوالې ټولنې ته ارتقا وکړه.

خو د ملګرو ملتونو سازمان له جوړېدا وروسته په ۱۹۴۸ کال کې د پوست نړیوالې ټولنې او ملګرو ملتونو ترمنځ یو هوکړه لیک لاسلیک شو، چې له مخې یې دغه ټولنه په رسمي ډول د ملګرو ملتونو د تخصصي سازمان په توګه ومنل شوه.

د پوست نړیوالې ټولنې څانګې: د پوست نړیواله کنګره، اجرایوي شورا، د پوستي مطالعاتو مشورتي شورا او نړیوال دفتر.

۱- د پوست نړیواله کنګره: کنګره د سازمان د مهمې څانګې په توګه، دوه ډوله غونډې لري: عادي او ځانګړې غونډې.

عادي غونډې هر پنځه کاله وروسته دایرېږي. خو د اړتیا پرمهال او د اکثریت غړو د غوښتنې پر اساس ځانګړې (فوق العاده) غونډې هم جوړېږي.

۲- اجرایوي شورا: اجرایوي شورا په کال کې یو ځل غونډه کوي.

د ټولنې پر فعالیتونو څارنه، د پوستي خدمتونو د کیفیت لپاره اغېزمن اقدامات، د کلنۍ بودیجې بررسي او تصویب، د کارکونکو ټاکل او ترفیع ورکول، د ټولنې د کلني فعالیتونو د ګزارش څېړل او تائید او همدغه راز د پستي مطالعاتو مشورتي شورا د کلني راپور څېړل، د اجرایوي شورا له مهمو دندو څخه دي.

۳- د پوستي مطالعاتو مشورتي شورا: دغه شورا له ۱۹۵۷ کال راهیسې فعالیت کوي او ۳۵ غړي لري چې په کال کې یو ځل غونډه جوړوي.

ددې شورا اصلي دنده، د تخنیکي او اقتصادي مسایلو په اړه مطالعه او څېړنه ده.

۴- نړیوال دفتر: دا دفتر د پوست نړیوالې ټولنې د سکرتریت په چوکاټ کې فعالیت کوي او د نړیوالو پوستي خدمتونو په برخه کې د اطلاعاتو همغږي کولو مسؤلیت پر غاړه لري.

## ۱۴- د معنوي مالکیت نړیوال سازمان - WIPO

د نولسمې پېړۍ په نیمایي کې له معنوي مالکیت څخه د ملاتړ په موخه دوه مهم کنوانسیونونه تصویب شول.

په ۱۸۸۳ کال کې د پاریس کنوانسیون تصویب شو، چې له مخې یې (له معنوي ملکیت څخه د ملاتړ نړیواله ټولنه) جوړه شوه.
وروسته په ۱۸۸۶ کال کې له ادبي او هنري اثارو څخه د ملاتړ کنوانسیون تصویب شو، چې یاد کنوانسیون، له ادبي او هنري اثارو څخه د ملاتړ نړیوالې ټولنې د جوړېدا سبب شو. یاد شوي دوه سازمانونه د (پاریس ټولنه) او د (برن ټولنه) په نومونو یادېږي.
نوموړي کنوانسیونونو د معنوي ملکیت په برخه کې یو نړیوال چوکاټ رامنځته کړ، خو وروسته دغه دوه کړۍ په یو او بل کې مدغمې شوې، چې په بېلابېلو نومونو یې فعالیت کاوه او وروستۍ هغه یې د «له معنوي ملکیت څخه د ملاتړ نړیواله متحده دایره» وه.
خو د معنوي مالکیت نړیوال سازمان (world intellectual property organization) د ستاکلم کنوانسیون له مخې د ۱۹۲۷په جولای کې تأسیس شو او د ۱۹۷۰ کال په اپرېل کې د اجرا وړ وګرځېد.
له معنوی ملکیت څخه د ملاتړ نړیواله متحده دایره اوس هم د پاریس او د برن ټولنو د غړو له خوا په قانوني ډول خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي.
د معنوي ملکیت نړیوال سازمان (WIPO) د ۱۹۷۴ کال د ډسمبر په اولسمه د ملګرو ملتونو د څوارلسم تخصصي سازمان په توګه ومنل شو.
د ویپو دندې:
له معنوي مالکیت څخه د ملاتړ په برخه کې اغېزمن اقدامات، د پاریس او برن د ټولنو د اداري دندو پرمخ بیول، د معنوي مالکیت په برخه کې د هوکړه لیکونو لاسلیکول او د معنوي مالکیت په اړه د معلوماتو خپرول او راټولول.
د معنوي مالکیت د سازمان جوړښت:
۱- عمومي اسامبله: عمومي اسامبله د غړو هېوادونو، د پاریس او برن ټولنو له استازو څخه جوړه شوې ده. عمومي اسامبله دوه ډوله، عادي او فوق العاده غونډې ترسره کوي.
عادي غونډې په کال کې یو ځل ترسره کېږي، خو ځانګړې یا فوق العاده غونډې د اړتیا پرمهال د غړو یو پر څلورمه برخه د غوښتنې او همدغه راز د همغږۍ کمېټې د غوښتنې پراساس دایرېږي.
د سازمان د عادي بودیجې تصویب، د عمومي منشي د راپورنو خپرل، د نویو غړو منل او د سازمان په غونډو کې د څارونکو غړو ګډون، د معنوي مالکیت نړیوال سازمان د عمومي اسامبلې له مهمو دندو څخه دي.
۲- کنفرانس: کنفرانس، د پاریس او برن ټولنې د غړو په ګډون، د ویپو له ټولو غړو څخه جوړ شوی دی.

د دوه کلنې بوديجې تصويب او له هېوادونو سره حقوقي مرستې، د کنفرانس له واکونو څخه دي.
د کنفرانس غونډې د عمومي اسامبلې له غونډې سره په ورته وخت کې د جينيوا په ښار کې دايرېږي.
۳- د همغږۍ کمېټه: د همغږۍ کمېټې غړي د ويپو سازمان له غړو څخه دي، چې په عين وخت کې د پاريس ټولنې اجرايوي کمېټې غړيتوب هم لري.
کمېټه ۴۷ غړي لري چې د عمومي اسامبلې له خوا د دوو کلونو لپاره ټاکل کېږي.
مشورتي کمېټه د مالي او اداري چارو په اړه د سازمان ټولو ارګانونو ته مشوره ورکوي.
۴- نړيوال دفتر: دا دفتر چې په اصل کې د سازمان سکرتريت ګڼل کېږي، له معنوي ملکيت څخه د ملاتړ نړيوالې متحده ادارې ځای يې ونيو.
عمومي مدير د يوې شپږ کلنې دورې په مخه ټاکل کېږي.

## ۱۵- د سوداګرۍ نړيوال سازمان – W.T.O

د اتلانتيک تړون چې په ۱۹۴۱ کال کې د روزولټ او چرچيل ترمنځ لاسليک شو، يوه موخه يې د سوداګرۍ نړيوال عادلانه سيستم رامنځته کول وو.
د سوداګرۍ سيستم په اړه د انګليستان، امريکا او کاناډا ترمنځ خبرو چې د دويمې نړيوالې جګړې پرمهال پيل شوې وې، له جګړې وروسته يې هم دوام وکړ.
بالاخره امريکا د ۱۹۴۵ کال په ډسمبر کې د نړيوال اقتصادي نظام په اړه (د نړيوالې سوداګرۍ پراختيا ) يوه طرحه وړاندې کړه.
د ملګرو ملتونو اقتصادي او ټولنيزې شورا هم په ۱۹۴۶ کال کې د اقتصادي مسايلو د څېړنې او مطالعې په اړه يو کنفرانس په لاره واچوه.
بالاخره په ۱۹۴۷ کال کې په يو وخت کې د جينيوا په ښار کې دوه بېلابېل کنفرانسونه پيل شول. له يادو کنفرانسونو څخه په يوه کې چې د همدې کال د اپرېل له لسمې څخه د اګست تر دوه ويشتمې نېټې پورې داير شوی و، د نړيوالې سوداګرۍ سازمان د جوړېدا طرحه په کې چمتو شوه.
دويم کنفرانس چې د اپرېل له لسمې څخه د اکتوبر تر دېرشمې يې دوام وکړ، د ګمرکي معافيت او مزاياوو په اړه په کې خبرې وشوې.
د لومړي کنفرانس موخه د سوداګرۍ نړيوال سازمان جوړېدل و، خو د يو شمېر مخ پر ودې هېوادونو د مخالفت له امله له ناکامۍ سره مخ شو.
د دغه مخالفت اصلي لامل دا و، چې سترو صنعتي هېوادونو د نوموړي سازمان په چوکاټ کې غوښتل څو په نړيوال تجارت کې له پراخو ازاديو څخه برخمن شي.

خو وروسته دویم کنفرانس چې د بحث موضوع یې ګمرکي مسایل و، په بریالیتوب سره پای ته ورسېد او په یاد کنفرانس کې پرېکړه وشوه، ترڅو چې د سوداګرۍ نړیوال سازمان جوړ شوی نه وي، د هېوادونو ترمنځ باید د ګمرکي مسایلو په اړه څو اړخیزه هوکړه لیکونه لاسلیک شي.

په همدې اساس، د ۱۹۴۷ کال د اکتوبر په دېرشمه د شاوخوا ۲۳ هېوادونو ترمنځ د تعرفې او تجارت عمومي هوکړه لیک(general agreement on tariff and trade) لاسلیک شو.

دغه هوکړه لیک چې د ۱۹۴۸ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د اجرا وړ وګرځېد، د تجارت نړیوال قانون په توګه ومنل شو چې ۳۷ مادې، یو شمېر سریزې او ۷ ضمیمې لري.

د هوکړه لیک مهم موضوعات په دې توګه دي:

۱- پرته له تبعیض څخه یوه نړیوال تجارتي نظام ته لاسرسی

۲- د غړو هېوادونو د وګړو د ژوند د سطحې لوړول

۳- د نړیوال تجارت د پراختیا له لارې د کاري ظرفیتونو او امکاناتو رامنځته کول

۴- د واقعي عوایدو او اغېزمنې تقاضا د سطحو لوړول

۵- له نړیوالو سرچینو څخه ګټه اخیستنه

۶- د تولیداتو په کچه کې ډېروالی او د اجناسو نړیوال تجارت

۷- د نړیوال تجارت د پراختیا په برخه کې د ستونزو او خنډونو لرې کول

پورتنیو موخو ته د رسېدو په منظور (GATT) لاندې اصول باید په پام کې ونیسي:

۱- د کاملة الوداد **(most favord nation clause)** او د نه تبعیض اصل:

ددې اصل له مخې که چېرې یو هېواد د سازمان یوه غړي ته څه خاص تجارتي امتیاز او یا د تعرفې په برخه کې تنزیل ومني، نو دا امتیاز باید عام شموله وي یعنې د سازمان ټولو غړو ته باید ومنل شي.

باید یادونه وکړو، چې دغه اصل یوه استثناء هم لري، چې هغه د غړو ترمنځ د اقتصادي اتحادیو جوړښت دی.

د سوداګرۍ نړیوال سازمان یو شمېر غړي ښایي له اروپایي ټولنې یا نفتا سره هم غړیتوب ولري. په دې صورت کې همدغه غړي کولی شي چې په خپل منځ کې یو بل ته ځانګړې تعرفې او تجارتي امتیازات ومني.

ځکه چې د سوداګرۍ نړیوال سازمان نورې ټولنې او سازمانونه په رسمیت پېژني او له هغوی سره د اړیکو او راکړې ورکړې په برخه کې محدودیتونه نه لري.

۲- د مکررو خبراترو له لارې د ګمرکي تعرفو کمول او پلي کول

۳- د مقداري محدودیتونو مخنیوی

۴- د صادراتي مقرراتو او قواعدو تنظیمول

د (GATT) تړون له پلي کېدا څخه تر اوسه (۱۹۴۸) د نړيوال تجارت په برخه کې ګڼ شمېر مذاکرات ترسره شوي دي.
د ورستي ځل مذاکرات چې (the uruguay ground) په نوم یادېږي، په ۱۹۸۲ کې پیل شول او له اووه کاله پرله پسې خبرو اترو وروسته د نړیوالې سوداګرۍ په اړه په کې مهمه پرېکړه وشوه.
دا پرېکړه هماغه د تجارت نړیوال سازمان جوړول و، چې د تعرفې او تجارت عمومي هوکړه لیک (GATT) ځای یې ونیوه.
د تجارت نړیوال سازمان جوړښت:
۱- د وزیرانو کنفرانس: د وزیرانو کنفرانس د تجارت نړیوال سازمان تر ټولو عالي ارګان دی، چې د غړو هېوادونو د سوداګرۍ وزیرانو څخه جوړېږي.
د وزیرانو کنفرانس په هرو دوو کلونو کې یو وار غونډه جوړوي.
د نوموړي کنفرانس لومړنۍ غونډه په ۱۹۹۲ کال په سینګاپور هېواد کې جوړه شوه.
د سازمان منشي او د هغه د صلاحیتونو ټاکل، د کنفرانس له واکونو څخه دي.
۱- عمومي شورا:عمومي شورا د وزیرانو له کنفرانس وروسته دویم لوی ارګان دی او د غړیو هېوادونو له استازو څخه جوړه شوې ده.
د ورځنیو مسایلو او د سازمان د کړنو او چلند په اړه سلا- مشوره د عمومي شورا له واکونو څخه دي.
عمومي شورا همدغه راز د اختلافونو د حل ارګان او د تجارتي کړنلارې د ارزونې مسؤلیتونه هم پرغاړه لري او ددغو مسؤلیتونو د ترسره کولو په موخه غونډې جوړوي.
عمومي شورا د سوداګرۍ نړیوال سازمان او نورو نړیوالو سازمانونو ترمنځ د اړیکو ټینګولو او همکارۍ مسؤلیت هم پرغاړه لري او همدغه راز د سازمان دکلنۍ بودیجې د تصویبولو او د غړیتوب ونډې پورې داړونده چارو د تنظیم مسؤلیت لري.
**۳.** د شخړو د حل ځانګه: دغه ځانګه د غړو هېوادونو ترمنځ د اختلافاتو د هوارې اولازمې مشورې لپاره ځانګړې پلاوی ګوماري. ټول غړي هېوادونه مکلف دي ترڅو د دغه ارګان پریکړوته درناوی وکړي اوویې مني.
**۴.**د تجارتي کړنلارو او شوراګانو د ارزونې ځانګه: ددې ارګان دندې په دې ډول دي:
دتګلارو ارزونه، د تجارتي میکانیزم دطرزالعمل ارزونه اونورې اړوندې چارې.
**۵.**تخصصي شورا: د تجارت نړیوال سازمان بېلابېلې شوراګانې لري لکه: د تجارتي توکو شورا، د خدماتوشورا، دمعنوي مالکیت د حقوقو تجارتي شورا.

۶. تخصصي کمیټې: دوزیرانو کنفرانس کولی شي چې د اړتیا پرمهال ځانګړې کمیټې رامنځته کړي. لکه دتجارت اوپراختیا کمېټه، د تادیاتي بیلانس کمېټه، دبودیجې کمېټه، د مالي اوتشکیلاتي چارو کمېټه.
۷- سکرتریت: د سکرتریت په رأس کې یو منشي قرار لري چې د وزیرانو کنفرانس له خوا ټاکل کېږي.

## ۱۲- د اټومي انرژۍ نړیوال سازمان - I.A.E.A

د اټومي انرژۍ نړیوال سازمان د جوړېدا وړاندیز په لومړي ځل په **۱۹۵۳** کال کې د امریکا د وخت ولسمشر ایزنهاور له خوا عمومي اسامبلې ته وړاندې شو.
په همدې اساس عمومي اسامبلې په **۱۹۵۴** کال کې د (سوله ییز اټومي پروګرام) په نوم یو پرېکړه لیک تصویب کړ.
د اټومي انرژۍ سازمان د جوړېدا په لړ کې په **۱۹۵۶** کال کې د اتیا هېوادونو په ګډون یو کنفرانس جوړ شو، چې په ترڅ کې یې د سازمان اساسنامه تصویب شوه. د **۲۰۰۷** کال تر مارچ میاشتې پورې دغه سازمان **۱۴۴** غړي لرل.
په **۱۹۵۶** کال کې د اټومي انرژۍ او د ملګرو ملتونو سازمان ترمنځ د یوه هوکړه لیک له مخې نوموړی سازمان د یوه خپلواک بنسټ په توګه ومنل شو.
سازمان د خپلو فعالیتونو په اړه عمومي اسامبلې ته خپل کلنی راپور وړاندې کوي او دغه راز له نورو تخصصي سازمانونو سره نږدې اړیکې لري.
د اټومي انرژۍ نړیوال اژانس موخې:
۱- د سوله ییزې اټومي انرژۍ په برخه کې د علمي مطالعاتو او څېړنې له پراختیا سره مرسته او هڅونه.
۲- په سوله ییزو مقاصدو کې د اټومي انرژۍ د کارولو په موخه لازمې توصیې او د اسانتیاوو برابرول.
۳- له اټومي انرژۍ څخه د استفادې په برخه کې د نویو علمي او فني بدلونونو په اړه خبرول او معلومات.
د اټومي انرژۍ نړیوال سازمان درې څانګې لري: عمومي کنفرانس، د حکامو پلاوی او سکرتریت.
د اټومي انرژۍ نړیوال اژانس جوړښت:
۱- عمومي کنفرانس: عمومي کنفرانس له غړو هېوادونو څخه جوړ شوی دی، چې په کال کې یو ځل خپله عادي غونډه دایروي.

عمومي کنفرانس همدغه راز د سازمان عالي ارګان او تصمیم نیوونکې مرجع ده.
د حاکم پلاوي یا د اکثریت غړو هېوادونو د غوښتنې پر اساس فوق العاده یا ځانګړې غونډې هم دایرېدای شي.
په کنفرانس کې پرېکړې د رایو په اکثریت ترسره کېږي، خو د مالي مسایلو، د اساسنامې تعدیل او له غړیتوب څخه د وتلو په اړه پرېکړه په دوه پر درې برخه رایو ترسره کېږي.
د کنفرانس اساسي دندې په دې توګه دي:
۱- د مالي او اداري مسایلو په اړه پرېکړې،
۲- د حاکم پلاوي ټاکل،
۳- د حاکم پلاوي د کلني راپور څېړنه،
۴- د حاکم پلاوي او منشي له خوا د وړاندې شوې بودیجې تصویبول،
۵- د اساسنامې اصلاح او تعدیل،
۶- د نوي غړیتوب منل،
۷- د څلور کلونو په مخه د سازمان د منشي ټاکل،
۸- د ملګرو ملتونو سازمان ته د اټومي انرژۍ د نړیوال اژانس د ګزارشونو چمتو کول او تائید.
۲- حاکم پلاوی: ۱۹۸۴ کال کې دغه پلاوي ۳۵ غړي لري چې پر دوو انتخابي او انتصابي ډلو وېشل شوي دي:
الف- انتصابي غړي: د اژانس د اساسنامې د ۲ مې مادې له مخې، له پرمختللو هېوادونو څخه هر کال باید ۱۳ غړي حاکم پلاوي ته ورو پېژندل شي.
ب- انتخابي غړي: عمومي کنفرانس له غړو هېوادونو څخه ۲۱ تنه حاکم پلاوي ته د غړیتوب په موخه د دوو کلونو لپاره ټاکي.
حاکم پلاوی خپل فعالیتونه د عمومي کنفرانس تر لارښوونې لاندې ترسره کوي.
پلاوی د اړتیا پرمهال غونډې دایروي او هر غړی د یوې رایې حق لري.
له مالي مسایلو پرته چې دوه ثلثه رایو ته اړتیا لري، د نورو مسایلو په اړه پرېکړې د رایو په ساده اکثریت ترسره کېږي.
۳- سکرتریت: د سکرتریت یا دارلانشاء مشري د منشي پر غاړه ده. عمومي منشي د حاکم پلاوي په وړاندیز او د عمومي کنفرانس په تائید د یوې څلور کلنې دورې لپاره ټاکل کېږي.

# درېيمه برخه

## سيمه ييز سازمانونه

# لومړی څپرکی

# سيمه ييز سازمانونه

سيمه ييز سازمانونه په لاندې درې ډلو وېشل شوي دي:
اروپايي سازمانونه
اسيايي او افريقايي سازمانونه
امريکايي سازمانونه

## لومړۍ برخه:

## اروپايي سازمانونه

د اروپا په لويه وچه او اتلانتيک حوزه کې ګڼ شمېر سازمانونه شته، چې د فعاليتونو له پلوه پر سياسي، اقتصادي او نظامي برخو وېشل شوي دي.
د اروپا مهم اقتصادي سازمانونه په دې ډول دي:
۱- د اروپا د اقتصادي همکاريو سازمان(O.E.C.E)
۲- د اقتصادي پراختيا د همکاريو سازمان
۳- د اروپايي ټولنې د ازادې راکړې ورکړې ټولنه
۴- د ډبرو سکرو او پولادو اروپايي ټولنه
۵- اروپايي ټولنه(تر دې مخکې د اروپا اقتصادي ټولنې په نوم يادېده)
۶- د اروپا مهم سياسي سازمان(اروپايي شورا)
همدغه راز د اروپا او اتلانتيک سياسي او نظامي سازمانونه، د لويديځې اروپا ټولنه، د شمالي اتلانيتک تړون(ناټو) او د وارسا سازمان څخه عبارت دي.
که څه هم په اروپا کې د شمېر له مخې ګڼ سازمانونه فعاليت کوي، خو موږ به دلته يوازې د يو څو مهمو سازمانونو پر پېژندنې اکتفا وکړو.

**۱- د اروپا لپاره د ملګرو ملتونو اقتصادي کمېسیون**

دا کمېسیون له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په ۱۹۴۲ کال کې د اروپا د بیارغونې په موخه د امریکا متحده ایالتونو په وړاندیز جوړ شو.
ددې کمېسیون د جوړېدا اساسي موخه، د هغو مؤسسو همغږې کول وو، چې د دویمې نړیوالې جګړې پرمهال او له جګړې وروسته د متفقو هېوادونو له خوا جوړې شوې وې.

**۲- د اروپا د اقتصادي همکاریو سازمان OECE**

د اروپا لپاره د ملګرو ملتونو د اقتصادي کمېسیون له جوړېدا وروسته په ۱۹۴۸ کال کې د ختیځې او لویدیځې اروپا هېوادونو په ګډون، چې یونان او ترکیه هم په کې شامل وو، د اروپا د اقتصادي همکاریو د سازمان بنسټ کېښودل شو.
دا سازمان په حقیقت کې د اروپا مارشال پلان پر اساس رامنځته شو.
مارشال په ۱۹۴۷ کال کې د هاروارډ په پوهنتون کې د خپلې وینا پرمهال څرګنده کړه، چې د امریکا متحده ایالات غواړي له اروپا سره مرسته او همکاري وکړي، خو په دې شرط چې اروپایي هېوادونه هم باید د خپلې اقتصادي ودې په موخه په ګډه پروګرامونه او طرحې جوړې کړي.
د یاد پلان د اجرا په موخه د ۱۹۴۸ کال په اپرېل کې د اروپا د اقتصادي همکاریو د سازمان د بنسټ ډبره کېښودل شوه.
د اروپا د اقتصادي همکاریو سازمان دنده، په غړو هېوادونو کې د مارشال پلان له مرستو ځارنه، د غړو هېوادونو اقتصادي وده او خپلمنځي همکاریو ته د هغوی هڅول وو.
انګلستان، جرمني، فرانسه، ایټالیا، هسپانیا، بلجیم، سویس، ډنمارک، ناروې، لوګزامبورګ، ایرلنډ، ایسلنډ، پرتګال، سویډن، هالنډ، یونان، اتریش او ترکیه د اروپا اقتصادي همکاریو د سازمان غړي دي.
سازمان یوه شورا لرله چې د غړو هېوادونو له استازو څخه جوړه شوې وه. همدغه راز یوه اجرایوي کمېټه یې لرله چې له اووه غړو او یوه منشي څخه جوړه شوې وه.
د اروپا د اقتصادي همکاریو سازمان چې د اروپایي هېوادونو ترمنځ د وحدت اساس ګڼل کېږي، په اقتصادي او سیاسي برخو کې د پام وړ کارونه ترسره کړي دي.
د اروپا اقتصادي همکاریو سازمان پر اقتصادي اړخ سربېره، په ۱۹۴۸ کال کې د بروکسل او په ۱۹۴۹ کال د اتلانتیک تړونونو د لاسلیک په پایله کې نظامي بڼه هم خپله کړه چې د امریکا او کاناډا په یو ځایوالي سره یې د فعالیتونو لمن له اروپا څخه بهر وغځېده.

د يادونې ده، چې د اروپا د اقتصادي همکاريو سازمان په قلمرو کې يو شمېر نور سازمانونه لکه د اروپا د راکړه ورکړې ټولنه، د توليد اروپايي اژانس او د اټومي انرژۍ اروپايي اژانس هم جوړ شوي دي. خو په ۱۹۶۱ کال کې د اروپا د اقتصادي همکاريو سازمان ځای د اقتصادي پراختيا او همکارۍ سازمان ونيو، چې لاندې به يې په تفصيل سره وڅېړو.

### ۳- د اقتصادي پراختيا او همکارۍ سازمان OCDE

دا سازمان په ۱۹۵۹ کال کې د امريکا، فرانسې، المان او برېټانيا له خوا د يوې ګډې اعلامیې پراساس رامنځته شو.

په ياده اعلاميه کې راغلي و، چې د لوېديځ ستر صنعتي هېوادونه بايد خپل ټول پام دوو مسلو ته واړوي: لومړی هغه هېوادونه چې له اقتصادي پلوه يې لږه وده کړې او دويمه مسئله د سوداګريزو اړيکو پراختيا وه.

دغه سازمان نه يوازې په نړۍ او سيمه کې د نويو سياستونو يو مهم عامل ګڼل کېږي، بلکې يو بشپړ اروپايي سازمان هم نه شو ورته ويلی. ځکه پر ۱۸ اصلي اروپايي غړو سربېره، په ۱۹۶۰ کال کې امريکا او کاناډا هم ددې سازمان غړي شول.

همدغه راز جاپان په ۱۹۶۴، فنلنډ په ۱۹۶۹، استراليا په ۱۹۷۱ او نوی زيلانډ په ۱۹۷۳ کال کې د اقتصادي پراختيا او همکارۍ سازمان غړيتوب خپل کړ. وروسته يوګوسلاويا هم غړيتوب واخيست.

د اقتصادي پراختيا او همکارۍ سازمان په چوکاټ کې دوه مهم بنسټونه جوړ شوي دي: د انرژۍ نړيوال اژانس او د مالي مرستو صندوق.

د انرژۍ نړيوال اژانس: دغه اژانس په حقيقت کې په ۱۹۷۴ کال کې د نفتو نړيوال بحران سره د مبارزې په موخه جوړ شو.

د اقتصادي پراختيا او همکارۍ سازمان يو شمېر هېوادونه د اژانس غړي دي. پر ټولو غړو هېوادونو غړيتوب منل اجباري نه دي.

د مالي مرستو صندوق: دا صندوق د سازمان د ټولو غړو په ګډون په ۱۹۷۵ کال کې تأسيس شو. ددې بنسټ اساسي موخه د غړو هېوادونو د پورونو ورکړه ده ترڅو د تادياتي بيلانس په برخه کې له ستونزو سره مخ نه شي.

**۴- د اروپا د ازادې راکړې ورکړې ټولنه**

د اروپا د اقتصادي همکاریو سازمان له خوا د مارشال پلان له تطبیق وروسته، ددغه سازمان د غړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پراختیا لپاره جدي هڅې پیل شوې، چې د سازمان یو شمېر غړو د (ازادې راکړې ورکړې ټولنې) د جوړېدا طرحه وړاندې کړه.
خو یو شمېر نورو بیا د دې ډول ټولنې له جوړېدو سره مخالف وو.
په همدې اساس، اووه اروپایي هېوادونو په ۱۹۵۹ کال کې د سویډن په سټاکهلم کې د یوې غونډې په ترځ کې د ازادې راکړې ورکړې ټولنې پر جوړېدا سلا وکړه.
د ټولنې غړو هېوادونو (انګلستان، اتریش، پرتګال، ډنمارک، سویډن، سویس او ناورې) د ۱۹۵۹ کال په نومبر کې د ټولنې بنسټلیک لاسلیک او د همدې کال په مې میاشت کې د اجرا وړ وګرځېد.
د یادونې ده، چې په ۱۹۷۳ کال کې انګلستان او ډنمارک د اروپایي ټولنې د غړیتوب له ترلاسه کولو وروسته له ټولنې ووتل. خو دوه نور هېوادونه، فنلنډ او ایسلنډ له ټولنې سره یو ځای شول.
د ازادې راکړې ورکړې حوزه، د ګمرکي سیمو یوه مجموعه ده.
په دې حوزه کې په نړیوال تجارت پورې اړوند محدودیتونه له منځه وړل شوي دي.
له ۱۹۶۷ کال راهیسې د ازادې راکړې ورکړې د غړو هېوادونو ترمنځ ګمرکي محدودیتونه له منځه تللي او په خپل منځ کې په ازاده توګه تجارت ترسره کوي.

**۵- د متقابلې اقتصادي همکاریو شورا COMECON**

شوروي اتحاد د (اقتصادي پراختیا او همکارۍ سازمان) په مقابل کې د لوېدیځې اروپا سوسیالیستي هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پراختیا په موخه په ۱۹۴۸ کال کې د متقابلې اقتصادي همکاریو شورا (کامکون) جوړه کړه. نوموړې شورا په پیل کې پرته له کوم رسمي هوکړه لیک څخه، د غړو هېوادونو ترمنځ د یوې ګډې اعلامیې پر اساس رامنځته شوه. خو په ۱۹۵۹ کال کې د شورا په دولسمه ناسته کې د سازمان بنسټلیک تصویب او په ۱۹۶۰ کال کې د اجرا وړ وګرځېد.
د کامکون لومړني غړي شوروي، بلغاریا، پولنډ، رومانیا، چکسلواکیا او د هنګري هېوادونه وو. البانیا په ۱۹۴۹ او ختیځ المان په ۱۹۵۰ کال کې ددې سازمان غړیتوب واخیست. خو البانیا په ۱۹۶۱ کال کې له سازمان څخه بېرته ووته. همدغه راز یوه موده وروسته منګولیا، ویتنام، کیوبا او یوګوسلاویا د متقابلې اقتصادي همکاریو شورا غړیتوب ترلاسه کړ.

په ۱۹۹۰ كال كې د متقابلې اقتصادي همكاريو شورا په پنځه ځلوېښتمه غونډه كې د سوسياليستي هېوادونو د اقتصادي سازمان پر بدلون خبرې وشوې او ټولو غړو هېوادونو پرېكړه وكړه چې د متقابلې اقتصادي همكاريو شورا پر موجوده جوړښت بايد له سره كتنه وشي.
په ۱۹۹۱ كال كې د كامكون اجرايوي كمېټې د غړو هېوادونو د مشرانو په ګډون په مسكو ښار كې غونډه وكړه او د (نړيوالو اقتصادي همكاريو سازمان) په نوم يې د يوه نوي سازمان بنسټليک لاسليک كړ او د متقابلې اقتصادي همكاريو شورا ځايناستى شو.
د مسكو په غونډه كې شوروي، بلغاريا، چكسلواكيا، رومانيا، كيوبا، پولنډ، هنګري، منګوليا او د ويتنام هېوادونو مشرانو برخه اخيستې وه.

## ۶- د اروپا شورا

د ۱۹۴۲ او ۱۹۴۷ كلونو ترمنځ په اروپا كې بېلابېل سياسي خوځښتونه رامنځته شول، چې په دې لړ كې د فدرالي اروپا ټولنه، د اروپايي ليګ ډله، د اروپايي متحده هېوادونو سوسياليستي غورځنګ او د اروپا د يووالي ليبراليست غورځنګ د يادولو وړ دي.
دغو سازمانونو په ۱۹۴۸ كال په لاهاى ښار كې كنګره جوړه كړه چې اوسمهال د اروپايي شورا (كنګرې) په نوم يادېږي.
په ياده كنګره كې يوه ګډه اعلاميه تصويب شوه چې څلور مهم اصول په كې بيان شوي دي:
۱- د اروپا متحد كول، ۲- د بشري حقونو دميثاق تصويب، ۳- د اروپايي محكمې جوړول ۳- د پارلماني اسامبلې (غونډې) جوړول
د لاهاى كنګرې د پرېكړو پراساس د اروپا شورا تأسيس شوه او په ۱۹۴۹ كال كې د دې شورا بنسټليک په لندن ښار كې د غړو هېوادونو له خوا لاسليک شو.
كه څه هم په پيل كې د سازمان د واكونو پر سر د انګلستان، فرانسې او بلجيم ترمنځ د نظر اختلاف و، خو وروسته ستونزه حل شوه او په ۱۹۴۹ كال كې د لسو غړو (فرانسه، ايرلنډ، بلجيم، ډنمارک، ايټاليا، لوګزامبورګ، هالنډ، ناروې، سويډن او انګلستان) له خوا د اروپا د شورا اساسنامه لاسليک شوه.
وروسته يونان ۱۹۴۹، تركيه ۱۹۵۰، المان فدرالي جمهوري ۱۹۵۱، اتريش ۱۹۵۲، ايسلنډ ۱۹۵۷، قبرس ۱۹۶۱، سويس ۱۹۶۳، مالټ ۱۹۶۵، پرتګال ۱۹۷۶، هسپانيا ۱۹۷۷، لېختن شتاين ۱۹۷۸، سن مارينو ۱۹۸۸ او فنلنډ په ۱۹۸۹ كال كې له دې شورا سره يوځاى شول.
د يادونې وړ ده، چې په ياده شورا كې واتيكان۱ او اسراييل۲ څارونكي غړي لري.
د اروپا شورا درې څانګې لري: د وزيرانو كمېټه، پارلماني غونډه، سكرتريت.

باید یادونه وکړو، چې د اروپا شورا داخلي جوړښت د نړیوالو سازمان له داخلي جوړښت سره بشپړ توپیر لري.
په زیاتره نړیوالو سازمانونو کې شورا او اسامبله د یوه ډیپلوماتیک کنفرانس بڼه لري چې د هېوادونو استازي په کې برخه اخلي او دا استازي له خپلو مربوطه هېوادونو څخه دستور اخلي.
خو د اروپایي شورا د وزیرانو کمېټه او غونډه (اسامبله) د نړیوالو سازمانونو له اسامبلې او شورا سره ښکاره توپیر لري، ځکه یوازې د وزیرانو شورا عادي جوړښت لري او اسامبله د غړو هېوادونو له استازو څخه جوړه شوې ده.
۱- د وزیرانو کمېټه: د وزیرانو کمېټه د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو له وزیرانو څخه جوړه شوې ده چې یو کلاسیک ډیپلوماتیک مقام ګڼل کېږي.
د وزیرانو کمېټې پرېکړې الزامي بڼه نه لري. خو د غړو هېوادونو له خوا تر تصویب وروسته لازمي دي.
۲- پارلماني اسامبله: پارلماني اسامبله د شورا مشورتي ارګان دی. دا چې د پارلماني اسامبلې غړي نه د دولتونو او نه د ولس استازي دي، یعنې د غړو هېوادونو دغه استازي د خپلو ولسونو له لوري د اروپا پارلمان ته ټاکل شوي نه دي، نو له همدې امله هغه اصول چې د اسباملې استازو ته ټاکل شوي، دا دي چې اسامبلې ته باید د غړو هېوادونو له مقننه مجلسونو څخه استازي وټاکل شي.
په پارلماني اسامبله کې د څوکیو ونډه د هر هېواد د استازو د شمېر په تناسب ټاکل کېږي.
په اسامبله کې د څوکیو وېش د برابرۍ پر ډیپلوماتیک اصل نه دی ولاړ، بلکې دا وېش تر ډېره سیاسي بربنې چې نړیوال قدرتونه په کې زیاته برخه لري. وېش په لاندې ډول دی:
فرانسه، المان، برېتانیا او ایټالیا هر یوه ته ۱۸ څوکۍ.
هسپانیا ۱۲ څوکۍ.
ترکیه ۱۰ څوکۍ.
بلجیم، پورتګال، یونان او هالنډ هر یوه ته ۷ څوکۍ.
اتریش، سویډن او سویس هره یوه ته ۶ څوکۍ.
ډنمارک او ناورې ته ۴ څوکۍ.
آیرلنډ ۳ څوکۍ.
ایسلنډ، قبرس، لوګزامبورګ، مالتا او لیختن شټاین ته ۳ څوکۍ.
او سن مارینو ته ۲ څوکۍ ځانګړې شوې دي.
۳- سکرتریت: د اروپایي شورا سکرتریت له یوه منشي، دوه مرستیالانو او له یو شمېر نړیوالو کارکوونکو څخه جوړ شوی دی.

د شورا له خوا ترسره شوي مهم فعالیتونه:
په ۱۹۵۰ کال کې د بشري حقوقو اروپايي تړون، په ۱۹۵۱ کال کې د اروپا د کرنيزې ټولنې جوړول، په ۱۹۵۷ کال کې د اختلافونو د سوله ییز حل تړون، په ۱۹۶۱ کال کې د اروپا د ټولنیز منشور تصويبول، په ۱۹۵۵ او ۱۹۷۷ کلونو کې د ترهګرۍ ضد مبارزې په برخه کې د ډوبلین او ستراسبورګ تړونونه، په ۱۹۸۷ کال کې د شکنجې، جزاګانو او غیر انساني کړنو د مخنیوي تړون، په ۱۹۸۵ کال کې د معماري اثارو د ملاتړ تړون لاسلیک او په ۱۹۸۶ کال کې د نادولتي نړیوالو سازمانونو د حقوقي شخصيت پېژندنې تړون لاسلیکول د شورا له مهمو فعالیتونو څخه دي.

## ۷- د ډبرو سکرو او پولادو اروپايي ټولنه

له دويمې نړيوالې جګړې وروسته د المان او فرانسې ترمنځ همکاريو او همدا راز د اروپا په پرمختګ کې د دغو دوو هېوادونو لېوالتيا ته په پام سره، په ۱۹۵۰ کال کې د فرانسې له خوا د شیومن (schumann ) په نوم يوه طرحه جوړه شوه، چې له مخې يې د ډبرو سکرو او پولادو له درکه لاسته راغلي محصولات به د يوه ګډ پلاوي په واک کې ورکوي.
ياده طرحه د يو شمېر اروپايي هېوادونو د پام وړ وګرځېده او د همدې کال په جون مياشت کې د لوېديځ المان، ايټاليا، فرانسې، بلجيم، هالنډ او لوګزامبورګ هېوادونو په ګډون د طرحې د ارزونې په موخه يو نړيوال کنفرانس جوړ شو.
له لس مياشتو خبرو اترو وروسته (د ډبرو سکرو او پولادو اروپايي ټولنې) د تړون مسوده چمتو او د ۱۹۵۲ کال د اپرېل په اتلسمه د غړو هېوادونو له خوا تصويب شو.
د يادې ټولنې د جوړېدا اساسي موخه د غړو هېوادونو ترمنځ د يوه ګډ بازار رامنځته کول و. دا چې د ګډ بازار د جوړولو شرط دا و، چې د غړو هېوادونو اقتصاد بايد زيانمن نه شي، نو په همدې اساس بازار په تدريج سره له منځه لاړ.
ګډ بازار په لاندنيو اصولو ولاړ و:
۱- ګمرکي معافيت ۲- د توکو د ګردش د کمې محدوديت ۳- د تبعيضي مقرراتو د ټاکلو مخنيوی ۴- مالي مرستې او د دولتونو مالي ملاتړ.
د ډبرو سکرو او پولادو ټولنې مهم رکن (لوړ پوړی پلاوی) يا (ګډ عالي ارګان) دی، چې نهه غړي لري.
د يادونې وړ ده چې د ټولنې لګښت د ډبرو سکرو او پولادو له عوايدو څخه تأمينېږي.
د غړو هېوادونو ملي پارلمانونه يوې غونډې ته ۷۸ استازي لېږي.

خصوصي اشخاص او دولتونه کولی شي د خپلو ستونزو او حقوقي مسایلو په اړه د ټولنې محکمې ته مراجعه وکړي.
د یادې ټولنې جوړول په حقیقت کې د اروپا د یووالي لومړنی نښه ګڼل کېږي.

### ۸- اروپايي ټولنه

د اروپايي ټولنې د جوړېدو بهیر: که څه هم د اروپايي اتحاد د جوړېدو په اړه ځینې مؤرخین وايي، چې ان د روم امپراتورۍ پرمهال هم دا ډول فکر موجود و، خو په دې برخه کې لومړنۍ عملي هڅه په ۱۸۱۵ کال کې مقدس اتحاد (Holy aliance) ګڼل کېږي.
په نولسمه پېړۍ کې هم د یو شمېر پوهانو له خوا د اروپا د یووالي موضوع ډېره مطرح وه او په همدې ترڅ کې د اروپايي هېوادونو ترمنځ د سوداګریزې راکړې ورکړې په برخه کې یو شمېر تړونونه او هوکړه لیکونه هم لاسلیک شول چې له دې جملې په ۱۸۲۰ کال کې د انګلستان او فرانسې ترمنځ د ازادې راکړې ورکړې تړون د یادولو دی.
له لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته دا ډول تړونونه د اقتصادي ټولنو په چوکاټ کې ترسره کېدل. په همدې لړ کې د ګمرکي چارو د همغږۍ په موخه په ۱۹۲۱ کال کې د بلجیم – لوګزامبورګ اقتصادي ټولنه رامنځته شوه.
په ۱۹۴۴کال کې د هالنډ په یو ځای کېدا سره، دغه ټولنه د بنلوکس په نوم یاده او د پخوانۍ ټولنې ځایناستې شوه.
خو له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د اروپا جنګ ځپلي وضعیت او د شوروي په مشرۍ سوسیالیستي خوځښتونو د یوې منظمې اروپايي ټولنې جوړېدا ته لار پرانیسته او دغه پلان یې یقیني کړ.
بالاخره همدې موخې ته درسېدو په منظور په نظامي برخه کې د شمالي اتلانتیک تړون یا ناټو سازمان جوړ شو. همدغه راز په اقتصادي او سیاسي برخو کې د اروپا د اقتصادي همکاریو سازمان او د اروپا شورا رامنځته شول.
په ۱۹۴۵ کال کې د سویډن، فنلنډ او ناروې په نوښت د سکانډیناوي په نوم ټولنه جوړه شوه چې له مخې یې د کار قوه په دې ټولنه کې ازاده وګڼل شوه.
په ۱۹۴۷ کال کې د انګلستان لومړي وزیر چرچیل المان او فرانسه د اروپا یووالي ته وهڅول او ټول اروپايي هېوادونه یې په دې برخه کې همکارۍ ته را وبلل.
د شیومن پلان (schumann plane) پر اساس د اروپايي هېوادونو ترمنځ خبرې اترې پیل شوې.

په ۱۹۵۱ کال کې د بلجیم، لوګزامبورګ، هالنډ، فرانسې او ایټالیا په ګډون د ډبرو سکرو او پولادو د اروپايي ټولنې تړون لاسلیک شو، چې دا کار د اروپا د یووالي په لور لومړنی ګام وبلل شو.

د ۱۹۵۵ کال په جون کې د لوېديځې اروپا د ډبرو سکرو او پولادو ټولنې د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په هغه کنفرانس چې په مسینا (messina) کې جوړ شوی و، د اروپا د بشپړ یووالي په موخه یو پرېکړه لیک تصویب کړ او همدغه راز یوې ځانګړې کمېټې ته دنده وسپارل شوه ترڅو د اروپا ګډ بازار او اټومي بنسټ د جوړېدا په اړه یوه طرحه چمتو کړي.

ځانګړې کمېټې د یوه کال په ترڅ کې تر دقیقې ارزونې وروسته طرحه چمتو او په ۱۹۵۶ کال کې یې اړونده مرجع ته وسپارله.

د لوېدیځې اروپا د ډبرو سکرو او پولادو ټولنې د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په ۱۹۵۶ کال کې په خپله غونډه کې هغه اصول چې ځانګړې کمېټې چمتو کړي وو، د یادو دوه ټولنو په تړون کې د پیل نقطې په توګه وپېژندل شوه.

نومورې طرحه د کار په موخه په بروکسل کې نړیوالې کمېټې ته وړاندې شوه او یادې کمېټې بالاخره د ۱۹۵۷ کال په مارچ کې طرحه بشپړه او د شپږو هېوادونو، لوېدیځ المان، فرانسه، ایټالیا، بلجیم، لوګزامبورګ او هالنډ له خوا تر تصویب وروسته د ۱۹۵۸ کال په جنورۍ کې د اجرا وړ وګرځېده.

د لومړي تړون له مخې د (اټومي انرژۍ اروپايي) ټولنه تأسیس شوه.

د دې سازمان د جوړېدا اساسي موخه د هېوادونو ترمنځ د معلوماتو د تبادلې، اټومي انرژۍ او د راډیو اکټیو صنعت په برخو کې د اسانتیاوو برابرول وو.

دویم تړون چې «د روم تړون» په نوم یادېږي او له لومړي تړون وروسته چې د ایټالیا په پلازمېنه روم کې لاسلیک شو، له مخې یې اروپايي ټولنه رامنځته شوه. یاد تړون ۲ څپرکي، ۲۴۸ مادې، ۳ ضمیمې او ۳۰ پروتوکولونه لري.

د اروپا اقتصادي ټولنې له تأسیس وروسته په سیاسي، اقتصادي او نظامي برخو کې د اروپايي ټولنې د جوړېدا په موخه غړو هېوادونو خپلې هڅې چټکې کړې.

په همدې لړ کې د ۱۹۹۱ کال د ډسمبر په لسمه د هالنډ په ماسټریخت کې د اروپايي هېوادونو په ګډون د یوه کنفرانس په ترڅ کې د اروپايي ټولنې تړون (treaty of european union) لاسلیک شو او د ۱۹۹۳ کال د نومبر په لومړۍ د اجرا وړ وګرځېد. د دې تړون ډېره برخه د روم له تړون څخه، چې په ۱۹۵۷ کال کې لاسلیک شو، اخیستل شوې ده.

د ماسټریخت په تړون کې د اروپا اقتصادي ټولنې اساسي موخې داسې بیان شوې دي:

۱- د اروپا دوامداره اقتصادي او ټولنیز پرمختګ، اقتصادي یووالی او د ګډ پولي واحد رامنځته کول؛
۲- د ګډ بهرني سیاست او امنیت له لارې د نړیوال هویت خپلول؛
۳- د ګډ تابعیت پر اساس د غړو هېوادونو د اتباعو له حقوقو او ګټو ملاتړ او ساتنه؛
۴- د عدلي او قضایي جوړښت په برخه کې نږدې همکاري؛

**د اروپایي ټولنې موخې:**

د روم تړون د دویمې مادې له مخې د اروپایي ټولنې اهداف په دې ډول بیان شوي دي:
۱- د ګډ بازار رامنځته کول
۲- د سوداګرۍ په برخه کې د یوې ګډې پالیسۍ ټاکل
۳- د غړو هېوادونو ترمنځ ازاد تګ راتګ
۴- د کرنې په برخه کې د یوې ګډې پالیسۍ ټاکل
۵- د لېږد رالېږد په برخه کې د یوې ګډې پالیسۍ ټاکل
۶- د ګډ بازار د پرمختګ په موخه د غړو هېوادونو د قوانینو همغږي کول
۷- د کارګرانو د ژوند د کچې لوړولو په موخه د اروپا د پانګې اچونې مرستندویه صندوق جوړول.
۸- د ټولنې د اقتصادي ودې په موخه د پانګونې لپاره د یوه اروپایي بانک جوړول
۹- د اقتصادي پالیسیو همغږي کول او په غړو هېوادونو کې د تادیاتي بیلانس ساتل
۱۰- په بازار کې د سالم رقابت د تضمین په موخه د یوه سیستم رامنځته کول
په **۱۹۹۵** کال کې اروپایي ټولنې ته د اتریش، فنلنډ او سویډن په راتګ سره د ټولو غړو ترمنځ د شنګن (schengen) تړون لاسلیک شو.
د **۱۹۹۵** کال د شنګن تړون له مخې چې د اووه هېوادونو ترمنځ لاسلیک شو، د غړو هېوادونو ترمنځ په ازاد تګ راتګ هوکړه وشوه او ژمنه وشوه چې له کوم خنډ پرته به د خپلو خلکو پر مخ داخلي پولي خلاصې پرېږدي.
وروسته نور هېوادونه هم له دې تړون سره یو ځای شول، چې تر **۲۰۰۸** کال پورې شنګن تړون **۱۵** غړي لرل.
اتریش، بلجیم، ډنمارک، فنلنډ، فرانسه، المان، ایټالیا، یونان، لوګزامبورګ، هالنډ، ناروې، ایسلنډ، پرتګال، هسپانیا او سویډن د یاد تړون رسمي غړي دي. له ناروې او ایسلنډ پرته، نور ټول د اروپایي ټولنې غړي دي.

اورپايي ټولنې دغه راز په ۱۹۹۷ کال کې د امسټردام تړون له مخې لاندې موضوعات خپل لومړيتوبونه وټاکل:
۱- کار او وګړيز (اتباعو) حقوق بايد د ټولنې د کار په سر کې راشي.
۲- د پانګونې، توکو، خدمتونو او تګ راتګ په برخه کې د خلاصې پولې وروستي خنډونه له منځه تللي دي او په عين وخت کې بايد د امنيت ټينګښت لا ډېره پاملرنه وشي.
۳- اروپا بايد په نړيوالو کې تر ډېره ځان دخيل کړي.
۴- نويو پرمختګونو ته پام سره د ټولنې جوړښت بايد اغېزمن او سم شي.
له ۱۹۹۸ کال وروسته او د بلجيم په لاکن ښار کې د اروپايي ټولنې له سرمشريزې او دغه راز په ۱۹۹۹ کال کې د هلسنګي له غونډې وروسته يو ځل بيا د اروپايي ټولنې د پراختيا هڅې پيل شوې او د يوه ځانګړې غونډې په ترځ کې چې په ۱۹۹۸ کال کې په لندن کې جوړه شوه، له ټولنې سره د نويو ۱۲ غړو د يوځای کېدو په اړه خبرې اترې پيل شوې.
له يادې ناستې وروسته او د ماسټريخت تړون د ټاکلي مهالوېش له مخې، په ۱۹۹۹ کال کې پولي او اقتصادي ټولنه بشپړه شوه او يورو د اروپا پولي واحد وټاکل شو او د ۲۰۰۲ کال په جنورۍ کې په ټولو غړو هېوادونو کې دود شوه.
د امسټردام تړون پاتې موضوعات په ۲۰۰۰ ميلادي کال کې د نايس په غونډه کې وڅېړل شول او د دې غونډې موخه د نويو غړو لپاره د ټولنې په جوړښت کې اصلاحات وو.
د nice تړون مهم موضوعات په لاندې توګه وو:
۱- د نويو موضوعاتو په اړه په ټولنه کې د رايې اچونې په ډول کې بدلون
۲- د اروپا پارلمان د غړو په شمېر کې بدلون
۳- د کمېشنرانو په شمېر کې بدلون او د اروپايي کمېسيون مشر د واک ډېرول.
په ۲۰۰۴ کال کې د پولنډ، هنګري، چک، سلواکيا، سلوانيا، استوانيا، لېتوانيا، قبرس، مالتا او په ۲۰۰۷ کال کې د رومانيا او بلغاريا په غړيتوب سره، د اروپايي ټولنې غړي ۲۷ هېوادونو ته ورسېدل.
د ۲۰۰۱ کال په ډسمبر کې د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو مشرانو د يوې غونډې په ترځ کې د اروپا اساسي قانون اسامبله تأسيس کړه او دې اسامبلې په ۲۰۰۲ کال کې د والري ژېسکارډستن په مشرۍ په کار پيل وکړ.
د اروپا د اساسي قانون سند له ډېرو هلو ځلو وروسته په ۲۰۰۴ کال کې د ۲۵ غړو هېوادونو د مشرانو له خوا لاسليک شو، چې ټولنې ته يې نوی رنګ ورکاوه.
خو د فرانسې او هالنډ خلکو د يوې ټولپوښتنې په ترځ کې دغه سند ته منفي رايه ورکړه او له دې سره ټولنه له يوه سياسي بحران سره مخ شوه او د اروپا اساسي قانون د اجرا وړ ونه ګرځېد.

خو جرمني په ۲۰۰۷ کال کې چې د ټولنې مشري یې پر غاړه وه، د ټولنې د مشروعیت بحران او ړنګېدو د مخنیوي په موخه یو لړ اقدامات ترسره کړل او د همدې کال په ډسمبر میاشت کې، چې پرتګال د ټولنې مشري کوله، د ۲۷ غړو هېوادونو له خوا د «لېزبون تړون» لاسلیک شو.
د اروپا اساسي قانون په حقیقت کې هغه سند و، چې د اروپایي ټولنه ټول تړونونه او هوکړه لیکونه یې په ځان کې رانغاړل.
د اروپا اساسي قانون مهم موضوعات په دې توګه وو:
۱- اروپایي ټولنه د حقوقي هویت لرونکې ده او ځانګړی بیرغ، ملي سرود او ولسمشر لري.
ولسمشر د یوې دوې کلنې دورې لپاره ټاکل کېږي او د دویم ځل انتخاب چانس هم لري.
۲- د اروپا په اساسي قانون کې اروپایي پارلمان ته د قانون جوړونې او د بودیجې د تنظیم په برخه کې ډېر واک ورکړل شوی و.
۳- د اساسي قانون له مخې د اروپایي ټولنې لپاره د بهرنیو چارو وزیر ټاکل شوی و او د بهرنیو چارو وزیر د پخوانیو تشکیلاتو (د بهرنیو اړیکو کمېشنر او د اروپا د بهرني سیاست او امنیت عالي استازي) ځای نیوه. د بهرنیو چارو وزیر په عین وخت کې د اروپایي کمېسیون مرستیال او د شورا غړی و، چې د اروپایي ټولنې د ډیپلوماتیکو فعالیتونو د همغږي کولو استازی ګڼل کېده.
۴- په اروپایي شورا کې وړاندیزونه او طرحې به د ۵۰+۵ رایو چې د ټولې اروپایي ټولنې د ۶۵ سلنه وګړو استازیتوب وکړای شي، تصویبېږي.
۵- د اروپایي شورا مشر د پارلمان له خوا ټاکل کېږي.
۶- له ټولنې څخه په خپله خوښه د غړو وتل په پام کې نیول شوي وو.
خو د لېزبون په تړون کې د پورتني سند ځیني موارد بدل شو، چې مهم بدلونونه په دې توګه دي:
۱- د اروپا واحد بیرغ او ملي سرود رد شو.
۲- د ملي دولتونو د حاکمیت او موقف پر لوړولو ټینګار وشو او په تړون کې د هغو موضوعاتو له راړولو څخه ډډه وشوه، چې حساسیت پاروونکي وو.
۳- د اروپایي ټولنې او ملي پارلمانونو د واک پر ډېرولو ټینګار وشو.
۴- په سیاسي مسایلو کې د کوچنیو هېوادونو رول زیات شو.
۵- د اروپایي ولس عامه افکارو ته ډېره پاملرنه وشوه او د ټولنې په مهمو پرېکړو کې د هغوی ور ګډول د نظر اخیستل اړین وګڼل شول.

**د اروپايي ټولنې څانګې**

۱- د وزيرانو شورا
۲- اروپايي کمېسيون
۳- اروپايي پارلمان
۴- اروپايي شورا
۵- اروپايي محکمه
۶- د اروپا مرکزي بانک
۷- د محاسبې څانګه

**۱ - د وزيرانو شورا (coucile of ministers)**

د وزيرانو شورا د ۲۷ غړو هېوادونو د بهرنيو چارو له وزيرانو څخه جوړه شوې ده، چې د قوانينو د تصويب مسؤليت لري. شورا په هرو شپږو مياشتو کې يو ځل د يوه غړي هېواد د بهرنيو چارو د وزير په مشرۍ چې د شورا دوره يي مشري پرغاړه لري، غونډې کوي.
شورا په حقيقت کی د ټولنې تر ټولو لوړ تصميم نيونکی ارګان. شورا قانوني مسودې او طرحې څېړي او د تصويب په صورت کې د ټولنې لپاره د مقرراتو او قوانينو په توګه منل کېږي.
د ټولنې د تړون يا ژمنليک د ۳۲ مې مادې له مخې، وزيرانو شورا مکلفه ده چې د تړون له مخې خپلې دندې او مسؤليتونه ترسره کړي.
وزيرانو شورا د ګمرکي يووالي د ټينګښت او د ګډو سوداګريزو او کرنيزو پاليسيو د جوړولو په برخه کې مهم رول ترسره کړی دی.
شورا همدغه راز د ټولنې د بهرني سياست د پلي کولو مسؤليت هم پرغاړه لري او له پارلمان سره په مشوره کولی شي چې له نړيوالو سازمانونو سره هوکړه ليکونه او تړونونه لاسليک کړي.

**۲ - اروپايي کمېسيون (European commission)**

کمېسيون د اروپايي ټولنې د کابينې حيثيت لري او د اجرائيه قوې په څېر د وزيرانو شورا پر مصوبو څارنه کوي او همدا راز خپل وړانديزونه د تائيد لپاره وزيرانو شورا ته لېږي.
کمېسيون همدغه راز د شورا د پرېکړو د پلي کولو په اړه لازم تدابير نيسي.
د کمېسيون غړي په کمېسيون کې د دندې د اجرا پرمهال د خپل هېواد ګټې نه، بلکې د ټولې اروپا ګټې په پام کې نيسي او په خپلو پرېکړو کې پوره استقلاليت لري.
د کمېسيون مشر او پنځه مرستيالان يې د وزيرانو شورا په وړانديز او د پارلمان په تائيد د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي، خو غړي يې د خپلو هېوادونو له خوا ټاکل کېږي.

که چیرې کوم هېواد له قانون څخه سرغړونه وکړي، کمېسیون کولی شي د سرغړونکي هېواد پر خلاف په اروپايي محکمه کې دعوا اقامه کړي.
د کمېسیون غړي نه شي کولی، چې د خپلې تصدۍ په موده کې نورې دندې هم ترسره کړي او د پارلمان په وړاندې مسؤلیت لري.
د اروپا کمېسیون ۲۷ غړو څخه جوړ شوی دی او ټاکل شوې ده چې په راتلونکې کې دغه شمېر راکم شي.
تر ۲۰۰۵ کال پورې د اروپايي ټولنې سترو هېوادونو (جرمني، فرانسې، انګلستان، ایټالیا او هسپانیا ) هر یوه په کمېسیون کې دوه کمېشنران لرل.
په ۱۹۹۵ کال کې کمېسیون ۱۷ کمېشنران لرل، خو له یادې نېټې وروسته په ۲۰۰۵ کال د غړو له زیاتوالي او ځینو بدلونونو له مخې دغه شمېر ۲۷ ته ورسېد.
اروپايي ټولنې په ۲۰۰۰ کال کې د یوې غونډې په ترڅ کې پرېکړه وکړه، چې په ۲۰۰۵ کال کې د سترو هېوادونو دوه کمېشنران باید لرې شي او هر غړی اړ دی چې په کمېسیون کې یوازې ۱ استازی ولري. په یاده غونډه کې دغه راز پرېکړه وشوه چې د کمېسیون د غړو په اړه به په راتلونکې کې غور وشي.
د نایس تړون له مخې د کمېسیون مشر د شورا له خوا د رایو په غوڅ اکثریت ټاکل کېږي او د نوموړې دندې او واکونه د کمېشنرانو له عزل او نصب سره زیاتوالی مومي.
دغه راز په لېزبون تړون کې پرېکړه وشوه چې تر ۲۰۱۴ کال پورې هر غړی هېواد به یو کمېشنر ولري او د کمېسیون د کار هره دوره پنځه کاله وټاکل شوه.
کمېسیون په اونۍ کې یو ځل غونډه کوي او خپل اړونده چارې او فعالیتونه څېړي او نهایي د وړاندیزونو تصویب، د سیاسي طرحو نهایي کول او د سیاسي لومړیتوبونو مشخصول یې د غونډې اصلي موضوعات وي.
یاد کمېسیون ۲۰ زره کاري پرسونل لري چې د اروپايي ټولنې تر ټولو ستر اجرائیوي ارګان ګڼل کېږي.
کمېسیون له شورا سره نږدې همکاري او اړیکې لري او د شورا سره په ځینو مسایلو کې په همغږۍ توګه کار کوي.
د لېزبون په تړون کې دغه راز پرېکړه وشوه چې د پارلمان د څوکیو شمېر به ۷۵۰ ته لوړ شي چې په دې اساس کوچنیو هېوادونو ته حداقل ۶ څوکۍ او ګڼ نفوسه هېوادونو ته حداکثر ۹۶ څوکۍ باید ځانګړې شي.
د لېزبون په تړون کې د پارلمان واکونه ډېر شول او پرېکړه وشوه چې د ګډ تصمیم له مخې به د اروپايي قوانینو ۹۵ سلنه د پارلمان له خوا ترسره کېږي.

### ۳- اروپايي پارلمان – European parliament

پارلمان په اروپايي ټولنه کې د مقننې قوې رول لري چې د قوانينو د جوړولو په اړه نظر او مشوره او د ټولنې پر فعاليتونو د څارنې دنده پرغاړه لري.

تر ۱۹۷۹ کال پورې د اروپايي پارلمان استازي د غړو هېوادونو د ملي پارلمانونو له خوا ټاکل کېدل. خو له همدې کال وروسته د غړو هېوادونو له خوا د مستقيمو رايو له لارې ټاکل کېږي.

اروپايي ټولنه اوسمهال ۲۷ غړي لري او له ۷۸۵ استازو څخه جوړ شوی دی چې دغه استازي د هر غړي هېواد د وګړو په تناسب ټاکل کېږي.

په اروپايي ټولنه کې پارلماني ډلې هم شتون لري او يادې پارلماني ډلې د مليت له مخې نه، بلکې د ګډو سياسي نظرياتو پربنسټ جوړېږي. لکه د مختلفو غړو هېوادونو سوسيال ډيموکراتان په خپلو کې پارلماني ګروپ جوړوي او ګډې موخې پرمخ بيايي.

د پارلمان مرکز: د اروپا پارلمان ځانګړی ځای نه لري، بلکې سکرتريت يې په لوګزامبورګ، غونډې يې د فرانسې په ستراسبورګ او د کمېسيون غونډې يې په بروکسل کې ترسره کېږي.

د اروپايي پارلمان اصلي دندې:

۱- د قانون جوړونې په اړه مشوره او نظر ورکول

۲- د ټولنې، په ځانګړې توګه د کمېسيون او شورا پر فعاليتونو څارنه

۳- د اروپايي ټولنې د بېلابېلو څانګو د بوديجې تصويبول: پارلمان د شورا له لوري د وړاندې شوې بوديجې د تصويب او رد صلاحيت لري.

د ۴۵ ورځو په اوږدو کې د تصويب يا نه تصويب په صورت کې، بوديجه تصويب شوې ګڼل کېږي.

پارلمان صلاحيت لري چې له شورا او کميسيون څخه د هغوی د فعاليتونو په اړه توضيح غواړي او يا د سياسي ابتکار غوښتنه ترې وکړي. پارلمان همدغه راز صلاحيت لري، چې کمېسيون استيضاح او سلب اعتماد کړي.

د يادونې ده چې پارلمان د تقنين واک نه لري، بلکې دا د کمېسيون واک دی.

### ۴- اروپايي شورا – European council

د روم په تړون کېددې شورا جوړېدل شامل نه و، خو وروسته د اړتيا پراساس د غړو هېوادونو په ضمني توافق رامنځته شوه.

د وزيرانو شورا د ټولنې تر ټولو عالي مرجع ګڼل کېږي چې مهمې سياسي پرېکړې په کې کېږي.

د ټولنې د هوکړه لیکونو څېړل، د بهرني سیاست ټاکل او د ټولنې پراختیا د شورا له واکونو څخه دي. شورا همدغه راز په اروپا کې د بشري حقونو د وضعیت ارزونې، د شخصي ازادیو او ډیموکراسۍ تأمینولو مسؤلیت لري.

اروپایي شورا د غړو هېوادونو له مشرانو څخه جوړېږي. شورا د هغه هېواد په بلنه چې اروپایي ټولنې مشري پرغاړه لري، جوړېږي. د اروپایي کمېسیون مشر هم د شورا غړیتوب لري.

د اروپایي شورا لومړنۍ رسمي غونډه د **۱۹۷۵**کال په مارچ کې د ایرلنډ په دوبلین ښار کې جوړه شوه. په **۱۹۸۷** کال کې د (اروپا واحد سند) تړون لاسلیک شو او د اروپایي شورا په نوم د اروپایي ټولنې اصلي رکن په توګه را څرګند شو.

سیاسي کمېټه هم د شورا یوه اړونده څانګه ده چې د بهرنیو چارو وزیرانو سره د پرېکړو په برخه کې مرسته کوي.

اروپایي ټولنې په **۱۹۹۷** کال کې د امسټردام تړون له مخې د ټولنې د بهرني سیاست، امنیت او ډیپلوماتیک ماموریت د لا پیاوړتیا او سمون په موخه د (بهرنۍ پالیسۍ او ګډ امنیت استازي) په نوم نوی مقام رامنځته کړ او په **۱۹۹۹** کال کې د المان په کولن ښار کې د یوې غونډې په ترڅ کې د ناټو د وخت منشي او د هسپانیا د بهرنیو چارو پخوانی وزیر خاویر سولانا د اروپایي ټولنې د ګډ بهرني سیاست او امنیت د استازي په توګه وټاکل شو.

د لېزبون تړون د بدلونونو پر اساس، د ګډ امنیتي او بهرني سیاست استازي او د بهرنیو اړیکو د کمېشنر دندې سره مدغم شوې دي او استازی په عین وخت کې د بهرنیو اړیکو د شورا مسولیت هم پرغاړه لري.

په شورا کې پرېکړې د یوې موضوع ماهیت او ارزښت ته په کتو، د مختلفو طریقو له مخې صورت نیسي.

اوسمهال یو شمېر مهم موضوعات چې د هېوادونو په ملي ګټو پورې اړه لري، لکه د بهرنی، دفاعي، امنیتي، مالي او ګمرکي سیاستونه د اجماع په ډول د غوڅ اکثریت رایو پر اساس ترسره کېږي او هغه مسایل چې کم ارزښته دي، د ساده اکثریت له مخې پرې تصمیم نیول کېږي.

د موجوده مېکانیزم له مخې، یوه طرحه د تصویب لپاره له **۳۴۵** مجموعي رایو څخه **۲۵۵** موافقو رایو ته اړتیا لري ترڅو یاده طرحه تصویب شي.

په ۲۰۰۸ کال کې په شورا کې د هر غړي هېواد د رایو شمېر په لاندې توګه وو:

- جرمني، فرانسه، ایټالیا او انګلستان ۲۹ رایې
- هسپانیا او پولنډ ۲۷ رایې
- رومانیا ۱۴ رایې
- هالنډ ۱۳ رایې

- بلجیم، چک، یونان، هنګري او پورتګال ۱۲ رايې
- اتریش، بلغاریا او سویډن ۱۰ رايې
- ډنمارک، ایرلنډ، لېتوانیا، سلواکیا او فنلنډ ۷ رايې
- استونیا، قبرس، لتونیا، لوګزامبورګ او سلوانیا ۴ رايې
- مالټا ۴ رايې

**۵- اروپايي محکمه- court of justic**

محکمه د اروپايي ټولنې قضايي ارګان دی او ۲۷ غړي لري چې دنده يې له اروپايي قوانينو څخه د سرغړونکو هېوادونو د دوسيو څېړل اوتعقيبول دي. محکمه همدغه راز د اتحاديې دغړو هيوادونو ترمنځ او د نورو غړو هېوادونو او اتحاديې ترمنځ شخړو ته رسيدګي کوي. دغړو هېوادونو محکمې کولی شي له اړتيا سره سم له دې محکمې څخه مشوره او د ابهام پر وخت دقوانينو په هکله تفسير وغواړي.

ماستريخت تړون په اروپايي محکمه کې بدلونونه را نه وستل، خو د امستردام تړون له مخې په محکمه کې ځيني بدلونونه رامنځته شول.

د محکمې مشر د پټو رايو او غوڅ اکثريت له مخې د قاضيانو له خوا د درې کلونو لپاره ټاکل کېږي او بيا ځلي هم کولی شي ځان دې پوست ته نوماند کړي.

د محکمې مقر په لوګزامبوک هېواد کې دی.

**۶- د محاسبې څانګه**

د محاسبې څانګه چې د اروپايي ټولنې د حقوقي نظام يوه برخه ګڼل کېږي، چې د ماستريخت تړون پر اساس رامنځته شوه او په ۱۹۹۲ کال کې يې رسماً په کار پيل وکړ.

ياده څانګه د ټولنې د مالي چارو په برخه کې فعاليت کوي او ۱۵ غړي لري.

د محاسبې څانګې اصلي دنده د ټولنې د عوايدو او لګښتونو څېړل دي. ياده څانګه په اروپا کې د مالي وجدان په نوم هم مشهوره ده.

**د اروپا مرکزي بانک**

د اروپا د مرکزي بانک د غړو هېوادونو د مرکزي بانکونو مشرانو، مديره پلاوي او عمومي شورا څخه تشکيل شوی دی.

د اروپا مرکزي بانک اصلي دنده د غړو هېوادونو د اسعارو د بيو تثبيتول، د ټولنې پولي او مالي سياست ټاکل او پلي کول، مالي عملياتي لارښوونې، غړو هېوادونو د رسمي زېرمو اداره او د مقدار ټاکل، د غړو هېوادونو د ورکړې سيستم لوړول او پراختيا او د بيو د ثبات ساتل دي.

په ۱۹۹۸ کال کې د اروپا د مرکزي بانک تأسیس په حقیقت کې د اروپا اقتصادي او پولي بهیر اساسي پړاو کې گڼل کېږي. دغه د جرمني په فرانکفورټ ښار کې موقعیت لري.

**۹- د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو) North atlantic treaty organization**

له دویمې نړیوالې جگړې وروسته د گډ امنیتي سیستم او دفاعي اتحاد په برخه کې لومړنی تړون د فرانسې، انگلستان، بلجیم، هالنډ او لوگزامبورگ ترمنځ په ۱۹۴۸ کال کې د مارچ په ۱۷ لاسلیک شو، چې د بروکسل تړون په نوم یادېږي.
د همدې کال په نیمایي کې د بروکسل تړون غړو له امریکا او کاناډا سره په دې اړه خبرې وکړې ترڅو د بروکسل تړون سره یوځای شي.
په پایله کې د بروکسل تړون پخوانیو پنځو غړو امریکا، کاناډا، ایټالیا، ناروې، ډنمارک، ایسلنډ او پرتگال ترمنځ په ۱۹۴۹ کال د اپرېل په څلورمه د شمالي اتلانتیک (ناټو) تړون لاسلیک شو.
ترکیه او یونان په ۱۹۵۲، لوېدیځ المان په ۱۹۵۵ او هسپانیا په ۱۹۸۲ کال کې له ناټو سره یوځای شول، چې له دې سره د ناټو سازمان د غړو شمېر ۱۲ هېوادونو ته ورسېد.
دا راز په ۱۹۹۹ کال کې د چک، هنگري او پولنډ په یوځای کېدو سره د ناټو سرحد تر اوسپنیزو دېوالونو ورسېد او بالاخره د ۷ پخوانیو کمونیستي هېوادونو (بلغاریا، رومانیا، استونیا، لېتوانیا، سلواکیا او سلونیا) په یوځای کېدو سره د ناټو غړو هېوادونو شمېر ۲۲ ته لوړ شو.
د ناټو سازمان اصلي موخې: د امنیتي گواښونو پر وړاندې گډه دفاع، دلوېدیځ بلاک همغږي کول، د کمونیستي ایډیالوژۍ د نفوذ مخنیوی او د شوروي د پراختیا غوښتونکو سیاستونو مخنیوی.
د ناټو تړون په ۱۴ مادو کې چمتو شوی دی.
ناټو د ملگرو ملتونو منشور د ۵۱ مې مادې څخه په الهام اخیستو، د نړیوالې سولې او امنیت د ټینگښت په برخه کې هڅې او لازم اقدامات کوي.
بله خوا د ناټو تړون په ۵ مه ماده کې راغلي دي، چې د ناټو پر هر غړي هېواد برید، پر ټولو غړو د برید په معنا دی او ټول غړي په دفاع مکلف گرځول شوي دي.
ناټو سازمان درې اصلي څانگې لري:
د شمالي اتلانتیک شورا: د شمالي اتلانتیک شورا د ناټو سازمان اصلي رکن دی چې د ۲۲ غړو هېوادونو له استازو څخه جوړه شوې ده او مرکز یې په بلجیم کې دی.
یاده شورا د دوه ډوله چارواکو په کچه غونډې کوي:
لومړۍ د وزیرانو شورا غونډې دي او دویمه غونډه یې د دایمي استازو په کچه ده.

د نړيوالو سياسي او امنيتي مسايلو په اړه خبرې اترې، د نړيوالو سياستونو څېړل او د سازمان د سياسي کړنو او تګلارو ټاکل، د وزيرانو شورا له واکونو څخه دي.
د مهمو مسايلو په اړه د ناټو دريځ په ډاګه کول او د اتلانتيک حوزې څخه بهر د پوځي عملياتو منظوري هم د وزيرانو شورا له صلاحيتونو څخه دي.
د وزيرانو شورا او دايمي استازو په شتون سربېره، د شمالي اتلانتيک شورا په سياسي، اقتصادي او فرهنګي برخو کې يو شمېر کاري کمېټې هم لري.
له دې جملې د دفاعي ستراتېژۍ کمېټه او د اټومي پاليسۍ جوړونې ډله د يادولو دي، چې هر يو په ترتيب سره د دفاعي ستراتېژۍ جوړونې او د اټومي چارو د تنظيم په برخه کې فعاليت کوي.
د اټومي پاليسۍ جوړونې ډله يو مشورتي پلاوی دی چې د دفاعي پاليسيو په برخه کې د اټومي انرژۍ د ارزښت او رول په اړه شورا ته مشوره ورکوي.
يادې کمېټې چې عالي کمېټې ګڼل کېږي، د غړو هېوادونو دايمي استازي يا دفاع وزيران په کې غړيتوب لري.
۲- سکرتريت: د ناټو سکرتريت په بروکسل ښار کې موقعيت لري چې په رأس کې يې عمومي منشي دی او منشي د سازمان استازيتوب کوي.
عمومي منشي د پرېکړو پرمهال د لارښوونې مسوليت پرغاړه لري او دغه راز منشي کولی شي د تصميم نيونکي پلاويو ترمنځ د ستونزو او اختلافونو د حل په موخه منځګړی رول ادا کړي.
عمومي منشي همدغه راز د ناټو سازمان د اداري مقاماتو په سر کې ځای لري.
۳- پوځي کمېټه: پوځي کمېټه د ناټو سازمان تر ټولو عالي پوځي مقام دی چې د غړو هېوادونو د پوځ له لوی درستيزوالو څخه جوړه شوې ده.
ياده کمېټه غړو هېوادونو څخه د دفاع په موخه د غړو هېوادونو مشرانو ته د ناټو د ستراتېژۍ او اړتياوو په اړه توصيه کوي.
کمېټه همدغه راز د اجرائيوي طرحو د وړاندې کولو او د پوځي عملياتو د پراختيا مسؤليت هم پر غاړه لري.
ياده کمېټه دشمالي اتلانتيک شورا تر مستقيمې قوماندې لاندې فعاليت کوي او د دفاعي پاليسۍ جوړونې کمېټې او د اټومي پرواګرام ډلې سره نږدې همکاري لري او همدا راز د ستراتېژيکو طرحو او پلانونو د جوړونې په برخه کې پوځي کمېټې ته د اړتيا وړ کارپوهان او ماهرين په واک کې ورکوي.
د اروپا متحده قوماندانۍ، د اتلانتيک متحده قوماندانۍ او د امريکا او کاناډا د پاليسۍ جوړونې ډله هم د ناټو په پوځي کمېټه کې شاملې برخې دي.

همدا راز یاده کمېټه څو نورې فرعي کمېټې هم لري. لکه د سیاسي چارو کمېټه، د سمندري همکاریو کمېټه، د هوایي دفاع کمېټه، د پوځي دفاع کمېټه او د علمي چارو کمېټه.
د امریکا متحده ایالتونو په ۱۹۶۰ لسیزه کې د (انعطاف منونکې غبرګون) په نوم خپله نوې ستراتېژي اعلان کړه چې له مخې یې له اروپایي هېوادونو څخه ددغه هېواد پوځي ملاتړ او همکاري محدوده شوه. یاده ستراتېژي د مایک نامارا د طرحې له مخې جوړه شوه.
فرانسه د امریکا ددې ستراتېژۍ په غبرګون کې په ۱۹۶۶ کال کې د ناټو پوځي کمېټې څخه ووتله او همدارنګه له خپل هېواد څخه یې د ټولو بهرنیو ځواکونو د ژر تر ژره وتلو غوښتنه وکړه. خو له دې سره سره بیا هم، فرانسې په سیاسي او امنیتي برخو کې د ناټو سازمان سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړی دی.

**ختیځ لور ته د ناټو پرمختګ او د رول بدلون**

د شوروي اتحاد او وارسا تړون په ړنګېدو سره، د ناټو موجودیت او اړتیا تر پوښتنې لاندې راغی. که څه هم ډېری خلکو د ناټو د منځه تلو فکر کاوه، خو دغه سازمان د نوي تعریف او نویو موخو په ټاکلو سره خپل موجودیت وساته او ددې ترڅنګ یې له خپلو ټاکلو پولو څخه هاخوا د پراختیا هڅې هم پیل کړې.
ناټو نویو نړیوالو شرایطو ته په پام سره او له نویو امنیتي ګواښونو او ننګونو سره د مبارزې په برخه کې لکه تروریزم، راډیکالیزم، مخدره توکي، عام وژنه، د بشري حقونو ملاتړ، د ډلیزو وژنو د وسلو مخنیوی، قومي او نژادي اختلافونه، سازمان شوي جرمونه، غیر قانوني کډوالي او د نورو مسایلو په اړه د خپلو فعالیتونو نوی تعریف وړاندې کړی او د خپلو فعالیتونو لمن یې له اتلانتیک څخه بهر د نړۍ نورو برخو ته هم غځولې ده.
دغو بدلونونو د ناټو د کار ماهیت بدل کړ او ناټو ته نوی ماموریت ور په غاړه شو چې له دې جملې کولی شو د ډیموکراسۍ تحقق، د نړیوالې سولې ټینګښت، بشردوستانه فعالیتونه او د مدیریت د بحران کنټرول ته اشاره وکړو.
د ناټو د پراختیا یو بل لامل هم د هغو نیمګړتیاوو پایله ده، چې د ملګرو ملتونو د منشور د اجرائیوي ضمانت د نشتوالي له امله رامنځته شوې دي.
د ملګرو ملتونو د منشور د اووم څپرکي له مخې اقدامات تل له ستونزو او کشمکشونو سره مخ شوي دي، چې له همدې امله د ملګرو ملتونو سازمان اړ دی ترڅو د خپل یوه پوځي مټ او ملاتړي په توګه د نړیوالې سولې او امنیت په ټینګښت کې د ناټو رول او اړتیا ته غاړه کېږدي.
ختیځ لور ته د ناټو د پرمختګ مهم اهداف:
- په ختیځه اروپا کې د امنیت او ثبات ټینګول

- د نوي رول ادا او له ترون څخه د زیاتو مسولیتونو ترسره کول
- د سیمه ییزو او نړیوالو بحرانونو د مدیریت کنترول
- د سازمان د امنیتي حوزې پراختیا او د یوه زبرځواک په توګه د ناټو په څنګ کې د روسیې مهاررول او مخنیوی
ختیځ لورته د ناټو د پرمختګ په برخه کې، یاد سازمان د سیمه ییزې همکارۍ د پراختیا په موخه خپلو ګاونډیو او له اتلانتیک حوزې څخه بهر له نورو هېوادونو سره ګډې طرحې او پلانونه په لاره اچولي دي، چې مهم یې په لاندې ډول دي:
- د سولې ګډه طرحه (**partnership for peace**): ددې طرحې له مخې د ناټو غړو او نورو هېوادونو ترمنځ د همکاریو د لا پراختیا په موخه پر دوه اړخیزه اړیکو ټینګار شوی دی.
یاده طرحه له ۱۹۹۴ کال راهیسې پلې شوې ده او د طرحې هر برخه وال کولی شي چې په ناټو کې خپل ګډون لا پراخ کړي.
دا پروګرام د اروپا- اتلانتیک ګډې شورا د عملیاتي رکن په توګه دنده ترسره کوي.
هغه هېوادونه چې په دې پروګرام کې برخه لري: روسیه، اوکراین، بلاروس، تاجکستان، ازربایجان، ارمنستان، ازبکستان، ترکمنستان، قزاقستان، قرغېزستان، ګرجستان، مولداویا، البانیا، کرواشیا، مقدونیا، مونټي نګرو، بوسنیا، سربستان، اتریش، سویډن، سویس، فنلنډ او ایرلنډ، چې ټولټال ۲۳ هېوادونه په کې شامل دي.
- د اروپا اتلانتیک د مشارکت شورا (**Euro- atlantic partnership**): په ختیځه اروپا او د ناټو غړو هېوادونو په پولو کې د امنیت او ثبات او د ناټو ۲۲ اصلي غړو او د طرحې د برخه والو ترمنځ د همغږۍ او مشورې په موخه د اروپا- اتلانتیک د مشارکت شورا جوړه شوې ده.
یادې شورا تر ۱۹۹۷ کال پورې د شمالي اتلانتیک د همکارۍ شورا ( North atlantic cooperation council ) په نوم فعالیت کاوه.
- د مدیترانې خبرې (**Mediterranian dialogue**): ددې پروګرام له مخې د ناټو او د ۷ مدیترانه یي هېوادونو لکه الجزایر، مصر، تونس، مراکش، موریتانیا، اردن او اسرایلو ترمنځ د اړیکو ساتل دي، چې دغه بهیر له ۱۹۹۴ کال څخه پیل شوی دی.
- د روسیې – ناټو شورا: روسیې او ناټو د هوکړې له مخې په ۱۹۹۷ کال کې ژمنه وکړه چې په سیمه او نړۍ کې د امن او ثبات او د ګډو ګټو د تحقق لپاره به دوه اړخیزه همکاري پراخه کړي.
په همدې موخه د روسیې – ناټو شورا جوړه شوه چې د ناټو او روسیې ترمنځ یې په اړیکو کې نوی باب پرانیست.
په ناټو کې د غړیتوب منلو پړاوونه **Intensified dialogue**

هغه هېوادونه چې غواړي د ناټو غړیتوب خپل کړي، لومړی باید له ناټو سره د تودو خبرو پړاو تېر کړي او له دې پروسې وروسته، نوماند هېواد ته بشپړ غړیتوب ورکول کېږي.

اوکراین او ګرجستان او سمهال (۲۰۱۲) د تودو خبرو په پړاو کې دي او بشپړ غړیتوب یې نه دی ترلاسه کړی.

د انفرادي مشارکت د اقداماتو پلان **Individval partnership action palns**

ناټو په ۲۰۰۲ کال کې د پراګ په غونډه کې هغو هېوادونو سره د اړیکو او همکاریو یو مېکانیزم رامنځته کړ، چې په راتلونکي کې ناټو ته اغېزمن تمامېدای شي او ددې سازمان احتمالي غړي دي.

په یاد پلان کې هغه هېوادونه هم شامل دي چې نه غواړي د ناټو غړي شي، خو په ډیپلوماتیکو لارو چارو مکلف ګرځول شوي دي.

ددې پلان برخوال ګرجستان، اذربایجان، ارمنستان، بوسنیا، هرزګوینیا مونتېګرو، قزاقستان او مولداویا هېوادونه دي، چې دغه هېوادونه د مشارکت پلان په چوکاټ کې کولی شي ناټو سره اړیکې وساتي.

### د ناټو نوی ستراتېژیک مفهوم

په ۱۹۹۹ کال کې د واشنګټن په سرمشریزه غونډه کې چې د ناټو د تأسیس له پنځه پنځوسمې کلیزې سره برابره وه، د کوزوو او بالکان ناورین، د ناټو پراختیا او د ناټو نوی ستراتېژیک مهفوم د غونډې د بحث موضوعات وو.

د ناټو نوي پوځي دوکتورین چې له مخې یې د دغه سازمان نوی ستراتېژیک مفهوم تصویب شو، د MC/400/2 رسمي سند په نوم وپېژندل شو او د ناټو لپاره یې درې اساسي لومړیتوبونه وټاکل:

د ناټو د اساسي موخو او امنیتي مسؤلیتونو مشخصول؛

د ډله ییزو وژنو د وسلو محدودول؛

د سولې لپاره ګډې هڅې؛

### د ۲۰۰۱ کال د سیپټمبر له یولسمې وروسته د ناټو بدلونونه؛

د ۲۰۰۱ کال د سیپټمبر په ۱۱ د امریکا د نیویارک پر سوداګریز مرکز تر برید یوه ورځ وروسته ناټو په بروکسل کې بېړنۍ غونډه وکړه او پر امریکا یې دا تروریستي برید وغانده.

په یاده غونډه کې د لومړي ځل لپاره د شمالي اتلانتیک تړون د **۵** مې مادې له مخې چې د ناټو پر یوه غړي برید د سازمان پر ټولو غړو د برید په معنا بلل شوی او له تروریزم سره د مبارزې په موخه، پرېکړه وشوه چې د برید غچ به اخلي او القاعده به ځپي.

په افغانستان کې دایساف په چوکاټ کې د ناټو حضور؛ په ۲۰۰۰ زېږدیز کال کې د ناټو د چټک غبرګون د ځواکونو جوړول؛ د امنیت شورا د **۱۵۴۲** نمبر پرېکړه لیک له مخې د عراق د امنیتي ځواکونو روزنه؛ په قطر او بحرین کې د ناټو د عامه اړیکو د دفتر پرانیستل او د سوډان دارفور سیمې ته د ناټو ځواکونو لیږل؛ د ۲۰۰۱ کال د سیپټمبر له یوولسمې وروسته د ناټو مهم فعالیتونه او بدلونونه دي چې له یوه پوځي سازمان څخه یوه نړیوال امنیتي سازمان ته د ناټو د بدلون ښکارندویي کوي.

## **دویمه برخه**:

# اسیايي او افریقايي سازمانونه

### ۱: د اېکو د اقتصادي همکاریو سازمان ECO

د اقتصادي همکاریو له سازمان یا (اېکو) څخه مخکې د سیمه ییزې پراختیا سازمان (RCD) فعالیت کاوه.

د سیمه ییزې پراختیا سازمان په **۱۹۶۴** کال کې د ترکیې، پاکستان او ایران په ګډون په استانبول ښار کې جوړ شو.

په یاد کنفرانس کې دریواړو هېوادونو د سیمه ییزې پراختیا، سولې او ثبات په برخه کې پر سیمه ییزې همکارۍ ټینګار وکړ.

د کنفرانس په پای کې یو پرېکړه لیک خپور شو چې مهم ټکي یې په لاندې ډول وو:

۱- د غړو هېوادونو ترمنځ د سوداګریزو توکو له لارې د ازادې راکړې ورکړې اسانتیا برابرول

۲- د غړو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ په موخه د سوداګرۍ خونو جوړول

۳- په سیمه ییزه کچه د هوايي چلند پراختیا

۴- د بېړۍ چلونې د چارو پراختیا

۵- د توریزم پراختیا

۶- د ګډو اقتصادي او صنعتي طرحو جوړول

د سیمه ییزې پراختیا سازمان (RCD) شپږ اصلي څانګې او اووه فرعي کمېټې لرلې. اصلي څانګې عبارت وې له:

۱- د وزیرانو شورا ۲- د پالیسۍ جوړونې شورا ۳- د همغږۍ کمېټه ۴- فني کمېټې ۵- د قایم مقام شورا ۶- سکرتریت.

فرعي کمېټې:

۱- د سوداګرۍ چارو کمېټه
۲- د نفتي او صنعتي چارو کمېټه
۳- د کرنیزو چارو کمېټه
۴- د فني همکاریو او اداري علومو کمېټه
۵- د توریزم او اطلاعاتو کمېټه
۶- د کلتوري چارو کمېټه
۷- د لېږد رالېږد کمېټه

د (ار سي ډي) د کړنو په اړه باید ووایو، لکه څنګه چې غړو هېوادونو د څو اړخیزه توافقاتو پر اساس ژمنه کړې وه، څومره چې لازمه وه د سوداګریزې راکړې ورکړې کچه لوړه نه شوه بلکې ډېره کمه وه چې بالاخره دغه چاره یوازې تر سوداګریزو اړیکو پورې محدوده پاتې شوه.

یاد سازمان د صنعتي او کرنیزو پروژو د پلي کېدا په پرتله، په سیاسي، فرهنګي، روغتیایي او علمي برخو کې ډېرې لاسته راوړنې لرلې.

که څه هم (آر سي ډي) سازمان په ۱۳۵۹ هجري شمي کال کې رنګ شو، خو د پاکستان، ایران او ترکیې ترمنځ همکاري په خپل حال پاتې شوه ،چې د بېلابېلو سیاسي او اقتصادي دلایلو له امله دغه همکاري نوره هم پراخه شوه.

د (سي آر ډي) سازمان تر رنګېدا وروسته، په ۱۳۶۳ کال د ترکیې، پاکستان او ایران له خوا د اقتصادي همکاریو سازمان (ECO) تأسیس شو.

په لومړیو کې په سازمان کې د غړو ترمنځ اړیکې د بهرنیو چارو د مرستیالانو په کچه وې، خو په ۱۹۷۶ کال کې دغه اړیکې د یوه پروتوکول له مخې د بهرنیو چارو وزیرانو کچې ته لوړې شوې.

د ایکو سازمان لومړنۍ سرمشریزه غونډه په ۱۹۹۲ کال په تهران کې جوړه شوه. یاده غونډه له ډېر ارزښت څخه برخمنه وه، ځکه د مرکزي اسیا یو شمېر هېوادونه چې تازه خپلواک شوي وو، له دې سازمان سره یو ځای شول.

د تهران غونډې مهمې پرېکړې:

۱- د ایکو سازمان پراختیا او پیاوړتیا
۲- د ازربایجان، ترکمنستان، تاجکستان، ازبکستان او قرغېزستان غړیتوب
۳- د جمو کشمیر خلکو له حقونو څخه دفاع
۴- د افغانستان د شخړې سیاسي حل لاره

د ژباړن یادښت: په پورتني مطلب کې د افغانستان هغې شخړې ته اشارې شوې، چې په ۹۰ یمه میلادي لسیزه کې له افغانستان څخه د شوروي پوځونو له وتو او د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ تر رنګېدو وروسته د جهادي تنظیمونو ترمنځ د کورنۍ جګړې له امله رامنځته شوې وه.

۵- د غړو ترمنځ د سوداګرۍ په برخه کې اسانتیاوې
۶- د کرنې، انرژۍ، صنعت او د ټرانسپورټ پراختیا
دویمه سرمشریزه غونډه په ۱۹۹۳ کال کې د لسو غړو هېوادونو په ګډون د ترکیې په پلازمېنه استانبول جوړه شوه.
د سوداګرۍ، انرژۍ، کرنې، توریزم او چاپېریال ساتنې پراختیا او همدغه راز د غړو هېوادونو له خوا د اسلامي بانک د جوړېدا ملاتړ او له نورو سازمانونو سره نږدې اړیکې؛ ددغې غونډې د بحث مهم موضوعات وو.
دریمه غونډه په ۱۹۹۳ کال د پاکستان په پلازمینې اسلام اباد کې پر لاره واچول شوه.
د غونډې پایله:
۱- په ترکیه کې د تجارت او پراختیا بانک پرانیستل
۲- د اېکو بیمې شرکت جوړول
۳- د تجارتي ټرانزیټ تړون لاسلیکول
۴- د اېکو د فرهنګي ځانګې جوړول
۵- د اېکو د علمي ځانګې جوړول
۶- د ملګرو ملتونو د پراختیا (UNDP) او د مخدره توکو د مخنیوي (UNCDP) سازمانونو د هوکړه لیکونو لاسلیکول
۷- د سازمان د غړو هېوادونو ترمنځ د ویزې په ورکړه کې د اسانتیا رامنځته کول
څلورمه غونډه په ۱۹۹۶ کال کې په ترکمنستان کې جوړه شوې وه.
پنځمه غونډه په ۱۹۹۸ کال کې د قزاقستان په الماتا کې جوړه شوه چې په ترڅ کې یې د اېکو سازمان د بنووونیزې مؤسسې منشور په کې لاسلیک شو.
شپږمه غونډه په ۲۰۰۰ کال کې په تهران کې جوړه شوه او غړو هېوادونو یو ځل په خپلو کې پر اقتصادي، علمي، کلتوري او سیاسي همکاریو ټینکار وکړ.
اوومه غونډه په ۲۰۰۴ کال کې د تاجکستان په پلازمېنه دوشنبې کې جوړه شوه چې له مخې یې د اېکو د ازادې سوداګرۍ د سیمې جوړولو هوکړه لیک لاسلیک شو.
اتمه غونډه په ۲۰۰۶ کال کې د ازربایجان په پلازمېنه باکو کې جوړه شوه. په دې غونډه کې هم غړو هېوادونو یو ځل بیا په بېلابېلو برخو کې پر همکاریو ټینګار وکړ.
د اېکو سازمان جوړښت:
افغانستان په ۱۳۷۱کال کې د دغه سازمان غړیتوب ترلاسه کړ. د اېکو اوسني غړي عبارت دي له:
افغانستان، ایران، پاکستان، ترکیه، تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، قزاقستان، قرغزستان او اذربایجان.

۱- د وزیرانو شورا (د سازمان تر ټولو عالي ارګان) ۲- قایم مقامه شورا ۳- د پلان او پالیسۍ جوړونې شورا ۴- فني کومېټې (تجارتي، صنعتي، تخنیکي، د ټرانسپورټ، اړیکو، کرنې، علمي، فرهنګي او د انرژۍ کمېټې). ۵- سکرتریت.

## ۲- افریقایي ټولنه African union

افریقایي ټولنه په ۲۰۰۱ کال کې د افریقا د یووالي سازمان او د افریقا اقتصادي ټولنې د یوځای کېدو په پایله کې رامنځته شوه. د یادې ټولنې مرکز د ایتوپیا په پلازمېنې ادیس بابا کې موقعیت لري.

د افریقایي ټولنې تاریخ د افریقایي دولتونو ټولنې ته ورګرځي چې په پیل کې د یوه کنفرانس په کچه وه او دغه کنفرانس د غنا د وخت ولسمشر قوام نکرومه په نوښت په ۱۹۶۰ لسیزه کې جوړ شوی و.

له دې وروسته د افریقا د یووالي په موخه بل ګام په ۱۹۶۳ کال کې د ایتوپیا د وخت ولسمشر هایله سلاسي په هڅو د افریقا د یووالي ټولنې جوړول و.

د یاد سازمان د جوړېدو اصلي موخه له افریقایي ولس څخه ملاتړ او د هغوی سیاسي ازادي وه، چې دا مهال لا د اروپایي هېوادونو د استعمار او ښکېلاک په بند کې وو.

دغه راز د افریقا د یووالي ټولنې بله موخه، پر یوه سیاسي مرکز د ټولو افریقایي هېوادونو راټولول او متحد کول وو.

په ۲۰۰۲ کال کې د افریقا د یووالي سازمان پر اساسنامې له سره کتنه وشوه او په همدې کال کې دیوې غونډې په ترځ کې چې د سویلي افریقا په دوربان ښار کې جوړه شوې وه، د همدې سازمان او د افریقا د اقتصادي ټولنې د اتحاد په پایله کې افریقایي ټولنه تأسیس شوه.

دغه ټولنه له مراکش پرته ۵۳ افریقایي غړي هېوادونه لري.

افریقایي ټولنه په لاندې پنځه اصولو ولاړه ده:

۱- د غړو هېوادونو بشپړه برابري

۲- د نورو په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه

۳- د افریقایي هېوادونو ټاکلو پولو ته درناوی او نه بدلون

۴- د خبرو، منځګړیتوب او جوړجاړي له لارې د افریقایي هېوادونو ترمنځ د ستونزو سوله ییز حل

۵- د افریقایي هېوادونو لپاره د سیمه ییزو ځانګړنو ټاکل او د همکارۍ په موخه د سیمه ییزو جوړښتونو رامنځته کول.

دغه ټولنه د خپلو اوږد مهاله پلانونو په لړ کې په پام کې لري چې د افرو (Afro) په نوم ګډ افريقايي پولي واحد او د افريقا له لويې وچې څخه د دفاع په موخه ځانګړی پوځ جوړ کړي.

د افريقايي ټولنې جوړښت:

۱- مشرتابه شورا: د ټولنې تر ټولو ستر رکن دی چې په کال کې يو ځل غونډه کوي.

تر دې مهاله نهه کنفرانسونه جوړ شوي دي:

- د دوربان کنفرانس- سويلي افريقا(۲۰۰۲)
- ماپوټو- موزامبيک (۲۰۰۳)
- اديس بابا- ايتوپيا (۲۰۰۴)
- ابوجا –نيجريا (۲۰۰۵)
- سيرت –ليبيا (۲۰۰۵)
- خرطوم– سوډان (۲۰۰۶)
- بانجول –ګامبيا (۲۰۰۶)
- اديس بابا- ايتوپيا (۲۰۰۷)
- اکراغنا (۲۰۰۷)

دې ټولنې تر اوسه دوه ځلي ځانګړې غونډې هم جوړې کړې دي، چې لومړۍ غونډه يې په افريقا کې د بې وزلۍ د له منځه وړلو په موخه په ۲۰۰۴ کال په ليبيا کې جوړه شوې وه.

دويمه غونډه يې د اصلاحاتو په موخه په ۲۰۰۵ کال په ايتوپيا کې جوړه شوه.

۲- د وزيرانو شورا: دغه شورا د غړو هېوادونو د بهرنيو چارو له وزيرانو څخه جوړه شوې ده چې په کال کې دوه ځلي غونډه کوي.

د شورا اصلي دنده د مشرتابه کنفرانس لپاره د بحث وړ موضوعاتو په ګوته کول او په ډاګه کول دي او دغه راز د مشرتابه کنفرانس د پرېکړو پلي کول او د افريقايي هېوادونو ترمنځ د ستونزو او شخړو سوله ييز حل هم د وزيرانو شورا له واکونو څخه دي.

۳- سکرتريت: سکرتريت په سر کې يو منشي لري او منشي د ټولنې د اداري چارو مشري پرغاړه لري.

ټاکل شوې چې افريقايي ټولنه په راتلونکي کې خپل تشکيلات پراخ کړي او يو شمېر نورې څانګې هم جوړې کړي چې دغه څانګې په لاندې توګه اټکل شوې دي:

۱- افريقايي پارلمان
۲- د افريقايي ټولنې اسامبله
۳- د افريقايي ټولنې کمېسيون
۴- افريقايي محکمه

**۵**- اجرایوي شورا
**۶**- د استازو کمېټه
**۷**- د سولې او امنیت شورا
**۸**- اقتصادي، ټولنیزه او فرهنګي شورا
**۹**- فني او تخصصي کمېټه
**۱۰** - مالي مؤسسې
**۱۱**- د بشري حقونو مؤسسې

### د شا نګهای د همکارۍ سازمان shanghai cooperation organization

شانګهای سازمان په ۲۰۰۱ کال کې د چین، روسیې، قزاقستان، قرغېزستان، ازبکستان او تاجکستان هېوادونو له خوا د ګډو امنیتي، اقتصادي او فرهنګي همکاریو په موخه جوړ شوی دی.

شانګهای سازمان په حقیقت کې د (شانګهای **۵** ډلې) ترکیب دی، چې په **۱۹۹۶** کال کې د چین، روسیې، قزاقستان، قرغېزستان او تاجکستان ترمنځ د خپل منځي باور د پیاوړتیا په موخه د یوه تړون له مخې رامنځته شوی و.

یادو هېوادونو په **۱۹۹۷** کال کې په مسکو کې بله غونډه وکړه چې په ترڅ کې یې په سرحدي پولو کې د پوځیانو د کمولو په موخه یو هوکړه لیک لاسلیک کړ.

خو په **۲۰۰۱** کال کې له دې تړون سره د ازبکستان په یوځای کېدو سره د شانګهای د همکارۍ سازمان په نوم ونوموول شو.

چین، روسیه، تاجکستان، ازبکستان، قزاقستان او قرغېزستان د شانګهای تړون اصلي او بنسټګر غړي دي او افغانستان، هند، ایران، پاکستان او منګولیا څارونکی غړیتوب لري.

افغانستان په **۲۰۱۲** کال کې د شانګهای څارونکی غړی شو، افغانستان ته د غړیتوب له ورکړې وروسته د چین د بهرنیو چارو وزارت وویل چې د افغانستان امنیت او ثبات د سیمې لپاره مهم دی او تمه ده چې افغانستان به د ناظر غړیتوب په ترلاسه کولو سره په سیمه کې د امنیت او ثبات لپاره خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړي.

د شانګهای سازمان موخې:

۱- په سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو او پوځي چارو کې د همکارۍ پیاوړتیا
۲- د غیر قانوني کړنو، تروریزم، بېلتون پالنې او د غیر قانوني کډوالۍ پروړاندې ګډه مبارزه
**۳**- د هېوادونو واکمنۍ ته درناوی
**۴**- د بالسټیک ضد توغندیو تړون ته درناوی

**۵- د سیمې امنیت**

دغه سازمان دوه ډوله جوړښت لري، چې لومړی یې د سازمان د غونډو مېکانیزم دی او بل دایمي څانګې دي لکه:

۱- د دولتونو د مشرانو شورا (لومړي وزیران)

۲- د بهرنیو چارو وزیرانو شورا

۳- د ملي اژانسونو د مشرانو غونډه (تر اوسه د شانګهای سازمان د دفاع، اقتصاد، سوداګرۍ، ټرانسپورټ او فرهنګ وزیرانو او د امنیتي چارواکو لکه کورنیو چارو وزیرانو، لوی څارنوالان او د غړو هېوادونو مرستندویه سازمانونو مشرانو غونډې ترسره شوې دي).

۴- ملي همغږې کوونکې شورا

۵- سکرتریت

۶- د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې سیمه ییز مرکز

چین او روسیه د تړون مهم او برجسته غړي دي او پر نړۍ کې د امریکا د نفوذ مخنیوی د سازمان اساسي موخه ده.

د شانګهای سازمان سیاسي دریځونه، لکه په ۲۰۰۵ کال کې د یوه ټاکلي مهالوېش له مخې د شانګهای له غړو هېوادونو څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو غوښتنه او د ترهګرۍ ضد ګډ پوځي تمرینات سبب شوي، چې دغه سازمان د ختیځ ناټو په نوم یاد شي.

**د سویلي اسیا د سیمه ییزې همکارۍ سازمان (سارک)**

**South asia association for regional cooperation**

د سویلي اسیا د سیمه ییزې همکارۍ سازمان د جوړېدو وړاندیز په ۱۹۷۰ لسیزه کې د بنګله دېش د ولسمشر ضیانور رحمان له خوا وشو.

د بنګله دېش دغه وړاندیز په ۱۹۸۳ کال کې د کولمبو په غونډه کې د هند، پاکستان او سریلانکا له هرکلي سره مخ شو.

د همدې کال په اګست میاشت کې د نوي ډیلي په سرمشریزه کې د بنګله دېش، سریلانکا، هند، پاکستان، نیپال، مالدیف او بوتان هېوادونو له خوا د سارک سازمان د جوړېدو اعلامیه لاسلیک شوه او غړو هېوادونو هوکړه وکړه چې په لاندې پنځو برخو کې به ګډه همکاري کوي:

۱- د کرنې او کلیوالو سیمو پراختیا، ۲- اړیکې، علم، ټکنالوژي او هوا پېژندنه

۳- خلکو ته روغتیایي خدمات ۴- ټرانسپورټ ۵- د انساني سرچینو لوړول.

افغانستان په ۲۰۰۵ کال کې د سارک سازمان څارونکی غړی شو او په ۲۰۰۷ کال کې یې بشپړ غړیتوب ترلاسه کړ.

امریکا په ۲۰۰۵ او چین په ۲۰۰۷ کال کې او دغه راز جاپان، سویلي کوریا او اروپایي ټولنه هم په سارک کې څارونکي غړي شول.
د سارک سازمان جوړښت ډېر ساده دی او یوازې د غړو هېوادونو د مشرانو او بهرنیو چارو وزیرانو په کچه یو کنفرانس او همدا راز یو سکرتریت لري، چې د نیپال په کتمندو ښار کې دی.
د سارک سازمان په اولسمه سرمشریزه کې د غړو هېوادونو ترمنځ یو هوکړه لیک لاسلیک شو، چې له مخې یې په سیمه کې په ګمرکي تعرفو کې کموالی راغی.
همدا راز د سارک په دولسمه سرمشریزه کې چې په ۲۰۰۴ کال په اسلام اباد کې جوړه شوې وه، د سویلي اسیا د ازادې سوداګرۍ تړون (سفتا) لاسلیک شو او په ۲۰۰۷ کال کې د اجرا وړ وګرځېد.
په ۲۰۰۵ کال کې غړو هېوادونو د یوه پولي صندوق پر جوړولو هم هوکړه وکړه او د صندوق د چارو د پرمخ بیولو لپاره د یوې ځانګړې مالي څانګې د جوړولو وړاندیز وشو.
دغه راز په ۲۰۰۵ کال کې غړو هېوادونو هوکړه وکړه چې د ۲۰۱۵ کال ترپایه د سارک د غړو هېوادونو ټول صادرات به په ګمرکي معافیت کې شامل کړي.
د سارک د غړو هېوادونو پر مخ پرتې ننګونې:
۱- جمو او کشمیر پر سر د هند او پاکستان ترینګلې اړیکې
۲- د هند او بنګله دېش ترمنځ د کینګ رود د اوبو د وېش پر سر ستونزه
۳- د تامیل پړانګانو د بېلتون پاله غورځنګ پر سر د هند او سریلانکا ستونزه
۴- د نفوسو زیاتوالی، اقتصادي کمزوري او د منابعو نشتوالی
۵- په سازمان کې د رایې اچونې ډول چې د رایو په اتفاق ترسره کېږي، دغه چاره د سازمان پرېکړې له خنډ سره مخ کوي.

## د سویل ختیځې اسیا د ملتونو ټولنه (ASEAN)

**Asociation of southeast asia nations**

دغه ټولنه د مالیزیا، فلپین، اندونیزیا، تایلنډ او سنګاپور هېوادونو له خوا د ۱۹۶۷ کال د اګست په اتمه د تایلند په بنکاک ښار کې جوړه شوه.
وروسته برونې دارالسلام په ۱۹۸۴ کال کې، ویتنام په ۱۹۹۵، لاووس او میانمار په ۱۹۹۷ کال او کامبوج په ۱۹۹۹ کال کې له دې ټولنې سره یو ځای شول.
د سویل ختیځې اسیا د ملتونو ټولنې موخې د بنکاک په اعلامیه کې داسې بیان شوې دي:
د ګډو همکاریو پراختیا او په اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي، فني او څېړنیزو برخو کې متقابلې مرستې.

په یاده اعلامیه کې د چاپېریال ساتنې او د بشري حقونو او ډیموکراسۍ د تحقق په برخه کې د غړو هېوادونو ترمنځ پر همکارۍ هم ټینګار شوی دی.

یاده ټولنه د دولتي تشکیلاتو او د یو لړ غیر انتفاعي تشکیلاتو لرونکې ده.

په دولتي تشکیلاتو کې یې د دولتونو د مشرانو او بهرنیو چارو وزیرانو غونډې شاملې دي.

د سویل ختیځې اسیا د ملتونو ټولنه ځیني کاري کمېټې هم لري.

د **Asean** غونډې: د سویل ختیځې اسیا د ملتونو ټولنې سرمشریزې غونډې په کال کې یو ځل په یوه غړي هېواد کې جوړېږي او پر سیمه ییزو موضوعاتو خبرې اترې کوي. غونډې معمولاً درې ورځې وخت نیسي او د کار طرزلعمل یې داسې دی چې غړي هېوادونه لومړی د مشرانو په کچه یوه غونډه جوړوي او وروسته دغه مشران د ټولنې د سیمه ییزې اسامبلې د بهرنیو چارو له وزیرانو سره ګډه غونډه جوړوي.

د سویل ختیځې اسیا د ملتونو ټولنې سیمه ییزه مجمع: دغه مجمع په ۱۹۹۴ کال کې له ۲۷ غړو هېوادونو څخه جوړه شوې ده، چې لس یې په خپله د سویل ختیځې اسیا د ملتونو ټولنې غړي دي او پاتې نور یې د بنګله دېش، کاناډا، چین، امریکا، اروپایي ټولنه، هند، جاپان، سویلي کوریا، شمالي کوریا، منګولیا، پاکستان، نوی زیلاند، روسیه، ختیځ تیمور، پاپواګوینیا او سریلانکا دي.

د یادې مجمع اساسي موخه د اسیایي او پاسفیک هېوادونو ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د همکاریو پراختیا ده.

د اروپا- اسیا غونډه: د اروپایي ټولنې او د سویل ختیځې اسیا د ملتونو ټولنې ترمنځ د غیر رسمي خبرو یو بهیر دی، چې په ۱۹۹۶ کال کې پیل شوی دی.

ابشن (**Asean**) جمع درې: دا د اېشین ټولنې د غړو او د چین، جاپان او جنوبي کوریا د هېوادونو ترمنځ غونډه ده چې د خپل منځي اړیکو د پراختیا په موخه ترسره کېږي او د اېشین جمع درې غونډې په نوم یادېږي.

د اېشین- روسیې غونډه (**Asean – Russia summit**): د اېشین ټولنې مشرانو او روسیې ترمنځ هر کال یو ځل غونډه دایرېږي چې د بېلابېلو موضوعاتو په اړه په کې بحث کېږي. ټاکل شوې ده چې د امریکا متحده ایالتونو سره هم دې ته ورته یو پلان عملي شي.

د ختیځې اسیا غونډه (**East asia summit**): یوه بشپړه اسیایي غونډه ده چې د ختیځې اسیا او د اېشین سیمې د شپاړسو هېوادونو له خوا په کال کې یو ځل جوړېږي.

روسیې په ۲۰۰۵ کال کې دې غونډې ته د ګډون وړاندیز وکړ او اوسمهال څارونکی غړیتوب لري.

دا غونډه په کال کې یو ځل د اېشین له سرمشریزې وروسته دایرېږي.

د اېشين سر ناسته (Asean cer meeting): د اېشين د غړو هېوادونو او استراليا او نوي زيلنډ ترمنځ خبرې د اېشين – سر ناستې په نوم يادېږي.

**د اېشين د ازادې سوداګرۍ سيمه (افټا)**

د اېشين ټولنې د غړو ترمنځ د تجارتي او ګمرکي تعارفو د له منځه وړلو په موخه په ۱۹۹۲ کال کې د سينګاپور تړون لاسليک شو.
خو د سويل ختيځې اسيا د ملتونو ټولنې غړو د تړون ځيني مادې ونه منلې او يوازې يوه برخه يې ومنله.

**د اېشين د خلاصې فضا تړون Asean open sky agreement**

دغه طرحه چې د اېشين د غړو هېوادونو ترمنځ د ازاد هوايي تګ راتګ په موخه وړاندې شوې وه، د غړو هېوادونو د ټرانسپورټ وزيرانو له خوا په ۲۰۰۳ کال کې د ميانمار په غونډه کې لاسليک او په ۲۰۰۹ کال کې د اجرا وړ وګرځېده.
د ياد تړون له مخې لومړی يوازې د غړو هېوادونو د پلازمېنو د ښارونو ترمنځ ازاد هوايي تګ راتګ ته اجازه ورکړل شوې وه، خو له ۲۰۱۵ څخه وروسته نور ښارونه هم په کې راځي.

**د فارس خليج د همکارۍ شورا Persian gulf coopertation council**

د فارس خليج د همکارۍ شورا د شپږو خليج هېوادونو عربستان، کويټ، قطر، بحرين، عمان او متحده عربي اماراتو له خوا په ۱۹۸۰ کال کې د طايف کنفرانس په څنډه کې د يوې غير رسمي ناستې په ترڅ کې يې بنسټ کېښودل شو.
د فارس خليج د همکارۍ شورا موخې:

- د داخلي نا امنيو په وړاندې د غړو متقابله همکاري او مرسته
- د بهرنيو ګواښونو پر وړاندې د غړو ګډه همکاري او مرسته
- په فارس خليج کې د امنيت د ټينګښت لپاره هلې ځلې
- د غړو هېوادونو په بهرني سياست کې همغږي
- د غړو هېوادونو په دفاعي سياست کې همغږي
- اقتصادي همکارۍ
- د غړو ترمنځ د ګډ بازار رامنځته کول
- په صنعتي چارو کې همغږي
- په ټولنيزو او فرهنګي چارو کې همکاري

۱- عالي شورا: عالي شورا د شپږو غړو هېوادونو له مشرانو څخه جوړه ده چې په کال کې دوه ځلې غونډه کوي. شورا یو کمېسیون لري چې د ستونزو او اختلافونو د حل په موخه فعالیت کوي.
۲- د وزیرانو شورا: د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو له وزیرانو تشکیل شوې ده، چې په هرو دربو میاشتو کې یو ځل غونډه کوي. د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو له وزیرانو څخه پرته، نور وزیران هم کولی شي په غونډو کې برخه واخلي.
۳- سکرتریت: د سکرتریت په رأس کې منشي ځای لري او مرکز یې د سعودي عربستان په پلازمېنه ریاض کې دی.
۴- تخصصي کمېسیونونه: د فارس خلیج د همکارۍ شورا بېلابېل تخصصي کمېسیونونه لري چې مهم یې په دې توګه دي: د اقتصادي او ټولنیزې پالیسۍ جوړونې کمېسیون، د مالي، اقتصادي او سوداګرۍ د همغږۍ کمېسیون، د صنعتي همکاریو کمېسیون، د نفتي پالیسو کمېسیون او د فرهنګي او ټولنیزو پالیسو کمېسیون.
که څه هم د فارس خلیج د همکارۍ شورا د جوړېدو اصلي موخه د غړو ترمنځ اقتصادي همکاري ده، خو د سیمې امنیت او ثبات د دې شورا له مهمو لومړیتوبونو څخه دي.
په ۱۹۸۱ کال کې د شورا د غړو ترمنځ د اقتصادي همکاریو یو هوکړه لیک لاسلیک شو چې د ګمرکي محدودیتونو لرې کول، ګډه بهرنۍ سوداګري او د نفتي او صنعتي پالیسۍ همغږي کول د یاد هوکړه لیک اصلي موضوعات دي.
د بهرنیو امنیتي ګواښونو پر وړاندې د دیارلس زره کسیز چټک غبرګون ځواکونو جوړول، د فارس خلیج د همکارۍ شورا له مهمو هڅو څخه ګڼل کېږي.

## د ګډو ګټو خپلواک هېوادونه Commonwealth of independent

د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته روسیې، اوکراین او بلاروس په ۱۹۹۱ کال کې د بلاروس په برېسټ ښار کې د دغه سازمان هوکړه لیک لاسلیک کړ او اعلان یې وکړ چې دا یوه نوې ټولنه ده، چې د پخواني شوروي اتحاد د جمهوریتونو په ګډون ټول هېوادونه کولی شي چې ددې ټولنې غړي شي.
د ۱۹۹۱ کال د ډسمبر په ۲۱ مه د پخواني شوروي اتحاد د نهو هېوادونو مشرانو (روسیې، اوکراین، بلاروس، تاجکستان، ازبکستان، قزاقستان، قرغېزستان، ارمنستان او ترکمنستان) د قزاقستان په الماتا ښار کې د ګډو ګټو خپلواکو هېوادونو منشور لاسلیک کړ، چې په لومړي سر کې دغه تړون په دو- فاکټو ډول په تصویب ورسېد.
په یاد تړون کې راغلي، چې ټول غړي هېوادونه د خپلواک او د ملي واکمنۍ لرونکي دي.

ایستونیا، لاتویا او لېتوانیا په ټولنه کې له غړیتوب څخه ډډه وکړه، خو ازربایجان او ګرجستان په ۱۹۹۳ کال او مولداویا په ۱۹۹۴ کال کې له تړون سره یو ځای شول.

د ګډو ګټو د خپلواکو هېوادونو د سازمان جوړښت:

د دولتونو د مشرانو شورا، د بهرنیو چارو د وزیرانو شورا، د دفاع وزیرانو شورا، د سرحدي ځواکونو د قوماندانانو شورا، اقتصادي شورا، د غړو هېوادونو د دایمي استازو شورا، اجرایوي کمېټه او د پوځي همکاریو د همغږۍ مرکز چې د ګډو ګټو خپلواکو هېوادونو د وسلوالو ځواکونو د لوېي قوماندانۍ په توګه په ۱۹۹۲ کال کې جوړ شوی دی.

د بین المجالس غونډه چې د یوه مشورتي بنسټ په توګه په ۱۹۹۲ کال کې د غړو هېوادونو د پارلمانونو له استازو جوړې شوې ده، په کال کې دوه ځلي د روسیې په سنټ پېټرزبورګ کې غونډه کوي.

د بین المجالس غونډه همدغه راز په حقوقي، اقتصادي او مالي، سیاسي، ټولنیز، بشري حقوق، چاپېریال ساتنې او طبیعي زېرمو، امنیتي، دفاعي، فرهنګي، علمي او اطلاعاتي برخو دایمي کمېسیونونه لري.

ددې سازمان سکرتریت په بلاروس هېواد کې موقعیت لري چې یو اجرایوي منشي یې په رأس کې قرار لري او منشي د ټولو اداري چارو مسؤلیت پر غاړه لري.

د غړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو په موخه بېلابېل اژانسونه هم جوړ شوي دي.

د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۵ کلونو ترمنځ په درې غړو هېوادونو (ګرجستان، اوکراین او قرغېزستان) کې د رنګینو انقلابونو په پایله کې لوېدیځ پلوه مشران واک ته ورسېدل، چې د ګډو ګټو خپلواکو هېوادونو سازمان یې له جدي ستونزو سره مخ کړ.

ګرجستان په ۲۰۰۷ کال کې د سازمان د دفاع وزیرانو له شورا څخه ووت. دغه راز ترکمنستان هم په ۲۰۰۵ کال کې خپل غړیتوب دویمي کچې (associate member) ته راټیټ کړ.

## د ګډو ګټو خپلواکو هېوادونو ګډ امنیتي تړون CIS security treaty

ګډ امنیتي تړون د روسیې، ارمنستان، تاجکستان، ازبکستان، قرغېزستان او قزاقستان ترمنځ په ۱۹۹۲ کال په مې میاشت کې د ازبکستان په پلازمېنه تاشکند کې لاسلیک شو.

دغه تړون چې د پنځو کلونو لپاره لاسلیک شوی و، په ۱۹۹۹ کال کې یو ځل بیا د روسیې، بلاروس، تاجکستان، ارمنستان، قرغېزستان او قزاقستان له خوا د نورو پنځو کلونو لپاره تمدید شو او ځیني اصلاحات هم په کې راوستل شول. خو ازربایجان، ازبکستان او ګرجستان تړون تمدید نه کړ او له تړون څخه ووتل.

په ۲۰۰۲ کال کې د تړون په دریېیم ځل تمدید کولو سره د غه تړون د ګډ امنیتي تړون سازمان تر کچې پراختیا ومونده. ازبکستان په ۲۰۰۶ کال کې بېرته له تړون سره یو ځای شو.

## د اسیا – پاسفیک د اقتصادي همکاریو سازمان

## Asia – pacific economic coopertation

په ۱۹۸۹ کال کې د استرالیا لومړي وزیر بای هوک د اسیا- پاسفیک په سیمه کې د اغېزناکو اقتصادي همکاریو غوښتنه وکړه.
په همدې اړه د استرالیا، کاناډا، امریکا متحده ایالتونو، جاپان، سویلي کوریا، فلپین، اندونیزیا، مالیزیا، تایلنډ، سنګاپور، بروني دارلسلام او د نیو زیلند د بهرنیو چارو وزیرانو په استرالیا کې د (اسیا- پاسفیک د اقتصادي همکاریو سازمان) بنسټ کېښود.
چین او هانګ کانګ په ۱۹۹۱، مکسیکو او نوی پاپو اګوینیا په ۱۹۹۳، چیلي په ۱۹۹۴، پیرو، روسیه او ویتنام په ۱۹۹۸ کال کې د دې سازمان غړي شول.
اپېک سازمان په کال کې یو ځل په سینګاپور کې سرمشریزه غونډه دایروي او د غونډې ګډونوال د کوربه هېواد له دود سره سم د یاد هېواد ملي جامې اغوندي.
د اپېک لومړنۍ غونډه په ۱۹۹۳ کال کې په واشنګټن کې جوړه شوه او په دې غونډه کې د سوداګریزو او ګمرکي محدودیتونو د کمولو په اړه بحث وشو.
د ۱۹۹۴ کال په سرمشریزه کې چې د اندونیزیا په بوګور کې جوړه شوې وه، د (بوګور اهدافو) په نوم د اپېک سازمان موخې په کې وټاکل شوې چې د سیمې اقتصادي ښېرازي، د ازادې پانګونې او سوداګرۍ په مټ د اقتصادي همکاریو پراختیا، اقتصادي اصلاحات او تر ۲۰۱۰ کاله پورې د صنعتي اقتصاد او تر ۲۰۲۰ کال پورې د مخ پر ودې اقتصاد لپاره د اسیا – پاسفیک په سیمه کې ۵ سلنې ځځه تر صفر کچې ته د تعرفو رسول؛ د اپېک سازمان له یادو موخو څخه دي.
په ۲۰۰۱ کال کې د اپېک سازمان په سرمشریزه کې چې د چین په شانګهای کې جوړه شوې وه، د امریکا له لوري د شانګهای په نوم د هوکړه لیک طرحه چې د اسیا- پاسفیک د اقتصادي همکاریو سازمان د ازادو بازارونو په رامنځته کولو، اصلاحاتو او ظرفیت لوړونې په اړه په کې ټینګار شوی و، د غړو له لوري ومنل شو. همدا راز غړو هېوادونو د یاد هوکړه لیک د یوې برخې په توګه ژمنه وکړه چې د شفافیت معیارونه به پیاوړي او پلي کړي.
دا راز د اسیا- پاسفیک په سیمه کې د راتلونکو ۵۰ کلونو په لړ کې د سوداګریزو معاملو په لګښتونو کې په ۵۰ سلنه کموالي او د ازادې سوداګرۍ د چارو پر پراختیا هم هوکړه وشوه.

د ۲۰۰۴ کال په سرمشریزه کې چې د چیلي په سانتیاګو ښار کې جوړه شوې وه، د ترهګرۍ ضد مبارزې، تجارت، د پراختیا او د ازادې سوداګرۍ د هوکړه لیکونو پر ارزونې خبرې وشوې.

د یادونې ده، چې د چین د فشارونو له امله، تایوان نه شي کولی چې د (چین جمهوریت) یا (تایوان) نوم ځان ته وکاروي او دغه هېواد په اپېک سازمان کې باید د چین تیپه په نوم یاد شي.

له همدې امله د چین ولسمشر ځیني وخت د سازمان په سرمشریزه کې برخه نه اخلي او غونډې ته خپل د اقتصاد وزیر لېږي.

هندوستان هم په ۲۰۰۷ کال کې د اسیا- پاسفیک د اقتصادي همکاریو سازمان ته د غړیتوب وړاندیز کړی دی.

## درېیمه برخه:

# امریکایي سازمانونه

د امریکا په لویه وچه کې یوازېنی سازمان چې فعالیتونه یې تر لویې وچې پورې محدود دي، د امریکایي هېوادونو سازمان (پان امریکانیزم) دی. د امریکایي سازمانونو د فعالیتونو ساحه معلومه او محدوده ده.

له همدې امله امریکایي سازمانونه په څلورو برخو وېشل شوي دي:

۱- د امریکایي هېوادونو سازمان

۲- د مرکزي امریکا د هېوادونو کنفرانس

۳- د لاتیني امریکا هېوادونو کنفرانس

۴- د کارابین حوزې د هېوادونو کنفرانس

### د امریکایي هېوادونو کنفرانس

د امریکا د لویې وچې د پیوستون په موخه هلې ځلې اوږده تاریخي سابقه لري. سیمون بولیوار چې د نولسمې پېړۍ په لومړیو کې د لویې کولمبیا (اکوادور، پانامې، کولمبیا، وینزویلا) مشري کوله، له یو شمېر هېوادونو سره د استازو جرګې د جوړېدا په موخه دوه اړخیزه تړونونه لاسلیک کړل چې د امریکایي هېوادونو په ګډون د یوه کنفدراسیون د جوړېدو یادونه په کې شوې وه.

د استازو جرګه په ۱۸۲۲ کال په پانامې هېواد کې جوړه شوه، خو د انګلستان له لوري د یو لړ سیاسي فشارونو له امله دغه جرګه له ماتې سره مخ شوه. خو له دې سره سره بیا هم د امریکایي

سازمانونو د جوړېدا هڅې روانې وې، چې په همدې موخه په ۱۸۴۷ او ۱۸۶۴ کلونو کې د پيرو هېواد په نوبت دوه کنگرې جوړې شوې.
په لومړۍ کنگره کې د کنفدرال نظام د جوړېدا په اړه وړانديز شوی و چې د غړو هېوادونو حاکميت په کې محدود شوی و.
دويم تړون د سولې د ټينگښت په اړه او وروستی تړون د امريکايي هېوادونو ترمنځ د يووالي په موخه لاسليک شول.
خو دغه تړونونه يوازې د کاغذ پر مخ پاتې شول او هېڅکله يې عملي بڼه خپله نه کړه.
د سيمون بوليوار د طرحې د عملي کولو لپاره، د جېمز بلين په نوم د امريکا متحده ايالتو يو چارواکي نوموړې طرحه تر بيا کتنې لاندې ونيوله.
بلين په ۱۸۸۹ کال په واشنگټن کې د يو شمېر امريکايي هېوادونو په گډون يو کنفرانس جوړ کړ او په دې بريالی شو چې د امريکايي هېوادونو کنفدراسيون رامنځته کړي.
دې کنفدراسيون په پيل کې منظم جوړښت نه درلود او فعاليتونه يې يوازې د امريکايي جمهوريتونو تجارتي دفتر پورې محدود وو.
کنفدراسيون همدغه راز گڼ شمېر کنفرانسونه پر لاره واچول او په نهم کنفرانس چې په ۱۹۴۸ کال د کولمبيا په بوگاتا کې جوړ شوی و، د امريکايي هېوادونو د سازمان منشور په کې تصويب شو.
د بوگاتا منشور له مخې د امريکايي هېوادونو د ټولنې په جوړښت کې بدلون راغی او د امريکايي هېوادونو سازمان بڼه يې غوره کړه.
منشور چې ۱۱۲ مادې او يوه مقدمه لرله، د ۱۹۵۱ کال د ډسمبر په ۱۳ د اجرا وړ وگرځېد. خو دا منشور د امريکايي هېوادونو د سازمان په دويم کنفرانس کې چې په ۱۹۶۵ کال په ريو جينيريو کې جوړ شوی و، د سازمان په سياسي او اقتصادي برخو کې د بدلون په موخه په منشور کې ځيني اصلاحات رامنځته شول.
د منشور دويم ځل اصلاح په ۱۹۸۵کال د کولمبيا په کارتجنا کې ترسره شول، چې د دې اصلاح له مخې د سازمان منشي ته د ملگرو ملتونو د منشي په څېر پراخ واکونه ورکړل شول.
د يادې اصلاحيې له مخې همدغه راز د هغو خپلواکو سيمو په اړه چې ټاکل شوې وه استقلال ترلاسه کړي، د غړيتوب لپاره ورته ځيني مقررات وټاکل شول.

## د مرکزي امريکا د هېوادونو سازمان

د مرکزي امريکا د سازمان غړي هېوادونه (کاستاريکا، گواتيمالا، نيکاراگوا، هاندوراس او السلوادار) تر ۱۸۲۱ کال پورې د هسپانيا مستعمره وو چې د گواتيمالا اماراتو په نوم يادېدل.

دا مستعمره هېوادونه په ۱۸۲۳ کال کې د (مرکزي متحده ايالتو) په نوم په يوه فدرال نظام کې مدغم شول.
دا نظام تر هغه په خپل ځای پاتې شو، ترڅو چې په ۱۸۳۸ کال یاد هېوادونه خپلواک شول.
خو تر خپلواکۍ وروسته هم د مرکزي امریکا د هېوادونو ترمنځ د یووالي په موخه هڅې روانې وې چې له دې جملې د ۱۹۰۷ کال د واشنګټن تړون د یادولو دی.
یاد تړون د مرکزي امریکا هېوادونو ترمنځ د یوه کنفدراسیون د جوړېدا په منظور لاسلیک شوی و او بالاخره لس کاله وروسته رنګ شو.
په ۱۹۵۱ کال کې د مرکزي امریکا د پنځو هېوادونو له خوا د سن سلوادور منشور لاسلیک شو چې د یادو هېوادونو ترمنځ د وحدت د ټینګښت په برخه کې یو اغېزمن اقدام و. خو په ۱۹۶۲ کال کې د همدې هېوادونو ترمنځ د السلوادور منشور بل نوی تړون لاسلیک شو، چې د مرکزي امریکا هېوادونو د سازمان اساس ګڼل کېږي او تر ډېره د بوګاتا له منشور څخه یې الهام اخیستی دی.
د مرکزي امریکا هېوادونو سازمان اصلي څانګې:
۱- د ولسمشرانو شورا، ۲- د بهرنیو چارو د وزیرانو کنفرانس، ۳- اقتصادي شورا، ۴- مرکزي دفتر، ۵- سکرتریت.
د سازمان تر ټولو مهمه څانګه د بهرنیو چارو د وزیرانو کنفرانس دی، چې په کال کې یو ځل غونډه کوي او پرېکړې یې هم د رایو په یووالي ترسره کېږي.
اقتصادي شورا په ۱۹۵۸ کال په هاندوراس هېواد کې د یوې غونډې په ترڅ کې د (مرکزي امریکا ګډ بازار) بنسټ کېښود.
د مرکزي اسیا د ګډ بازار د پرانیستلو تړون د هاندوراس، نیکاراګوا، السلوادور او ګواتیمالا ترمنځ لاسلیک شو. وروسته کاستاریکا هم په ۱۹۶۲ کال کې له دې تړون سره یو ځای شوه.
ددې تړون موخه د غړو هېوادونو ترمنځ د ملي اقتصاد یووالی، د یوه پراخ اقتصادي بازار رامنځته کول، د تولید وده، سوداګریزه راکړه ورکړه او د غړو هېوادونو د ولسونو د ژوند د کچې لوړول دي.
د مرکزي امریکا ګډ بازار تر ۱۹۲۹ کال پورې چې د (فوټبال جګړې) بحراني کال په نوم یادېده، د مخ پر ودې هېوادونو ترمنځ یوه بریالۍ ټولنه وه چې ډېرې لاسته راوړنې یې لرلې.
د فوټبال جګړه چې د هاندوراس او السلوادور ترمنځ رامنځته شوې وه، د مرکزي امریکا د ګډ بازار د له منځه تلو سبب شوه چې په پایله کې هاندوراس له دې تړون څخه ووت.

د يادونې وړ ده، چې له ۱۹۷۲ کال وروسته د مرکزي امريکا هېوادونو سازمان د غړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي اړيکو د پياوړتيا لپاره ډېرې هڅې شوي دي او دغه هڅې د (مرکزي امريکا د اقتصادي او ټولنيزې شورا ) د جوړېدا سبب شوې دي.

**د لاتينې امريکا د هېوادونو سازمان**

د لاتينې امريکا د هېوادونو ترمنځ ګډو فرهنګي، اقتصادي او سياسي اړيکو ته په پام او په سيمه کې د امريکا متحده ايالتونو اقتصادي قدرت پر وړاندې د مبارزې په موخه په اقتصادي برخه کې ګڼ شمېر سازمانونه رامنځته شوي دي. لکه: د لاتينې امريکا د ازادې سوداګرۍ ټولنه، د انډين ډله، د لاتينې امريکا اقتصادي ټولنه.

الف- د لاتينې امريکا د ازادې سوداګرۍ ټولنه

دا ټولنه د ملګرو ملتونو د اقتصادي کمېسيون د ملاتړ پر اساس په ۱۹۲۰ کال کې د (مونټېا وېډيو ) تړون له مخې تأسيس شوه.

د ټولنې غړي عبارت دي له: يوروګواى، برازيل، ارجنټاين، پاراګواى، پيرو، چيلي، مکزيک، کولمبيا، اکوادور، وينزويلا او بوليويا.

په نوموړي تړون کې د غړو هېوادونو اقتصادي ستونزو ته يو لړ شرايط په پام کې نيول شوي چې د (تأمين شرايطو ) په نوم يادېږي.

ددې شرايطو له مخې کله چې کوم غړى هېواد له اقتصادي ستونزو، له دې جملې د بوديجې له کسر سره مخ شي، د غړو هېوادونو په خوښه کولى شي چې په ازاد تجارت پورې اړونده مقررات په مؤقت ډول وځنډوي.

په ۱۹۲۹ کال د غړو هېوادونو له خوا د کاراکاس کنفرانس جوړ شو چې په ترڅ کې يې د (مونټېا وېډيو ) په تړون کې ځيني اصلاحات رامنځته شول. خو دغه تړون د غړو هېوادونو ترمنځ د يو لړ ستونزو له امله ونه شو کړاى، چې د تجارت ازاده سيمه جوړه کړي.

وروسته له دې چې د يادو هېوادونو له خوا دا هڅې له ناکامۍ سره مخ شوې، په ۱۹۸۰ کال کې يې يوه اقتصادي ټولنه جوړه کړه.

د دې ټولنې د جوړولو هدف د ګمرکي ماليې له منځه وړل و. دغه ټولنه د لاندنيو درې کوچنيو ټولنو له يوځاى کېدا څخه جوړه شوې ده:

د وروسته پاتې هېوادونو ټولنه (اکوادور، پاراګواى)

د منځنۍ کچه پرمختللي هېوادونه (کولمبيا، چيلي، پيرو، يوروګواى)

او پرمختللي هېوادونه (ارجنټاين، مکسيکو، برازيل)

ب- اندین (Andin) ډله: د اندین هوکړه لیک د یوه سیمه ییز تړون په توګه د لاتیني امریکا د ازاد تجارت په چوکاټ کې په ۱۹۶۹ کال د بولیویا، چیلي، اکوادور، کولمبیا او پیرو هېوادونو ترمنځ لاسلیک شو.
وینزویلا په ۱۹۷۳ کال کې له دې تړون سره یو ځای شوه. خو چیلي د ګمرکي مالیاتو له معافیت او د پانګې اچونې په برخه کې له ځینو مقرراتو سره د مخالفت له امله په ۱۹۷۶ کال کې له تړون څخه ووت.
اندین تړون په خپل جوړښت کې یو کمېسیون لري چې د ټولو غړو هېوادونو له استازو څخه جوړ شوی دی.
اداري شورا ددغه سازمان بله څانګه ده چې له درې غړو څخه جوړه شوې ده او دنده یې په تړون پورې د اړونده فني چارو څېړل او کمېسیون ته د کاري پلانونو جوړول دي. پر دې سربېره اداري شورا د سکرتریت دنده هم پر غاړه لري.
په یاد تړون کې راغلي، چې غړي هېوادونه په خپلو کې ګمرکي مالیې معاف کوي او د تجارت په وړاندې د شته خنډونو په له منځه وړو کې هڅې کوي.
ج- د لاتیني امریکا اقتصادي ټولنه: دا چې تر ۱۹۸۰ کال پورې د لاتیني امریکا د ازادې سوداګرۍ تړون د اعتبار نېټه په ختمېدو وه، په ۱۹۸۰ کال ددې ټولنې په نولسمه غونډه کې پرېکړه وشوه چې باید دې ته ورته بل نوی سازمان جوړ شي.
بالاخره د ۱۹۸۰ کال په اګست کې د دولسو هېوادونو (ارجنټاین، اکوادور، یوروګوای، برازیل، بولیویا، پیرو، پاراګوای، چیلي، کولمبیا، مکسیکو، نیکاراګوا او وینزویلا) ترمنځ د لاتیني امریکا اقتصادي ټولنې تړون لاسلیک شو. یاد تړون په ۱۹۸۱ کال کې د اجرا وړ وګرځېد.
ددې ټولنې اصلي موخه د لاتیني امریکا هېوادونو ترمنځ د ګډ اقتصادي بازار رامنځته کول و.

## د کارابین حوزې د هېوادونو سازمان

کله چې د کارابین حوزې هېوادونو خپله سیاسي خپلواکي ترلاسه کړه، نو د سیمه ییزو سازمانونو په چوکاټ کې یې ګډو همکاریو ته مخه کړه. د کارابین حوزې د هېوادونو سازمان په دې ډول دي:

- د کارابین هېوادونو د راکړې ورکړې ټولنه
- د کارابین ګډ بازار
- د کارابین د ختیځو هېوادونو سازمان

**الف- د کارابين د ازادي سوداګرۍ ټولنه carabean free trade association**

دغه ټولنه د ۱۹۲۸ کال د مي په لومړۍ نېټه د باربادوس، بليز، ټرينيډاډ، جاميکا، ګراناډا، جورټاون، انټيګوا، انګويلا، دومينکا، سنټ لوسيا، سنټ کيس او مونټا سرات هېوادونو له خوا د يوه تړون پر اساس رامنځته شوه.

د ياد تړون له مخې د غړو هېوادونو ترمنځ ګمرکي پولې له منځه يوړل شوې او همدغه راز د اقتصادي فعاليتونو د همغږۍ په موخه د يوه سيمه ييز بانک پر جوړولو، د هوايي چلند په برخه کې د همغږۍ په رامنځته کولو او د ګډو صنعتي پروګرامونو پر جوړولو ټينګار وشو.

**ب- د کارابين ګډ بازار**

د ګډ بازار تړون په ۱۹۷۲ کال کې د باربادوس، ټرينيډاډ، جاميکا او ګويان هېوادونو ترمنځ لاسليک شو.

ددې ټولنې هدف د غړو هېوادونو ترمنځ د ازادې سوداګرۍ په موخه د يوه ګډ بازار رامنځته کول و. ددې ټولنې ترڅنګ د پراختيا بانک په نوم يوه مؤسسه هم فعاليت کوي چې په ۱۹۷۳ کال کې جوړه شوې ده.

**ج- د ختيځ کارابين د هېوادونو سازمان**

د ختيځ کارابين د اووه کوچنيو هېوادونو (انتيګوا، دومينيکا، سنټ کيټس، سنټ لوشيا، سنټ وينسنټ، ګراناډا او مونټا سرات) له خوا په ۱۹۸۱ کال کې يو تړون لاسليک شو چې له مخې يې د ختيځ کارابين هېوادونو سازمان جوړ شو. ددې سازمان موخه د ختيځ کارابين هېوادونو اقتصادي وده او پراختيا ده.

**د شمالي امريکا د ازادې سوداګرۍ تړون (نفټا)**

**North America free trade agreement**

د شمالي امريکا د ازادې سوداګرۍ تړون د امريکا او کاناډا ترمنځ د ازادې سوداګرۍ تړون زېږنده ده چې په ۱۹۸۸ کال کې د دواړو هېوادونو ترمنځ لاسليک او په ۱۹۸۹ کال کې د اجرا وړ وګرځېد.

مکسيکو هم په ۱۹۹۲ کال کې تر يو لړ خبرو اترو وروسته ددغه تړون غړی شو.

د نفټا تړون له مخې د امريکا، کاناډا او مکسيکو ترمنځ د سوداګرۍ او پانګونې په برخه کې ټول محدوديتونه به د ۱۵ کلونو په اوږدو کې له منځه ځي.

د امریکا او مکسیکو ترمنځ ډېری سوداګریزې تعرفې په چټکۍ سره له منځه تللې دي او مکسیکو په کاناډا او امریکا کې پانګونې ته مخه کړه او په دې لار کې ډېر خنډونه هم له منځه تللي دي. خو البته په مکسیکو کې د نفتو، په کاناډا کې د فرهنګي محصولاتو او په امریکا کې د هوايي ټرانسپورټ او راډیويي اړیکو په برخه کې د پانګونې ستونزې پر ځای پاتې دي. د نفټا سازمان مرکز د کاناډا په اوتاوا ښار کې دی.

د نفټا د غړو هېوادونو په ۲۰۰۰ کال کې د ټرانسپورټ په برخه کې بار وړونکو موټرو ته د ازاد تګ راتګ اجازه ورکړه.

یاد سازمان په ۱۹۹۴ کال کې چیلي هېواد ته په تړون کې د غړیتوب لپاره رسمي بلنلیک ولېږه، خو د امریکا د کانګرېس د مخالفت له امله دغه خبرې وځنډېدې.

په ۱۹۹۸ کال کې د ۳۴ امریکایي هېوادونو مشرانو په چیلي کې د یوې غونډې په ترځ کې هوکړه وکړه چې د امریکا د ازادې سوداګرۍ تړون (فټا) په اړه دې د خبرو اترو بهیر پیل شي.

**د جنوب ګډ بازار (مرکو سور – merco sur)**

د مرکوسور تړون په ۱۹۹۱ کال کې د ارجنټاین، برازیل، پاراګوای او یوروګوای ترمنځ لاسلیک شو. د دې تړون اساسي موخه د یوې ګډې بهرنۍ تعرفې ټاکلو، د توکو ازاد لېږد رالېږد، د ګډې سوداګریزې پالیسۍ جوړولو او د لویو اقتصادي پالیسیو د همغږۍ په واسطه د غړو ترمنځ اقتصادي یووالی دی.

د (اوروپېټرو) پروتوکول له مخې چې په ۱۹۹۴ کال کې لاسلیک شو، مرکوسور سازمان کولی شي چې له نورو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو سره هم هوکړه لیکونه لاسلیک کړي.

برازیل، ارجنټاین، پاراګوای او یوروګوای د مرکوسور لومړني او بنسټګر غړي دي، چیلي او بولیویا په ۱۹۹۶ او وینزویلا په ۲۰۰۵ کال کې له دغه سازمان سره غړي شول.

د جنوب د ګډ بازار څانګې:

د ګډ بازار شورا، د ګډ بازار ډله، سوداګریزو چارو کمېسیون، د پارلماني چارو ګډ کمېسیون، اقتصادي او ټولنیز کمېسیون او سکرتریت.

شورا د دغه سازمان تر ټولو لوی رکن دی چې د سازمان د مهمو پرېکړو واک لري.

د ګډ بازار ډله د سازمان اجرایوي څانګه ده.

د سوداګریزو چارو کمېسیون د ګډو سوداګریزو پالیسیو د پلي کولو او پر بهرنیو تعرفو د څارنې مسؤلیت لري او په سوداګریزه برخه کې د غړو ترمنځ د شخړو پرمهال د برازیلین پروتوکول ته مراجعه کوي.

پارلماني کمېسیون د غړو هېوادونو د پارلمان له استازو څخه جوړ شوی دی، چې د غړو هېوادونو د داخلي قوانینو د همغږۍ مسؤلیت پر غاړه لري.
اقتصادي او ټولنیز مشورتي بنسټ د تجارتي ټولنو له استازو او د کارګرو ټولنو څخه جوړ شوی دی چې مرکوسور سازمان ته په اړونده چارو کې مشوره ورکوي.
سکرتریت د سازمان د منشي له خوا اداره کېږي او مرکز یې د یوروګوای په مونتېه وید او ښار کې دی.

# دویم څپرکی

# له سیمې ها خوا سازمانونه

په دې څپرکي کې به د هغو دوو سازمانونو په اړه بحث وکړو، چې فعالیتونه یې یوازې تر یوې ټاکلې سیمې پورې محدود نه دي، بلکې له سیمې هاخوا پراخې موخې لري.
دا دوه سازمانونه د ناپېیلي غورځنګ نړیوال سازمان او د اسلامي هېوادونو کنفرانس دي.

**ناپېیلی غورځنګ**

له دویمې نړیوالې جګړې وروسته امریکا او شوروي په یوه نوې سړه جګړه کې سره ښکېل شول. د سړې جګړې پرمهال، نړۍ پر دوو سیاسي قطبونو یا ډلو ووېشل شوه.
لومړۍ ډله چې لوېدیځ بلاک یې باله د امریکا په مشرۍ پانګوال نظامونه وو او دویمه ډله د شوروي اتحاد په مشرۍ د سوسیالیستي هېوادونو بلاک و.
خو د دریېمې نړۍ یو شمېر هېوادونه چې له یادو دوو سیالو قطبونو څخه جلا او لرې وو، په نړیوالو اړیکو کې ناپېیلی سیاست غوره کړ.
د دریېمې نړۍ هېوادونه په دې هڅه کې شول چې د ختیځ سوسیالیستي او د لویدیځ کپټالیستي بلاکونو د پراختیایي سیاستونو پر وړاندې یوه همغږې جبهه جوړه کړي ترڅو د ناپېیلي سیاست له مخې په خپل اړیکو کې انډول وساتي.
په همدې اساس په **۱۹۵۵** کال د اپرېل په اتلسمه د هند، مصر، یوګوسلاویا او اندونیزیا په نوښت د بانډونګ په کنفرانس کې د ناپېیلو هېوادونو د غورځنګ بنسټ کېښودل شو.

د دې سازمان اصلي بنسټګر د هند جواهر لعل نهرو، د مصر جمال عبدالناصر، د یوګوسلاویا مارشال ټیټو او د اندونیزیا مشراحمد سوکارنو وو. د دې سیاسي مشرانو ګډې ځانګړنې دا وې، چې څلور واړو د استعمار ضد موخې لرلې او په دې لاره کې یې بې ساري او اوږده مبارزه کړې وه. د باندونګ په کنفرانس کې شاوخوا ۲۹ هېوادونو برخه اخیستې وه چې ډېری یې مخ پر ودې اسیایي او افریقایي هېوادونه وو.

د ناپېیلي غورځنګ پنځه اصول چې د پانچاشیلا په نوم یادېږي او د جواهر لعل نهرو له خوا کنفرانس ته وړاندیز شوي وو، د کنفرانس په پرېکړه لیک ومنل شول. د ناپېیلي غورځنګ پنځه ګوني اصول په لاندې ډول دي:

۱- د دولتونو ځکمنۍ بشپړتیا او ملي واکمنۍ ته درناوی

۲- تېری نه کول

۳- د هېوادونو په کورنیو چارو کې له لاسوهنو ډډه کول

۴- د ټولو هېوادونو ترمنځ برابري

۵- سوله ییز ژوند

د ناپېیلي غورځنګ داخلي جوړښت:

۱- سرمشریزه غونډه: د ناپېیلي غورځنګ سرمشریزه په هرو درې کلونو کې یوځل د یوه غړي هېواد په پلازمېنه کې دایرېږي.

۲- د غونډې مشرتوب: د غونډې مشرتوب لکه په نورو سازمانونو کې منشي ته ورته جوړښت دی. کله چې د ناپېیلي غورځنګ سرمشریزه په یوه غړي هېواد کې جوړه شي، د کوربه هېواد د بهرنیو چارو وزیر تر راتلونکې بلې غونډې پورې د درې کلونو لپاره د مشر په توګه ټاکل کېږي. د بهرنیو چارو وزیر له بدلېدو سره، دا واک نوي وزیر ته انتقالېږي.

۳- د وزیرانو کنفرانس: دا کنفرانس د غړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په ګډون په کال کې یو ځل جوړېږي. د اړتیا پرمهال فوق العاده غونډې هم جوړولی شي.

۴- د همغږۍ دفتر: د همغږۍ دفتر غړي د بهرنیو چارو وزیران یا د غړو هېوادونو ځانګړي استازي دي. د همغږۍ دفتر دنده په سیاسي او اقتصادي برخو کې د غړو هېوادونو د علاقې وړ موضوعاتو څېړل او ارزول دي او همدا راز په غړیتوب پورې اړونده چارو تنظیمول دي.

۵- د همغږۍ کمېټې: د سرمشریزې غونډې پرمهال په بېلابېلو اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي برخو کې د پروګرامونو او پرېکړو د همغږۍ په موخه د غړو هېوادونو ترمنځ کاري کمېټې جوړېږي. کمېټې د موضوعاتو تر څېړنې وروسته خپل راپور عمومي غونډې ته وړاندې کوي. کاري کمېټې د لاندنیو مسایلو په اړه جوړېږي:

- خام توکي

- سوداګري
- پولي او مالي همکاري
- کب نیونه
- لېږد رالېږد
- عمومي مؤسسې
- روغتیا
- علمي او فني پرمختګ
- د انساني سرچینو لوړول او پراختیا
- په رغنیزو او پراختیایي چارو کې د ښځو ونډه
- اطلاعات او تحقیقات
- توریزم
- د ناپېیلي هېوادونو د اطلاعاتو مرکز
- له اټومي پروګرام څخه سوله ییز استفاده
- سپورټ

۷- په نیویارک کې د بهرنیو چارو د وزیرانو کلنۍ غونډه: د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې د کلنۍ غونډې په حاشیه کې د ناپېیلي غورځنګ هېوادونه په خپلو کې سره ناسته کوي. دغه هېوادونه د نړیوالو مسایلو په اړه د یوه ګډ دریځ په رامنځته کولو خبرې او سلا مشورې کوي. د ناپېیلي هېوادونو غورځنګ دېرش کلنې تجربې ته په کتو، که څه هم دغه سازمان د دریمې نړۍ د سیاسي او اقتصادي ګټو په خوندي کولو کې اغېزمن رول ترسره کړی، خو د ځینو نیمګړتیاوو له کبله یې ونه شو کړای چې خپلو اساسي موخو ته ورسېږي. هغه عوامل چې د ناپېیلي غورځنګ نیمګړتیاوې په ګوته کوي دا دي:

۱- د غورځنګ غړي له نامتجانسه دولتونو څخه ټاکل کېدل، چې حتما به له یوه قطب سره تړلي وو.

۲- د سازمان پرېکړې د رایو په اتفاق ترسره کېږي او د یوه غړي مخالفت د پرېکړې د رد سبب ګرځي.

۳- له حقوقي پلوه د سازمان پرېکړې اجرایوي ضمانت نه لري او یوازېنی ملاتړ یې نړیوال عمومي افکار دي.

۴- له سیاسي پلوه د ناپېیلي غورځنګ هېوادونو په منځ کې د سترو قدرتونو (امریکا، انګلستان، چین او روسیې) سیاسي نفوذ د غورځنګ یو شمېر غړي سره په خپلو کې پاشلي دي.

**۵**- په سازمان کې دننه غړي په مختلفو ډلو وېشل شوي، لکه د عربي هېوادونو ډله، د افریقایي هېوادونو ډله او نور ، چې دا کار د غړو ترمنځ د نظرونو د اختلاف سبب شوی دی.

**د اسلامي هېوادونو کنفرانس**

د اسلامي هېوادونو کنفرانس د عربو د جګړې په پایله کې د سعودي عربستان په نوښت په **۱۹۲۹** کال کې په مراکش کې جوړ شو. دغه سازمان تر **۱۹۹۸** کال پورې **۵۵** غړي لرل چې ټول اسلامي هېوادونه وو.

خو پر افغانستان د شوروي د پوځي یرغل او د مصر له خوا له اسرائیلو سره د ډیوېډ کمپ تړون له امله په دغه سازمان کې د یادو دوو هېوادونو غړیتوب ځنډول شوی وو. د کنفرانس په څلورمه سرمشریزه کې مصر ته بېرته د ګډون بلنه ورکړل شوه.

همدا راز په **۱۹۸۹** کال کې ددغه سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو په اتلسمه غونډه کې پرېکړه وشوه چې د افغانستان غړیتوب دې ددغه هېواد د مجاهدینو ایتلافي حکومت ته ورکړل شي.

د اسلامي هېوادونو کنفرانس موخې:

د اسلامي هېوادونو ترمنځ همغږي او پیوستون، په اقتصادي، اجتماعي او علمي برخو کې د اسلامي هېوادونو ترمنځ همکاري، - د هر نژادي تبعیض او استعمار پرضد مبارزه، - د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت په برخه کې هڅې، - د مقدسو ځایونو د ساتنې په اړه ګډې هڅې او د فلسطینیانو له حقونو او ازادیو څخه ملاتړ او د فلسطین ازادول.

د اسلامي هېوادونو د کنفرانس داخلي جوړښت:

۱- د اسلامي هېوادونو د مشرانو غونډه: د اسلامي هېوادونو د کنفرانس سرمشریزه په غیر منظم ډول څو کاله وروسته د یوه غړي هېواد په پلازمېنه کې دایرېږي.

د سازمان له جوړېدو تر **۱۹۹۷** کال پورې اووه سرمشریزې جوړې شوې وې.

د رباط غونډه (۱۹۲۹)

د لاهور غونډه (۱۹۷۴)

د طایف غونډه (۱۹۸۱)

د کازابلانکا غونډه (۱۹۸۴)

د کویټ غونډه (۱۹۸۷)

د ډاکا غونډه (۱۹۹۱)

د کازابلانکا غونډه (۱۹۹۴)

د تهران غونډه (۱۹۹۷)

د دوحې غونډه (۲۰۰۰)

ماليزيا (۲۰۰۳)

۲- د بهرنيو چارو د وزيرانو کنفرانس: دا د غړو هېوادونو د بهرنيو چارو وزيرانو کنفرانس دی چې په کال کې يو ځل غونډه کوي. د اړتيا پرمهال کولی شي چې فوق العاده غونډې هم را وغواړي.

۳- سکرتريت: سکرتريت د سازمان د اداري چارو په رأس کې قرار لري او د سکرتريت لپاره منشي د غړو هېوادونو له خوا د رايو په اکثريت ټاکل کېږي.

د منشي د کار موده په لومړي سر کې دوه کاله او بېرته د تمديد وړ هم وه، خو وروسته دغه موده څلور کاله وټاکل شوه.

۴- نړيواله اسلامي محکمه: د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان محکمه په ۱۹۸۷ کال د سازمان په پنځمه سرمشريزه غونډه کې چې په کويټ کې جوړه شوې وه، تأسيس شوه.

په ياده غونډه کې د منشور ۳ ماده اصلاح شوه چې له مخې نړيواله محکمه د اسلامي هېوادونو سازمان د څلورم ارګان په توګه وټاکل شوه.

محکمه اووه قاضيان لري چې د غړو هېوادونو د بهرنيو چارو د وزيرانو له خوا د څلورو کلونو په مخه ټاکل کېږي.

پر دې سربېره سازمان څلور نورې څانګې هم لري:

۱- فرعي څانګې: د سوداګرۍ د پراختيا اسلامي مرکز (دارالبيضاء)، د اسلامي تاريخ، فرهنګ او هنرونو د مطالعې او څېړنې مرکز، د ټکنالوجۍ او پراختيا اسلامي مؤسسه.

۲- تخصصي څانګې: د اسلامي پراختيا بانک، علمي، فرهنګي او روزنيز اسلامي سازمان، د نړيوالو اسلامي خبري اژانسونو سازمان.

۳- اړونده څانګې: د اسلامي پلازمېنو او ښارونو سازمان، د اسلامي بانکونو نړيواله ټولنه، د سوداګرۍ نړيواله خونه.

۴- تخصصي کمېټې: د قدس کمېټه، د تبليغاتو او فرهنګي چارو کمېټه.

## د G8 هېوادونو ډله

د جي اته هېوادونو بنسټ په لومړي ځل په ۱۹۷۳ کال د امريکا متحده ايالتونو، انګلستان، فرانسې او لوېديځ المان له خوا کېښودل شو.

هغه مهال د يادو څلورو هېوادونو د اقتصاد وزيرانو د اقتصادي ستونزو، په تېره بيا د بېکارۍ او د نفتو په بازار کې د بې ثباتۍ له امله د راولاړو شويو ستونزو د حل په موخه په واشنګټن کې د سپينې ماڼۍ په کتابتون کې غونډه وکړه.

د څلورو هېوادونو ډله چې په کتابتون هم مشهوره وه، د اقتصادي بحران د حل او د خپل قدرت د تثبيت په موخه ډېرې هڅې وکړې.

دغه ډله په **۱۹۷۵** کال کې د جاپان او ایټالیا په یوځای کېدو سره، د G6 هېوادونو ډلې په نوم ونومول شوه.

په **۱۹۷۶** کال کې کاناډا هم د امریکا په هڅو د سترو صنعتي هېوادونو له دې اتحاد سره یو ځای شو، چې له دې سره د G7 هیوادونو پر ډلې بدله شوه.

د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته په **۱۹۹۸** کال کې روسیه هم له دې ډلې سره یو ځای شوه او بالاخره د G8 هېوادونو په نوم ونومول شوه.

د یادونې ده چې روسیه د جي اته هېوادونو د مالیې وزیرانو په غونډه کې د ګډون حق نه لري، ځکه د روسیې اقتصاد د نورو غړو په پرتله تر اوسه نا برابره دی او دې کچې ته نه دی رسېدلی چې د نورو غړو په څېر په اقتصادي مسایلو کې له مساوي حق څخه برخمنه شي.

له **۲۰۰۵** کال وروسته چین هم په دې ډله کې د څارونکي غړي په توګه ومنل شو.

یاد بنسټ په لومړي سر کې د غړو هېوادونو په اقتصادي سیاستونو کې د همغږۍ او ارزونې په موخه جوړ شوی و، خو له ۱۹۷۰ لسیزې وروسته یې د فعالیتونو لمن پراخه شوه او د اقتصادي مسایلو ترڅنګ، سیاسي او امنیتي موضوعات یې هم د کار په اجنډا کې شامل دي.

د اتو سترو صنعتي هېوادونو ډله د مهمو نړیوالو مسایلو، لکه پرمختللو او مخ پر ودې هېوادونو سره د اړیکو د څرنګوالي، نړیوال امنیت، اټومي وسلو، د اقلیم بدلون، له افریقا او د نړۍ بې وزلو هېوادونو سره مرستې، داخلي ناورینونه لکه بېکاري، په منځني ختیځ کې سوله او نړیوالې ترهګرۍ په اړه خپل دریځ څرګندوي.

د جي اته هېوادونو ډله اجرایوي او تقنیني بنسټ نه دی، خو غړي هېوادونه یې د خپل اقتصادي او نظامي قدرت له امله کولی شي چې په نړیوالو مسایلو اغېز وشندي.

دغه هېوادونه چې د نړۍ د پانګوال نظام د ټینګښت په اړه هر کال غونډه کوي، د نړۍ نږدې ۷۰ سلنه اقتصاد په خپل لاس کې لري او پر نورو اقتصادي سازمانونو لکه نړیوال بانک، د پیسو نړیوال صندوق او پر ناټو د نفوذ خپلولو له لارې هڅه کوي چې نړیوال مسایل او بدلونونه په خپل ګټه راوڅرخوي.

د روسیې په ګډون د اووه سترو پرمختللو صنعتي هېوادونو مشران چې هر کال په هغه هېواد کې د غونډې دوره یې مشري پر غاړه لري، غونډه جوړوي.

د اروپایي کمېسیون مشر او د هغه هېواد مشر چې هېواد یې د اروپایي ټولنې دوره یې مشري پر غاړه لري، کولی شي د ټولنې په استازیتوب د G8 هېوادونو په غونډه کې ګډون وکړي. خو په سیاسي مسایلو کې د ګډون حق نه لري.

دي ډلې تر ۲۰۰۸ کال پورې ۳۸ غونډې کړې دي چې لومړنۍ رسمي غونډه يې په ۱۹۷۵ کال په نومبر میاشت کې د فرانسې په رامبویه کې ترسره شوه او د پرشمه غونډه يې په ۲۰۰۷ کال کې په المان کې او ۳۴ غونډه يې د ۲۰۰۸ کال په جولای کې د جاپان په پلازمېنه توکیو کې جوړه شوې وه. همدا راز دې ډلې د هستوي امنیت په اړه په ۱۹۹۲ کال په روسیه کې یوه ځانګړې غونډه هم ترسره کړې ده.

د G8 هیوادونو سرمشریزې غونډې د کوربه توب ترتیب په دې ډول دی: فرانسه، امریکا، انګلستان، روسیه، جاپان، ایټالیا او کاناډا.

**د D8 هېوادونو ډله**

د ډي اته هېوادونو د ډلې جوړولو وړاندیز د ترکیې د پخواني لومړي وزیر او د رفاه اسلامپاله ګوند مشر نجم الدین اربکان له خوا وشو.

دغه سازمان په ۱۹۹۷ کال کې د ترکیې، ایران، پاکستان، بنګله دېش، اندونیزیا، مالیزیا، نایجریا او مصر ترمنځ د اقتصادي همکاریو د پیاوړتیا او د G8 هېوادونو له ډلې سره د خبرو په موخه جوړ شو.

د دې ډلې اساسي موخې: په نړیوال اقتصاد کې د مخ پر ودې هېوادونو د موقف لوړول او پیاوړي کول، په سوداګریزو اړیکو کې د نویو فرصتونو رامنځته کول، په نړیواله کچه په پرېکړو کې د مشارکت پراخول، د غړو هېوادونو د ولسونو د ژوند د سطحې لوړول، اقتصادي او ټولنیزه پراختیا د لاندې اصولو له مخې: د شخړې پر ځای سوله، د مخامخ کېدو پر ځای خبرې، د استعمار پر ځای همکاري، د دوه ګوني چلند پر ځای عدالت، د تبعیض پر ځای برابري او د ظلم پر ځای ولسواکي.

جوړښت او تشکیلات:

الف- سرمشریزه غونډه: د غړو هېوادونو له ولسمشرانو او لومړي وزیرانو څخه په هرو دوو کلونو کې یو ځل جوړېږي.

تر ۲۰۰۸ کال پورې د ډي اته ډلې غړو شپږ غونډې ترسره کړې دي.

لومړنۍ سرمشریزه په ۱۹۹۷ کال په استانبول کې جوړه شوې وه، چې په دې غونډه کې رسماً د سازمان موجودیت اعلان شو.

دویمه غونډه د بنګله دېش په ډاکا کې جوړه شوه او په دې غونډه کې د نړیوالو بدلونو د څېړلو ترڅنګ، د نړیوالو مالي بدلونونو او د جنوبي اسیا په هېوادونو کې د اقتصادي بحران په اړه بحث وشو.

پنځمه غونډه په ۲۰۰۷ کال په اندونیزیا کې جوړه شوه چې په ترڅ کې یې د غړو هېوادونو ترمنځ د ترجیحي سوداګرۍ او ګمرکي همکاریو دوه تړونونه لاسلیک شول.
ب- د وزیرانو شورا: دا شورا د اتو غړو هېوادونو د بهرنیو چارو له وزیرانو څخه جوړه شوې ده، چې د مهمو سیاسي مسایلو په اړه پرېکړې کوي.
نوموړې شورا تر اوسه نهه رسمي او څلور غیر رسمي غونډې ترسره کړې دي.
ج- د لوړ پوړو چارواکو کمېسیون: د D8 هېوادونو په چوکاټ کې همکاري او همفکري په ټولو نړیوالو برخو کې شامل دي.
په لومړۍ سرمشریزه کې لاندې کاري ډلې مشخصې شوې او هر غړي ته یو مسؤلیت وسپارل شو.
۱- د اطلاعاتو او اړیکو کاري ډله (ایران)
۲- د صنعتي چارو او چاپېریال ساتنې کاري ډله (ترکیه)
۳- د سوداګریزو چارو کاري ډله (مصر). دغه کاري ډله په لاندې برخو کې همکاري کوي:
د بازار موندنې او د نړیوالې سوداګرۍ شرکت جوړول، د سوداګریزو معلوماتو د مرکز جوړول، د بېړۍ چلونې په برخه کې همکاري، بانکي همکاري، ګمرکي همکاري، د غړو هېوادونو سوداګرو ته د ویزې د ورکړې اسانتیا برابرول.
۴- مالي چارې، بانکداري او د خصوصي کولو کاري ډله (مالیزیا)
۵- د بې وزلۍ له منځه وړلو او انساني سرچینو کاري ډله (اندونیزیا)
۶- د کرنیزو چارو کاري ډله (پاکستان)
۷- د کلیوالي سیمو پراختیا کاري ډله (بنګله دېش)
۸- د انرژۍ کاري ډله (نایجریا)
د- سکرتریت: د سکرتریت چارې او سمهال په ډېره محدوده توګه د همغږۍ مرکز په نوم په یوه دفتر کې ترسره کېږي چې په استانبول کې موقعیت لري، خو ټاکل شوې ده چې دغه تشکیل پراخ او منظم شي.

### د نفتو د صادروونکو هېوادونو سازمان (اوپک)

### Organization petroleum exporting countries (OPEC)

اوپک سازمان په ۱۹۶۰ کال د سپتمبر په څوارلسمه د بغداد په کنفرانس کې د عربستان، کویټ، عراق، ایران او وینزویلا ترمنځ د یوه پرېکړه لیک په لاسلیکولو سره تأسیس شو.
لس ورځې وروسته یعنې د سپتمبر په ۲۴ د یادو پنځو نفت لرونکو هېوادونو ترمنځ بل پرېکړه لیک هم لاسلیک شو چې له مخې یې د سازمان موخې او تګلاره په کې څرګند شوي وو.
یاد دوه پرېکړه لیکونه په حقیقت کې د اوپک سازمان د تأسیس سندونه ګڼل کېږي.

قطر په ۱۹۶۱، لیبیا او اندونیزیا په ۱۹۶۲ او متحده عربي امارات په ۱۹۶۷ کال کې د اوپک سازمان غړیتوب ترلاسه کړ.
الجزایر په ۱۹۶۹، نایجریا، اکوادور او ګابن هېوادونه هم د اوپایمې لسیزې په لومړیو کې د سازمان غړي شول. خو اکوادور په ۱۹۹۲ او ګابن په ۱۹۹۲ کال کې له اوپک سازمان څخه ووتل. خو اکوادور بېرته په ۲۰۰۷ کال کې د غړیتوب وړاندیز وکړ.
اوپک تر ۲۰۰۸ کال پورې دیارلس غړي لرل: الجزایر، انګولا، اندونیزیا، ایران، عراق، کویټ، یمن، نایجریا، قطر، سعودي عربستان، متحده عربي امارات او وینزویلا.
د اوپک سازمان د اساسنامې په دویمه ماده کې د سازمان موخې داسې بیان شوې دي:
الف: د دې سازمان د جوړېدو اصلي موخه د غړو هېوادونو ترمنځ همغږي، په نفتي تګلاره کې یووالی او همدا راز په غوره توګه د عامه او فردي ګټو تحقق دی.
ب: سازمان په نړیوالو بازارونو کې د نفتو د بیې د تثبیت په موخه له ټولو ممکنه لارو څخه په استفادې احتمالي زیانونه پېشبیني او حل لارې به ورته ومومي.
ج: د نفتو د تولیدوونکو هېوادونو د ولسونو عامه مصالح، تولیدوونکو هېوادونو ته د ثابتو عوایدو د تضمین اړتیا، د نفتو منظمه او کافي عرضه او د نفتو په سوداګرۍ کې د یوه شفاف سیسټم رامنځته کولو ته به تل پاملرنه کېږي.
هغه هېوادونه چې د پام وړ خالص نفت صادروي او د اوپک سازمان غړو هېوادونو سره ورته ګټې ولري، د رسمي غړو د رایو په اکثریت (3/4) او د ټولو بنسټګرو غړو په موافقه کولی شي چې د سازمان غړیتوب ترلاسه کړي.
د اوپک سازمان مرکز د اتریش په پلازمېنه ویانا کې دی او رسمي ژبه یې انګلیسي ده.
د اوپک جوړښت او څانګې:
۱- کنفرانس: د سازمان تر ټولو لوړ رکن دی او د ټولو غړو له استازو پلاویو څخه جوړ شوی دی، چې هر استازی پلاوی په کنفرانس کې یو یا دوه استازي لري.
کنفرانس دغه راز ځیني سلاکاران او څارونکي هم لري. که استازی پلاوی له یوه څخه زیاتو غړو څخه جوړ شوی وي، یوازې یو کس باید د مشر په توګه کنفرانس ته ور وپېژندل شي.
هر استازی پلاوی اړ دی چې د کنفرانس په غونډو کې برخه واخلي او د غونډو ټاکلی نصاب د حاضرو درې ثلثه غړو شتون دی.
کنفرانس په کال کې دوې عادي غونډې لري او د اړتیا پرمهال ځانګړې غونډې هم دایرولای شي.
عادي غونډې د سازمان په مقر ویانا کې جوړېږي او په نورو غړو هېوادونو کې هم جوړېدای شي.
د کنفرانس دندې:
- د سازمان د تګلارې او پالیسۍ ټاکل او د دغو پالیسیو د پلي کولو لارې چارې،

- د نوي غړيتوب - د وړانديز څېړل
- د عامل پلاوي د رپوټونو تصويب
- د سازمان د بوديجې تصويب
- غونډو ته بلنه
- د غونډې د وخت او ځای ټاکل
- په اساسنامه کې اصلاحات
- د عمومي مشر غوره کول (په انتصابي ډول)
- د عمومي منشي د مرستيال غوره کول
- د عامل پلاوي د مشر او مرسيتال غوره کول او نور.

۲- عامل پلاوی: د کنفرانس د تړونونو او پروګرامونو پلي کول، د عمومي منشي د کاري راپور څېړل او تائيد، د سازمان اړونده موضوعاتو په اړه د راپور چمتو کول، د سازمان د بوديجې چمتو کول، د نايب منشي ټاکل او د غونډو د اجنډا تصويبول د عامل پلاوي له صلاحيتونو څخه دي.

۳- سکرتريت: د سکرتريت په رأس کې عمومي منشي قرار لري، چې له حقوقي پلوه د سازمان مشروع استازی او د سکرتريت مشر ګڼل کېږي. منشي د عامل پلاوي له لارښونو سره سم د سازمان چارې اداره کوي.

عمومي منشي د وزيرانو کنفرانس له لوري د يوې درې کلنې دورې لپاره ټاکل کېږي او د دويم ځل لپاره هم ځان نومولی شي.

سکرتريت له پنځو څانګو څخه جوړ شوی دی: ۱- اداري څانګه ۲- اقتصادي څانګه ۳- حقوقي څانګه ۴- اطلاعاتي او تخنيکي څانګه ۵- د احصايې څانګه چې د نفتو د توليدوونکو هېوادونو ارقام او احصايه راټولوي.

عربي هېوادونو په ۱۹۲۸ کال کې اوپک ته ورته د (OAPEC) يا د نفتو صادرروونکي عربي هېوادونو سازمان تأسيس کړ.

عربستان، کويټ، ليبيا، عربي متحده امارات، الجزاير، عراق، قطر، بحرين، سوريه او مصر د او. اې. پک سازمان غړي دي.

## عربي ټولنه Arab league

د عربي هېوادونو ټولنه په ۱۹۴۵ کال د مارچ په ۲۲ د مصر په هڅو رامنځته شوه.

د مصر له خوا د عربي ټولنې د جوړېدو طرحه، د عربي هېوادونو په لومړۍ غونډه کې د عربستان، مصر، عراق، سوريې، لبنان او اردن له خوا لاسليک شوه.

په عربي ټولنه کې ټول هغه عربي هېوادونه شامل دي چې له دويمې نړيوالې جګړې وروسته خپلواک شول.
ياده ټولنه اوسمهال ۲۲ غړي لري، چې په اسيا او افريقا کې پراته ټول عربي هېوادونو په کې شامل دي.
د عرب ليګ غړي په دې توګه دي: مصر، عربستان، عراق، سوريه، اردن، لبنان، الجزاير، کويټ، قطر، بحرين، عربي متحده امارات، عمان، سوډان، ليبيا، سوماليا، ټونس، مراکش، موريتانيا، کومور، جيبوتي او د فلسطين د ازادۍ غورځنګ.
د عرب ليګ د جوړېدو اساسي موخه د عربي هېوادونو يووالی او په سياسي، اقتصادي، فرهنګي، ټولنيزه، روغتيايي، مخابراتي - معلوماتي او قضايي برخو کې د خپل منځي همکاريو پياوړي کول دي.
همدا راز د سياسي فعاليتونو همغږي کول، د خپلواکۍ او ملي واکمنۍ او د غړو هېوادونو د ګټو ساتنه او دفاع هم د عربي ټولنې له موخو څخه دي.
د ټولنې غړو په ۱۹۵۰ کال کې ناټو ته ورته په خپلو کې يو دفاعي تړون هم لاسليک کړ.
په کلتوري برخه کې په ۱۹۴۷ کال کې د عربي ټولنې د غړو ترمنځ د يوه تړون له مخې د يو علمي کنفرانس جوړول او د محصلينو او استادانو ترمنځ اړيکې د ټولنې له موخو څخه ګڼل کېږي.
دغه ټولنه په اقتصادي برخه کې هم مهم فعاليتونه ترسره کړي دي، چې له دې جملې د عرب پراختيايي بانک جوړول، د عربي سمندري شرکت پرانيستل، د عربو د نفتو د نل ليکې شرکت جوړول او اقتصادي – مالي کمېسيون جوړول د يادولو دي.
په ۱۹۵۳ کال کې د سوداګريزې راکړه ورکړې په برخه کې د غړو ترمنځ يو تړون هم لاسليک شو.

**د عربي ټولنې څانګې**:
۱- شورا: شورا د ټولنو له ټولو غړو څخه جوړه شوې ده او هر غړی په شورا کې د يوې رايې حق لري.
شورا په هرو دوو کلونو کې يو ځل غونډه جوړوي.
شورا پراخې دندې او واکونه لري او کولی شي د دوو غړو په غوښتنه د يوې موضوع په اړه پرېکړه ليک خپور کړي.
د ټولنې د بوديجې تصويب، د ټولنې د عادي چارو پرمخ بيول، د غړو ترمنځ د اختلافونو په حل کې منځګړيتوب او له نورو نړيوالو سازمانونو سره د ټولنې د فعاليتونو همغږي کول د ټولنې له واکونو څخه دي.
۲- د ګډې دفاع شورا: د ګډې دفاع شورا د غړو هېوادونو د دفاع او بهرنيو چارو له وزيرانو څخه جوړه شوې ده چې په ۱۹۵۰ کال کې د اقتصادي همکارۍ تړون د يوې برخې په توګه رامنځته شوه.

دغه شورا د ګډې دفاعي ستراتېژۍ او په پوځي برخو کې د طرحو د جوړولو مسولیت لري.
شورا په کال کې یو ځل خپلې عادي غونډې دایروي او د اړتیا پرمهال بېړنۍ غونډې هم کوي.
**۳**- اقتصادي شورا: اقتصادي شورا هم د ګډې دفاع او اقتصادي تړون له مخې رامنځته شوې ده او د ټولنې عمومي شورا په وړاندې مسؤلیت لري.
یاده شورا د غړو ترمنځ د اقتصادي همکاریو او پراختیایي چارو د پیاوړتیا او همغږۍ په برخه کې فعالیت کوي.
اقتصادي شورا همدغه راز په سیمه کې د امنیت او ثبات په موخه د منابعو د بسیج کولو مسؤلیت هم پرغاړه لري. یاده شورا په کال کې یو ځل غونډه کوي او د رایو په ساده اکثریت پرېکړې کوي.
د عربي ټولنې مالي لګښت د بډایو او د نفتو صادروونکو غړو هېوادونو لکه عربستان، کویټ او متحده عربي اماراتو له خوا ورکول کېږي.
بې وزله او د لږ نفوس لرونکي غړي هېوادونه، لکه لیبیا، مصر، اردن، سوریه، الجزایر، لبنان او عراق د عرب لیګ نږدې **۳۵** سلنه لګښت ورکوي.
**۴**- اختصاصي کمېسیونونه: د عرب لیګ کمېسیونونه په بېلابېلو سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، روغتیایي، مخابراتو او په قضایي چارو کې فعالیت کوي.
شورا په **۱۹۴۶** کال کې د غړو هېوادونو ترمنځ د سیاسي همکاریو د لا همغږۍ په موخه یوه سیاسي کمېټه جوړه کړه.
**۵**- سکرتریت: سکرتریت یا دارلانشاء له یوه منشي، نایب منشي او اداري کارکوونکو څخه جوړ شوی دی، چې مرکز یې د مصر په پلازمېنه قاهره کې دی. خو د یادونې ده چې د مصر او اسرائیلو ترمنځ د کمپ ډېوېډ تړون له امله، د عرب لیګ سکرتریت له مصر څخه ټونس ته ولېږدول شو چې په **۱۹۹۱** کال کې د مصر او عربي هېوادونو ترمنځ د اړیکو په بېرته عادي کېدو سره د سکرتریت دفتر قاهرې ته ولېږدول شو.
سکرتریت په سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، حقوقي، مطبوعاتي، څېړنیزو، اداري، مالي او ټولنیزو چارو او د فلسطین د مسئلې په اړه ځیني څانګې هم لري.
عربي ټولنه له تأسیس څخه تر دې دمه له ځینو سیاسي ننګونو سره مخ ده، چې بېلګه یې د عراق او فلسطین مسایل دي.

پای
۴/۸/۱۳۹۱

کابل- افغانستان

# اخځونه


۱- باوت، د.وي. د نړیوالو بنسټونو حقوق، د هومن اعرابي ژباړه، (تهران: انتشارات اطلاعات، ۱۳۷۳، ص۱۱).

۲- میرعباسي، سیدباقر، نړیوال سازمانونه، درسي لکچر، د تهران پوهنتون، ۱۳۷۱،ص **۳۵**.

۳- هماغه اثر، ص۳۰.

۴- هماغه اثر، ص۳۱.

**۵**- صدر، جواد، دیپلوماتیک او قونسولي حقوق، دویم چاپ، (تهران: د تهران پوهنتون، ۱۳۷۱، ص ۷۷.

6- in C.CSASZ,paul,international organization, headquarters, Encyclopedia of international law,1983 north- holland, amsterdam,p.132

7- Rep of I.L.C to the G.A, p.312, Draft article 12.

۸- معین زاده، عباس، نوي دیپلوماتیک حقوق، (تهران: د نړیوالو او سیاسي مطالعاتو دفتر، ۱۳۷۲)، ص۱۱۲.

9- ROUSSEAU, ch, Driot internatoinal public, paris, Dalloz,1974,p.120.

۱۰- ابي صعب، جورج، د نړیوالو سازمانونو مفهوم، (تهران: علمي او فرهنګي انتشارات، ۱۳۷۳.) ص **۳۵**.

۱۱- هماغه اثر، ص۸۰.

۱۲- هماغه

۱۳- ضیایي، بیګدلي، محمدرضا، نړیوال عمومي حقوق، شپږم چاپ، (تهران: د ګنج دانش کتابتون، ۱۳۷۱)، ص ۲۵۲.

۱۴- ګوهر پي، محمد، نړیوال بهرنۍ پانګونه اچونه د ودې په حال کې، سیاسي اطلاعات- اقتصادي، شمېره ۱۰۳-۱۰۴.

**۱۵**- د اقتصادي او ټولنیزې شورا (XLIV) ۱۲۹۲ نمبر پرېکړه لیک، نېټه ۱۹۲۸- ۲۳ می.

۱۲- ګنجي، منوچهر، د ملګرو ملتونو سازمان په تیوري کې، (تهران، جیبي کتابونه، **۱۳۵۲**).

۱۷-د اقتصادي او ټولنیزې شورا (XLIV) نمبر پرېکړه لیک، د می ۲۳ مه، ۱۹۲۸.
۱۸- کلییار، کلاډ البر، نړیوال سازمانونه له پیله تر اوسه، د هدایت الله فلسفي ژباړه او خپرنه (تهران، فاخته نشرات، ۱۳۷۱).
۱۹- علي میرسعید قاضي، د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ژوندلیک او د هغه سیاسي فعالیتونه. دویم چاپ، تهران. د نړیوالو او سیاسي مطالعاتو دفتر، ۱۳۸۵.
۲۰- ملګرو ملتونو سازمان، د ملګرو ملتونو سازمان لارښود، د ملګرو ملتونو د لومړیو ۲۵ کلونو د فعالیتونو بشپړه تشریح، د منصور فراسیون ژباړه. (تهران، ۱۳۵۴).
۲۱- نیاکي، جعفر، د نړیوالو سازمانونو حقوق، لومړی جلد، (تهران).
۲۲- فریدون زند فرد، ایران او ملتونو ټولنه، ۱۳۷۷ کال.
۲۳- us department of state, bulletin .vol x1,april 1945
۲۴- سید داوود اقایي، ایران او نړیوال سازمانونه.
۲۵- rousseay Charles, driot international public.vol.2,paris.1974
۲۶- colliard, claude- albert,instuitions des relations internationlales,paris 1985.
۲۷- senate committee on expenditures in the executive department united states relations with international organization,1948.
۲۸- باوټ، ډي، وي. د نړیوالو بنسټونو حقوق، د هومن اعرابي ژباړه (تهران، انتشارات اطلات، ۱۳۷۳).
۲۹-امیر حسین نیا، د عمومي اسامبلې د ۲۰۰۵ کال د عمومي غونډې ورستی سند، وستی که د اصلاحاتو دوام؟
۳۰- میرعباسي، سیدباقر، نړیوال سازمانونه، درسي لکچر، د تهران پوهنتون.
۳۱- مصفا، نسرین او نور، په نړیوالو حقوقو کې د تجاوز مفهوم (تهران: مرکز اطلاعات عالی بین المللی)
۳۲- فلسفي، هدایت الله، امنیت شورا او نړیواله سوله، حقوقي خپرنیزه مجله، د شهید بهشتي پوهنتون، اتمه ګڼه، ۱۳۶۹ کال.
۳۳- ثقفي عامري، ناصر، د ملګرو ملتونو سازمان، د نړیوالې سولې او امنیت ساتنې مسولیت. (تهران: د نړیوالو او سیاسي مطالعاتو دفتر، ۱۳۷۰).
۳۴- open ended working group on the question of equitable represention and increase in the membership of the security council and other matters related to the security.
۳۵- rechard hiscoks, the security council, new York. 1973

# مل برخې

## لومړی مل برخه:
## د ملګرو ملتونو غړي هېوادونه

| | |
|---|---|
| A | |
| Afghanistan | 19-11-1946 |
| Albania | 14-12-1955 |
| Algeria | 08-10-1962 |
| Andorra | 28-07-1993 |
| Angola | 01-12-1976 |
| Antigua and Barbuda | 11-11-1981 |
| Argentina | 24-10-1945 |
| Armenia | 02-03-1992 |
| Australia | 01-11-1945 |
| Austria | 14-12-1955 |
| Azerbaijan | 02-03-1992 |
| B | |
| Bahamas | 18-09-1973 |
| Bahrain | 21-09-1971 |
| Bangladesh | 17-09-1974 |
| Barbados | 09-12-1966 |
| Belarus | 24-10-1945 |
| Belgium | 27-12-1945 |
| Belize | 25-09-1981 |
| Benin | 20-09-1960 |
| Bhutan | 21-09-1971 |
| Bolivia (Plurinational State of) | 14-11-1945 |
| Bosnia and Herzegovina | 22-05-1992 |
| Botswana | 17-10-1966 |
| Brazil | 24-10-1945 |
| Brunei Darussalam | 21-09-1984 |
| Bulgaria | 14-12-1955 |
| Burkina Faso | 20-09-1960 |
| Burundi | 18-09-1962 |
| C | |
| Cambodia | 14-12-1955 |
| Cameroon | 20-09-1960 |
| Canada | 09-11-1945 |
| Cape Verde | 16-09-1975 |
| Central African Republic | 20-09-1960 |
| Chad | 20-09-1960 |
| Chile | 24-10-1945 |
| China | 24-10-1945 |
| Colombia | 05-11-1945 |
| Comoros | 12-11-1975 |
| Congo | 20-09-1960 |
| Costa Rica | 02-11-1945 |
| Côte D'Ivoire | 20-09-1960 |
| Croatia | 22-05-1992 |
| Cuba | 24-10-1945 |
| Cyprus | 20-09-1960 |
| Czech Republic | 19-01-1993 |
| D | |
| Democratic People's Republic of Korea | 17-09-1991 |
| Democratic Republic of the Congo | 20-09-1960 |
| Denmark | 24-10-1945 |
| Djibouti | 20-09-1977 |
| Dominica | 18-12-1978 |
| Dominican Republic | 24-10-1945 |
| E | |
| Ecuador | 21-12-1945 |
| Egypt | 24-10-1945 |
| El Salvador | 24-10-1945 |
| Equatorial Guinea | 12-11-1968 |
| Eritrea | 28-05-1993 |
| Estonia | 17-09-1991 |
| Ethiopia | 13-11-1945 |
| F | |
| Fiji | 13-10-1970 |
| Finland | 14-12-1955 |
| France | 24-10-1945 |

G

| | |
|---|---|
| Gabon | 20-09-1960 |
| Gambia | 21-09-1965 |
| Georgia | 31-07-1992 |
| Germany | 18-09-1973 |
| Ghana | 08-03-1957 |
| Greece | 25-10-1945 |
| Grenada | 17-09-1974 |
| Guatemala | 21-11-1945 |
| Guinea | 12-12-1958 |
| Guinea Bissau | 17-09-1974 |
| Guyana | 20-09-1966 |

H

| | |
|---|---|
| Haiti | 24-10-1945 |
| Honduras | 17-12-1945 |
| Hungary | 14-12-1955 |

I

| | |
|---|---|
| Iceland | 19-11-1946 |
| India | 30-10-1945 |
| Indonesia | 28-09-1950 |
| Iran (Islamic Republic of) | 24-10-1945 |
| Iraq | 21-12-1945 |
| Ireland | 14-12-1955 |
| Israel | 11-05-1949 |
| Italy | 14-12-1955 |

J

| | |
|---|---|
| Jamaica | 18-09-1962 |
| Japan | 18-12-1956 |
| Jordan | 14-12-1955 |

K

| | |
|---|---|
| Kazakhstan | 02-03-1992 |
| Kenya | 16-12-1963 |
| Kiribati | 14-09-1999 |
| Kuwait | 14-05-1963 |
| Kyrgyzstan | 02-03-1992 |

L

| | |
|---|---|
| Lao People’s Democratic Republic | 14-12-1955 |
| Latvia | 17-09-1991 |
| Lebanon | 24-10-1945 |
| Lesotho | 17-10-1966 |
| Liberia | 02-11-1945 |
| Libya | 14-12-1955 |
| Liechtenstein | 18-09-1990 |
| Lithuania | 17-09-1991 |
| Luxembourg | 24-10-1945 |

M

| | |
|---|---|
| Madagascar | 20-09-1960 |
| Malawi | 01-12-1964 |
| Malaysia | 17-09-1957 |
| Maldives | 21-09-1965 |
| Mali | 28-09-1960 |
| Malta | 01-12-1964 |
| Marshall Islands | 17-09-1991 |
| Mauritania | 27-10-1961 |
| Mauritius | 24-04-1968 |
| Mexico | 07-11-1945 |
| Micronesia (Federated States of) | 17-09-1991 |
| Monaco | 28-05-1993 |
| Mongolia | 27-10-1961 |
| Montenegro | 28-06-2006 |
| Morocco | 12-11-1956 |
| Mozambique | 16-09-1975 |
| Myanmar | 19-04-1948 |

N

| | |
|---|---|
| Namibia | 23-04-1990 |
| Nauru | 14-09-1999 |
| Nepal | 14-12-1955 |
| Netherlands | 10-12-1945 |
| New Zealand | 24-10-1945 |
| Nicaragua | 24-10-1945 |
| Niger | 20-09-1960 |
| Nigeria | 07-10-1960 |
| Norway | 27-11-1945 |

O

| | |
|---|---|
| Oman | 07-10-1971 |

P

| | |
|---|---|
| Pakistan | 30-09-1947 |
| Palau | 15-12-1994 |
| Panama | 13-11-1945 |
| Papua New Guinea | 10-10-1975 |
| Paraguay | 24-10-1945 |
| Peru | 31-10-1945 |
| Philippines | 24-10-1945 |
| Poland | 24-10-1945 |
| Portugal | 14-12-1955 |

Q

| | |
|---|---|
| Qatar | 21-09-1971 |

R

| | |
|---|---|
| Republic of Korea | 17-09-1991 |
| Republic of Moldova | 02-03-1992 |
| Romania | 14-12-1955 |

Russian Federation 24-10-1945
Rwanda 18-09-1962
S
Saint Kitts and Nevis 23-09-1983
Saint Lucia 18-09-1979
Saint Vincent and the Grenadines 16-09-1980
Samoa 15-12-1976
San Marino 02-03-1992
Sao Tome and Principe 16-09-1975
Saudi Arabia 24-10-1945
Senegal 28-09-1960
Serbia 01-11-2000
Seychelles 21-09-1976
Sierra Leone 27-09-1961
Singapore 21-09-1965
Slovakia 19-01-1993
Slovenia 22-05-1992
Solomon Islands 19-09-1978
Somalia 20-09-1960
South Africa 07-11-1945
South Sudan 14-07-2011
Spain 4-12-1955
Sri Lanka 14-12-1955
Sudan 12-11-1956
Suriname 04-12-1975
Swaziland 24-09-1968
Sweden 19-11-1946
Switzerland 10-09-2002
Syrian Arab Republic 24-10-1945
T
Tajikistan 02-03-1992
Thailand 16-12-1946
The former Yugoslav Republic of Macedonia 08-04-1993
Timor-Leste 27-09-2002
Togo 20-09-1960
Tonga 14-09-1999
Trinidad and Tobago 18-09-1962
Tunisia 12-11-1956
Turkey 24-10-1945
Turkmenistan 02-03-1992
Tuvalu 05-09-2000
U
Uganda 25-10-1962
Ukraine 24-10-1945
United Arab Emirates 09-12-1971
United Kingdom of Great Britain and Northern Ireland 24-10-1945
United Republic of Tanzania 14-12-1961
United States of America24-10-1945
Uruguay 18-12-1945
Uzbekistan 02-03-1992
V
Vanuatu 15-09-1981
Venezuela (Bolivarian Republic of) 15-11-1945
Viet Nam 20-09-1977
Y
Yemen 30-09-1947
Z
Zambia 01-12-1964
Zimbabwe 25-08-1980

# دویمه مل برخه:

# د ملګرو ملتونو اړوند لنډيزونه

**ABSIE** American Broadcasting Station In Europe
**ACHR** Asian Coalition for Housing Rights
**ADB** Asian Development Bank
**AFEJ** Asian Forum of Environmental Journalists
**AFNORTH** Allied Forces Northern Europe
**ANC** African National Commission
**ANC** All Nations Club
**AP 2000** United Nations Development Programme Asia-Pacific 2000 conference

| | |
|---|---|
| **APDC** | Asia and Pacific Development Centre |
| **APEC** | Asia Pacific Economic Conference |
| **APTF** | Asia Pacific Task Force |
| **ASEAN** | Association of South-East Asian Nations |
| **BUUNSA** | Bond University United Nations Student Association |
| **CARM** | Computer Assisted Radio Monitoring |
| **CHR** | Commission on Human Rights |
| **CHRE** | Centre for Human Rights |
| **CSTF** | Civil Society Task Force |
| **CSW** | Commission on the Status of Women |
| **CUNP** | Centre for United Nations Peacekeeping |
| **ECA** | Economic Commission for Africa |
| **ECE** | Economic Commission for Europe |
| **ECLA** | Economic Committee of Latin America |
| **ECOSCO** | Economic and Social Council |
| **EDF** | European Development Fund |
| **EDHR** | European Declaration of Human Rights |
| **EGL** | English as a Global Language |
| **G8** | Group of 8 |
| **GA** | General Assembly |
| **GAM** | General Assembly Meeting |
| **GAP** | Genocide Awareness Program |
| **GOV** | Government |
| **HIC** | Habitat International Coalition |
| **HQ** | United Nations Headquarters, New York |
| **IOM** | International Organization for Migration |
| **MONUA** | United Nations Observer Mission in Angola |
| **MUN** | Model United Nations |
| **MUN-FW** | Model United Nations - Far West |
| **MUNFW** | Model United Nations - Far West |
| **NGO** | Non Governmental Organization |
| **ROISAP** | UNESCO Regional Observatory of the Information Society in Asia Pacific |
| **RTO** | Research and Technology Organization |
| **SITE** | Search For International Terrorist Entities |
| **SUBIR** | USAID Sustainable Use of Biological Resources Program |
| **UDF** | United Democratic Front in South Africa |
| **UIE** | UNESCO Institute for Education |
| **UN** | United Nations |
| **UN WSIS** | United Nations World Summit on the Information Society |
| **UN-HABITAT** | United Nations Human Settlements Programme |
| **UN/CEFACT** | United Nations Centre for Trade Facilitation and Electronic Business |
| **UN/ISDR** | United Nations Agency Secretariat of the International Strategy for Disaster Reduction |
| **UNAE** | United Nations Arms Embargoes |
| **UNAG** | United Nations Association of Georgia |
| **UNAIDS** | Joint United Nations Programme on HIV/ Acquired Immune Deficiency Syndrome |
| **UNAIDS** | Joint United Nations Programme on HIV/AIDS |

| | |
|---|---|
| **UNAMA** | United Nations Assistance Mission in Afghanistan |
| **UNAMID** | United Nations African Mission In Darfur |
| **UNAMIR** | United Nations Assistance Mission for Rwanda |
| **UNASG** | United Nations Agency for Sustainable Growth |
| **UNAVEM II** | United Nations Angola Verification Mission II |
| **UNBA** | United Nations Board of Auditors |
| **UNCDF** | United Nations Capital Development Fund |
| **UNCHR** | United Nations Commission on Human Rights |
| **UNCITRAL** | United Nations Commission on International TRAde Law |
| **UNCT** | United Nations Country Team |
| **UNDEF** | United Nations Democracy Fund |
| **UNDESA** | United Nations Department of Economic and Social Affairs |
| **UNDOF** | United Nations Disengagement Observer Force |
| **UNDP** | United Nations Development Program |
| **UNDSS** | United Nations Department of Safety and Security |
| **UNECA** | United Nations Economic Commission for Africa |
| **UNECE** | United Nations Economic Commission for Europe |
| **UNEP** | United Nations Environment Program |
| **UNESCO** | United Nations Educational, Scientific, and Cultural Organization |
| **UNF** | United Nations Foundation |
| **UNFCCC** | United Nations Framework Convention on Climate Change |
| **UNFDAC** | United Nations Fund for Drug Abuse Control |
| **UNFICYP** | United Nations Force in Cyprus |
| **UNFPA** | United Nations Fund for Population Activities |
| **UNFPA** | United Nations Population Fund |
| **UNGASS** | United Nations General Assembly Special Session |
| **UNGASS** | United Nations General Assmbly |
| **UNGC** | United Nations Genocide Convention |
| **UNGC** | United Nations Global Compact |
| **UNHCHR** | United Nations High Commissioner for Human Rights |
| **UNHCR** | United Nations High Commissioner for Refugees |
| **UNHRC** | United Nations Human Rights Council |
| **UNIC** | United Nations Information Centre |
| **UNICEF** | United Nations Children’s Fund |
| **UNICEF** | United Nations International Children's Emergency Fund |
| **UNIDIR** | United Nations Institute for Disarmament Research |
| **UNIDO** | United Nations Industrial Development Organization |
| **UNIFEM** | United Nations Development Fund for Women |
| **UNIPTF** | United Nations International Police Task Force |
| **UNIS** | United Nations Information Service |
| **UNIS** | United Nations International School |
| **UNIT** | United Nations Intelligence Taskforce |
| **UNITAR** | United Nations Institute For Training And Research |
| **UNITY** | United Nations In The Youth |
| **UNNGLS** | United Nations Non- Governmental Liaison Service |
| **UNO** | United Nations Observer |
| **UNO** | United Nations Organization |

| | |
|---|---|
| **UNOPS** | The United Nations Office for Project Services |
| **UNOSOM** | United Nations Operation in Somalia |
| **UNP** | United Nations Police |
| **UNPA** | United Nations Postal Administration |
| **UNPAAERD** | United Nations Program of Action for African Economic Recovery and Development |
| **UNPD** | United National Party for Development |
| **UNPD** | United Nations Population Division |
| **UNPD** | United Nations Procurement Division |
| **UNPF** | United Nations Peace Forces |
| **UNPROFOR** | United Nations Protection Force |
| **UNRRA** | United Nations Rehabilitation and Relief Administration |
| **UNRRA** | United Nations Relief and Rehabilitation Administration |
| **UNRRO** | United Nations Relief and Rehabilitation Administration |
| **UNRWA** | United Nations Relief and Works Agency |
| **UNSA** | United Nations Student Association |
| **UNSC** | United Nations Security Council |
| **UNSC** | United Nations Space Command |
| **UNSC** | United Nations Special Corps |
| **UNSCO** | United Nations Special Coordinator |
| **UNSF** | United Nations Security Forces |
| **UNSF** | United Nations Special Fund |
| **UNT** | United Nation Troops |
| **UNTSO** | United Nations Truce Supervision Organization |
| **UNU** | United Nations University |
| **UNV** | United Nations Volunteers |
| **UNWCC** | United Nations War Crimes Commission |
| **UNWFP** | United Nations World Food Programme |
| **UNWRA** | United Nations Relief and Works Agency |
| **UNYU** | United Nations Youth Unit |
| **USAID** | United States Agency for International Development |
| **USFU** | United States Fund for UNICEF |
| **USFV** | United States Forces, Vietnam |
| **USN** | United States Navy |
| **UU-UNO** | Unitarian Universalist United Nations Office |
| **WFP** | United Nations World Food Programme |
| **WFP** | World Food Program |
| **WHO** | World Health Association |
| **WHO** | World Health Organization |
| **WLD** | World |
| **WZ** | War Zone |
| **WZ** | West Zone |
| **YP** | Yearly Plan |

# درېيمه مل برخه:
# نړيوالې ورځې

**FEBRUARY**

| | |
|---|---|
| 4 February | World Cancer Day [WHO] |
| 13 February | World Radio Day [UNESCO] |
| 20 February | World Day of Social Justice |
| 21 February | International Mother Language Day [UNESCO] |

**MARCH**

| | |
|---|---|
| 8 March | International Women's Day |
| 20 March | International Day of Happiness |
| 21 March | International Day for the Elimination of Racial Discrimination |
| 21 March | World Poetry Day [UNESCO] |
| 21 March | International Day of Nowruz |
| 21 March | World Down Syndrome Day |
| 21 March | International Day of Forests and the Tree |
| 22 March | World Water Day |
| 23 March | World Meteorological Day [WMO] |
| 24 March | World Tuberculosis Day [WHO] |
| 24 March | International Day for the Right to the Truth concerning Gross Human Rights Violations and for the Dignity of Victims |
| 25 March | International Day of Remembrance of the Victims of Slavery and the Transatlantic Slave Trade |
| 25 March | International Day of Solidarity with Detained and Missing Staff Members |

**APRIL**

| | |
|---|---|
| 2 April | World Autism Awareness Day |
| 4 April | International Day for Mine Awareness and Assistance in Mine Action |
| 7 April | Day of Remembrance of the Victims of the Rwanda Genocide |
| 7 April | World Health Day [WHO] |
| 12 April | International Day of Human Space Flight |
| 22 April | International Mother Earth Day |
| 23 April | World Book and Copyright Day [UNESCO] |
| 25 April | World Malaria Day [WHO] |
| 26 April | World Intellectual Property Day [WIPO] |
| 28 April | World Day for Safety and Health at Work [ILO] |
| 29 April | Day of Remembrance for all Victims of Chemical Warfare |
| 30 April | International Jazz Day |

**MAY**

| | |
|---|---|
| 3 May | World Press Freedom Day |
| 5 May | Day of Vesak |
| 8-9 May | Time of Remembrance and Reconciliation for Those Who Lost Their Lives during the Second World War |
| 12-13 May | World Migratory Bird Day [UNEP] |
| 15 May | International Day of Families |

| | |
|---|---|
| 17 May | World Telecommunication and Information Society Day [ITU] |
| 21 May | World Day for Cultural Diversity for Dialogue and Development |
| 22 May | International Day for Biological Diversity |
| 29 May | International Day of UN Peacekeepers |
| 31 May | World No-Tobacco Day [WHO] |
| **JUNE** | |
| 1 June | Global Day of Parents |
| 4 June | International Day of Innocent Children Victims of Aggression |
| 5 June | World Environment Day [UNEP] |
| 8 June | World Oceans Day |
| 12 June | World Day Against Child Labour [ILO] |
| 14 June | World Blood Donor Day [WHO] |
| 15 June | World Elder Abuse Awareness Day |
| 17 June | World Day to Combat Desertification and Drought |
| 20 June | World Refugee Day |
| 23 June | United Nations Public Service Day |
| 23 June | International Widow's Day |
| 25 June | Day of the Seafarer [IMO] |
| 26 June | International Day against Drug Abuse and Illicit Trafficking |
| 26 June | United Nations International Day in Support of Victims of Torture |
| **JULY** | |
| 7 July | International Day of Cooperatives |
| 11 July | World Population Day |
| 18 July | Nelson Mandela International Day |
| 28 July | World Hepatitis Day [WHO] |
| 30 July | International Day of Friendship |
| **AUGUST** | |
| 9 August | International Day of the World's Indigenous People |
| 12 August | International Youth Day |
| 19 August | World Humanitarian Day |
| 23 August | International Day for the Remembrance of the Slave Trade and Its Abolition [UNESCO] |
| 29 August | International Day against Nuclear Tests |
| 30 August | International Day of the Victims of Enforced Disappearances |
| **SEPTEMBER** | |
| 5 September | International Day of Charity |
| 8 September | International Literacy Day [UNESCO] |
| 10 September | World Suicide Prevention Day [WHO] |
| 12 September | United Nations Day for South-South Cooperation |
| 15 September | International Day of Democracy |
| 16 September | International Day for the Preservation of the Ozone Layer |
| 21 September | International Day of Peace |
| 27 September | World Tourism Day [UNWTO] |
| 27 September | World Maritime Day [IMO] |
| 28 September | World Rabies Day [WHO] |
| 29 September | World Heart Day [WHO] |

**OCTOBER**

| | |
|---|---|
| 1 October | World Habitat Day |
| 1 October | International Day of Older Persons |
| 2 October | International Day of Non-Violence |
| 5 October | World Teachers' Day [UNESCO] |
| 9 October | World Post Day |
| 10 October | World Mental Health Day [WHO] |
| 11 October | International Day of the Girl Child |
| 11 October | World Sight Day [WHO] |
| 13 October | International Day for Disaster Reduction |
| 15 October | International Day of Rural Women |
| 16 October | World Food Day [FAO] |
| 17 October | International Day for the Eradication of Poverty |
| 24 October | United Nations Day |
| 24 October | World Development Information Day |
| 27 October | World Day for Audiovisual Heritage [UNESCO] |

**NOVEMBER**

| | |
|---|---|
| 6 November | International Day for Preventing the Exploitation of the Environment in War and Armed Conflict |
| 10 November | World Science Day for Peace and Development[UNESCO] |
| 12 November | World Pneumonia Day [WHO] |
| 14 November | World Diabetes Day [WHO] |
| 15 November | World Philosophy Day [UNESCO] |
| 16 November | International Day for Tolerance |
| 16 November | World Chronic Obstructive Pulmonary Disease Day[WHO] |
| 18 November | World Day of Remembrance for Road Traffic Victims[WHO] |
| 20 November | Universal Children's Day |
| 20 November | Africa Industrialization Day |
| 21 November | World Television Day |
| 25 November | International Day for the Elimination of Violence against Women |
| 29 November | International Day of Solidarity with the Palestinian People |

**DECEMBER**

| | |
|---|---|
| 1 December | World AIDS Day |
| 2 December | International Day for the Abolition of Slavery |
| 3 December | International Day of Persons with Disabilities |
| 5 December | International Volunteer Day for Economic and Social Development |
| 7 December | International Civil Aviation Day [ICAO] |
| 9 December | International Anti-Corruption Day |
| 10 December | Human Rights Day |
| 11 December | International Mountain Day |
| 18 December | International Migrants Day |
| 20 December | International Human Solidarity Day |

# خلورمه مل برخه:

# نړیوالې لسیزې

**2014–2024** United Nations Decade of Sustainable Energy for All

**2011–2020** Third International Decade for the Eradication of Colonialism United Nations Decade on Biodiversity Decade of Action for Road Safety

**2010–2020** United Nations Decade for Deserts and the Fight against Desertification

**2008–2017** Second United Nations Decade for the Eradication of Poverty

**2006–2016** Decade of Recovery and Sustainable Development of the Affected Regions (third decade after the Chernobyl disaster)

**2005–2015** International Decade for Action, “Water for Life”

**2005–2014** United Nations Decade of Education for Sustainable Development Second International Decade of the World’s Indigenous People

**2003–2012** United Nations Literacy Decade: Education for All

**2001–2010** International Decade for a Culture of Peace and Non-violence for the Children of the World Decade to Roll Back Malaria in Developing Countries, Particularly in Africa Second International Decade for the Eradication of Colonialism

**1997–2006** Decade for The Eradication for Poverty

**1995–2004** Decade for Human Rights Education

**1994–2004** Decade of the World's Indigenous People

**1993–2003** Third Decade to Combat Racism and Racial Discrimination

**1991–2000** Second Industrial Development Decade for Africa Second Transport and Communications Decade in Africa United Nations Decade Against Drug Abuse Fourth United Nations Development Decade

**1990–2000** International Decade for the Eradification of Colonialism

**1990–1999** United Nations Decade of International Law International Decade for Natural Disaster Reduction

**1988–1997** World Decade for Cultural Development

**1983–1993** Second Decade to Combat Racism and Racial Discrimination

**1983–1992** United Nations Decade for Disabled Persons

**1981–1990** International Drinking Water Supply and Sanitation Decade Third United Nations Development Decade

**1980–1990** Second Disarmament Decade

**1980S** Industrial Development Decade for Africa

**1978–1988** Transport and Communications Decade for Africa

**1976–1985** United Nations Decade for Women: Equality, Development and Peace

**1973–1983** Decade to Combat Racism and Racial Discrimination

**1971–1980** Second United Nations Development Decade

**1970S** Disarmament Decade

**1960–1970** United Nations Development Decade

# د ملګرو ملتونو منشور

**سریزه:**
موږ د ملګرو ملتونو غړي هېوادونه په ټینګه خپله اراده څرګندوو چې راتلونکی نسل دې له جګړو، شخړو او ورانیو چې دوه ځلې یې بشر او نړۍ زیانمنه کړه، وژغورل شي. موږ د ټولو انسانانو؛ ښځې، نر او ماشومانو پر اساسي حقونو، روغتیا، کرامت او د دوی ترمنځ پر حقوقي برابرۍ ټینګار کوو.
موږ په ټینګه د داسې یو حالت غوښتونکي یو چې د هغه له مخې نړیوال تړونونه او قوانین رعایت شي او هغه څه چې په دې قوانینو کې راغلي محترم وګڼل شي، ترڅو په دې ډول د ټولو وګړو ترمنځ عدالت ټینګ شي.
موږ د بشپړې ازادۍ تر سیورې لاندې د ټولنیز پرمختګ او د ښه ژوند د رامنځته کولو په موخه خپله ټینګه اراده څرګندوو.
د دغو موخو او هیلو پر اساس غواړو چې د ښه نیت او ښه ګاونډیتوب له مخې له یو بل سره په سوله او امن کې ژوند وکړو او د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت په موخه خپلې هڅې او قوت سره یو کړو. موږ به داسې لارې چارې غوره کوو چې د پوځي ځواک له کارونې پرته به مو ګډې ګټې د تل لپاره په کې خوندي وي. موږ د نړۍ د ټولو ولسونو د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره نړیواله مشري په کار اچوو. نو ځکه د پورتنیو موخو د لاسته راوړلو لپاره مو پرېکړه کړې چې خپلې هڅې سره ګډې کړو.
دا چې زموږ دولتونو د خپلو استازو په وسیله د امریکا په سنفراسیسکو کې د ملګرو ملتونو پر دغه منشور د رایو په یووالي هوکړه کړې ده، نو له همدې امله یو نړیوال سازمان جوړوو چې هغه د ملګرو ملتونو په نوم یادېږي.

# لومړی څپرکی

# موخې او اصول

لومړۍ ماده:
د ملګرو ملتونو موخې او اصول په لاندې ډول دي:
۱. د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت په موخه د ټولو ګډو اغېزناکو اقداماتو په کار اچول، ترڅو له دې لارې د ګواښونو، تېریو، یرغلونو او نورو سوله ماتوونکو کړنو مخه ونیول شي او همدا راز د عدالت پربنسټ له نړیوالو قوانینو سره سم، په سوله ییز ډول د خبرو اترو له لارې د هغو نړیوالو شخړو او پېښو مخه ونیول شي، چې ښایي نړیواله سوله زیانمنه کړي؛
۲. د ولسونو خپلواکۍ او مساوي حقونو ته درناوی، د ولسونو ترمنځ د دوستانه اړیکو ټینګول او د نړیوالې سولې او ټیکاو په موخه د مناسبو لارو چارو غوره کول؛
۳. د نړیوالو اقتصادي، کلتوري، فرهنګي او بشردوستانه مسایلو د حل په موخه د همکارۍ او مرستو جلبول او له هر ډول توکمیز، جنسي، مذهبي او ژبني توپیر پرته د بشري حقونو هڅول او اساسي ازادیو ته درناوی؛
۴. دغې ګډې موخې ته د رسېدو لپاره د ټولو دولتونو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کول او د کار لپاره د یوه ګډ مرکز ټاکل؛
دویمه ماده:
سازمان او غړي یې د پورتنیو موخو د لاسته راوړلو لپاره چې په لومړۍ ماده کې ترې یادونه شوې ده، په دې ډول عمل کوي:
۱. د سازمان ټول غړي د برابرۍ اصل ته پام سره یو شان او برابر حقونه لري؛
۲. ټول غړي د غړیتوب له حقونو او امتیازونو څخه د ګټې اخیستنې په موخه هغه ژمنې چې د دې منشور له مخې یې کړي، په ښه توګه او ښه نیت سره باید ترسره کړي؛
۳. ټول غړي خپلې نړیوالې شخړې په سوله ییز ډول باید داسې حل کړي، چې نړیوالې سولې او امنیت ته ګواښ پېښ نه شي؛
۴. ټول غړي هېوادونه به په خپلو نړیوالو اړیکو کې د زور له کارونې، تهدید او همدارنګه د هېوادونو د سیاسي خپلواکۍ یا ځمکنۍ بشپړتیا ته له ګواښ پېښولو یا له هرې هغې کړنې چې د ملګرو ملتونو له موخو سره په ټکر کې وي، ډډه کوي؛

۵. ټول غړي د ملګرو ملتونو له هغو کړنو سره چې په دې منشور کې راغلي، هر ډول مرسته کوي او غړي دولتونه به له هغو هېوادونو سره مرسته نه کوي، کوم چې د ملګرو ملتونو له خوا پرې بندیزونه لګېدلي او قهري تدابیر پرې پلي شوي وي ؛

۶. د ملګرو ملتونو سازمان هڅه کوي هغه هېوادونه چې د دغه سازمان غړي نه دي ؛ خو د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت لپاره ورته اړتیا لیدل کېږي، د ملګرو ملتونو د اصولو منلو ته را وبولي ؛

۷. د دې منشور د حکمونو له مخې ملګري ملتونه حق نه لري چې د نورو هېوادونو په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي، ملګري ملتونه همدارنګه حق نه لري چې کوم هېواد په زور او جبر سره د منشور منلو ته اړ کړي، خو دغه اصل په اووم څپرکي کې له پېشبیني شویو قهري اقداماتو څخه مستثناء دی ؛

# دویم څپرکی

# غړیتوب

دریيمه ماده:

د ملګرو ملتونو اصلي غړي هغه هېوادونه دي چې د امریکا په سنفرانسیسکو کنفرانس کې یې برخه اخیستې وه او په ۱۹۴۲ کال کې د متحدینو اعلامیه او دغه منشور یې لاسلیک کړی او د ۱۱۰ مادې له مخې یې تصویب کړی.

څلورمه ماده:

۱. ټول هغه هېوادونه چې سولې ته ژمن وي او د منشور مقررات ومني، کولی شي چې د ملګرو ملتونو په سازمان کې غړیتوب واخلي.

۲. دغه هېوادونه به د امنیت شورا په سپارښتنه او د عمومي اسامبلې په تایید د ملګرو ملتونو غړیتوب ته منل کېږي.

پنځمه ماده:

هغه غړي هېوادونه چې د امنیت شورا له خوا پرې قهري یا احتیاطي تدابیر پلي شوي وي، عمومي اسامبله ښایي د امنیت شورا په سپارښتنه د یاد هېواد حقوق او د غړیتوب ځیني امتیازات وځنډوي. دغه حقوق او امتیازات ښایي د امنیت شورا له خوا بېرته ورکړل شي.

شپږمه ماده:

هغه غړي هېوادونه چې د منشور خلاف کړنې ترسره کړي، د امنیت شورا په سپارښتنه به د عمومي اسامبلې له لوري د سازمان له غړیتوب څخه وایستل شي.

# دریم څپرکی

# څانګې

اوومه ماده:

د ملګرو ملتونو اصلي څانګې دا دي:

۱. عمومي اسامبله

۲. امنیت شورا

۳. اقتصادي او ټولنیزه شورا

۴. د قیمومیت شورا

۵. د عدالت نړیواله محکمه

۶. دارلانشاء (سکرتریت)

د دې منشور له مخې د اړتیا پرمهال نورې څانګې هم جوړېدای شي.

اتمه ماده:

ملګري ملتونه به د سازمان په ټولو فرعي او اصلي څانګو کې د ښځینه او نارینه کارکوونکو پر وړاندې هېڅ راز محدودیتونه وضع نه کړي او ټولو ته به د کار مساوي حقوق ورکړل شي.

# څلورم څپرکی

نهمه ماده:

۱. عمومي اسامبله د ملګرو ملتونو له ټولو غړو څخه جوړه شوې ده.

۲. هر غړی هېواد په سازمان کې له پنځو تنو زیات استازي نه شي لرلی.

**دندې او واکونه**

لسمه ماده:

عمومي اسامبله کولی شي چې د دې منشور په چوکاټ کې ټول مسایل او همدارنګه د سازمان په نورو څانګو پورې اړوند مسایل تر بحث او غور لاندې ونیسي، خو په ۱۲ مه ماده کې له راغلي حالت پرته، د سپارښتنې (توصیې) حق نه لري.

یوولسمه ماده:

۱. عمومي اسامبله کولی شي چې د نړیوالې سولې او ټیکاو په موخه ټول اصول، له دې جملې د بې وسلې کولو اصول تر غور او څېړنې لاندې ونیسي او کولی شي چې د یادو اصولو په اړه د امنیت شورا او غړو ته ځینې سپارښتنې وکړي.

۲. عمومي اسامبله کولی شي چې په نړيوالې سولې او امنيت پورې د اړونده مسايلو په اړه چې د غړو هېوادونو يا امنيت شورا او يا د **۳۵** مې مادې د دويمې فقرې له مخې د ملګرو ملتونو د نا غړو هېوادونو له خوا سازمان ته وړاندې کېږي، بحث وکړي او له ۱۲ مادې پرته امنيت شورا او هېوادونو ته سپارښتنه وکړي. ټول دا ډول مسايل چې د حل لپاره يې اړتيا ليدل کېږي، تر بحث مخکې او وروسته امنيت شورا ته وړاندې کېږي.

۳. عمومي اسامبله کولی شي د هغو احتمالي خطرونو په اړه چې نړيواله سوله او امنيت ګواښي، د امنيت د شورا پام مسلې ته واړوي.

۴. د عمومي اسامبلې واکونه چې په دې ماده کې په ډاګه شوي دي، په ۱۰ مه ماده کې راغلي احکام نه شي محدودولی.

دولسمه ماده:

۱. کله چې امنيت شورا د يوې اختلافي او ناندريزې موضوع د څېړلو په حال کې وي، عمومي اسامبله نه شي کولی چې د يادې موضوع په اړه سپارښتنه يا توصيه وکړي، خو دا چې په خپله د امنيت شورا له خوا له عمومي اسامبله غوښتنه وشي.

۲. د ملګرو ملتونو عمومي منشي به د امنيت شورا په خوښه د سولې او امنيت په تړاو د شورا له هرې غونډې وروسته عمومي اسامبله خبروي او د مسلې تر څېړنې وروسته به عمومي اسامبلې يا که غونډه نه وي، ټولو غړو ته بايد د امنيت شورا د غونډې رپوټ وړاندې کړي.

ديارلسمه ماده:

۱. عمومي اسامبله د لاندنيو موخو او مقصدونو په اړه څېړنې او سپارښتنې کولی شي:

الف: په سياسي ډګر کې د نړيوالو همکاريو پراختيا او د نړيوالو حقوقو تدريجي پراختيا، هڅونه او تدوين.

ب: په اقتصادي، ټولنيزو، کلتوري، روغتيا او علمي برخو کې د نړيوالو همکاريو پراختيا او له توکميز، جنسي، ژبني او مذهبي توپير پرته د بشري حقونو او اساسي ازاديو تحقق.

۲. نور مسوليتونه: د عمومي اسامبلې پورتنۍ دندې او واکونه چې د دې مادې په (ب) بند کې ذکر شوي، په نهم او لسم څپرکي کې په تفصيل سره بيان شوي دي.

څوارلسمه ماده:

عمومي اسامبله د دې منشور د ۱۲ مې مادې د مقرراتو په رعايتولو سره کولی شي، د هر هغه وضعيت د سوله ييز حل په موخه چې ښايي نړيوالې سولې او دوستانه اړيکو ته زيان واړوي، د ځينو اقداماتو سپارښتنه وکړي.

پنځلسمه ماده:

۱. عمومي اسامبله د امنیت شورا کلنی او ځانګړي راپورونه ترلاسه کوي او تر څېړنې لاندې یې نیسي. په دغو راپورونو کې به د امنیت شورا له خوا د نړیوالې سولې او امنیت په موخه د ترسره شویو اقداماتو او هڅو په اړه بشپړ معلومات واضح وي.
۲. عمومي اسامبله د ملګرو ملتونو د سازمان د نورو څانګو راپورونه هم ترلاسه کوي او تر څېړنې لاندې یې نیسي.
شپاړسمه ماده:
عمومي اسامبله د منشور په ۱۲ او ۱۳ څپرکیو کې د وسپارل شویو دندو له مخې، مسولیت لري چې د قیمومیت نظام سره سم د غیرې ستراتېژیکو سیمو په اړه تړونونه تصویب کړي.
اولسمه ماده:
۱. عمومي اسامبله د سازمان بودیجه تر څېړلو وروسته تصویبوي.
۲. د سازمان لګښت د غړو هېوادونو پرغاړه دی. دغه لګښت د عمومي اسامبلې له خوا د ټاکلې ونډې پر اساس تمویلېږي.
۳. عمومی اسامبله د تخصصي موسسو چې په ۵۷ مادې کې ترې یادونه شوې، مالي او بودیجوي مسایل څېړي او تصویبوي او د یادو موسسو د بودیجې د څېړلو په موخه سپارښتنې کوي.
**رایه**
اتلسمه ماده:
۱. د عمومي اسامبلې هر غړی هېواد د یوې رایې حق لري.
۲. د مهمو مسایلو په اړه د اسامبلې پرېکړې د حاضرو غړو دوه ثلثه رایو ته اړتیا لري. لاندې مسایل مهم ګڼل کېږي:
د نړیوالې سولې او امنیت په اړه سپارښتنه (توصیه)؛ د امنیت شورا د غیرې دایمي غړو ټاکل؛ د اقتصادي او ټولنیزې شورا د غړو ټاکل؛ د ۸۴ مادې د درېیمې فقرې له مخې د قیمومیت شورا د غړو ټاکل؛ د ملګرو ملتونو سازمان ته د نویو غړو منل؛ د غړو د حقونو او مزایاوو ځنډول؛ د غړو ایستل؛ په بودیجې او قیمومیت نظام پورې اړوند مسایل.
۳. د نورو مسایلو په اړه پرېکړې هم د رایو په اکثریت ترسره کېږي.
نولسمه ماده:
که د ملګرو ملتونو کوم غړی د مالي ونډې په ورکړه کې ځنډ وکړي او دغه ځنډ د دوو کلونو له ونډې سره برابر وي، په اسامبله کې د رایې ورکونې حق نه لري. خو که اسامبله دا تشخیص کړي چې د ونډې نه ورکول د مالي ناتوانۍ یا کوم بل موجه عذر له امله دی، نو اسامبله دغه غړي ته د رایې ورکولو حق ورکوي.

**کړنلاره (طرزالعمل)**

شلمه ماده: عمومي اسامبله په منظم ډول خپلې کلنۍ غونډې دايروي او د اړتيا پرمهال بېړنۍ غونډې هم جوړولی شي. بېړنۍ غونډې د امنيت شورا يا د اکثريت غړو په غوښتنه د عمومي منشي په بلنه جوړېږي.

يويشتمه ماده:

عمومي اسامبله خپله داخلي کړنلاره تنظيموي. اسامبله د هرې غونډې لپاره دوره يي مشر ټاکي.

دوه ويشتمه ماده:

عمومي اسامبله کولی شي چې د خپلو دندو اجرا په موخه له اړتيا سره سم فرعي څانګې پرانيزي.

# پنځم څپرکی
# امنيت شورا

**جوړښت**

درويشتمه ماده:

۱. امنيت شورا د ملګرو ملتونو له پنځلسو غړو څخه جوړه شوې ده. چين، فرانسه، روسيه، بريتانيا او د امريکا متحده ايالتونه د امنيت شورا دايمي غړي دي. عمومي اسامبله د نړيوالې سولې او امنيت ساتنې، عادلانه جغرافيوي وېش او د سازمان نورو موخو ته په پام سره لس هېوادونه د شورا د غير دايمي غړو په توګه ټاکي.

۲. د امنيت شورا غيرې دايمي غړي د يوې دوه کلنې دورې لپاره ټاکل کېږي. د امنيت شورا دوه غړي د يوې دورې په موخه د يوه کال لپاره ټاکل کېږي. هغه غړی چې له شورا څخه وځي، د بېرته ټاکل کېدو حق نه لري.

۳. د امنيت شورا هر غړی په شورا کې يو تن استازی لري.

**دندې او واکونه**

څلورويشتمه ماده:

۱. د ملګرو ملتونو له خوا د چټک او اغېزناک اقدام د ترسره کولو په موخه ددغه سازمان غړي د نړيوالې سولې او امنيت ساتنې لومړی درجه مسووليت امنيت شورا ته سپارلی او ټولو پرېکړه کړې چې امنيت شورا د دې مسووليت د ترسره کولو په برخه کې اقدام وکړي.

۲. امنیت شورا د دغو دندو د اجرا پرمهال د ملګرو ملتونو د اصولو او موخو پر اساس عمل کوي. هغه ځانګړي واکونه چې د یادو مسولیتونو د اجرا په موخه امنیت شورا ته ورکړل شوي، په ۲، ۷، ۸ او ۱۲ څپرکیو کې په ډاګه شوي دي.

۳. امنیت شورا خپل کلني راپورونه او د اړتیا پرمهال ځانګړي راپورونه، د ارزونې او کتنې په موخه عمومي اسامبلې ته وړاندې کوي.

پنځه ویشتمه ماده:

د ملګرو ملتونو غړي ژمنه کوي چې د دې منشور له مخې د امنیت شورا پرېکړې اجرا او مني.

شپږویشتمه ماده:

امنیت شورا له نړیوالې سولې او امنیت سره د مرستې په موخه د وسلو لپاره لږ تر لږه له اقتصادي او بشري منابعو څخه د ګټې اخیستنې لپاره مکلفه ده چې له ۴۷ مادې سره سم د پوځي کمېټې په مرسته د وسلو د تنظیم په موخه اصول وضع او د ملګرو ملتونو غړو ته یې وړاندې کړي.

**رایه**

اووه ویشتمه:

۱. د امنیت شورا هر غړی یوازې د یوې رایې حق لري.

۲. په کاري طرزالعمل (کړنلارې) پورې د اړونده مسایلو په اړه د امنیت شورا پرېکړې نهو رایو ته اړتیا لري.

۳. د نورو مسایلو په اړه د امنیت شورا پرېکړې د پنځو دایمي غړو په ګډون ټولټال ۹ مثبتو رایو ته اړتیا لري، خو د هغو مسایلو په اړه چې د شپږم څپرکي د ۵۲ مادې د درېیمې فقرې پر اساس ترسره کېږي، د دعوا لوری د رایې ورکونې حق نه لري.

**کړنلاره (طرزالعمل)**

اته ویشتمه ماده:

۱. د امنیت شورا چارې باید داسې تنظیم شي ترڅو وکولی شي چې خپله دنده او مسولیتونه په دوامداره او ښه توګه ترسره کړای شي او همدا راز د سازمان په مقر کې باید هر وخت د امنیت شورا د غړي هېواد یو استازی موجود وي.

۲. امنیت شورا په ټاکلي وخت خپلې غونډې جوړوي او د شورا هر غړی هېواد په خپله خوښه کولی شي چې د خپل یوه تن استازي په واسطه په غونډه کې ګډون وکړي.

۳. امنیت شورا د ملګرو ملتونو د سازمان له مقر پرته که مناسبه وګڼي، کولی شي چې په نورو ځایونو کې هم غونډې جوړې کړي.

نهه ویشتمه ماده:

امنیت شورا کولی شي چې د دندې د اجرا پرمهال د اړتیا وړ فرعي څانګې جوړې کړي.

دېرشمه ماده:

امنيت شورا د خپل مشرتابه د ټاکنې په اړه د نويو ميتودونو د جوړولو په ګډون خپله داخلي کړنلاره تنظيموي.

يو دېرشمه ماده:

د ملګرو ملتونو هغه غړي چې د امنيت شورا غړيتوب نه لري، کولی شي د شورا په ټولو هغو غونډو ګډون وکړي چې د امنيت شورا په اند د دې هېواد لپاره اغېزناک او ګټور دي.

دوه دېرشمه ماده:

که يوه اختلافي مسله په امنيت شورا کې تر څېړنې او بررسۍ لاندې وي او د اختلاف لوري کېدای شي د ملګرو ملتونوغړی يا غړی نه وي، دوی ته به بلنه ورکړل شي ترڅو د موضوع د څېړنې په غونډه کې له رايې ورکونې پرته ګډون وکړي. امنيت شورا به په غونډو کې د هغو هېوادونو لپاره عادلانه شرايط برابروي، چې د ملګرو ملتونو غړي نه دي.

# شپږم څپرکی

# د شخړو سوله ييز حل

درې دېرشمه ماده:

۱. هغه شخړې چې ښايي نړيواله سوله او امنيت له ګواښ سره مخ کړي، د شخړې لوري (مدعي او مدعي عليه ) تر هرڅه لومړی بايد دغه شخړې د خبرو، منځګړيتوب، جوړجاړي، داوري، قضايي څېړنې، سيمه ييز سازمانونو او د نورو سوله ييزو لارو چارو په مرسته حل کړي.

۲. امنيت شورا د اړتيا پر مهال کولی شي چې له ښکېلو غاړو غوښتنه وکړي ترڅو خپل اختلافات له يادو لارو چارو سره سم حل کړي.

څلور دېرشمه ماده :

امنيت شورا کولی شي هره هغه مسله تر غور او څېړنې لاندې ونيسي، چې ښايي د يوې نړيوالې شخړې او ترينګلتيا سبب شي او دوام يې نړيوالې سولې ته ګواښ پېښ کړي.

پنځه دېرشمه ماده:

۱. د ملګرو ملتونو هر غړی کولی شي هغو مسايلو ته چې په ۳۴ ماده کې ترې يادونه شوې، د عمومي اسامبلې او امنيت شورا پام واړوي.

۲. هر هغه هېواد چې د ملګرو ملتونو غړی نه دی، کولی شي د هغې مسلې په اړه چې دی خپله په کې ښکېل دی، عمومي اسامبلې ته خبر ورکړي. خو په دې شرط چې د ياد اختلاف د څېړلو په موخه له مخکې په دې منشور کې د سوله ييز حل اړوند مقررات ومني.

۳. د هغو مسایلو په اړه د عمومي اسامبلې اقدامات چې د دې مادې له مخې یې ترسره کوي، د ۱۱ او ۱۲ مادو د احکامو تابع دي.

شپږ د یرشمه ماده:

۱. امنیت شورا کولی شي د اختلاف یا شخړې په هر پړاو کې، لکه څنګه چې په ۳۳ ماده کې ورته اشاره شوې، د حل و فصل مناسبې لارې چارې توصیه کړي.

۲. امنیت شورا باید د سوله ییز حل هغه میتودونه او لارې چارې چې د دعوا لورو له مخکې پرې هوکړه کړې، وڅاري.

۳. امنیت شورا هغه سپارښتنې چې ددې مادې له مخې یې کوي، دا هم باید په پام کې ولري چې قضیه باید په بشپړ ډول د دعوا د ښکېلو غاړو له خوا د نړیوالې عدلي محکمې د اساسنامې له حکمونو سره سم دغه محکمې ته وړاندې شي.

اووه د یرشمه ماده:

۱. که د دعوا لورو ونه شو کړای چې په ۳۳ ماده کې له ذکر شویو لارو چارو څخه په ګټه اخیستنه خپل اختلاف حل کړي، نو موضوع باید امنیت شورا ته وړاندې کړي.

۲. که امنیت شورا ووینې چې د یوې شخړې دوام نړیواله سوله او امنیت له ګواښ سره مخ کولی شي، د ۳۶ مادې له مخې باید تصمیم ونیسي او یا د موضوع د حل په موخه دې نورې لازمې سپارښتنې وکړي.

اته د یرشمه ماده:

که د اختلاف ټولې خواوې امنیت شورا ته د حل وړاندیز وکړي، امنیت شورا کولی شي چې د ستونزو د حل په موخه ښکېلو غاړو ته داسې سپارښتنې وکړي چې له ۳۳ نه تر ۳۷ مادې پورې زیانمنې نه شي.

# اووم څپرکی

# د سولې ماتونې- ګواښنې او تجاوز کارانه کړنو پر وړاندې اقدامات

نهه د یرشمه ماده:

امنیت شورا باید د سولې پر وړاندې هر ډول ګواښ او تېری تشخیص او له ۴۱-۴۲ مادو سره سم د نړیوالې سولې او امنیت د ساتنې په موخه باید تصمیم ونیسي.

څلویښتمه ماده:

له ترينګلي او ګوابنمن وضعيت څخه د مخنيوي په موخه امنيت شورا مخکې له دې چې د ۳۹ مادې پربنسټ سپاربښتنې او پريکړه وکړي، کولی شي چې له ښکېلو غاړو څخه وغواړي ترڅو يو لړ موقتي تدابير چې امنيت شورا يې اړين او مهم ګڼي، پلي کړي. موقتي تدابير به د ښکېلو غاړو دريځ، ادعا او حقوق زيانمن نه کړي. امنيت شورا دا هم بايد په پام کې ولري چې که دغه موقتي تدابير پلي نه شي او سرغړونه ترې وشي، څه بايد وکړي.

يو څلوېښتمه ماده:

امنيت شورا کولی شي چې د خپلو پريکړو د اجرا په موخه د وسلوال ځواک له کارونې پرته داسې لارې چارې وکاروي چې دغه شورا يې لازمه وګڼي. شورا کولی شي د ملګرو ملتونو له ټولو غړو څخه غوښتنه وکړي چې له سرغړوونکو هېوادونو سره ډيپلوماټيکې، اقتصادي، ټرانسپورټي، سمندري، هوايي، پوستي او مخابراتي اړيکې پرې کړي.

دوه څلوېښتمه ماده:

که امنيت شورا په ۴۱ ماده کې پېشبيني شوي اقدامات کافي او اغېزناک ونه ګڼل، د نړيوالې سولې او امنيت ساتنې په موخه کولی شي چې له هوايي، سمندري او ځمکني ځواک څخه استفاده وکړي. په دغو اقداماتو کې لاريونونه، محاصره، ځمکني، هوايي او سمندري عمليات شامل دي.

درې څلوېښتمه ماده:

۱. د ملګرو ملتونو ټول غړي ژمنه کوي چې پورتنۍ موخې ته د رسېدو لپاره د يوه هوکړه ليک له مخې به د امنيت شورا په غوښتنه دغې شورا ته وسلوال ځواکونه او نورې اسانتياوې لکه د نړيوالې سولې او امنيت د ټينګښت لپاره د پوځونو لېږد ته له خپلې خاورې لار په واک کې ورکړي.

۲. په يادو هوکړه ليکونو کې به د سرتېرو شمېر او ډول، د هغوی د چمتووالي ډول او عمومي قرار ګاه، د اسانتياوو څرنګوالی او نورې مرستې په ډاګه شي.

۳. د امنيت شورا په نوښت د دې ډول هوکړه ليکونو د لاسليک په اړه خبرې به ډېر ژر ترسره شي. دغه هوکړه ليکونه به د امنيت شورا او د ملګرو ملتونو د غړو او يا د امنيت شورا او نورو غړو ترمنځ لاسليک شي. غړي هېوادونه بايد خپلو اساسي قوانينو ته په پام سره دغه هوکړه ليکونه تصويب کړي.

څلور څلوېښتمه ماده:

کله چې امنيت شورا د پوځي ځواک د کارونې پريکړه کوي،نو مخکې له دې چې د ۴۳ مادې له مخې د ملګرو ملتونو له کوم غړي څخه د وسلوالو ځواکونو غوښتنه وکړي، بايد دغه غړی په همدې اړه د امنيت شورا جوړې شوې غونډې ته ور وغواړي.

پنځه څلوېښتمه:

د دې لپاره چې د ملګرو ملتونو سازمان د چټکو پوځي اقداماتو په ترسره کولو وتوانېږي، غړي هېوادونه باید د خپل هوایي ځواک یوه برخه نړیوالو ډله ییزو عملیاتو ته چمتو کړي. د پوځ شمېر، د چمتووالي کچه او د ډله ییزو عملیاتو طرحې په ۴۳ ماده کې د ذکر شویو هوکړه لیکونو پر اساس د امنیت شورا او پوځي کمېټې له خوا په ګډه ټاکل کېږي.

شپږڅلوېښتمه ماده:

له وسلوالو ځواکونو څخه د کارونې اړوند پلانونه د امنیت شورا او پوځي کمېټې په مرسته جوړېږي.

اووه څلوېښتمه ماده:

۱. د دې لپاره چې امنیت شورا په نړیوالې سولې او امنیت پورې اړوند مسایل، د وسلوالو ځواکونو رهبري، بې وسلې کول او نورې چارې تنظیم کړي، د دې چارو د تنظیم په موخه پوځي کمېټه جوړوي.

۲. پوځي کمېټه به د امنیت شورا د غړو له افسرانو او یا د دوی له استازو جوړېږي. همدارنګه که د امنیت شورا پوځي کمېټه لازمه وګڼي، کولی شي د ملګرو ملتونو هغو غړو ته هم په پوځي کمېټه کې د ګډون بلنه ورکړي، چې د امنیت شورا غړیتوب نه لري.

۳. د امنیت شورا تر مشرۍ لاندې پوځي کمېټه د ټولو وسلوالو ځواکونو قومانده او مشري پر غاړه لري. د وسلوالو ځواکونو په قوماندې پورې اړوند موضوعات به وروسته بیان شي.

۴. پوځي کمېټه د امنیت شورا په اجازه او له سیمه ییزو سازمانونو سره تر مشورې وروسته کولی شي چې فرعي کمېټې جوړې کړي.

اته څلوېښتمه ماده:

۱. د ملګرو ملتونو ټول یا ځیني غړي د نړیوالې سولې او امنیت ساتنې په برخه کې د پرېکړو د اجرا په موخه باید لازم اقدامات وکړي.

۲. دغه پرېکړې به د ملګرو ملتونو غړي په مستقیم ډول په خپله او یا د هغو نړیوالو نمایندګیو له لارې پلې کوي، چې نوموړی دولت یې غړی دی.

نهه څلوېښتمه ماده:

د ملګرو ملتونو غړي به د امنیت شورا له خوا د نیول شویو پرېکړو د اجرا لپاره له یو بل سره په ګډه مرسته کوي.

پنځوسمه ماده:

کله چې امنیت شورا د یوه هېواد پر وړاندې قهري اقدامات تر لاس لاندې نیسي او ددې اقداماتو له امله نور هېوادونه (د ملګرو ملتونو غړي او نا غړي) له اقتصادي ستونزو او زیانونو سره مخ کېږي، زیانمن شوي هېوادونه حق لري چې د ستونزې په اړه امنیت شورا ته شکایت وکړي.

یو پنځوسمه ماده:

د ملګرو ملتونو پر یوه غړي دولت د وسلوال برید په صورت کې تر هغو چې امنیت شورا د نړیوال امنیت او سولې د خوندیتوب په موخه لازم اقدامات ترسره کوي، د دې منشور هېڅ حکم به له ځانه د ذاتي دفاع په وړاندې خنډ نه شي. په دې دفاع کې فردي او ډله ییزه دفاع دواړه شامل دي. د ملګرو ملتونو غړي باید ددې ډول دفاع په اړه ژر تر ژره امنیت شورا ته خبر ورکړي. دغه اقدامات به د امنیت شورا پر دندو او واکونو چې په منشور کې ذکر شوي، هېڅ راز اغېز و نه لري.

# اتم څپرکی

# سیمه ییز تړونونه

دوه پنځوسمه ماده:

۱. هغه سیمه ییز سازمانونه او بنسټونه چې د نړیوالې سولې او امنیت د ټینګښت په موخه جوړېږي، دغه منشور یې پر وړاندې خنډ نه شي کېدای. خو په دې شرط چې د دغو سازمانونو فعالیتونه د ملګرو ملتونو له موخو او اصولو سره همغاړي وي.

۲. د ملګرو ملتونو غړي چې دا ډول بنسټونه او سازمانونه جوړوي، خپلې سیمه ییزې شخړې لومړی باید د همدې بنسټونو له لارې حل کړي، که چېرې دغو سازمانونو مسله حل نه کړه، نو باید امنیت شورا ته وړاندې شي.

۳. امنیت شورا د دې ډول بنسټونو او سازمانونو له لارې د سیمه ییزو شخړو او ستونزو حل په موخه یاد هېوادونه هڅوي.

۴. دغه ماده به د ۳۴ مې او ۳۵ مې مادې پر حکمونو اغېز و نه کړي.

درې پنځوسمه ماده:

۱. امنیت شورا کولی شي چې د اړتیا پر مهال سیمه ییزو سازمانونو ته ځینې مسولیتونه ور وسپاري. خو سیمه ییز سازمانونه او نورو جوړښتونه د امنیت شورا له اجازې پرته هېڅ ډول اقدامات نه شي ترسره کولی. هغه اقدامات چې د ۱۰۷ مې مادې یا د سیمه ییزو سازمانونو او نورو تړونونو پربنسټ د دښمن هېواد یا کوم بل یرغلګرو هېواد پر وړاندې ترسره کېږي، که د ملګرو ملتونو سازمان په قضیه کې د یوه ښکېل هېواد په غوښتنه د دې ډول یرغل مخنیوی کوي، له دې قاعدې څخه مستثناء دي.

۲. د (دښمن هېواد ) کلیمه هغو هېوادونو ته کارول کېږي چې په دویمه نړیواله جګړه کې د دې منشور د لاسلیکوونکو هېوادونو دښمنان وو.
۴. د سیمه ییزو سازمانونو او جوړښتونو په مرسته د نړیوالې سولې او امنیت لپاره چې کوم فعالیتونه ترسره کېږي، راپور یې وخت پر وخت باید امنیت شورا ته وړاندې شي.

# نهم څپرکی

# نړیوالې اقتصادي او ټولنیزې مرستې

پنځه پنځوسمه ماده:
د ملګرو ملتونو سازمان دنړۍ د ولسونو ترمنځ د نېکمرغۍ او ښو اړیکو د ټینګښت په موخه چې د حقوقي برابرۍ پر اصل ولاړ وي، لاندې مسایلو ته پاملرنه کوي او هڅوي یې.
الف: د ژوند د سطحې لوړول، په اقتصادي او ټولنیز نظام کې د وړ کاري شرایطو رامنځته کول؛
ب: د نړیوالو اقتصادي، ټولنیزو او روغتیایي او اړونده مسایلو حل او د کلتوري او علمي همکاریو پراختیا ؛
ج: له ژبني، مذهبي او نژادي توپیر پرته د بشر حقونو او اساسي ازادیو ته درناوی.
شپږ پنځوسمه ماده:
د ملګرو ملتونو ټول غړي ژمنه کوي چې په **۵۵** ماده کې د یادو شویو موخو د تحقق لپاره د ملګرو ملتونو سازمان سره فردي او ګډه همکاري کوي.
اووه پنځوسمه ماده:
۱. هغه بېلابېلې تخصصي موسسې چې د هېوادنو ترمنځ د یوه هوکړه لیک له مخې جوړې شوې او له خپلې اساسنامې سره سم په اقتصادي، ټولنیز، کلتوري، ښوونیز ، روغتیایي او نورو اړونده برخو کې د یوه پراخ مسولیت لپاره کار کوي؛ د منشور د **۲۳** مادې له مخې د ملګرو ملتونو په سازمان پورې اړه لري.
۲. دغه ډول موسسې چې په ملګرو ملتونو پورې اړوند کېږي، له دې وروسته د تخصصي موسسو په نوم یادېږي.
اته پنځمو سمه ماده:
سازمان به د تخصصي موسسو د فعالیتونو او تګلارو د همغږي کولو په موخه هغوی ته توصیه وکړي.
نهه پنځوسمه ماده:

سازمان د اړتیا پرمهال د نویو تخصصي موسسو د جوړېدو لپاره چې په **۵۵** ماده کې له ذکرشویو موخو سره سم اړتیا ورته لیدل کېږي، د هېوادونو ترمنځ د ناستې اسانتیاوې برابروي.

شپېتمه ماده:

د سازمان د دندې د اجرا مسولیت چې په دې څپرکي کې ترې یادونه شوې، د عمومي اسامبلې پر غاړه او د عمومي اسامبلې تر نظر لاندې د اقتصادي او ټولنیزې شورا پر غاړه دی چې په دې اړوند مسولیتونه یې په لسم څپرکي کې په ډاګه شوي دي.

# لسم څپرکی
# اقتصادي او ټولنیزه شورا

یو شپېتمه ماده:

۱. اقتصادي او ټولنیزه شورا د ملګرو ملتونو له **۵۴** غړو هېوادونو څخه جوړه شوې چې د عمومي اسامبلې له خوا ټاکل کېږي.

۲. د دې مادې د دریمې فقرې په رعایت سره، د اقتصادي او ټولنیزې شورا اتلس غړي د درې کلونو لپاره انتخابېږي. هغه غړی چې وځي، د بیا انتخاب حق لري.

۳. تر لومړي ځل ټاکنو وروسته د اقتصادي او ټولنیزې شورا له **۲۷** څخه **۵۴** ته د غړو زیاتول، سربېره پر هغو نهه غړو چې د خدمت دوره یې پای ته رسېږي، نوي **۲۷** غړي ټاکل کېږي. د دغه **۲۷** اضافي غړو د خدمت دوره تر یوه کال او نهه نورو غړو د خدمت دوره د دویم کال په ورستیو کې په داسې حال کې پای ته رسېږي، چې د عمومي اسامبلې له خوا پرېکړه وشي.

**دندې او واکونه**

دوه شپېتمه ماده:

۱. اقتصادي او ټولنیزه شورا کولی شي چې د نړیوالو اقتصادي، ټولنیزو، کلتوري، ښوونیزو، روغتیایي او نورو اړونده مسایلو په اړه مطالعات او راپورونه چمتو او یا زمینه ورته برابره کړي. شورا دغه راز کولای شي چې د یادو مسایلو په اړه عمومي اسامبلې، د سازمان غړو او اړونده تخصصي موسسو ته توصیه وکړي.

۲. اقتصادي او ټولنیزه شورا کولی شي چې د بشري حقونو د هڅونې او د بشر د اساسي ازادیو د تحقق لپاره توصیې وکړي.

۳. اقتصادي او ټولنیزه شورا کولی شي د هغو چارو په اړه چې د ترسره کولو واک یې لري، طرحې یې عمومي اسامبلې ته وړاندې کړي.

۴. اقتصادي او ټولنیزه شورا کولی شي د خپل واک په چوکاټ کې د ملګرو ملتونو د مقرراتو سره سم نړیوال کنفرانسونه جوړ کړي.

دري شپېتمه ماده:

۱. اقتصادي او ټولنیزه شورا کولی شي چې د ۵۷ مادې له مخې له یادې هرې موسسې سره تړون لاسلیک کړي. هغه شرایط باید په ډاکه شي چې له مخې یې اړونده تخصصي موسسې د ملګرو ملتونو په سازمان پورې تړل کېږي. دغه ډول تړونونه باید د عمومي اسامبلې له خوا تصویب شي.

۲. اقتصادي او ټولنیزه شورا باید له تخصصي سازمانونو سره د سلا مشورې او د عمومي اسامبلې او د ملګرو ملتونو غړو ته د توصیې له لارې د تخصصي سازمانونو فعالیتونه همغږي کړي.

څلور شپېتمه ماده:

۱. اقتصادي او ټولنیزه شورا باید د تخصصي موسسو له فعالیتونو څخه د خبرېدو په موخه ځانګړي اقدامات ترسره کړي. شورا باید د هغو اقداماتو په اړه چې د دې شورا او عمومي اسامبلې له خوا د توصیې په پایله کې ترسره شوي وي، د راپور د ترلاسه کولو لپاره یې باید د ملګرو ملتونو له غړو او تخصصي موسسو سره په ګډه ترتیبات ونیسي.

۲. اقتصادي او ټولنیزه شورا کولی شي چې د دغو راپورونو په اړه خپل ملاحظات عمومي اسامبلې ته وړاندې کړي.

پنځه شپېتمه ماده:

اقتصادي او ټولنیزه شورا کولی شي چې امنیت شورا ته ځینې اطلاعات ورکړي او د اړتیا پر مهال له شورا سره مرسته وکړي.

شپږ شپېتمه ماده:

۱. که د عمومي اسامبلې له خوا په صادرې شوې توصیه کې داسې یوه مسله چې هغه د اقتصادي او ټولنیزې شورا له واکونو څخه وي، شورا باید هغه ترسره کړي.

۲. اقتصادي او ټولنیزه شورا د عمومي اسامبلې په تایید کولی شي هغه خدمتونه ترسره کړي چې د ملګرو ملتونو د غړو یا د تخصصي موسسو له خوا یې غوښتنه شوې وي.

۳. اقتصادي او ټولنیزه شورا باید هغه مسولیتونه او دندې چې په دې منشور کې روښانه شوي یا ښایي وروسته د عمومي اسامبلې له خوا ورته وسپارل شي، ترسره کړي.

**رایه اچونه**

اووه شپېتمه ماده:

۱. د اقتصادي او ټولنیزې شورا هر غړی د یوې رایې حق لري.

۲. د اقتصادي او ټولنیزې شورا پرېکړې د حاضرو اکثریت غړو له خوا ترسره کېږي.

**کړنلاره**

**اته شپېتمه ماده:**

اقتصادي او ټولنیزه شورا کولی شي چې د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو او د بشر حقونو د ترویج په موخه د اړتیا وړ کمېسیونونه جوړ کړي.

**نهه شپېتمه ماده:**

که د ملګرو ملتونو کوم غړی هېواد په یوه موضوع کې ځان شریک وبولي، اقتصادي او ټولنیزه شورا باید دغه هېواد ته د رایې له کارونې پرته د ګډون اجازه ورکړي.

**اویایمه ماده:**

اقتصادي او ټولنیزه شورا هغه استازي چې په غونډو او ناستو کې د څارونکي په توګه له رایې کارونې پرته برخه اخلي، د هغوی د ګډون لپاره باید لازم تدابیر ونیسي.

**یو اویایمه ماده:**

اقتصادي او ټولنیزه شورا باید له هغو غیرې حکومتي سازمانونو سره چې له دغې شورا سره ګډ کار کوي، د سلا مشورې لپاره لازم تدابیر ونیسي. دغه تدابیر ښایي د ملګرو ملتونو له ذینفع غړو سره تر مشورې وروسته د ملي او نړیوالو سازمانونو په وړاندې پلي شي.

**دوه اویایمه ماده:**

۱. اقتصادي او ټولنیزه شورا باید خپله داخلي کړنلاره جوړه او د هغې له مخې د شورا لپاره د مشر ټاکلو څرنګوالی روښانه کړي.

۲. اقتصادي او ټولنیزه شورا د اړتیا پرمهال د کړنلارې له مخې خپلې غونډې جوړوي. په کړنلاره کې باید د اکثریت غړو له خوا د غونډو د جوړېدو اړوند مقررات شامل وي.

# یوولسم څپرکی

# د نا خپلواکه سیمو په اړه اعلامیه

**دری اویایمه ماده:**

د ملګرو ملتونو غړي هېوادونه د هغو سیمو د ادارې او سرپرستۍ مسولیت پر غاړه اخیستی او اخلي، چې وګړي یې تر اوسه د خپلواک حکومت په جوړولو نه دي بریالي شوي. د ملګرو ملتونو غړي ژمنه کوي چې د دې ډول سیمو د خلکو ګټې په رسمیت پېژني، د هوساینې لپاره یې هڅه کوي او د یوه سپېڅلي امانت په توګه ژمنه کوي چې د دې منشور د احکامو مطابق د نړیوالې سولې او امنیت د اصولو په چوکاټ کې خپل ماموریت د لاندې ټکو په پام کې نیولو سره پر مخ بیايي:

الف- د سيمې د خلکو فرهنګ ته په درناوي بايد هغوی ته په سياسي، اقتصادي، ټولنيزو او ښوونيزو برخو کې د پرمختګ زمينه برابره شي. له خلکو سره چلند بايد عادلانه وي او له هغوی څخه د ناوړه استفادې مخه دې ونيول شي؛
ب- د خپلواک حکومت د پرمختګ لپاره بايد هڅه وشي، د خلکو احساساتو ته بايد درناوی او د هرې سيمې او وګړو له حالاتو سره سم د سياسي بنسټونو په پياوړي کولو سره بايد د هغوی ملاتړ او مرسته وشي؛
ج- د نړيوالې سولې او امنيت د ټينګښت لپاره بايد هڅه وشي؛
د- د پرمختګ لپاره بايد رغنده او اغېزناک اقدامات ترسره شي او د دې لپاره چې د ټولنيزو، اقتصادي او علمي مقصدونو لپاره عملاً کار وشي، بايد علمي څېړنې وهڅول شي او د اړتيا پر مهال له تخصصي سازمانونو سره په ګډه همکاري وشي؛
هـ -کله چې امنيتي او د اساسي قانون له مخې نور ملحوظات دا ايجاب کړي، احصايه او نور معلومات چې تخنيکي وي او د خپلواکو سيمو په اقتصادي او ټولنيزو شرايطو پورې تړاو ولري (د ۱۲ او ۱۳ څپرکيو کې له يادو شويو سيمو پرته)، په دې اړه بايد د ملګرو ملتونو عمومي منشي ته اطلاع ورکړل شي.
څلوراويايمه ماده:
د ملګرو ملتونو د سازمان غړي همدا راز ژمنه کوي چې تګلاره يې بايد په دې څپرکي کې د يادو شويو سيمو او ځمکو په ګډون د خپلې اصلي خاورې په قلمرو کې په اقتصادي، اجتماعي او سوداګريزه برخه کې په ټوله نړۍ کې د ښه نيت پر اصل ولاړه وي.

# دولسم څپرکی
# د قيمومیت نظام

پنځه اويايمه ماده:
د ملګرو ملتونو سازمان د هغو سيمو د ادارې او سرپرستۍ لپاره چې ښايي وروسته د ځينو توافق نامو له مخې يې د ساتنې مسوليت پر غاړه واخلي، د قيموميت سيستم رامنځته کوي. دغه ځمکې يا سيمې تر دې وروسته (تر قيموميت لاندې سيمې) په نوم يادېږي.
شپږ اويايمه ماده:
د دې منشور په لومړۍ ماده کې د ملګرو ملتونو د ذکر شويو موخو پربنسټ د قيموميت نظام اساسي هدفونه په لاندې ډول دي:
الف- د نړيوالې سولې او امنيت ټينګښت؛

ب- تر قیمومیت لاندې سیمو د وګړو له اقتصادي، سیاسي، ټولنیز او علمي پرمختګ سره مرسته او په تدریجي ډول د خپلواک حکومت جوړولو ته د هغوی چمتوکول او په توافقنامه کې د راغلو نورو حکمونو پلي کول؛
ج- له جنسي، توکمیز، مذهبي او ژبنیو توپیرونو پرته ټولو ته د یو شان ازادۍ ورکول او د بشري حقونو درناوی او هڅونه او خلک په دې پوهول چې د نړۍ ټول وګړي او ملتونه یو بل ته اړتیا لري؛
د- د ملګرو ملتونو ټولو غړو هېوادونو او د هغوی وګړو سره په اقتصادي، ټولنیزو او سوداګریزو برخو کې یو ډول چلن او د منشور اتیایمې مادې ته په درناوي د ټولو خلکو ترمنځ عدالت پلي کول؛
اووه اویایمه ماده:
۱. هغه سیمې چې د قیمومیت په نظام کې شاملېږي، په دې ډول دي:
الف- هغه سیمې چې اوس تر وصایت لاندې دي؛
ب- هغه سیمې چې په دویم نړیوال جنګ کې له دښمن هېواد څخه جلا کېږي؛
۲. هغه سیمې چې د مسوولو هېوادونو په خوښه د قیمومیت نظام ته سپارل کېږي؛
۳. دا به وروسته د یوې بلې موافقتنامې له لارې روښانه شي چې کومې سیمې د یادو ردیفونو له مخې په کومو شرایطو د قیمومیت نظام تر واک لاندې راتلای شي.
اته اویایمه ماده:
هغه هېوادونه او سیمې چې د ملګرو ملتونو غړیتوب لري، د قیمومیت په نظام کې نه شي راتلای او د هغوی ترمنځ اړیکې د حاکمیت د برابرۍ پر اصل ولاړې دي.
نهه اویایمه ماده:
تر قیمومیت لاندې سیمو په اړه شرایط او همدا راز د دې شرایطو اصلاح او بدلون په تړون کې د دواړو غاړو په هوکړې پورې اړه لري او د ۸۳ او ۸۵ مې مادې له مخې ټاکل کېږي.
اتیایمه ماده:
۱- له هغه څه پرته چې د منشور د ۷۷، ۷۹ او ۸۱ مادو له مخې د قیمومیت ځانګړي تړونونه لاسلیکېږي او په پایله کې یې یوه سیمه د قیمومیت تر نظام لاندې راځي، ښایي د تایید وړ وګرځي او د دې ډول تړونونو د لاسلیک تر وخته د دې څپرکي هېڅ حکم باید داسې تعبیر نه شي چې د کوم هېواد یا خلکو په حقوقو یا د موجوده نړیوالو اسنادو په حکمونو کې چې ښایي د ملګرو ملتونو غړي د هغه یو لوری وي، بدلون راولي.
۲. د دې مادې لومړی بند باید داسې تفسیر نه شي، چې د خبرو د ځنډ او د قیمومیت اړونده تړونونو او همدارنګه په ۷۷ مه ماده کې د یادو شویو سیمو پر وړاندې د ځنډ لامل شي.

يو اتيا يمه ماده:

د قيموميت تړون به د هغو شرايطو لرونکی وي، چې له مخې يې يوه سيمه تر قيموميت لاندې راځي او هغه مقام چې د دې سيمې ادار پر غاړه اخلي، له دې وروسته به د اداره کوونکي مقام په نوم ياد يږي، دا مقام ښايي يو يا څو دولتونه او يا سازمان وي.

دوه اتيا يمه ماده:

د قيموميت په هر قرارداد کې کېدای شي يا يو څو ستراتېژيکې سيمې وټاکل شي، دغې سيمې پرته له دې چې د ۴۳ مادې له مخې ځانګړو هوکړه ليکونو ته کوم زيان ورسوي، د قيموميت د تړون اړونده موضوع ګڼل کېږي.

درې اتيا يمه ماده:

۱. د قيموميت د تړونونو د تصويب، اصلاح او بدلون په ګډون د ستراتېژيکو يا سوق الجيشي سيمو ټولې چارې د امنيت شورا له لوري ترسره کېږي.

۲. په ۷۶ مه ماده کې راغلې اساسي موخې د هرې ستراتېژيکې سيمې د اوسېدونکو په اړه بايد رعايت شي.

۳. امنيت شورا د قيموميت تړونونو ته په درناوي سره، پرته له دې چې امنيت ته زيان ورسېږي، کولای شي د هغو مسووليتونو د اجرا په برخه کې چې په سياسي، اقتصادي، ټولنيزو او ښوونيزو برخو کې يې په ستراتېژيکو سيمو کې پر غاړه لري، د قيموميت شورا له مرستو ګټه واخلي.

څلور اتيا يمه ماده:

اداره کوونکی مقام مکلفيت لري چې تر قيموميت لاندې سيمو د څارنې او ساتنې له لارې د نړيوالې سولې او امنيت په ساتنه کې خپل رول او ونډه ادا کړي. په همدې موخه ادراه کوونکی مقام بايد تر قيموميت لاندې خاورې په داخل کې د نظم او قانون د ساتنې او د خاورې د دفاع په موخه د امنيت شورا پر وړاندې خپلې ژمنې او مسووليتونه ترسره کړي.

پنځه اتيا يمه ماده:

۱. تر قيموميت لاندې د غير ستراتېژيکو سيمو د ټولو تړونونو تصويب، اصلاح او تغير د عمومي اسامبلې له لوري ترسره کېږي.

۲. د قيموميت شورا چې د عمومي اسامبلې تر څارنې لاندې فعاليت کوي، د دغو دندو په اجرا کې به له عمومي اسامبلې سره مرسته کوي.

# دیارلسم څپرکی

# د قیمومیت شورا

**جوړښت**

شپږ اتیایمه ماده:

۱. د قیمومیت شورا د ملګرو ملتونو له غړو څخه جوړه شوې چې په لاندې ډول ده:

الف- تر قیمومیت لاندې سیمو اداره کوونکي غړي

ب- هغه غړي چې په **۲۳** مه ماده کې یې نومونه راغلي او تر قیمومیت لاندې سیمو د اداره کولو مسوولیت پر غاړه نه لري

ج – هغه غړي چې د عمومي اسامبلې له خوا د یوې درې کلنې دورې لپاره ټاکل کېږي.

۲. د قیمومیت شورا هر غړی باید په شرایطو برابر خپل یو با صلاحیته استازی شورا ته معرفي کړي.

**دندې او واکونه**

اووه اتیا یمه ماده:

عمومي اسامبله او د دې اسامبلې تر څارنې لاندې د قیمومیت شورا کولای شي:

الف- هغه ګزارشونه چې د اداره کوونکي مقام له خوا ورته راوړل کېږي، رسیدګي باید ورته وکړي.

ب- شکایتونه ترلاسه او له اداري کوونکي مقام سره په ګډه ورته رسیدګي وکړي.

ج-داسې ترتیبات برابر کړي چې د اداره کوونکي مقام په خوښه وخت پر وخت د قیمومیت لاندې سیمو څخه لیدنه وکړي.

د- دغه او نور اقدامات باید د قیمومیت تړون سره سم ترسره کړي.

اته اتیا یمه ماده:

قیمومیت شورا دنده لري چې د تر قیمومیت لاندې سیمو د اقتصادي، سیاسي، ټولنیزو او ښوونیزو پرمختګونو په اړه پوښتنې طرحه کړي او د هرې سیمې اداره کوونکی مقام دنده لري چې هر کال د یادو پوښتنو په اړه عمومي اسامبلې ته راپور وړاندې کړي.

**رایه**

نهه اتیا یمه ماده:

۱. د قیمومیت شورا هر غړی د یوې رایې حق لري.

۲. د قیمومیت شورا پرېکړې د حاضرو غړو د رایو په اکثریت ترسره کېږي.

**کړنلاره**

نوي یمه ماده:

۱. قیمومیت شورا د خپلو داخلي چارو د تنظیم په موخه کړنلاره جوړوي او د کړنلارې له مخې د شورا مشر ټاکل کېږي.

۲. قیمومیت شورا د خپلې کړنلارې له مخې غونډې جوړوي. په یاده کړنلاره کې به د غونډې دایرول د اکثریت غړو د رایې پر اساس ترسره کېږي.

یو نویمه ماده:

قیمومیت شورا کولای شي چې د اقتصادي او ټولنیزې شورا او همدا راز د نورو تخصصي موسسو له مرستو څخه استفاده وکړي.

# څوارلسم څپرکی

# د عدالت نړیواله محکمه

دوه نوي یمه ماده:

د عدالت نړیواله محکمه د ملګرو ملتونو مستقل قضایي ارګان دی، چې خپلې چارې د اساسنامې پربنسټ پرمخ بیایي او دغه اساسنامه د منشور نه بېلېدونکې برخه ده.

درې نوي یمه ماده:

۱. د ملګرو ملتونو ټول غړي د عدالت نړیوالې محکمې د اساسنامې منونکي دي.

۲. هغه هېوادونه چې د ملګرو ملتونو غړي نه دي، کولای شي د هغو شرایطو په منلو سره چې د عمومي اسامبلې او امنیت شورا له خوا ټاکل کېږي، د عدالت نړیوالې محکمې اساسنامه ومني.

څلور نوي یمه ماده:

۱. د ملګرو ملتونو ټول غړي ژمنه کوي چې په هره قضایي دعوه کې به د محکمې پرېکړه مني.

۲. که د دعوا کوم لوری د محکمې له پرېکړې سرغړونه وکړي؛ زیانمن شوی لوری کولای شي چې امنیت شورا ته شکایت وکړي. که امنیت شورا مسله اړینه او جدي وبلله، کولای شي چې د محکمې د پرېکړې په اړه توصیه وکړي.

پنځه نوي یمه ماده:

د دې منشور هېڅ یوه ماده به د دې خنډ ونه ګرځي، چې د ملګرو ملتونو یو غړی هېواد خپل اختلافي مسایل د موجوده یا نورو راتلونکو هوکړه لیکونو له مخې نورو محاکمو ته وړاندې کوي.

شپږ نوي یمه ماده:

۱. عمومي اسامبله او امنیت شورا کولای شي چې په هره حقوقي مسله کې د عدالت له نړیوالې محکمې څخه د حقوقي مشورې غوښتنه وکړي.
۲. د ملګرو ملتونو نور تخصصي سازمانونه او موسسې هم، چې د عمومي اسامبلې اجازه یې ترلاسه کړې وي، کولای شي چې خپلو چارو لپاره د حقوقي مسایلو په اړه له محکمې څخه مشوره واخلي.

# پنځلسم څپرکی

# دارالانشاء (سکرتریت)

اووه نوي یمه ماده:
د ملګرو ملتونو سکرتریت له یوه عمومي منشي او نورو اړتیا وړ کارکوونکو څخه جوړ شوی دی. د ملګرو ملتونو عمومي منشي د امنیت شورا په توصیه، د عمومي اسامبلې له لوري ټاکل کېږي. عمومي منشي د ملګرو ملتونو د سازمان لوړپوړی اداري مقام دی.
اته نوي یمه ماده:
عمومي منشي به د عمومي اسامبلې، امنیت شورا، اقتصادي او ټولنیزې شورا او قیمومیت شورا په غونډو کې برخه اخلي او هغه چارې چې ده ته سپارل کېږي، باید ترسره یې کړي. عمومي منشي به هر کال خپل کلنی راپور عمومي اسامبلې ته وړاندې کوي.
نهه نویمه ماده:
عمومي منشي کولای شي د هرې هغې موضوع په اړه د امنیت شورا پاملرنه ور واړوي، چې نړیوالې سولې او امنیت ته خطر ګڼل کېږي.
سلمه ماده:
۱. عمومي منشي او د ملګرو ملتونو نور نهه غړي نه شي کولای چې د دندې د اجرا پر مهال له سازمان څخه د کوم مقام امر او سپارښتنې ته غاړه کېږدي، بلکې دوی یوازې په سازمان کې د وسپارل شویو چارو د ترسره کولو مسوولیت لري. عمومي منشي او کارکوونکي باید د داسې کړنو له ترسره کولو ډډه وکړي چې د نړیوال سازمان د کارکوونکي په توګه د دوی موقف ته زیان رسوي.
۲. د ملګرو ملتونو ټول غړي ژمنه کوي چې د ملګرو متلونو د کارکوونکو او د عمومي منشي ځانګړو نړیوالو مسوولیتونو ته به درناوی کوي او د داسې کړنو له ترسره کولو دې ډډه وکړي چې د دندې په اجرا کې هغوی تر نفوذ یا فشار لاندې راولي.
یو سلو یومه ماده:

۱. د ملګرو ملتونو کارکوونکي د عمومي منشي له خوا د هغو مقرراتو له مخې چې عمومي اسامبلې ټاکلې دي، ټاکل کېږي.
۲. د اقتصادي او ټولنیزې شورا، قیمومیت شورا او د اړتیا پر مهال د ملګرو ملتونو نورو ارګانونو ته به په دايمي ډول ځینې کارکوونکي ګمارل کېږي. دغه کارکوونکي به د سکرتریت یوه برخه وي.
۳. د کارکوونکو په ګمارنه کې به تر ټولو لوړه درجه تحصیل او وړتیا په پام کې نیول کېږي. د کارکوونکو په استخدام کې به جغرافیوي انډول هم په پام کې نیول کېږي.

# شپاړسم څپرکی
# متفرقه حکمونه

یو سلو دوه یمه ماده:
۱. هر هوکړه لیک یا نړیوال تړون چې د دې منشور تر لاسلیک وروسته د ملګرو ملتونو د غړو له خوا لاسلیک کېږي، هر څه ژر باید په دارلانشاء کې ثبت شي.
یو سلو درېیمه ماده:
که له نورو تړونونو سره د ملګرو ملتونو د غړو ژمنې او پرېکړې د منشور له ژمنو سره په ټکر کې وي، د منشور ژمنو ته به لومړیتوب ورکول کېږي.
یو سلو څلورمه ماده:
۱. سازمان د خپلو ضروري دندو او ماموریت د اجرا پرمهال د ټولو غړو هېوادونو په خاوره کې له حقوقي هویت څخه برخمن دی.
۲. د ملګرو ملتونو د سازمان استازي او مامورین هم له همدې ډول امتیازاتو او مصونیتونو څخه برخمن دي، ترڅو خپلې اړونده چارې په خپلواکه توګه پرمخ بوځي.
۳. عمومي اسامبله کولای شي چې د دې مادې د لومړۍ او دویمې فقرې د نورو جزییاتو لپاره توصیه وکړي یا غړو ته وړاندیزونه ولېږي.

# اوولسم څپرکی

# د امنیت په اړه لنډ مهاله تدابیر

یو سلو شپږمه ماده:
په ۴۳ مه ماده کې د ځانګړو تړونونو د پلي کېدو تر وخته ترڅو امنیت شورا خپلو مسوولیتونو پېژندلو ته چمتو کېږي، په ۴۲ مه ماده کې راغلي مسولیتونه پر خپل غاړه اخلي. د اعلامیې لاسلیکوونکي (د څلورو ملتونو اعلامیه) چې د ۱۹۴۳ کال د اکتوبر په ۳۰ مه په مسکو کې لاسلیک شوه، فرانسه د یادې اعلامیې د پنځمې فقرې د حکم له مخې د ملګرو ملتونو تر نامه لاندې د ګډ اقدام لپاره د هر هغه اقدام لپاره چې د نړیوالې سولې او منیت د خوندیتوب په برخه کې لازم وي، له یو بل سره او د اړتیا پر مهال د ملګرو ملتونو له نورو غړو هېوادونو سره به مشوره کوي.

یو سلو اومه ماده:
د دې منشور احکام به د هغه څه پر وړاندې خنډ نه شي، چې د دویمې نړیوالې جګړې پرمهال د هېوادونو ترمنځ رامنځته شوي وو او اوس یې په ګډه دا منشور لاسلیک کړی دی.

# اتلسم څپرکی

# سمونې

یو سلو اتمه ماده:
په منشور کې اصلاحات او تعدیلات هغه وخت د اجرا وړ ګرځي، کله چې د عمومي اسامبلې له خوا په دوه ثلثه رایو تایید او د امنیت شورا د دایمي غړو په ګډون د ملګرو ملتونو د ټولو غړو په دوه ثلثه رایو تصویب شي.

یو سلو یو نوي یمه ماده:
۱. پر دې منشور د بیا کتنې په موخه د امنیت شورا د نهو غړو په ګډون د ملګرو ملتونو د دوه ثلثه غړو له خوا باید یو عمومي کنفرانس راوبلل شي، په دغه کنفرانس کې هر غړی به د یوې رایې حق ولري.
۲. د منشور د اصلاح او سمونې په موخه د کنفرانس د دوه ثلثه غړو پرېکړه هغه وخت د اجرا وړ ګرځېدای شي کله چې د امنیت شورا د نهو غړو په ګډون د ملګرو ملتونو دوه پر درېیمه برخه غړو له خوا تصویب شي.

۳. که د دې منشور له لازم الاجرا او د عمومي اسامبلې تر کلنۍ عمومي غونډې مخکې دا ډول کنفرانس نه وي جوړ شوی، د کنفرانس جوړېدل باید د عمومي اسامبلې د کلنۍ غونډې د اجنډا په سر کې ونیول شي. که د عمومي اسامبلې غړي او د امنیت شورا نهه غړي په دې اړه مثبته رایه ورکړي، کنفرانس به پر خپل وخت دایرېږي.

# نولسم څپرکی

# تصویب او لاسلیک

یو سلو لسمه ماده:

۱. دغه منشور د لاسلیکوونکو هېوادونو له خوا د هغوی د اساسي قوانینو له احکامو سره سم په تصویب رسېږي.

۲. د منشور د تصویب سندونه د باید د امریکا متحده ایالتونو دولت ته وسپارل شي او دغه هېواد به د هر تصویب شوي سند د ترلاسه کولو په اړه د منشور لاسلیکوونکو هېوادونو او عمومي منشي ته خبر ورکوي.

۳. دغه منشور هغه وخت د اجرا وړ ګرځي، کله چې د چین جمهوریت، فرانسې، شوروي اتحاد، برېتانیا او د امریکا متحده ایالات او نور لاسلیکوونکي هېوادونه د تصویب سند ترلاسه کړي. د اسنادو د تسلمېدو چارې د امریکا د متحده ایالتونو له خوا تنظیم او یوه یوه ګڼه به یې ټولو لاسلیکوونکو هېوادونو ته واستول شي.

۴. د دغه منشور لاسلیکوونکي هېوادونه د منشور د سند تر لازم الاجرا او تصویب وروسته، د ملګرو ملتونو اصلي غړي ګڼل کېږي.

یو سلو یوولسمه ماده:

دغه منشور چې په روسي، فرانسوي، چینایي، انګلیسي او هسپانوي ژبو لیکل شوی متن یې له مساوي اعتبار څخه برخمن دی، د امریکا متحده ایالتونو په ارشیف کې ساتل کېږي او د امریکا حکومت به د دغه منشور یوه کاپي د منشور ټولو لاسلیکوونکو هېوادونو ته استوي. په همدې اساس د ملګرو ملتونو استازو د **۱۹۴۵** کال د جون په **۲۶** مه د سنفراسیسکو په ښار کې دغه منشور لاسلیک کړ.